# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابو حذیفه
مولوي سلطان عزیز عزیز عفي الله عنه

ناشر
دار الکنوز العلمیة

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ (٤١) ﴾ [حم السجدة]

او بېشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو کلک (قوي) کتاب دی

# عزيز التفاسير

د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير

د "النبأ" څخه تر "الناس" پورې ټول سورتونه،
موضوعي محتويات، د احاديثو او آثارو فهرست،
د شعرونو فهرست او د مصادرو او مراجعو فهرست

ديارلسم ټوک

مولوي سلطان عزيز (عزيز) أبو حذيفه عفى الله عنه
حسن خېل مومند، د نجم المدارس پخواني استاذ

ناشر: دار الكنوز العلمية

Downloaded from: bawarketabtoon.com

بسم الله الرحمن الرحيم

- د دې کتاب ليکنه د الله ﷻ په توفيق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱٤۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳٦۹/٦/۲ هـ ش نېټه د جمعې د شپې په دوه بجو پيل، او په ۱٤۲٦/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نېټه پای ته ورسيده.
- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸٦/۱۰/۲۰ هـ ش نېټه يې بيا کتنه، تصحيح او ډيزاين ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پايه ورباندې اوولس کاله، څلور مياشتې او اوولس ورځې تېرې شوې، البته په دې حساب کې هره مياشت د ديرشو ورځو په لحاظ نيولې شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبيان الحق عزيز حقاني. تصحيح: قاضي اسامه عزيز. د (دکتور اظهار الحق عزيز، نبراس الحق عزيز او حذيفه عزيز) په همکارۍ. ډيزاين: نبراس الحق عزيز. د حذيفه عزيز په همکارۍ.


## څلورم چاپ

۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش



**د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي**



د اړيکو پتې:

۱) برېښناليک: azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون: (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۶۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)



د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشيديه کتب خانه، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون: (۰۷۷۱۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۶۲۸۰۷)

۲) رشيديه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲۵٦۵۵۳۸)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Downloaded from: bawarketabtoon.com

# النبأ (۷۸)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (النَّبَأ) د همدې سورت په لومړي ايت کښې نازل شوی دی او دا سورت په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲_ دا سورت د مکي سورتونو څخه دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[1].

۳_ ټول ايتونه يې پوره څلوېښت (۴۰) ايتونه دي[2].

۴_ د ټولو کلماتو شمېر يې يو سلو درې اوياوو (۱۷۳) کلمو ته رسېدلی دی[3].

۵_ د حرفونو شمېر يې اوه سوه او اوياوو (۷۷۰) حرفونو ته پورته شوی دی[4].

۶_ په دې سورت کښې د نورو مکي سورتونو غوندې عقيدوي مطالب نازل شوي دي لکه د بعث بعد الموت او جنت او دوزخ او داسې نورو بيان.

۷_ څرنګه چې دا سورت (النَّبَأ) او وړاندېنی سورت (الْمُرْسَلات) دواړه مکي سورتونه دي نو په محتوياتو کښې سره ډېره تشابه او تناسب لري. د مثال په توګه: هلته د ﴿ لِيَوْمِ ٱلْفَصْلِ ﴾ کلمې په اجمال سره نزول موندلی وه او دلته پوره تفصيل ورکړی شوی دی او داسې نور.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ۝١ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلْعَظِيمِ ۝٢ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ۝٣ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ۝٤ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ۝٥ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (ای پيغمبره!) مشرکان (له تا نه د ملنډو په توګه) د څه شي په هکله پوښتنه کوي؟

[۲] (دوی له تا نه) د يوه ډېر مهم (او) عظيم الشان خبر په هکله (پوښتنه کوي).

[۳] هغه عظيم الشان خبر په کوم کښې چې مشرکان اختلاف خپلوونکي دي (چې څينې ترې بالکل انکاري دي او څينې پکښې شک او شبه کوي).

[۴] دغسې نه ده (لکه چې مشرکان خيال کوي) ژر دی چې هغوی به پوه شي (او خپله غلطي به ورته څرګنده شي).

[۵] بيا (وايم چې) دغسې نه ده (لکه چې مشرکان خيال کوي) ژر دی چې هغوی به پوه شي.

(۱) تفسير البغوي ج۴ ص۴۳۶
(۲) تفسير الطبري ج۳۰ ص۱
(۳) تفسير الخازن ج۶ ص۴۳۸
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۹۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

۱ـ د وړاندېنې سورت (الْمُرْسَلات) په وروستنیو ایتونو کښې مشرکانو (کفارو) ته د هغوی د خط السیر د کبله اخطار او تهدید ورکړی شوی وه، او په دې ایتونو کښې د هغوی د خط السیر یوې کړۍ ته اشاره شوې ده چې په تعجب سره د قیامت د قیام څخه پوښتنې کوي.

## توضیحات

۲ـ په دې مقام کښې باید لاندې نکات په نظر کښې وساتل شي:

الف: د ﴿ عَمَّ ﴾ کلمه په اصل کښې "عَنْ مَا" وه چې د "مَا" توری د استفهام دپاره دی او "ا" یې د تخفیف د کبله لوېدلی دی او په "م" کښې یې د "ن" توری مدغم شوی دی، نو "عَمَّ" ترې جوړ شوی دی. خو د "ما" کلمه دلته مبهمه ده چې په دوهم ایت کښې تفسیره شوې ده.

ب: د ﴿ يَتَسَآءَلُونَ ﴾ په مستتر ضمیر کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[1]، موږ ته پکښې غوره بریښي چې دا به مشرکانو ته راجع وي چې مقام ورباندې دلالت کوي.

ج: د ﴿ يَتَسَآءَلُونَ ﴾ کلمه د "تفاعل" د باب څخه ده چې یو تربله د پوښتنو کولو معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې د مجردو خاصیت لري او په یو طرفه پوښتنه باندې دلالت کوي[2]. هغه دا چې: مشرکانو به د ملنډو او مسخرو په توګه د قیام په هکله د نبي کریم ﷺ په حضور کښې پوښتنه مطرحه کوله خو اصلي مطلب به یې تکذیب وه.

په همدې مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ يَسْئَلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴾ [الأعراف: ۱۸۷] او [النازعات: ۴۲] یعنې ای پیغمبره! مشرکان ستا څخه د قیامت په هکله پوښتنه کوي چې قیام به یې څه وخت صورت ونیسي؟

د: په ﴿ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ کښې د "عَنْ" توری په مقدرې "يَسْأَلُونَكَ" کلمې پورې تعلق نیسي[3]، او د "نَبَأ" کلمه د یوه عظیم الشان خبر دپاره وضعه شوې ده کوم چې یقیني وي او د دروغو احتمال پکښې شتون ونه لري[4]. خو په دې مقام کښې دغه د "نَبَأ" کلمه د قیامت د خبر څخه عبارت ده لکه چې راتلونکي ایتونه ورباندې دلالت کوي او تحقق یې یقیني دی.

نو په دې ایت کښې د اولني ایت پوښتنه جوابه شوې ده چې مشرکان د څه شي په هکله سوال کوي.

هـ: که څوک وایي چې: مشرکان خو د خرمې د قیامت د قیام څخه انکاري دي او په انکار کښې تول متفق دي (اختلاف پکښې نه لري) حال دا چې د ﴿ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴾ ایت څخه د هغوی اختلاف معلومېږي؟

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۰

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۷

(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۴

(۴) مفردات الراغب ص۵۰۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د ايت شريف معنى دا ده چې ځيني مشركان د قيامت د قيام څخه انكاري دي او ځينو نورو پكښې شک (شبه) ځپله كړې ده[۱]، نه دا چې ځيني ترې انكاري دي او ځيني ورباندې باور لري، ترڅو اعتراض وارد شي.

و: د "كَلَّا، كَلَّا" دواړه كلمې هره يوه د دې دپاره وضعه شوې ده چې مخاطب د وړاندينې قول او يا فعل څخه منعه كړي، نو ته به وايې چې "إِنْتَهِ لَا تَفْعَلْ" دپاره وضعه شوې ده، يعنې د دغه كار يا قول څخه منعه شه، دا مه كوه[۲]. په دې مقام كښې وړاندينى قول د مشركانو هغه پوښتنه ده كومه به چې هغوى د قيامت د قيام په هكله د ملنډو او مسخرو په توګه مطرحه كوله، كومې ته چې په لومړي ايت كښې اشاره شوې ده.

ز: د ﴿ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴾ ايت د زيات تاكيد دپاره دوه ځله نازل شوى دى. يعنې: دغسې نه ده چې قيامت به قائم نه شي (لكه چې مشركان خيال كوي) ډېر ژر دى چې مشركان به د خپل تكذيب په غلطۍ پوه شي، بيا هم وايم چې مشركان به ډېر ژر پوه شي او په خپل تكذيب به پښېمانه شي.

﴿ أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا ۝٦ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ۝٧ وَخَلَقْنَٰكُمْ أَزْوَٰجًا ۝٨ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ۝٩ وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ۝١٠ وَجَعَلْنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ۝١١ وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ۝١٢ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ۝١٣ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلْمُعْصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ۝١٤ لِّنُخْرِجَ بِهِۦ حَبًّا وَنَبَاتًا ۝١٥ وَجَنَّٰتٍ أَلْفَافًا ۝١٦ ﴾

[۶] ايا مونږ (ستاسو دپاره) ځمكه زانګو (فرش) نه ده ګرځولې؟

[۷] او غرونه مو (پرې) موږې (ميخونه نه دي ګرځولي)؟

[۸] او تاسو مو (د يوې نطفې څخه) جوړې جوړې (نارينه او ښځينه) پيدا كړي ياست.

[۹] او ستاسو خوب مو (ستاسو دپاره) ارام (او راحت) ګرځولى دى.

[۱۰] او شپه مو (درته) لباس (پټوونكې) ګرځولې ده.

[۱۱] او ورځ مو (درته د) معيشت (د موندلو وخت) جوړه كړې ده.

[۱۲] او ستاسو د پاسه مو اوه كلک (محكم اسمانونه) جوړ كړي دي.

[۱۳] او ډېره روښانه (پرقېدونكې) ډيوه مو (درته په اسمانونو كښې) پيدا كړې ده.

[۱۴] او د وريځو څخه مو ډېرې بهېدونكې (ورېدونكې) اوبه نازلې كړې دي.

[۱۵] (البته) د دې دپاره چې په همدغو اوبو سره (د ځمكې څخه) دانې او وابښه راوباسو.

[۱۶] او (هم پرې) ګڼ باغونه (راوباسو).

---

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۶۸۴
(۲) لسان العرب ج۱۵ ص۲۳۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د څو نعمتونو ذکر نازل شوی دی چې د یو پلوه نعمتونه دي او د بله پلوه د الله ﷻ د کامل قدرت روښانه دلایل دي، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای بندګانو! الله ﷻ کامل قدرت لري چې مړي بېرته راژوندي کړي او قیامت قائم کړي، نو تاسو د قناعت خپلولو دپاره لاندې مطالب په نظر کښې ونیسئ:

۱ـ ایا مونږ تاسو ته ځمکه د ارام اخستلو دپاره مساعده نه ده ګرځولې چې غرونه مو ورباندې د مېخونو په توګه نصب کړي دي او د اضطراري حرکت مخه یې ورته بنده کړې ده او تاسو ورباندې ارام ژوند تېروئ لکه څنګه چې ماشومان په زانګو کښې ارام پراته وي؟، که نه تاسو به ورباندې استوګنه نه وی کړې.

۲ـ مونږ د خپل کامل قدرت په بنیاد د یوې نطفې څخه تاسو جوړې جوړې (نارینه او ښځینه) پیدا کړي یاست، ترڅو یو تربله د خوشالۍ او محبت ژوند وکړئ.

۳ـ ستاسو دپاره مو خوب ارام بښونکی ګرځولی دی چې ستوماني مو پرې د منځه ځي او عقل مو پرې تېزېږي.

۴ـ ستاسو دپاره مو شپه لباس او پرده جوړه کړې ده چې مناسبو کارونو ته پکښې صورت ورکوئ، او ورځ مو درته روښانه ګرځولې ده چې کار او کسب پکښې وکړئ او خپلو خانونو ته پکښې د روزۍ موندلو او ارتیاوو پوره کولو بندوبس وکړئ.

۵ـ ای بنیادمانو! مونږ ستاسو دپاره قوي اسمانونه پیدا کړي او درولي دي چې د چترۍ په ډول ستاسو په سرونو باندې د پاسه بې ستنو ولاړ دی، چې نه پکښې چاود او درز موجودیت لري او نه یې د راپرېوتلو خطر شته.

۶ـ مونږ ستاسو دپاره لمر پیدا کړی دی چې د یوې عظیم الشاني ډیوې غوندې ستاسو دپاسه طلوع او غروب کوي.

۷ـ مونږ ستاسو دپاره د وریځو څخه بهېدونکې اوبه نازلې کړې دي چې د څاڅکو په شکل درباندې وربېږي.

البته دا د دې دپاره چې: مونږ په همدغو اوبو سره د ځمکې څخه ستاسو د خوراک دپاره ډول ډول حبوبات (دانې) او ستاسو د څارویو د خوراک دپاره ډول ډول نباتات (ګیاوې) او واښه راوباسو، او هم په همدغو اوبو سره تاسو ته د میوجاتو رنګ په رنګ او ګڼ باغونه رازرغون کړو او ستاسو احتیاجات ورباندې پوره کړو.

۸ـ نو ای بنیادمانو! ایا مونږ د مړو په بیا راژوندي کولو او د قبرونو څخه یې په راوچتولو باندې قدرت نه لرو؟ ایا ذکر شوي ټول انتظامات بې حکمته او عبث دي چې په پای کښې نه تصفیه لري او نه محاسبه؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

۱_ په ﴿ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴾ کښې د "أَوْتَاد" کلمه د "وَتَد" _لکه "شَرَف"_ جمعه ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [ص:۱۲] ایت لاندې لیکلي دي چې "وَتَد" موږې (مېخ) ته ویل کېږي، نو ځرنګه چې په غرونو سره د ځمکې اضطرارې حرکت درولی شوی دی نو تشبیهًا د (أَوْتَاد) مېخونو او موږیو په نامه یاد شوي دي.

۲_ په ﴿ نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴾ کښې د "سُبَات" کلمه د [الفرقان:۴۷] ایت لاندې توضیح شوې ده _والحمد لله ﷻ_ چې د راحت او ارام نیولو دپاره وضعه شوې ده. خوب ته دغه لقب ځکه ورکړی شوی دی چې په خوب سره ستوماني د منځه ځي او سړی د راحت او ارام احساس کوي لکه چې عرب وايي: "اَلنَّوْمُ رَاحَةُ الْبَدَنِ وَزِيَادَةُ الْعَقْلِ" یعني خوب چې دی د بدن راحت دی او د عقل زیادت دی.

۳_ په ﴿ سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴾ کښې د "وَهَّاج" کلمه د "وَهَج" _لکه "شَرَف"_ ځخه اشتقاقه شوې ده چې د رڼا او حرارت موندلو معنی ورکوي[۱]. یعني مونږ په اسمانونو کښې ستاسو دپاره د لمر سترګه داسې عظیم الشانه ډیوه ګرځولې ده چې د حرارت او رڼا دواړو درلودونکې ده او تاسو د دواړو ځخه ګټې اوچتوئ.

۴_ په ﴿ مِنَ ٱلْمُعْصِرَاتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴾ کښې د "مُعْصِرَات" کلمه د هغو وریځو په معنی ده په کومو کښې چې باران شتون لري[۲]. په همدغې معنی سره عبد الله بن عباس رضي الله عنهما هم تفسیره کړې ده[۳].

او د "ثَجَّاج" کلمه د "ثَجّ" _لکه "مَدّ"_ ځخه اشتقاقه شوې ده چې د بهېدلو او بهولو معنی ورکوي[۴]، لکه چې د نبي کریم ﷺ ځخه یو ځل پوښتنه وشوه چې د حج په مناسکو کښې کوم یو منسک بهتر دی؟ هغه ﷺ جواب ورکړ چې: «اَلْعَجُّ وَالثَّجُّ»[۵] یعني په تلبیه ویلو سره اواز اوچتول، او د هدایاوو (قربانیو) وینې بهول (او بهېدل).

نو د ایت شریف مضمون داسې راځېږي چې: مونږ ستاسو دپاره د وریځو ځخه ډېرې بهېدونکې اوبه نازلې کړې دي چې په شپېو شپېو دربانده وربږي.

۵_ په ﴿ وَجَنَّٰتٍ أَلْفَافًا ﴾ کښې د "أَلْفَاف" کلمه د "لِف" جمعه ده چې په اصل کښې "لِفْف" _لکه "جِذْع"_ وه، دغه کلمه د ګڼو او ډېرو ونو معنی ورکوي[۶].

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۷۲
(۲) لسان العرب ج۴ ص۵۷۷
(۳) الدر المنثور ج۸ ص۳۹۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۶۲
(۴) النهایة في غریب الحدیث والاثر ج۱ ص۲۰۷
(۵) جامع الترمذي ج۱ ص۱۷۰
(۶) القاموس المحیط ج۴ ص۱۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ
السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا
﴿٢١﴾ لِّلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَّابِثِينَ فِيهَا أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا
حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَاءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا
كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾

[١٧] بېشکه د فیصلې (قیامت) ورځ چې (د الله تعالی په نزد) ټاکلې (مقرره) ده.

[١٨] (دا به) په هغې ورځ (صورت ونیسي) چې په شپېلۍ کښې پو کې وکړی شي نو تاسو به ټولې ډلې ډلې (موقف ته) راشئ.

[١٩] او آسمان به پرانستلی شي نو دروازې دروازې (سوري سوري) به وګرځي.

[٢٠] او غرونه به له ځایونو ځنې (ځنځه) روان کړی شي نو سراب (شګوګل) به جوړ شي.

[٢١] یقیناً دوزخ چې دی (د جنت لار د پرښتو څارنځای) دی (چې څکاره پکښې څاري).

[٢٢] (دوزخ چې دی) د سرکښانو ځای او د بېرته ورګرځېدلو ځای دی.

[٢٣] (په داسې حال کښې) چې اوږدې زمانې (ډېرې ورځې همېشه) به په هغه کښې (سرکښان) اېسار پراته وي.

[٢٤] نه به په هغه کښې سړه هوا څکي او نه د څښلو سوړ شی (دا سوړې اوبه).

[٢٥] مګر (هغه به) توده توده (ګرمې) اوبه او (د دوزخیانو) زوې او وینې (څښي او خوري).

[٢٦] (دغه جزا به سرکښانو ته ورکړه شي) موافقه جزا.

[٢٧] یقیناً سرکښان چې دي د حساب څخه نه ویرېدل (او نه یې هیله کوله).

[٢٨] او زموږ آیتونو ته د دروغو نسبت کوي ټکنګ دروغ (چې بالکل یې باور او عقیده نه ساتله).

[٢٩] او هر شی د لیک د حیثه (موږ شمېرلی دی) شمېرلی مو دی (لیکلی مو دی).

[٣٠] نو ای سرکښانو د جزا مزه وڅکئ چې موږ به هیڅکله تاسو ته زیات نه کړو مګر عذاب (نو به په عذاب کښې پاسته).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې آیتونو کښې د کامل قدرت د بیان څخه وروسته د قیامت د ورځې په څه کیفیاتو باندې رڼا اچول شوې ده او هم پکښې د کفارو څه حالونو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:
ای پیغمبره! په خپل امت باندې د قیامت په ارتباط لاندې مطالب قرائت کړه:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ الله ﷻ دنیا بې حکمته نه ده پیدا کړې چې په پای کښې به تصفیه ونه لري، او نه یې قدرت کمزوری دی چې قیامت به قائم نه کړی شي. نو د قیامت قیام د دې کبله وروسته کړی شوی دی چې ټاکلی وخت یې نه دی رارسېدلی، دغه ټاکلی وخت یوازې الله ﷻ ته معلوم دی او بس.

۲_ کله چې د قیامت د قیام دپاره شپېلۍ ووهله شي، نو تاسو به _ای خلکو_ ډلې ډلې د محشر میدان ته راشئ او د فیصلې په ډګر کښې به ودرېږئ.

په دغې ورځ کښې به اسمان وچوي او لارې لارې (دروازې دروازې) به وګرځي او پرښتې به ترې ښکته شي، ټول به سورې سورې شي. په دغې ورځ کښې به غرونه د خپلو ځایونو څخه روان کړی شي او په هوا کښې به تیت پرک جوړ شي، چې په لومړي وخت کښې به د شګوګل غونډې په سترګو لیدلی کېږي او د غرونو شکل به ولري حال دا چې په حقیقت کښې به یې واقعیت د لاسه ورکړی وي او هیڅ موجودیت به نه لري.

۳_ ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به د کفارو او مشرکانو حالت ډېر بد او ناکاره وي. د مثال په توګه:

الف: په دغې ورځ کښې به د هغوی دپاره دوزخ د ترصد او څارنې ځای وګرځي چې پرښتې به یې ترصد کوي او د څارنې په بنیاد به یې پکښې ورټېل وهي. او دا ځکه چې:

ب: دوزخ د سرکښانو دپاره د بېرته ورتاوېدلو ځای دی چې یو کس به یې هم د دغه ځای څخه وړاندې تېر نه شي او ټول به پکښې وروغورزولی شي.

ج: کفار به په دوزخ کښې په عمرونو عمرونو او زمانو سره اوسېدونکي او ایسارېدونکي وي چې هیڅکله به ترې رابهر نه کړی شي او نه به یې هلته تعذیب انتهاء ولري.

د: کفار به هلته نه سړه هوا موندلی شي او نه به هلته د یخو اوبو څکه کولی شي، مګر هلته به خوټېدونکې اوبه د څښلو دپاره ورکولی کېږي او د دوزخیانو د زوو او خیرو او هم د هغوی د زخمونو د نوونو خوراک به ورکولی کېږي.

۴_ ای پیغمبره! دغه جزا د کفارو دپاره د هغوی د کړو وړو سره موافقه او مناسبه جزا ده. ځکه:

الف: یقینًا په دنیا کښې کفار د حساب کتاب څخه نه ډارېږي بلکې نه ورسره د محاسبې د صورت نیولو خیال شته او نه ورباندې عقیده لري.

ب: نو زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي او په ډېر سخت تکذیب سره یې تکذیبوي.

ج: حال دا چې مونږ هر شی برسېره په خپل ازلي علم باندې د لیک د حیثه هم شمېرلی دی او په اعمالنامو کښې مو لیکلی دی، ترڅو په دقت او انصاف سره محاسبه کړی شي.

۵_ ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به کفارو ته وویلی شي چې: ای کفارو! د خپلو کړو وړو سزا وڅکئ او مزه یې واخلئ او هم پوه شئ چې دغه عذابونه دائمي دي چې مونږ به هیڅکله تاسو ته زیات نه کړو مګر عذاب.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴾ جمله په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسیره کېدلی شي:

الف: د قیامت په ورځ به هر امت د خپل-خپل پیغمبر سره د حساب کتاب دپاره حاضر شي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ يَوْمَ نَدْعُواْ كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَـٰمِهِمْ ﴾ [الإسراء: ۷۱] یعنې هغه ورځ یاده کړه چې مونږ هره ډله خلک د خپل امام (پیغمبر) سره د محاسبې میدان ته وبلو.

ب: په دغې ورځ کښې به مجرمان او هم متقیان په مختلفو ډلو سره ووېشلی شي او هره یوه ډله به لمبر په لمبر دوزخ یا جنت ته سوقېږي.

همدې مضمون ته د "الزُّمَر" سورت په وروستنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده.

### "فتحة" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَٰبًا ﴾ کښې د "فُتِحَتْ" کلمه د "فَتْحَة" ـلکه "رَحْمَة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د درز او چاود معنی ورکوي[1]. یعنې اسمان به وچوي او درزونه (وتونه) به پکښې صورت ونیسي نو ټول به ورونه او سوري سوري شي.

دې مضمون ته په نورو ایتونو کښې هم اشاره شوې ده لکه چې فرمایي: ﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتْ ﴾ [الإنفطار: ۱] یعنې کله چې اسمان وچوي او ټوټې ټوټې شي.

۳ـ دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴾ کښې د "سَرَاب" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [النور: ۳۹] ایت لاندې تشریح شوې ده چې د اوبو هغه خیالي صورت ته وضعه شوې ده کوم چې لیدونکي ته په نظر ورځي خو واقعیت نه لري.

په دې مقام کښې په غرونو باندې د "سَرَاب" اطلاق د دې کبله شوی دی چې په دغه وخت کښې به لیدونکي ته غرونه منجمد (په خپلو حالانو باقي) برېښي حال دا چې هغه به د وریځې په شان په حرکت کښې وي او د خپلو ځایونو څخه به هوا ته اوچت شوي وي. همدې مضمون ته په [النحل: ۸۸] ایت کښې اشاره شوې ده.

### د "مِرْصَاد" معنی

۴ـ په ﴿ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴾ کښې د "مِرْصَاد" کلمه د "رَصَد" ـلکه "شَرَف"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ترقب او څارنې معنی ورکوي[2]، او دا کلمه د "مِفْعَال" په وزن ده چې دغه وزن په لاندې دریوو معناوو کښې استعمالېږي[3]:

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۵۴۰
(۲) مفردات الراغب ص۲۰۱
(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۱۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د آلې دپاره، لکه "مِنْصَار" يعنې د نصرت آله.
ب: د مکان دپاره، لکه "مِضْمَار" يعنې د آسونو د څغلولو ځای يا لکه "ميقات" د احرام د تړلو ځای.
ج: د صفت مشبه د مبالغې دپاره، لکه "مِكْرَام" يعنې د ډېر کرامت درلودونکی.
ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو په وروستنيو دوارو معناوو سره تفسيره کړې ده[1]. هغه دا چې:
اول: دا کلمه د هغې لارې نوم دی کومه چې د دوزخ د پاسه پرته ده او جنت ته تېره شوې ده، کومې ته چې د صراط د پله لقب هم ورکړی شوی دی، کومې ته چې په [مريم: ۷۱] ايت کښې اشاره شوې ده. يعنې يقينًا دوزخ چې دی د جنت لاره ده چې بله لاره نه لري، نو هيڅوک جنت ته نه شي داخلېدلی ترڅو چې په دغې لاره باندې تېر نه شي، حال دا چې په دغې لاره باندې د مؤمنانو څخه په غير بل څوک نه شي تېرېدلی.
دوهم: دا کلمه دلته د مبالغې په توګه د دوزخ دپاره صفت مشبه ګرځولې شوې ده. يعنې دوزخ د کفارو په ارتباط ډېر زيات څارونکی او ډېر انتظار ويستونکی دی چې خپل ځان ته يې ورکش کړي او په خپله ګېډه کښې يې معذب کړي، او هم دلته د دوزخ خازنان د کفارو او سرکښانو څارنه کوي او د ورتېل وهلو انتظار يې کوي.

## "أَحْقَاب" څه معنی؟

۵_ که څوک وايي چې: په ﴿ لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا ﴾ کښې د "أَحْقَاب" کلمه د "حُقْب" _لکه "شُغُل"_ جمعه ده، او لکه څنګه چې د [الکهف: ۶۰] ايت لاندې ورته اشاره شوې ده، دغه کلمه علماوو کرامو د څو کلونو په مجموعې باندې ترجمه کړې ده لکه اتيا کاله او يا داسې نور[2].
نو پوښتنه دا ده چې ايا د دغو معناوو څخه د دوزخ د عدم دوام وړمه نه اوچتېږي چې د څو احقابو د تېرېدلو څخه وروسته به د کفارو تعذيب ختم شي او تر ابده پورې به ادامه ونه لري؟
مونږ وايو چې: ذکره شوې احتمالي وړمه به په هغه وخت کښې د څه اعتبار قابله وی چې د دوزخ په ابديت باندې صراحت نه وی نازل شوی، او پوره واضحه ده چې د صراحت په مقابل کښې احتمال هيڅ ارزښت نه لري. د مصرحاتو لاندې مثالونه ولولئ:
الف: د ذکرې شوې مجموعې د وروستني ايت مضمون دا دی چې: ای کفارو دوزخيانو! مونږ به تاسو ته هيڅکله زيات نه کړو مګر عذاب (چې نه به د عذاب تخفيف مونده کړئ او نه د عذاب څخه خلاصون او نه نجات).

(۱) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۷۷؛ اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۱۰۳؛ القاموس المحيط ج۲ ص۳۴۳
(۲) تفسير ابن کثير ج۴ ص۴۶۳؛ القاموس المحيط ج۱ ص۲۷۷؛ تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۷۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: الله ﷻ فرمايلي دي چي: ﴿ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾ [الجن: ۲۳] يعني او هرڅوک چي د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر ﷺ څخه (عقيدوي) عصيان وکړي نو يقيناً هغه لره د دوزخ اور دی چي دوی به پکښې همېشه وي همېشه.

همدا د اهل السنت والجماعت عقيده ده، که څوک په همدې موضوع کښې اوږد بحث غواړي نو ځينو اوږدو کتابونو ته[1] دې مراجعه وکړي.

## "غسّاق" څه معنی؟

۶ـ په ﴿ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴾ کښې د "غسّاق" کلمه د الله ﷻ په توفيق د [ص: ۵۷] ايت لاندې توضېح شوې ده چي د دوزخيانو د زوو او خيرو معنی ورکوي، نو بيا توضيح کولو ته اړتيا نه ګورو.

﴿ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَـٰبًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّ ٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ ٱلسَّمَـٰوَ ٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلرَّحْمَـٰنِ ۖ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ صَفًّا ۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَـٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَ ٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ إِنَّآ أَنذَرْنَـٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَـٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَ ٰبًۢا ﴿٤٠﴾ ﴾

[۳۱] يقيناً خاص د متقيانو (مؤمنانو) دپاره (د الله ﷻ په نزد) د بريالیتوب ځای دی.

[۳۲] (يا په بل عبارت: دوی ته) د ميوجاتو باغچې او (ډول ډول) انګور دي.

[۳۳] او (هم ورته) انار تيونو والا همزولې (پېغلې) دي.

[۳۴] او (هم ورته) د شرابو ډک ګيلاسونه (او پيالې) دي.

[۳۵] نه به په جنت کښې چټي (بېکاره) خبرې اوري او نه دروغيني خبرې.

[۳۶] ستا د رب ﷻ د پلوه (به دغه نعمتونه متقيانو ته) د جزا په توګه (ورکړی شي) بنه کافي ورکړه (بنه غټه پوره جزا).

[۳۷] چې (ستا رب ﷻ) د اسمانونو او ځمکو او هغو (مخلوقاتو) رب دی کوم چې د اسمانونو او ځمکو ترمنځ (موجود) دي، (او) چې ډېر مهربان دی، (او) چې ستا د رب ﷻ د پلوه مخلوقات د خطاب مالکان نه دي (د خبرو کولو توان نه دی ورکړی شوی).

---

[1] شرح العقيدة الطحاوية لأبي العز الدمشقي ص۶۲۴؛ حادي الأرواح إلى بلاد الأفراح لابن القيم الجوزية ص۲۵۴، ۲۷۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۸] (دوی) په هغې ورځ کښې (د خطاب توان نه لري) په کومه کښې چې جبرائیل ﷺ او نورې پرښتې صفونه صفونه ودریږي، دوی به (د شفاعت دپاره) خبرې نه کوي مگر د هغه چا دپاره د کوم دپاره چې ورته ډېر مهربان الله ﷻ اجازه ورکړي او (کوم) چې (په دنیا کښې) حقه خبره ویلي وي (د توحید په کلمه قائل وي).

[۳۹] (ای پیغمبره!) دغه (د قیامت ورځ) حقه ورځ ده (هیڅ شک پکښې نشته).

نو هرڅوک چې خپل رب ﷻ ته د بېرته ورگرځېدلو د ځای د نیولو اراده لري (نو هغه دې په همدغه قرآن کریم باندې لاره ونیسي).

[۴۰] (ای خلکو!) یقینًا مونږ تاسو د نژدې (اُخروي) عذاب څخه ډاروو، (البته) په هغې ورځ کښې چې هر سړی (کافر وي او که مؤمن) هغه کړه وړه وگوري کوم یې چې دواړو لاسونو وړاندې استولي وي، او (هم په هغې ورځ کښې چې) کافر انسان به ووایي چې: ای کاش چې زه خاورې وی (او یا خاورې گرځېدلی وی).

## ارتباط او توضیحات

۱ـ په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې د مؤمنانو د څه اخروي حالاتو په شمول د قیامت د ورځې په څېنو کیفیاتو باندې رڼا اچولې شوې ده.

۲ـ په دې مقام کښې باید د لاندې لغاتو معناوې په یاد وساتلی شي:

الف: په ﴿ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴾ کښې د "مَفَازً" کلمه د اسم ظرف صیغه ده چې د "فَوْزٌ" ـلکه "قَوْلٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د کامیابۍ معنی ورکوي، او راتلونکي څو ایتونه د همدغې کلمې تفسیر واقع شوي دي.

ب: په ﴿ حَدَآبِقَ وَأَعْنَـٰبًا ﴾ کښې د "حَدَائِقَ" کلمه د "حَدِيْقَةٌ" جمعه ده، چې د الله ﷻ په توفیق د [النمل: ۶۰] ایت لاندې تشریح شوې ده چې د هغه باغ معنی ورکوي کوم چې په دېوال سره احاطه کړی شوی وي.

ج: په ﴿ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴾ کښې د "كَوَاعِبَ" کلمه د "كَاعِبٌ" جمعه ده، "كَاعِبٌ" د هغې پیغلې لقب دی د کومې تیونه چې د انارو غوندې راوتلي وي[۱] او زوړند شوي نه وي.

د: په همدې عبارت کښې د "اَتْرَابٌ" کلمه د "تِرْبٌ" ـلکه "دِهْنٌ"ـ جمعه ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [صٓ: ۵۲] ایت لاندې ښه شرحه کړې ده چې دا کلمه د "همزولو ښځو" څخه عبارت ده.

هـ: په ﴿ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴾ کښې د "دِهَاقٌ" کلمه د هغه لوښي دپاره وضعه شوې ده کوم چې تر څنډو پورې ډک وي[۲]. یعنې الله ﷻ د متقیانو (مؤمنانو) دپاره د کامیابۍ ځای ټاکلی دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۵۰

(۲) لسـان العرب ج ۱۰ ص ۱۰۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: الله ﷻ به هغوی ته د مختلفو میوجاتو باغچې او د رنګارنګ انګورو باغونه ورکړي، او هم ورته الله ﷻ همزولې پېغلې حورې او د شرابو څخه ډکې پیالې تیارې کړې دي.

و په ﴿ عَطَآءً حِسَابًا ﴾ کښې د "حِساب" کلمه د کافي او بس کېدونکي معنی ورکوي[1]. یعنې ستا د رب ﷻ د پلوه په متقیانو ته داسې ورکړه جزا وګرځولی شي کومه چې ښه پوره کافي او بس وي.

## یو تفسیري تحلیل

۳_ په ﴿ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴾ کښې د ﴿ لَا يَمْلِكُونَ ﴾ مستتر ضمیر تولو مخلوقاتو ته راجع دی په کومو باندې چې په عین ایت کښې د ﴿ رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ﴾ کلمات دلالت کوي. او په ﴿ مِنْهُ ﴾ کښې د "مِن" توری په ﴿ لَا يَمْلِكُونَ ﴾ پورې تعلق نیسي او ضمیر یې په ﴿ رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ کښې ﴿ رَبِّ ﴾ ته راجع دی[2]. یعنې په دغې ورځ کښې به د الله ﷻ د پلوه مخلوقاتو ته د خطاب (او خبرو کولو) قدرت ورنه کړی شي.

دې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَخَشَعَتِ ٱلْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ ﴾ [طه: ۱۰۸] یعنې په دغې ورځ کښې به ټول اوازونه د ډېر مهربان الله ﷻ د ډار د کبله چپ (غلي) کړی شي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په یاد ولرئ چې د قیامت په ورځ د حالاتو او اشخاصو په تفاوت سره خبرې کول او نه کول دواړه صورت نیسي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: دغه ایت ـ چې بحث پکښې روان دی ـ دلالت کوي چې هیڅوک به په دغې ورځ کښې د خبرو کولو توان او قدرت ونه لري.

ب: په یوه اوږده حدیث کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ إِلَّا الرُّسُلُ»[3] یعنې په صراط باندې د تېرېدلو په وخت کښې به هیڅوک خبرې نه کوي مګر پیغمبران، چې سلامتي به غواړي چې: ای الله! خیر کړې.

ج: د کفارو د خولو څخه الله ﷻ حکایت کړی دی چې: ﴿ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَٱرْجِعْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا ﴾ [السجدة: ۱۲] یعنې ای زمونږ ربه! مونږ ولیده او واموورېده (د اسلام دین حق دی) نو مونږ بېرته (دنیا ته) ورتاو کړه چې صالح عمل وکړو (او د توحید عقیده خپله کړو).

## د "رُوح" معنی

۴_ په ﴿ يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا ﴾ کښې د "رُوح" کلمه علماوو کرامو په ګڼو معناوو سره تفسیره کړې ده چې تقریبًا اتو معناوو ته رسېږي[4]، خو بهتره دا ده چې دلته ترې جبرائیل ؑ مراد

---

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۶۳۷

(۲) روح المعاني ج۳۰ ص۱۹

(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۱۰۱

(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۶۵؛ زاد المسیر ج۸ ص۱۶۷؛ اضواء البیان ج۹ ص۱۵؛ تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۱۸۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي، لکه چې په همدغه لقب باندې په لږ تفاوت سره په بل ایت کښې یاد شوی دی چې: ﴿ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴾ [الشعراء:۱۹۳] یعنې قرآن کریم امانتګرې پرښتې نازلې کړی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ذکر شوي عبارت کښې د "صَفّ" کلمه مصدر ده چې په جمعې باندې یې هم اطلاق کېږي او په دې مقام کښې همدغه جمعي معنی مراده ده[۱]، چې په بل ایت کښې ورباندې تقریبًا صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴾ [الفجر: ۲۲] یعنې او د قیامت په ورځ به ستا رب ﷻ په بلا کیف شان سره راشي، او پرښتې به هم صفونه صفونه (راشي).

## یو بل تفسیري تحلیل

۵ـ په ﴿ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴾ کښې چې مونږ ته کوم تحلیل غوره برېښي هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کېږي:

الف: په ﴿ لَّا يَتَكَلَّمُونَ ﴾ کښې مستتر ضمیر هغې مرجع ته راجع دی کومې ته چې په وړاندې ایت کښې د ﴿ لَا يَمْلِكُونَ ﴾ مستتر ضمیر راجع وه. خو دومره تفاوت لري چې هلته مطلق خبرې مطرحې وې او دلته هغه خبرې مطرحې دي کومې چې د شفاعت کولو پورې ارتباط لري.

ب: د "إلا" په توري سره د مقدرې "لِلشَّفَاعَةِ" د کلمې څخه استثناء صورت نیولی دی.

ج: د ﴿ مَنْ أَذِنَ لَهُ ﴾ سره د "ل" توری مقدر دی او په "قَالَ" کښې همدغه "مَن" ته ضمیر راجع دی[۲]، نو ته به وایې چې داسې عبارت نازل شوی دی: "لَا يَتَكَلَّمُونَ لِلشَّفَاعَةِ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَانُ لِأَحَدٍ وَقَالَ صَوَابًا" یعنې د قیامت په ورځ به ټول مخلوقات د شفاعت کولو دپاره خبره نه کوي مګر د هغه کس د شفاعت دپاره به خبرې کولی شي د کوم دپاره چې ډېر مهربان الله ﷻ (چا ته) اجازه ورکړې او هم همدغه کس په دنیا کښې حقه خبره کړې وي (د توحید کلمه یې په رښتیا سره ویلې وي).

مونږ ذکر شوی تحلیل د دې کبله غوره کړ چې په همدې مضمون باندې په [طه:۱۰۹] ایت کښې لږ څه واضحه کلمات نازل شوي دي. نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## هېر مو نه شي

۶ـ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: په ﴿ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ ﴾ کښې د "كُمْ" په کلمې سره آن د قیامت تر ورځې پورې ټول خلک مخاطب ګرځولی شوي دي[۳].

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۱۱۸
(۲) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۶۱۰
(۳) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۱۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په ﴿ عَذَابًا قَرِيبًا ﴾ سره أخروي عذاب مطلب دی چې نږدې را روان دی بلکې هر يو راتلونکی کار نږدې وي[۱].

ج: په ﴿ يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ ﴾ کښې د ﴿ يَوْمَ ﴾ کلمه د ﴿ عَذَابًا قَرِيبًا ﴾ دپاره ظرف ده[۲].

د: د ﴿ يَـٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴾ جمله مفسرينو کرامو په لاندې دوه وو معناوو سره تفسيره کړې ده[۳]:

اول: کله چې د انسان او پيري څخه په غير د قيامت په ورځ د نورو ساکښانو ترمنځ يو تربله بدله واخستله شي او بيا د الله ﷻ په امر ټول خاورې وګرځي، نو په دغه وخت کښې به کافر انسان آرزو وکړي چې: ای کاش! چې زه هم خاورې ګرځېدلی وی.

دوهم: هر کافر انسان به د قيامت په ورځ آرزو وکړي چې ای کاش چې زه بالکل نه وی مبعوث شوی (په خاورو کښې ميده ميده پټ پاتې شوی وی) او يا بالکل د خاورو څخه نه وی خلق کړی شوی او په دنيا کښې مې هيڅ موجوديت نه وی درلودلی.

په همدې ځای د "النَّبَأ" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق پای ته ورسېد.

اللّهُمَّ لَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ.

۱۴۲۵/۱۱/۱۶ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۰/۸ هـ ش.

(۱) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۸۸

(۲) روح المعاني ج۳۰ ص۲۲

(۳) تفسير البغوي ج۴ ص۴۴۰؛ تفسير ابن کثير ج۴ ص۴۶۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# النازعات (۷۹)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (النّازِعَات) د همدې سورت په لومړي ایت کښې نازل شوی دی.
۲ـ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].
۳ـ د دې سورت ټول ایتونه شپږ څلوېښت (۴۶) دي[۲].
۴ـ د کلماتو شمېر یې یو سلو اویا (۱۷۰) دی[۳].
۵ـ د تورو شمېر یې اوه سوه او یو دېرش (۷۳۱) دی[۴].
۶ـ د دې سورت محتویات هم د نورو مکي سورتونو غوندې او په تېره بیا د وړاندېني سورت (النّبَأ) په شان په عقیدوي احکامو مشتمل دي، لکه د بعث بعد الموت اثبات او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرْقًا ۝١ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشْطًا ۝٢ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبْحًا ۝٣ فَٱلسَّٰبِقَٰتِ
سَبْقًا ۝٤ فَٱلْمُدَبِّرَٰتِ أَمْرًا ۝٥ يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ۝٦ تَتْبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ۝٧ قُلُوبٌ
يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ۝٨ أَبْصَٰرُهَا خَٰشِعَةٌ ۝٩ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِى ٱلْحَافِرَةِ ۝١٠ أَءِذَا
كُنَّا عِظَٰمًا نَّخِرَةً ۝١١ قَالُوا۟ تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ۝١٢ فَإِنَّمَا هِىَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ ۝١٣ فَإِذَا
هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ۝١٤ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] په شدت سره د (کفارو د ارواګانو) راکشوونکو پرښتو په ټولګیو سره سوګند دی، په شدت سره راکشول (رابنکودل).

[۲] په نرمۍ سره د (مؤمنانو د ارواګانو) د راویستونکو پرښتو په ټولګیو سره سوګند دی، په نرمۍ سره راویستل.

[۳] (د اوامرو په اجراء کښې) د تیزي کوونکو پرښتو په ټولګیو سره سوګند دی، تېزي کول.

[۴] نو (د الله ﷻ اطاعت ته) د پرښتو په وړاندې کېدونکو ټولګیو سره سوګند دی (اطاعت ته) وړاندې کېدل.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۱۸
(۲) تفسير الطبري ج۳۰ ص۲۷
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۱۲۱
(۴) تفسير الخازن ج۶ ص۴۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵] نو په کارونو کښې د تدبير كوونكو پرښتو په ټولګيو سره سوګند دی. (په دغو ټولو ټولګيو سره سوګند دی چې هرومرو او ضرور به تاسو د مرګ څخه وروسته بیا ژوندي کړی شئ).
[۶] (البته) په هغې ورځ چې کله لړزېدونکی اواز ولړزېږي (اوله شپېلۍ ووهله شي).
[۷] (بيا) همدغه اواز په (بل) لړزونکي اواز سره تعقیب کړی شي (دوهمه شپېلۍ ووهلی شي).
[۸] په دغې ورځ کښې به زړونه (خلک) ډېر وارخطا (او مضطرب) وي.
[۹] (او) د زړونو (خلکو) سترګې به ذليله (او ښکته) وي.
[۱۰] (ای پیغمبره!) مشرکان وايي چې: ايا يقيناً مونږ ضرور په اولنۍ لاره کښې ورګرځول شوي ياستو (بيا ژوندي کېدونکي ياستو)؟.
[۱۱] ايا کله چې مونږ وراسته هډوکي شو (هم دا کار کېدونکی دی)؟
[۱۲] مشرکان (د ملنډو په توګه) وايي چې په دغه وخت کښې دغه بعثت (ژوندي کېدل) زيانمند کرت (تاوېدل) دي.
[۱۳] نو يقيناً دا (د مرګ څخه وروسته راژوندي کېدل) فقط يوه کړيکه (د شپېلۍ دوهم ځل) يو اواز دی.
[۱۴] نو په دغه وخت کښې به ټول مړي د ځمکې پر مخ (ولاړ) وي (د ګېډې څخه به يې را بهر شوي وي).

## ارتباط او توضيحات

۱ــ وړاندېنۍ سورت (النَّبَأ) د قيامت د ورځې په دلايلو باندې مشتمل وه او په وروستنيو ايتونو کښې يې څه اخروي کيفياتو ته اشاره شوې وه. دا سورت په هغو سوګندونو باندې پيل شوی دی په کومو باندې چې د همدغې ورځې اثبات صورت نيسي.

۲ــ په دې مقام کښې الله ﷻ د قيامت د اثبات دپاره پنځه سوګندونه په پنځو کلماتو (النَّازِعَات، النَّاشِطَات، السَّابِحَات، السَّابِقَات، الْمُدَبِّرَات) سره ياد کړي دي چې څه لنډه شرحه يې په لاندې کرښو کښې ولولئ:

الف: په اولنيو څلورو کلمو کښې علماء کرام اختلاف لري چې دا کلمات د پرښتو د ټولګيو څخه عبارت دي، يا د بادونو څخه يا د ببرېو او آسونو څخه او يا د نورو شيانو څخه؛ که څوک غواړي چې تفصيلوار يې ولولي نو اوړدو کتابونو[۱] ته دې مراجعه وکړي. مګر په پنځمه کلمه (الْمُدَبِّرَات) کښې ټول علماء کرام تقريباً متفق دي چې دا د پرښتو د ټولګيو څخه عبارت ده[۲]، کوم چې په دنيا کښې د الله ﷻ په امر د کارونو په اجراء باندې بوخت دي، کومو ته چې په [السجدة:۵] ايت کښې اشاره شوې ده.

---

(۱) زاد المسير ج۸ ص۱۶۹؛ روح المعاني ج۳۰ ص۲۳؛ تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۹۰؛ أضواء البيان ج۹ ص۲۲
(۲) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۳۸۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که څه هم د بدلیت په لحاظ د اولنیو څلورو وارو کلمو د هرې یوې څخه متعددې معناوې اراده کېدلی شي مگر بهتره دا ده چې د دغو څلورو وارو کلمو څخه هم د پرښتو ټولگي اراده کړی شي، ترڅو د پنځو وارو کلمو مفاهیم سره بنه پوره تناسب ولري.

ج: د "الصّافات" سورت په لومړنیو ایتونو کښې یو سوال جواب تېر شوی دی ـوالحمد لله ـ چې په دې مقام کښې یې تطبیق بې گټې نه دی، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

د: په ﴿ وَٱلنَّـٰزِعَـٰتِ غَرْقًا ﴾ کښې د "نازِعَات" کلمه د "نزَع" ـلکه "ضَرَب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د کشولو او رابنکودلو معنی ورکوي[۱]، او د "غَرْق" کلمه اسم مصدر ده چې د "اغْرَاق" دپاره وضعه شوې ده[۲]، "اغْرَاق" دې ته وايي چې د یوه عمل په اجراء کښې په انتهاء سره کوښښ وکړی شي[۳]. یعنې د پرښتو په داسې ټولگیو باندې سوگند دی چې د کفارو ارواگانې د مرگ په وخت کښې په شدت سره راکاږي او په راکشولو کښې یې ډېره زیاته مبالغه او سختي کوي.

هـ: په ﴿ وَٱلنَّـٰشِطَـٰتِ نَشْطًا ﴾ کښې د "نَشط" کلمه په ارامۍ او سهولت سره د یوه شي راکشولو ته وضعه شوې ده[۴]، چې د "نزَع" په مقابله معنی باندې دلالت کوي. یعنې د پرښتو په داسې ټولگیو باندې سوگند دی کومې چې د مؤمنانو ارواگانې د مرگ په وخت کښې په ډېره ارامۍ او نرمۍ سره قبض کوي، په نرمۍ سره قبض کول.

و: په ﴿ وَٱلسَّـٰبِحَـٰتِ سَبْحًا ﴾ کښې د "سَبْح" کلمه په اوبو کښې د تېز مزل دپاره وضعه شوې ده[۵] خو دلته ترې په تېزۍ او تلوار سره د اوامرو سرته رسونه مطلب ده. نو دلته د پرښتو په داسې ټولگیو سره سوگند یاد شوی دی کوم چې د اوامرو په اجراء کښې دومره تېزي او تلوار خپلوي، ته به وایې چې په نرمو اوبو کښې تلل کوي.

ز: په ﴿ فَٱلسَّـٰبِقَـٰتِ سَبْقًا ﴾ کښې هم د پرښتو داسې ټولگي مراد دي چې په اطاعت کښې سبقت درلودونکي دي[۶] حتی چې بالکل د عدم اطاعت او عصیان استعداد نه لري.

ح: د دغو پنځو وارو سوگندونو جواب مقدر دی چې مونږ ترې په "لَتُبْعَثُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" سره تعبیر کولی شو، او وروستني ایتونه یې په تقدیر باندې دلالت کوي.

ط: ذکر شوي پنځه واړه سوگندونه په حقیقت کښې د همدغه جواب دپاره دلایل دي. ځکه که بالفرض بعث بعد الموت واقع کېدونکی نه وی او دنیا بې حکمته (عبثه) پیدا شوې وی چې په پای کښې یې محاسبه او تصفیه نه درلودی، نو ذکرو شوو انتظاماتو به هم صورت نه وی نیولی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۰۸
(۲) القاموس المحیط ج۳ ص۲۰۰
(۳) لسان العرب ج۱۰ ص۲۸۶
(۴) مفردات الراغب ص۵۱۵
(۵) مفردات الراغب ص۲۲۶
(۶) البحر المحیط ج۱۰ ص۳۹۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "رَاجِفَة" او "رَادِفَة" معناوې

۳_ په ﴿ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ﴾ کښې د "رَاجِفَة" کلمه د ځړقوونکې او اضطراب ورکوونکې زلزلې دپاره وضعه شوې ده[۱]، خو په دې مقام کښې ترې لومړنۍ شپېلۍ مطلب ده[۲]، کومه چې د همدغې سختې زلزلې سبب جوړېږي چې ټول خلک به ورسره مړه شي.

نو په ﴿ تَتۡبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ﴾ کښې د "رَادِفَة" کلمه دلته د دوهمې شپېلۍ معنی ورکوي کومه چې د اولنۍ شپېلۍ په تعقیب صورت نیسي په کومې سره به چې ټول مړي بېرته راژوندي شي.

۴_ پاتې شوه دا خبره چې د ذکرو شوو دواړو شپېلیو ترمنځ به څومره وخت صورت ونیسي نو د دې په هکله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ»[۳] یعنې د دواړو شپېلیو (رَاجِفَة، رَادِفَة) ترمنځ به څلوېښت جدایي صورت ونیسي. خو اضافه وضاحت یې نه دی ورکړی چې دغه څلوېښت به ورځې وي که میاشتې او که کلونه، والله ﷻ أعلم.

## د "وَجِيف" معنی

۵_ په ﴿ قُلُوبٞ يَوۡمَئِذٖ وَاجِفَةٌ ﴾ کښې "وَاجِفَة" کلمه د "وَجِيف" _لکه "وَعِيْد"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اضطراب او زیاتې وارخطایۍ معنی ورکوي[۴]. یعنې په دغې ورځ کښې چې مړي بېرته راژوندي شي نو زړونه (خلک) به ډېر زیات وارخطا وي او د ډېرزیات اضطراب څخه به یې سترګې ذلیله ګرځېدلې وي.

## د "حَافِرَة" معنی

۶_ په ﴿ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرۡدُودُونَ فِي ٱلۡحَافِرَةِ ﴾ کښې د "حَافِرَة" کلمه د هغې لارې دپاره وضعه شوې ده په کومه باندې چې څوک راغلي وي[۵] چې په دې مقام کښې ترې ژوند مطلب دی[۶]. یعنې کفار د استهزاء او تعجب په توګه وایي چې: ایا مونږ هرومرو هغې لارې ته بېرته ستانه کړی شوي یاستو په کومه چې یو ځل تېر شوي یاستو؟ ایا مونږ به د قیامت په ورځ بیا ژوندي کړی شو لکه څنګه چې نن ورځ ژوندي یاستو؟

## د مشرکانو قوي استدلال او د هغه رد

۷_ په ﴿ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا نَّخِرَةٗ ﴾ کښې د "نَخِرَة" کلمه د هغو هډوکو لقب دی کوم چې وراسته شوي

(۱) مفردات الراغب ص۱۹۴
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۴۲
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۱
(۴) القاموس المحیط ج۴ ص۵۷۸
(۵) لسان العرب ج۴ ص۲۰۵
(۶) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او زاره شوي وي(۱)، نو دلته هغه استدلال راحکایت شوی دی کوم چې مشرکانو ته د خپلې کفري عقیدې د اثبات دپاره ډېر زیات قوي برېښېد. یعنې مشرکان وایي چې: ایا کله چې مونږ وراسته او میده میده هډوکي وګرځو نو بیا به هم مونږ راژوندي کړی شو؟!

په همدې ارتباط په یوه حدیث کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يَأْكُلُ التُّرَابُ كُلَّ شَيْءٍ مِنَ الْإِنْسَانِ إِلَّا عَجْبَ ذَنَبِهِ»(۲) یعنې د انسان (مړي) څخه هر شی خاورې خوري او محوه کوي یې مګر هغه هډوکي نه خوري او نه یې محوه کوي کوم چې "عَجْبُ الذَنَب" نومېږي، کوم چې د هر انسان په لکلمې کښې د اورې د دانې په اندازه کوچنی دی، د کوم پوري به چې د بیا ژوندي کېدلو په وخت کښې د بنیادم نور هډوکي او نورې برخې نښلي او په نتیجه کښې به ترې انسان جوړېږي.

مشرکانو به د استهزاء (ملنډو) په توګه دا هم ویلې چې: که دغه کار رښتیا وی نو دا خو به ډېر زیانمند او تاواني کرت (وار) وي چې مونږ به ورسره مخامخ شو.

۸ـ د مشرکانو د استدلال رد ته دلته داسې اشاره شوې ده چې:

الف: د ﴿ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴾ غوندې یوه جمله وړاندې په [الصافات:۱۹] ایت کښې نازله شوې ده، او هلته د الله ﷻ په توفیق شرحه شوې ده چې د "هِيَ" ضمیر پکښې "بعثة" ته راجع دی په کوم باندې چې مقام دلالت کوي، او د ﴿ زَجْرَة ﴾ کلمه د کړیکې (اواز) معنی ورکوي.

ب: په ﴿ فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ ﴾ کښې د "سَاهِرَة" کلمه د ځمکې د مخ دپاره وضعه شوې ده(۳).

یعنې ای مشرکانو! تاسو بیا راژوندي کول بعید او نه کېدونکي مه ګڼئ، دغه کار الله ﷻ ته ډېر اسان دی، دا کار بل شی نه دی مګر په شپېلۍ کښې فقط یوه کړیکه او یو اواز دی، نو د دغې کړیکې او اواز سره سم به ټول مړي د ځمکې د ګېډې څخه را اوچت شي او د ځمکې په مخ به ودرېږي.

﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ۝١٥ إِذْ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ۝١٦ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ۝١٧ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ۝١٨ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ۝١٩ فَأَرَىٰهُ ٱلْءَايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ۝٢٠ فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ۝٢١ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ۝٢٢ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ۝٢٣ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ۝٢٤ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْءَاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ۝٢٥ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ۝٢٦ ﴾

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۰۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۸
(۳) لسان العرب ج۴ ص۳۸۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۵] (ای پیغمبره!) ایا تاته د موسی ﷺ خبره (قیصه) درغلې ده؟ (هو! درته درغلې ده).

[۱۶] (هغه وخت یاد کړه) کله چې موسی ﷺ ته خپل رب ﷻ (په بلا کیفه توګه) په مقدس میدان (وادي) کښې اواز وکړ، کومه چې "طُوًى" نومېږي. (هغه دا چې):

[۱۷] (ای موسی!) فرعون ته (د یو پیغمبر په حیث) لاړ شه (او سمې لارې ته یې دعوت کړه) یقینًا نوموړی سرکشي کوي (او د شرعي چوکاټ څخه وړاندې تېرېږي).

[۱۸] نو (په نرمۍ سره ورته) ووایه چې: ایا ته میل (او رغبت) لرې چې (خپل خان د شرکیاتو څخه) پاک کړې؟

[۱۹] او (ایا دېته تیار یې) چې تاته زه د خپل رب ﷻ په لور لارښوونه وکړم، چې ته (د خپل رب ﷻ څخه) وېدار شې (او سمه لاره خپله کړې)؟.

[۲۰] (موسی ﷺ فرعون ته ورغی) نو (د نورو معجزاتو په شمول) لویه معجزه (د همسا اژدها) یې هم ورښودله (او خپل نبوت یې ورته اثبات کړه).

[۲۱] نو هغه موسی ﷺ تکذیب کړ (چې ته جادوګر یې) او عصیان یې خپل کړ (ایمان یې وربانديې رانه ووړ).

[۲۲] بیا یې (ورته) شا کړه کوښښ یې وکړ (چې د نبوت مخه یې بنده کړي).

[۲۳] نو (جادوګران او نور خلک) یې راغونډ کړل نو په لوړ اواز سره یې غږ وکړ.

[۲۴] نو ویې ویلې چې: زه ستاسو ډېر لوی پالونکی یم (تاسو بل معبود نه لرئ).

[۲۵] نو الله ﷻ فرعون (او فرعونیان) د آخرت په عذاب سره ونیو او هم د دنیا (په عذاب سره. په دواړو کښې یې په غضب اخته کړ).

[۲۶] یقینًا په دغې (نیونه) کښې د هغه چا دپاره هرومرو د عبرت لوی درس دی کوم چې (د الله ﷻ څخه) ډارېږي (غواړي چې ترې وېدار شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د قیامت د دلایلو څخه وروسته د موسی ﷺ او د فرعون قیصې ته اشاره شوې ده چې د یو پلوه پکښې د نبي کریم ﷺ تسلي نغښتې ده او د بله پلوه پکښې عنادي کفار تهدید شوي دي نو حاصل یې داسې راخېژي:

ای پیغمبره! ایا تاته د موسی ﷺ د قیصې څه خبر درغلی دی ترڅو ترې د خپل خان دپاره د تسلۍ ارشاد ترلاسه کړې؟ چې په اجمالي توګه داسې پیل شوه:

۱ ـ هغه وخت چې موسی ﷺ ته خپل رب ﷻ د طور د غره ترڅنګ په مقدس ځای کښې ـ چې طوی نومېږي ـ بلا کیف اواز سره وحې وکړه.

۲ ـ په دغه مقام کښې الله ﷻ موسی ﷺ ته د نبوت تاج ورپه سر کړ او امر یې ورته وکړ چې:

الف: ته فرعون ته لاړ شه او حق دین ته یې دعوت کړه، نوموړی ښه پوره سرکشه او عنادي کافر دی، دعوت ورته ضرور دی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: فرعون ته په نرمۍ سره دعوت پیل کړه او ورته ووایه چې: ای فرعونه! ایا ته دې خبرې ته رغبت لرې چې د کفریاتو څخه پاک او تزکیه شې چې دنیا او آخرت دې دواړه سم شي؟ ایا ته مینه لرې او دېته تیار یې چې زه تاته سمه لاره وښیم ترڅو ورباندې خپل رب ﷻ ته ورسېږې او د شیطان د اندیوالۍ څخه خپل ځان خلاص کړې؟.

۳ـ موسی ﷺ د ذکر شوي ارشاد په بنیاد فرعون ته ورغی او د هغه په دعوت یې پیل وکړ، چې د خپل نبوت د اثبات دپاره یې ورته د نورو معجزاتو په شمول دېره لویه معجزه هم وروښودله چې د خپلې همسا څخه یې ورته په خارق العاده توګه اژدها جوړ کړ. موسی ﷺ د نوموړي څخه وغوښتل چې: ما د یوه پیغمبر په حیث وپېژنه او توحید خپل کړه او بني اسرائیل زما سره پرېږده چې زه یې خپل وطن (شام) ته ستانه کړم.

۴ـ خو فرعون د موسی ﷺ یوه خبره هم ونه منله، چې د جادوګر په نامه یې وباله او د بني اسرائیلو خوشې کولو ته چمتو نه شو او عصیان یې خپل کړ.

۵ـ نو د همدې کبله یې د موسی ﷺ دعوت ته شا وروګرځوله او کوښښ یې وکړ ترڅو یې په جادوګرانو سره مقابله وکړي. نو:

الف: د خپل ټول قلمرو څخه یې جادوګران راغونډ کړل او د مقابلې دپاره یې ورته د جشن ورځ وټاکله ترڅو ټول خلک د مقابلې ننداره وکړي.

ب: نو جادوګران او عام وګړي یې په لوړ اواز سره ټول مخاطب وګرځول چې: ای خلکو! تاسو ټول خبر شئ چې زه ستاسو لوی رب او لوی پالونکی یم، نو پام کوئ چې موسی ﷺ تاسو بې لارې نه کړي او د دین دغه لوړه طریقه مو د منځه یونسي په کومه باندې چې تاسو روان یاست.

ج: نو کله چې د فرعون عصیان او تکبر اوج ته ورسېد نو الله ﷻ په اخروي عذاب باندې علاوه په دنیاوي عذاب سره هم ونیوه او د قلزم په بحیره کښې یې د خپلو لښکرو سره غرق کړ.

۶ـ اې پیغمبره! بې شکه په دغې قیصه او دغه خبر کښې برسېره پر دې چې ستا دپاره پکښې د تسلۍ او اطمنان ټکی موجودیت لري، د قیامت تر ورځې پورې پکښې د هغه چا دپاره هم هرومرو د عبرت درس نغښتی دی کوم چې د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي او غواړي چې سمه لاره مونده کړي (په عناد باندې کلک پاتې نه شي).

## توضیحات

۱ـ د موسی ﷺ او د فرعون قیصه په نورو سورتونو کښې ښه تفصیلواره نازله شوې ده لکه "طه" سورت او نور، نو هیله ده چې د زیات بیان غوښتونکي هملته مراجعه وکړي.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ په ﴿ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴾ کښې د "إلی" توری په مقدرې کلمې پورې تعلق نیسي چې مونږ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ترې په "مَيل" سره تعبير كولى شو، دغه مقدره كلمه مبتدا ده او د "لَكَ" كلمات د خپل متعلق په ملحوظ يې خبر دى(۱). يعني اى فرعونه! ايا تاته د خپل ځان د تزكيه كولو او د كفرياتو څخه د پاكولو څه ميل او رغبت ثابت دى؟

## دوه ډوله تفسير

۳ـ په ﴿ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْآخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴾ كښې د "الآخِرَة" او "الأولَى" دواړه كلمې مفسرينو كرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسيرې كړې دي او څه لرې نه ده چې د بدليت په لحاظ دواړه اراده كړى شي چې څه منافات سره نه لري:

الف: اكثره علماء كرام وايي(۲) چې: د ﴿ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴾ څخه د فرعون هغه خبره مطلب ده كومه چې الله ﷻ د هغه د خولې څخه راحكايته كړې ده چې: ﴿ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى ﴾ [القصص: ۳۸] يعني زه ستاسو دپاره د خپل ځان څخه په غير په بل معبود باندې علم نه لرم. او د ﴿ ٱلْآخِرَةِ ﴾ څخه يې همدغه خبره ﴿ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ مراده ده، په كومه كښې چې بحث روان دى.

دوى وايي چې: د فرعون د ذكرو شوو دواړو خبرو ترمنځ څلويښت (۴۰) كاله فاصله وه(۳). يعني الله ﷻ فرعون د وروستنى خبرې او رومبنى خبرې (د دواړو) په عذاب سره ونيو او هلاک يې كړ.

ب: ځينې علماء كرام وايي چې: د ﴿ ٱلْآخِرَةِ ﴾ څخه اخروي عذاب او د ﴿ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴾ څخه دنياوي عذاب مراد دى(۴). يعني الله ﷻ نوموړى فرعون په دنيا كښې د قلزم په بحيره كښې غرق كړ او په آخرت كښې يې ورته ګرم دوزخ تيار كړى دى، نو په دواړو عذابونو باندې يې اخته كړ.

﴿ ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ ۚ بَنَىٰهَا ۝٢٧ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ۝٢٨ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ۝٢٩ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ۝٣٠ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ۝٣١ وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا ۝٣٢ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ۝٣٣ ﴾

[۲۷] (اى مشركانو!) ايا تاسو د پيدايښت د حيثه ډېر سخت ياست يا اسمان (ډېر سخت دى)؟ الله ﷻ اسمان جوړ كړى دى (داسې چې):

[۲۸] د اسمان چت يې اوچت (پيدا) كړى دى، نو برابر كړى يې دى (هيڅ نقص پكښې نشته).

[۲۹] او د اسمان شپه يې تياره ګرځولې ده، او د اسمان ځانښت (ورځ) يې ويستلې ده (رڼا كړې ده).

---

(۱) روح المعاني ج۳۰ ص۲۹
(۲) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۲۰۲؛ اضواء البيان ج۹ ص۳۰؛ تفسير الطبري ج۳۰ ص۴۱
(۳) الدر المنثور ج۸ ص۴۱۰
(۴) تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۶۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۰] او ځمکه (یې خوره کړې ده) د دغه (اسمان د پیدا ایښت) څخه وروسته یې خوره کړې ده.

[۳۱] چې د ځمکې څخه یې د دې اوبه راویستلې دي (پکښې بهولې یې دي) او د دې څرځای یې هم (ترې راویستلی دی او پکښې تیار کړی یې دی).

[۳۲] او غرونه (یې په ځمکه باندې نصب کړي دي) نصب کړي یې دي.

[۳۳] (الله ﷻ ذکرو شوو ټولو کارونو ته) ستاسو د ګټې دپاره او هم ستاسو د څارویو (د ګټې دپاره صورت ورکړی دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د دې زمانې فراعنه د پخوانیو فراعنه وو په عاقبت سره تهدید شوي وه، او په دې ایتونو کښې د څو نعمتونو ذکر نازل شوی دی چې په عین حال کښې د کامل قدرت مثالونه هم دي ترڅو هغوی ته پوښتنې متوجه شي. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای مشرکانو! کله چې تاسو د بعث بعد الموت څخه انکاري یاست نو تاسو د لاندې پوښتنو دپاره څنګه جوابونه درلودلی شئ:

۱_ ایا تاسو د پیدا ایښت د حیثه کلک (سخت) یاست او که اسمان کلک او سخت دی؟ چې څه کیفیات یې دا دي:

الف: الله ﷻ اسمان بې ستنو پیدا کړی دی، ایا دا کار د کامل قدرت نښه نه ده؟

ب: الله ﷻ اسمان پوره هسک او لوړ پیدا کړی دی چې په هیڅ کښې یې د ورختلو توان نشته، نو ډېر اوچت چت یې ګرځولی دی.

ج: الله ﷻ اسمان په ډېر ښه کیفیت سره پیدا کړی او برابر کړی دی او هم یې د لمر او سپوږمۍ په شمول په ډېرو ستورو باندې ښایسته کړی دی، نه یې په رنګ کښې د ګوتې د ایښودلو ځای شته او نه په جوړښت کښې.

د: الله ﷻ په اسمان کښې ډېره لویه ډیوه پیدا کړې ده چې په څلیرشتو ساتونو کښې یو ځل طلوع او غروب کوي، نو په طلوع سره یې ورځ پیدا کیږي او په غروب سره یې شپه، حال دا چې دغه (د شپې او ورځې بدلون رابدلون) د قیامت تر ورځې پورې ادامه لري او هیڅوک یې د مخنیوي توان نه لري.

۲_ ای مشرکانو! ایا تاسو د پیدا ایښت د حیثه سخت او ګران یاست او که ځمکه سخته او ګرانه ده، چې الله ﷻ د اسمان د پیدا کولو څخه وروسته هواره او خوره وره کړه، او په دغو کیفیاتو باندې یې مشتمله هم وګرځوله:

الف: په ځمکه کښې یې د همدې ځمکې څخه اوبه جاري کړې چې پکښې بهېږي، نو سیندونه او چینې یې پکښې روانې کړې او دریابونه یې پکښې پیدا کړه.

ب: په ځمکه کښې یې تخمونه وشیندل او ډول-ډول نباتات یې پکښې زرغون کړل، او هم یې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ښه پرېمانه څرخایونو درلودونکې وګرځوله.

ج: په ځمکه باندې یې غرونه نصب کړل چې د هغې اضطراري حرکت یې ودراوه او د سکونت دپاره یې قابله وګرځوله.

۳_ نو ای خلکو! ای مشرکانو! ایا الله ﷻ ذکر شوي کارونه ستاسو د استفادې او معیشت دپاره نه دي ترسره کړي؟

یقینًا الله ﷻ اسمان او ځمکه په ذکرو شوو کیفیاتو سره د دې دپاره مشتمل ګرځولي دي ترڅو ترې تاسو د خپل معیشت او هم د خپلو څارویو د معیشت دپاره ګټه اوچته کړئ.

۴_ نو ای مشرکانو! ایا هغه اقدس ذات ﷻ چې په ذکرو شوو تکویناتو باندې کامل قدرت لري، په بعث بعد الموت باندې قدرت نه لري؟ ایا دغو ټولو انتظاماتو ته یې بې حکمته او په عبثه توګه صورت ورکړی دی چې په ترڅ کښې به هیڅ تصفیه ونه لري؟

## توضیحات

۱_ په ﴿ رَفَعَ سَمْكَهَا ﴾ کښې د "سَمْك" کلمه دلته د "سَقف" معنی ورکوي[۱]، چې په بل ایت کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ وَٱلسَّقْفِ ٱلْمَرْفُوعِ ﴾ [الطور:۵] یعنې په اوچت کړی شوي چت باندې سوګند دی (چې د اسمان څخه عبارت دی).

نو د ذکرې شوې کلمې اضافت "ها" ته بیاني دی. یعنې الله ﷻ هغه چت کوم چې د اسمان څخه عبارت دی، اوچت پیدا کړی دی.

۲_ پاتې شوه دا خبره چې اسمان د ځمکې څخه څومره اوچت دی، نو د دې دپاره د نبي کریم ﷺ د یوه حدیث دغه ټوټه ولولئ چې: «بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ»[۲] یعنې ستاسو ترمنځ (ای انسانانو!) او د اسمان ترمنځ د پنځه سوو (۵۰۰) کالو د مزل فاصله ده، همدارنګه د یو اسمان څخه تر بل اسمانه پورې فاصله همدومره ده آن تر اوم اسمانه پورې.

## د "اِغْطَاش" معنی

۳_ په ﴿ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا ﴾ کښې د "أَغْطَشَ" کلمه د "اِغْطَاش" _لکه "اِكْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "اِغْطَاش" دېته وايي چې یو شی تیاره وګرځولی شي[۳]. یعنې الله ﷻ د اسمان شپه تیاره ګرځولې ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ لَيْلَهَا ﴾ او ﴿ ضُحَىٰهَا ﴾ کښې د شپې او څاښت (ورځې) اضافتونو څکه اسمان ته صورت نیولی دی چې د شپې او ورځې دپاره د لمر پرېوتل او د لمر ختل سبب ګرځي حال دا چې د لمر سترګه په اسمان کښې موقعیت لري.

---

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۶۱۶
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۵
(۳) لسان العرب ج۶ ص۳۲۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "دَحْو" معنی

۴_ په ﴿ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴾ کښې د "دَحی" کلمه د "دَحْو" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاق شوې ده، "دَحْو" د یوه شي د خورولو او غوړولو معنی ورکوي[۱]. یعنې الله ﷻ د دغو (شیانو) څخه وروسته ځمکه خوره کړه. نو د دغه ایت دپاره وروستني دواړه ایتونه ﴿ أَخْرَجَ ﴾، ﴿ وَٱلْجِبَالَ ﴾ تفسیر واقع شوي دي.

## یادونه

۵_ د الله ﷻ په توفیق د [حمٓ السجدة:۹_۱۱] ایتونو لاندې ښه تحقیقي بحث تېر شوی دی چې د اسمان پیدا کول مخکښې دي او که د ځمکې، نو هیله ده چې علاقمندان هملته مراجعه وکړي.

﴿ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلْجَحِيمَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾ ﴾

[۳۴] نو کله چې ډېره لویه غمیزه (قیامت) راشي.

[۳۵] په داسې ورځ کښې چې هر انسان خپل هغه کړه وړه یاد کړي کوم یې چې (په دنیا کښې) کوښښ کړی وي (او عملي کړي یې وي).

[۳۶] او چې دوزخ هغه چا ته ښکاره کړل شي کوم چې لیدل کوي (نو خلک به په دوه وو ګروپونو ووېشلی شي).

[۳۷] نو هر چې هغه څوک دی کوم چې سرکشي کړې وي (او کفر یې غوره کړی وي).

[۳۸] او نږدې (او حقیر) ژوند یې (په اخروي ژوند باندې) غوره کړی وي.

[۳۹] نو یقیناً دوزخ چې دی همدا دوزخ (د دغو کسانو دپاره) استوګنځای دی.

[۴۰] او هر چې هغه څوک دی کوم چې د خپل رب ﷻ (په حضور کښې) د درېدلو څخه ډارېږي او (هم) خپل نفس د (غیر مشروعو) خواهشاتو څخه منعه کوي.

[۴۱] نو یقیناً جنت چې دی همدا جنت (د دغو کسانو دپاره) استوګنځای دی.

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۲۵۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۲] (ای پیغمبره!) مشرکان ستا څخه د قیامت په هکله پوښتنه کوي چې قیام (او وقوع) به یې څه وخت وي؟

[۴۳] د قیامت د یادولو څخه ته په څه کښې یې؟ (تاته څه معلومات دي؟ ته څه خبر یې؟).

[۴۴] (فقط) ستا رب ﷻ ته د قیامت (علم او خبر) منتهي دی (بل څوک پرې علم او خبر نه لري).

[۴۵] یقینًا ته چې یې د هغه چا ډاروونکی یې کوم چې د قیامت (د مشکلاتو) څخه ډارېږي (او غواړي چې تیاري ورته ونیسي).

[۴۶] په کومه ورځ چې مشرکان (د بعث بعد الموت منکران) قیامت وګوري نو (خپل خانونه به ورته داسې ښکاره شي) لکه چې یقینًا دوی (په دنیا کښې) ځنډ نه وي کړی مګر یو ماښام یا د همدې ماښام یو سبا.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د دلایلو څخه وروسته هغه کسان تهدید شوي دي کوم چې د قیامت د ورځې څخه منکر دي او په دلایلو سره قناعت نه کوي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د تهدید دپاره د قیامت څه حالات قرائت کړه هغه دا:

۱ـ چې کله قیامت قائم شي او لاندې پېښې رامنځته شي:

الف: دوهمه شپېلۍ ووهله شي او ډېر لوی آفت او لوی غم راشي حتی چې هرڅوک د حالاتو په تفاوت سره په اندېښنو کښې ډوب شي.

ب: چې هغه ورځ صورت ونیسي په کومه کښې چې هر بنیادم هغه څه ورپه یاد کړي کوم یې چې په دنیا کښې اجراء کړی وي، برابره خبره ده چې ښه وي او که بد.

ج: چې دوزخ هر لېدونکي ته څرګند شي او د هر چا علم وریاندې د علم الغیب د مرتبې څخه د علم المشاهدې درجې ته ورسېږي.

نو ټول خلک به دوه ډلې شي، یوه به یې أهل النّار وي او بله به یې أهل الجنّة.

۲ـ د ذکرو شوو دواړو ډلو هرې یوې څه حالات دا دي چې:

الف: هر چا چې په دنیا کښې سرکشي خپله کړې وي او د پیغمبر ﷺ د ارشاداتو څخه انکاري ګرځېدلی وي، بلکې نژدې او حقیر ژوند ته یې په راتلونکي او عزیز ژوند باندې ترجیح ورکړې وي، چې دنیاوي ژوند یې غوره کړی وي او اخروي ژوند ته یې شا اړولې وي، نو د دغسې کسانو دپاره د استوګنې ځای دوزخ دی چې تل به پکښې پاتې وي.

ب: او هر هغه څوک چې د خپل رب ﷻ په حضور کښې د دریدلو څخه ډارېږي او خپل نفس د خواهشاتو او شیطاني غوښتنو څخه منعه کړي (په دنیا باندې آخرت ته ترجیح ورکړي)، نو د دغو کسانو دپاره استوګنځای جنت دی چې همېشه به پکښې اوسېږي.

۳ـ ای پیغمبره! مشرکان ستا څخه د قیامت په هکله د استهزاء په توګه پوښتنه کوي چې دا به کله قائم شي او څومره وخت ورته پاتې دی؟ حال دا چې:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: تاته د قیامت د قیام وخت څه معلوم دی چې کله به قائم شي؟. تاته په دې هکله هیڅ وحې او ذکر نه دی درنازل شوی او نه تا د دغه ډول معلوماتو حاصلولو هڅه کړې ده، بلکې دغه علم فقط ستا په رب ﷻ پورې منتهی کېږي او خاص همده ﷻ پورې اختصاص لري. نو په دې هکله تاته پوښتنه راجع کول عبث کار دی.

ب: یقیناً ته د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر یې، نو ته د هغه چا دپاره ډاروونکی یې کوم چې د قیامت د مشکلاتو څخه ډارېږي او غواړي چې تیاري ورته ونیسي.

۴ـ ای پیغمبره! نن ورځ مشرکانو ته قیامت لرې برېښي او تاته پوښتنې راجع کوي چې کله به قائم شي، خو چې کله قائم شي او دوی یې په خپلو غړولو سترګو وګوري نو خپل خانونه به ورته داسې وبرېښېږي لکه چې په دنیا کښې یې ډېر لږ وخت تېر کړی وي لکه یو بېګا وخت یا یو سبا وخت (فقط نیمه ورځ).

## توضیحات

۱ـ په ﴿فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلْكُبْرَىٰ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د "إِذَا" په جواب کښې خو علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[۱]، خو په ټولو کښې مونږ ته دا غوره برېښي چې جواب یې مقدر دی چې په "اِنْقَسَمَ النَّاسُ إِلَى قِسْمَيْنِ" سره ترې تعبیر کېدلی شي. په همدې تقدیر باندې وروستني ایتونه دلالت کوي.

ب: د ﴿ٱلطَّآمَّةُ﴾ کلمه د "طُمُوم" ـ لکه "قُتُول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "طُمُوم" دېته وایي چې یو شی دومره ډېر او زیات شي چې په بل شي باندې د پاسه شي او د خپل اثر لاندې یې واقع کړي[۲].

ج: په دې مقام کښې د ﴿ٱلطَّآمَّةُ﴾ کلمه د قیامت د ورځې څخه عبارت ده[۳]، شاید دغه لقب به دغې ورځې ته د دې کبله ورکړی شوی وي چې دا ډېره غم لرلې ورځ ده، حتی چې په دغې ورځ کښې به ټول خلک د غمونو او اندېښنو لاندې واقع شي.

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَيَبْلُغُ النَّاسُ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا يُطِيقُونَ وَلَا يَحْتَمِلُونَ»[۴] یعنې نو د قیامت په ورځ به خلکو ته د غم او اندېښنو څخه دومره اندازه ورسېږي چې دوی به یې طاقت نه لري او تحمل به یې نه شي کولی، نو د لوی شفاعت په موندلو پسې به هڅې پیل کړي.

د ذکرو شوو ټکو په ملحوظ د ایت شریف مضمون هغسې راخېژي کوم ته چې وراندې د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده.

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۱۴۶؛ البحر المحیط ج۱۰ ص۴۰۱
(۲) لسان العرب ج۱۲ ص۳۷۰
(۳) الدر المنثور ج۸ ص۴۱۲
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۶۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "عَشِيَّة" او "ضُحَىٰ" معناوې

۲ـ په ﴿إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا﴾ كښې د ﴿عَشِيَّةً﴾ د كلمې څخه په دې مقام كښې د ورځې هغه برخه مطلب ده كومه چې د زوال څخه پيل كېږي او د لمر په غروب باندې ختمېږي، چې موږ ترې په "ماښام" سره تعبير كولی شو. او د "ضُحَىٰ" څخه دلته د ورځې هغه برخه مراد ده كومه چې د لمر په راختلو سره پيل كېږي او په زوال سره اختتام مومي، څه لږ نه ده چې موږ ترې په "څاښت" سره تعبير وكړو.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه په ﴿ضُحَاهَا﴾ كښې د "ها" ضمير د ﴿عَشِيَّةً﴾ كلمې ته راجع دی. يعنې كفارو ته به د قيامت په ورځ خپل ټول دنياوي عمر د ماښام په اندازه او يا د همدغې ورځې د وړاندېنۍ برخې سبا (څاښت) په اندازه څرگند شي.

## همږمو نه شي

۳ـ په همدې ارتباط (چې د قيامت په ورځ به كفارو ته خپل ټول دنياوي عمرونه ډېر لږ ښكاره څرگند شي) د [يونس:۴۵] ايت لاندې ـ د الله ﷻ په توفيق ـ بحث تېر شوی دی، نو هيله ده چې هملته يو ځل مراجعه وكړی شي.

د الله ﷻ په توفيق د "النَّازِعَات" سورت ترجمه او تفسير پای ته ورسېد.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ خَافُوا مَقَامَ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ.

۱۴۲۵/۱۱/۲۲ هـ ق ـ ۱۳۸۳/۱۰/۱۴ هـ ش.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# عبس (۸۰)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت لومړنۍ کلمه ﴿ عَبَسَ ﴾ د همدې سورت نوم ګرځولې شوې ده.
۲_ دا سورت هم مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].
۳_ د دې سورت ټول ایتونه دوه څلوېښت (۴۲) دي[۲].
۴_ د کلماتو شمېر یې دېرشو (۳۰) ته رسېدلی دی[۳].
۵_ د حرفونو ټول شمېر یې پنځه سوه څلوېښتو (۵۴۰) حرفونو ته اوچت شوی دی[۴].
۶_ دا سورت ﴿ عَبَس ﴾ هم د نورو مکي سورتونو غوندې د عقیدوي احکامو سره زیات تړاو لري او د توحید دلایلو او د قیامت حالاتو ته پکښې اشاره شوې ده.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١﴾ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ﴿٢﴾ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾ أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ
ٱلذِّكۡرَىٰٓ ﴿٤﴾ أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ ﴿٥﴾ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَن
جَآءَكَ يَسۡعَىٰ ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخۡشَىٰ ﴿٩﴾ فَأَنتَ عَنۡهُ تَلَهَّىٰ ﴿١٠﴾ كَلَّآ إِنَّهَا تَذۡكِرَةٞ ﴿١١﴾ فَمَن شَآءَ
ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾ فِي صُحُفٖ مُّكَرَّمَةٖ ﴿١٣﴾ مَّرۡفُوعَةٖ مُّطَهَّرَةِۭ ﴿١٤﴾ بِأَيۡدِي سَفَرَةٖ ﴿١٥﴾ كِرَامِۭ بَرَرَةٖ ﴿١٦﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] پیغمبر ﷺ تنده تروه کړه او مخ یې تاو کړ.
[۲] (البته) د دې کبله چې یو ړوند (صحابي ﷺ) ورته ورغی (او خبرې یې ورپرې کړې).
[۳] (ای پیغمبره!) ته څه شي پوه کړې؟ شاید دا (ړوند صحابي ﷺ) ښه پاک شي (خپل ځان تزکیه کړي).
[۴] یا (ستا د ارشاداتو څخه) پند واخلي نو همدا پند ورته ګټه ورسوي.
[۵] هر چې هغه څوک دی کوم چې (ستا د ارشاداتو څخه) استغناء خپله کړې ده.
[۶] نو ته هغه ته غوږ ږدې (خبرې یې اورې او مخ ور اړوې).
[۷] حال دا چې په تا باندې (د دې خبرې هیڅ پړه) نشته چې همدا کس پاک نه شي (او خپل ځان تزکیه نه کړي).

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۲۸
(۲) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۵۰: تفسیر البغوي ج۴ ص۴۴۶
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۴۵۵
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۱۵۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸] او هر چې هغه څوک دی کوم چې تاته په داسې حال درځي چې تلوار کوي (او درځغلي).
[۹] حال دا چې هغه (د خپل رب ﷻ څخه) ډاريږي.
[۱۰] نو ته د هغه څخه مشغولتيا غوره کوې (او د خبرو څخه يې مخ اړوې).
[۱۱] دغسې کار (بيا) مه کوه! يقيناً دا قرآن کريم سوچه پند دی.
[۱۲] نو د هر چا چې خوښه شي هغه به ترې ګټه اوچته کړي.
[۱۳] (دا قرآن کريم) په داسې معززو صحيفو کښې (ثبت) دی.
[۱۴] چې عالي شان ورکړی شوې دي (او د ناپاکه لاسونو څخه) پاکې ساتلې شوې دي.
[۱۵] (د لوح محفوظ څخه) د داسې ليکونکو پرښتو په لاسونو سره (ليکلی شوی دی).
[۱۶] چې عزتمندې (او) صادقې (اطاعت کوونکې) دي.

## ارتباط او شان نزول

په دې ايتونو کښې د وړاندېني سورت (النَّازِعَات) تقريباً د وروستني ايت ﴿ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخۡشَىٰهَا ﴾ دپاره يو مثال نازل شوی دی کوم چې د شان نزول په قيصه کښې ښه پوره واضحه شوی دی هغه دا چې:

د عائشې (أُم المؤمنين) رضي الله عنها د روايت په بنياد[۱]، يو په سترګو معذور صحابي (عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه) نبيّ کريم ﷺ ته ورغلی وه او عرض يې کړی وه چې: ای د الله رسوله! ماته څه اسلامي ارشادات رازده کړه. په دغه وخت کښې نبي کريم ﷺ د مشرکانو يوه مشر ته په دعوت مشغول وه او تمه يې درلوده چې که دغه مشر اسلام قبول کړي نو ډېر خلک به په اسلام مشرف وګرځي، نو د همدې کبله يې د ذکر شوي صحابي څخه مخ واړاوه او مبارک تندی يې لږ څه تریو کړ او خپلو دعوتي خبرو ته يې ادامه ورکړه. کله چې ذکر شوي صورت حال ختم شو او نبي کريم ﷺ د کور په لور روان شو نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه[۲].

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني پيغمبر ﷺ د دې کبله تندی تروه کړه او مخ يې بل طرف ته واړاوه چې هغه ړانده صحابي رضي الله عنه ترې د اسلامي ارشاداتو په هکله پوښتنه وکړه کوم چې قيامت ته تياری نيسي او خپل ځان اسلامي ارشاداتو ته اړ ګڼي.

۲ـ ای پيغمبره! ته د دغه ړانده صحابي رضي الله عنه په حالت باندې څه شی پوه کړې، تاته څه معلومات وه، شايد چې همدغه صحابي رضي الله عنه ستا په ارشاداتو خپل ځان تزکيه کړي او يا يې زده کړي او په راتلونکي کښې ترې ګټه اوچته کړي او عمل پرې وکړي.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۰
(۲) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۳۱؛ سيرت ابن هشام ج۱ ص۳۸۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ ای پیغمبره! ستا دغه کار څکه خلاف الأولی او نه بهتر دی چې:

الف: څوک چې ستا د ارشاداتو څخه خپل ځان بې پروا ګڼي نو ته هغه ته زیاته توجه کوې او ورته په تمه یې چې خپل ځان به تزکیه کړي او ایمان به راوړي، حال دا چې د نوموړي د کفریاتو پړه په تاباندې نه پربوځي.

ب: بالمقابل څوک چې ستا ارشاداتو ته په محبت او تلوار سره درځغلي چې زده یې کړي، تا هغه ته تندہ تروه کړه او خپله توجه دې ترې بل چا ته واړوله.

۴ـ ای پیغمبره! دغه ډول کړنلاره ګټوره نه ده، د بل ځل ارتکاب څخه یې ډډه وکړه. او دا څکه چې:

الف: دغه ایتونه بلکې د قرآن کریم ټول ایتونه پند او عبرت دی، چې تاته یې فقط د ابلاغ مسئولیت درپه غاړه دی او بس. نو هرڅوک چې ترې ګټه اوچتول غواړي هغه دې ترې ګټه اوچته کړي که نه نو پخپله به ترې محروم پاتې شي.

ب: دا ایتونه بلکې د قرآن کریم ټول ایتونه په معززو صحیفو کښې ثبت او درج دی، کومې چې د الله ﷻ په نزد د عالي شان درلودونکې دي او د شیطانانو او جوګیانو د لاس وهنې څخه پاکې ساتلې شوې دي.

ج: دا سورت بلکې د قرآن کریم ټول سورتونه د معززو او اطاعت کوونکو او لیکونکو پرښتو په لاسونو سره د لوح محفوظ څخه رالیکلې شوي دي او په تاباندې درنازل کړی شوي دي.

لنډه دا چې: د قرآن کریم عزت او کرامت د خلکو د ایمان راوړلو پورې څه توقف نه لري، او د دوی په عدم ایمان سره نه توهینیږي.

## توضیحات

۱ـ د ټولو مفسرینو کرامو په اجماع سره د ﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴾ دواړه مستتر ضمیرونه نبي کریم ﷺ ته راجع دي او په ﴿ ٱلْأَعْمَىٰ ﴾ سره عبد الله بن أم مکتوم ؓ مراد دی[۱]. یا په بل عبارت: د تندې تریوونکی نبي کریم ﷺ وه او پوښتنه کوونکی دغه صحابي ؓ وه، چې تفصیل یې وړاندې په شان نزول کښې تېر شو.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ په دغو ټولو ایتونو کښې خپل پیغمبر ﷺ یوازې په اولني ایت کښې مخاطب ونه ګرځاوه او د ﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴾ په عوض یې "عَبَسْتَ وَتَوَلَّيْتَ" نازل نه کړ؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې: په دغو دواړو کلمو کښې لږ څه عتاب مرموز وه او خطاب پرې

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۵۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دېر ستغ او دېر تريخ تمامېده، نو الله ﷻ ورباندې خپل معزز پيغمبر ﷺ مخاطب ونه ګرځاوه، ترڅو ونه زورېږي. خو څرنګه چې د عدم خطاب څخه هم د څه تريخوالي وړمه پورته کېده نو په نورو ايتونو کښې الله ﷻ د دغه لږ تريخوالي مخه هم ونيوه او په خطاب سره يې نازل کړ.

## "صدى" څه معنى؟

۳_ په ﴿ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴾ کښې د "تَصَدّٰى" کلمه اصلاً د "صَدی" _لکه "عَصی"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د [الأنفال:۳۵] ايت لاندې ليکلي دي چې د "صَدى" کلمه د خپل اواز انعکاس ته وضعه شوې ده چې په پښتو کښې ورته انګې وايي.

خو په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په مخ وراړولو او غوږ ايښودلو سره معنى کړې ده[۱]، يعني ته د هغه چا خبرې ته غوږ ږدې کوم چې نه خپل ځان تزکيه کوي او نه ورته اميد شته چې ستا د ارشاداتو څخه ګټه اوچته کړي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: ظاهره دا ده چې په ﴿ كَلَّآ إِنَّهَا ﴾ کښې د "هَا" ضمير قرآن کريم ته راجع دی، نو د څه حکمت په بنياد "إنّه" نازل نه شو ترڅو يې په ﴿ ذَكَرَهُۥ ﴾ کښې د مذکر ضمير سره بنه تناسب صورت نيولی وی؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو علماوو کرامو د دغې پوښتنې دپاره څه نور جوابونه کړي دي[۲]، خو موږ ته بهتره بربښي چې دغه ضمير ﴿ إِنَّهَا ﴾ د خبر ﴿ تَذْكِرَةٌ ﴾ د مطابقت په ملحوظ موئث نازل شوی دی[۳].

## صحيفې يعنې څه؟

۵_ په ﴿ فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴾ کښې د ﴿ صُحُفٍ ﴾ کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسيره کړې ده، لکه لوح محفوظ، د پخوانيو پيغمبرانو صحيفې او داسې نور[۴].

خو بهتره دا ده چې دلته به هغه صحيفې مرادې وې کومې به چې د لوح محفوظ څخه پرښتو راليکلې او په نبي کريم ﷺ باندې به يې قرائت کولې او نازلولې. په همدې معنى باندې د ﴿ بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ۝ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴾ ايتونه دلالت کوي.

نو همدغه صحيفې د هغو صفاتو درلودونکې هم دي د کومو چې لوح محفوظ درلودونکی دی کومو ته چې په [الواقعة:۷۷_ ۸۰] ايتونو کښې اشاره شوې ده.

(۱) تفسير البغوي ج۴ ص۴۴۷
(۲) البحر المحيط ج۱۰ ص۴۰۸؛ تفسير الکشاف ج۴ ص۷۰۲
(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۴۱
(۴) زاد المسير ج۸ ص۱۸۲؛ تفسير القرطبي ج۱۹ ص۲۱۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "سَفَرَة" او "بَرَرَة" معناوي

۶ـ په ﴿ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ﴾ کښې د ﴿ سَفَرَةٍ ﴾ کلمه د "سَافِر" جمعه ده چې د ليکونکي په معنی ده[۱]، او په ﴿ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴾ کښې د ﴿ بَرَرَةٍ ﴾ کلمه د "بَار" جمعه ده چې د صادق او مطيع معنی ورکوي[۲]. يعني دغه قرآن کريم د لوح محفوظ څخه د داسې پرښتو په لاسونو سره ليکلی شوی دی کومې چې معززې او صادقې او هم د الله ﷻ اطاعت کوونکې دی.

﴿ قُتِلَ ٱلْإِنسَـٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ ۝١٧ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُۥ ۝١٨ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ۝١٩
ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ۝٢٠ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ۝٢١ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ۝٢٢ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ
أَمَرَهُۥ ۝٢٣ فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَـٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ۝٢٤ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ۝٢٥ ثُمَّ شَقَقْنَا
ٱلْأَرْضَ شَقًّا ۝٢٦ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ۝٢٧ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ۝٢٨ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ۝٢٩ وَحَدَآئِقَ
غُلْبًا ۝٣٠ وَفَـٰكِهَةً وَأَبًّا ۝٣١ مَّتَـٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَـٰمِكُمْ ۝٣٢ ﴾

[۱۷] کافر انسان (په معنوي هلاک سره) هلاک کړی شوی (ملعون کړی شوی) دی (چې تدبر نه کوي چې): څه شي کافر ګرځولی دی (په کافر کېدلو کښې وربانديې څه باعث دی)؟

[۱۸] الله ﷻ انسان د څه شي څخه پيدا کړی دی؟.

[۱۹] (الله ﷻ نوموړی) د نطفې څخه (پيدا کړی دی) پيدا کړی يې دی، نو هغه يې (د هغه ټول کړه وړه يې) په اندازه کړي دي.

[۲۰] بيا يې ورته (د خير او شر) لاره اسانه کړې ده (او ورته ښودلې يې ده).

[۲۱] بيا الله ﷻ د انسان روح قبض کوي نو (په ځمکه کښې) يې د دفن کولو ارشاد فرمايي.

[۲۲] بيا چې کله يې اراده وشي نو (بېرته) يې راژوندی کوي.

[۲۳] (په دلايلو کښې د عدم تدبر خبره) مردوده ده چې کافر انسان هغه حکم اداء نه کړ په کوم سره چې ورته الله ﷻ امر کړی وه (چې د تدبر څخه کار واخلي).

[۲۴] نو انسان دې خپل خوراک ته وګوري (چې):

[۲۵] يقيناً مونږ (د دوی د سرونو) د پاسه په عجيبو توبولو سره اوبه توبوو (باران وروو).

[۲۶] بيا (په همدغه باران سره) ځمکه څيرې کوو څيرې کول.

[۲۷] نو په ځمکه کښې (وربانديې) دانې رازرغونوو.

[۲۸] او انګور او سبزيجات هم.

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۳۷۰

(۲) القاموس المحيط ج۱ ص۲۴۶؛ تفسير البغوي ج۴ ص۴۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۹] او زیتون او د کجورو ونې هم.
[۳۰] او گڼې (لویې) باغچې هم.
[۳۱] او میوجات او (د څارویو) شنه واښه هم.
[۳۲] (ذکر شوې ټول شیان مو) ستاسو او ستاسو د څارویو د استفادې دپاره (رازرغون کړه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې دې ته هم اشاره شوې وه چې مشرکانو د اسلامي ارشاداتو څخه استغنا، څپله کړې ده او په شرکي دریغ باندې کلک ولاړ دي. په دې ایتونو کښې په هغوی باندې پره اچولې شوې ده چې د څپلې عقیدې د تصحیح دپاره د توحید د دلایلو څخه استفاده نه کوي او څپل خانونه یې ورباندې رانده او کانه اچولي دي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

۱_ کافر انسان دې ووژلی شي او د الله ﷻ د رحمت څخه دې لرې وگرځولی شي چې په کفر باندې څومره کلک دی او څه شي ورباندې دومره کلک کړی دی؟

۲_ ایا کافر انسان څپل ځان ته نه گوري چې الله ﷻ د څه شي څخه پیدا کړي دي؟ الله ﷻ د حقیرې نطفې څخه پیدا کړی دی، نو که نوموړی څپل اصلیت ته په څیر سره وگوري نو په کفر باندې به دومره کلک پاتې نه شي لکه څومره چې یې پرې کلک دی، او د تکبر څخه به لاس واخلي.

۳_ په دې باندې علاوه د انسان ټول حالات د استدلال قابل دي. د مثال په توگه:

الف. الله ﷻ انسان د نشت څخه پیدا کړ او موجودیت یې ورېبرزو کړ.

ب. د نوموړي اندامونه یې په یوه مېچ پیدا کړه چې دواړه لاسونه، دواړه پښې، دواړه سترگې او دواړه غوږونه یې ورته په یوه اندازه جوړ کړل او هم یې د نوموړي روزي او نور کره وړه ورته لا په هغه وخت کښې په اندازه کړل په کوم وخت کښې یې چې د مور په گېډه کښې موجودیت درلود.

ج. بیا ورته الله ﷻ لاره هواره کړه او د مور د گېډې څخه یې دنیا ته رابهر کړ، او هم یې ورته په دنیا کښې د ښې لارې او بدې لارې پېژاندل اسان کړل چې عقل یې ورکړ او پیغمبران او کتابونه یې ورولېږل

د: بیا تر ټاکلې نېټې وروسته الله ﷻ د نوموړي روح قبض کوي او د ځمکې په گېډه کښې یې داخلوي او ارشاد کوي چې په قبر کښې دې دفن کړی شي، نه دا چې کالبوت یې د نورو ساکښانو غونډې د ځمکې په مخ وغورزولی شي او دفن نه کړی شي

۴_ کله چې قیامت قائم شي نو الله ﷻ به نوموړی د ځمکې د گېډې څخه په ناڅاپي توگه را اوچت کړي او د دوهم ځل دپاره به یې ژوندی کړي.

۵_ لنډه دا چې هغه تکلاره سمه نه ده او د رد قابله ده کومه چې کافر انسان څپله کړې ده، چې د انفسي دلایلو څخه هم د څپلې عقیدې د تصحیح دپاره کار نه اخلي او هغه ارشادات نه ادا، کوي او نه یې اداء کړي دي په کومو سره چې ورته الله ﷻ امر کړی دی چې د عقل څخه کار واخلي او څپل رب ﷻ په وحدانیت سره وپېژني

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ په انفسي دلايلو باندې علاوه د عقيدې د تصحيح دپاره ښه پرېمانه افاقي دلايل هم شته نو د هر څه څخه وړاندې بايد انسان خپل خوراک ته وګوري چې الله ﷻ ورته په څومره کامل قدرت سره او په څومره کامل تدبير سره تيار کړی دی. چې:

الف: مونږ د بل طرفه نه بلکې د اسمان د طرفه اوبه نازلوو او داسې پرېمانه وربښت ورږو، ته به وايې چې اوبه راوړېږي نه بلکې راتويېږي.

ب: بيا مونږ په همدغو باراني اوبو سره ځمکه چوږو او په عجيب کيفيت سره ترې نباتات او شنيلي راټوکوو لکه خوراکي داني، انګور، زيتون، د کجورو ونې، لوړ او ګڼ باغونه او باغچې او بالآخره ميوجات او واښه.

دا ټول د دې دپاره د ځمکې څخه راوباسو چې تاسو ترې د خپلو ځانونو دپاره استفاده وکړئ او هم ورباندې د خپلو څارويو روزنه وکړئ.

## توضيحات

۱_ په ﴿ قُتِلَ ٱلۡإِنسَٰنُ ﴾ کښې د ﴿ قُتِلَ ﴾ کلمه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په "لعن" سره تفسيره کړې ده[۱]. يعنې په کافر انسان باندې دې د الله ﷻ لعنت وي او په معنوي هلاک سره دې هلاک وي چې په دلايلو کښې تفکر نه کوي او يا کافر انسان دې په معنوي هلاک سره هلاک (ملعون) کړی شي.

## د "تقدير" د کلمې تفسير

۲_ په ﴿ فَقَدَّرَهُۥ ﴾ کښې د "قدّر" کلمه د "تقدير" څخه اشتقاقه شوې ده چې د اندازه کولو معنی ورکوي، خو دلته مفسرينو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسيره کړې ده:

الف: الله ﷻ د انسان اندامونه متناسب او په اندازه پيدا کړي دي[۲].

ب: الله ﷻ د انسان ټول کړه وړه په ازل کښې او بيا په هغه وخت کښې اندازه کړي او ليکلي دي کله چې نوموړی د مور په ګېډه کښې جنين وه[۳].

۳_ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري او د بدليت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي خو مقام ته په کتلو سره دوهم تفسير غوره برېښي چې بحث په انسان کښې راروان دی او د اندامونو تناسب او اندازه په انسان پورې اختصاص نه لري، ټول مخلوقات پکښې شريک دي.

## دوه ډوله تفسير

۴_ د ﴿ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴾ ايت شريف علماوو کرامو په لاندې دوه ډوله تفسير کړی دی:

---

(۱) تفسير البغوي ج۴ ص۴۴۸
(۲) تفسير ابي السعود ج۹ ص۱۱۰
(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۴۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دلته د لارې څخه د تولد لاره مطلب ده[۱]. یعنې بیا الله ﷻ انسان ته د مور د ګېډې څخه د بهر راوتلو لاره اسانه کړه.

ب: دلته د لارې څخه د ښو او بدو د پېژاندلو لاره مراده ده[۲]. یعنې بیا الله ﷻ انسان ته د ښو او بدو د لارې پېژاندل هم اسان وګرځول چې عقل یې ورکړ او شریعت یې ورنازل کړ.

که څه هم دغه دواړه تفسیرونه سره په خپل منځکښې څه منافات نه لري او د بدلیت په اعتبار سره د دواړو اراده کول هم ښه کار دی، مګر د مقام په لحاظ دوهم تفسیر غوره برېښي. او دا ځکه چې د یو پلوه خبره په انسان کښې را روانه ده او د تولد د لارې اسانول په ده پورې اختصاص نه لري او د خیر او د شر د لارې پېژاندل ورپورې اختصاص لري، او د بله پلوه په همدې مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې د ﴿ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴾ [البلد: ۱۰] یعنې او مونږ انسان ته دوه لارې وښودلې.

## "اقبار" څه معنی؟

۵ـ په ﴿ فَأَقْبَرَهُۥ ﴾ کښې د "أَقْبَرَ" کلمه د "اِقْبَار" ـ لکه "اِكْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د دفنځای د ټاکلو معنی ورکوي[۳]. یعنې الله ﷻ د انسان دپاره ځمکه د ښخولو ځای وګرځوله، که نه نو د ځمکې په مخ به یې په کالبوت باندې مچانو او مرغانو مېلې جوړولی، نو ته به وایې چې ځمکه د انسان دوهمه مور ده چې د قیامت په ورځ به یې د ګېډې څخه د دوهم ځل دپاره رااوچتېږي.

## هېر مو نه شي

۶ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ ﴾ کښې په "كَلَّا" سره هغه خبره رده شوې ده په کومه باندې چې مقام دلالت کوي هغه دا چې: کافر انسان د انفسي دلایلو څخه هم ګټه نه اوچتوي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه همدغه متصله جمله ورته تفسیر واقع شوې ده چې د "مَا" کلمه پکښې د همدغې ردې شوې خبرې څخه عبارت ده.

یعنې دغه خبره په ځای نه ده چې کافر انسان د خپلې عقیدې د سمولو دپاره اقلاً د انفسي دلایلو څخه هم کار نه دی اخستی، نو د همدې کبله یې هغه مکلفیت نه دی اداء کړی په کوم سره چې الله ﷻ مامور ګرځولی وه چې د عقل څخه کار واخلي او په دلایلو کښې تدبر وکړي.

## د څو لغاتو معناوې

۷ـ په دې مقام کښې باید د لاندې څو لغاتو معناوې په ذهن کښې وساتلې شي:

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۳۳

(۲) اضواء البیان ج۹ ص۵۵

(۳) لسان العرب ج۵ ص۶۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په ﴿ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ﴾ کښې د "صَبّ" کلمه د پاسه د اوبو توېولو دپاره وضعه شوې ده[۱]. يعنې موږ د انسانانو د سرونو د پاسه په عجيب کيفيت سره ښې پرېمانه اوبه راتويه وو، چې د څاڅکو په شکل دي، نه د ناوې په شکل چې دوی ته په ضرر تمامې شي.

ب: په ﴿ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴾ کښې د "قَضْب" کلمه د هغه نبات (شنېلي) نوم دی کوم چې اومه (خام) خوړل کېږي[۲]، لکه پياز، گندنه، کشنيز، کاوو او داسې نور.

ج: په ﴿ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴾ کښې د "غُلْب" کلمه د "غَلْبَاء" ـ لکه "شُرَفَاء" ـ جمعه ده، "غَلْبَاء" د هغې باغچې دپاره لقب دی کومه چې گڼې او لوړې ونې ولري[۳].

د: په ﴿ وَفَٰكِهَةً وَأَبًّا ﴾ کښې د "أَبّ" کلمه د هغو وښو او شنيليو نوم دی کوم چې د څارویو خوراک دی[۴].

﴿ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾ ﴾

[۳۳] نو کله چې غوږونه کڼوونکی اواز راشي! (او قيامت قائم شي، نو هرڅوک به فقط په خپل خان باندې مشغول وگرځي).

[۳۴] (البته) په داسې ورځ کښې چې سړی به د خپل ورور څخه تښتي (مخ به ترې اړوي).

[۳۵] او د خپلې مور او د خپل پلار څخه هم.

[۳۶] او د خپلې مېرمنې او خپلو ځامنو څخه هم.

[۳۷] (او دا ځکه چې) په دغې ورځ کښې به د خلکو څخه هر سړي ته داسې حالت ورپېښ وي چې (د نورو د حالاتو څخه) به يې بې پروا کړی وي.

[۳۸] په دغې ورځ کښې به ځينې مخونه (د ايمان په رڼا) روښانه وي.

[۳۹] خندېدونکي (او) خوشاله به وي.

[۴۰] او ځينې مخونه به په دغې ورځ کښې داسې وي چې گردونه به ورباندې (پراته) وي.

[۴۱] (او) توروالي به احاطه کړي (پټ کړي) وي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۸۰

(۲) مفردات الراغب ص ۴۲۱؛ تفسير الطبري ج ۳۰ ص ۵۷

(۳) القاموس المحيط ج ۳ ص ۴۰۸؛ تفسير ابن کثير ج ۴ ص ۴۷۲

(۴) لسان العرب ج ۱ ص ۲۰۴؛ الدر المنثور ج ۸ ص ۴۲۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۲] دغه (تور مخي کسان) چې دي همدوی کفار (او) فاجران دي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د سمې عقیدې ضرورت او د همدغې عقیدې مرتبو اثراتو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ ای پیغمبره! کله چې په شپېلۍ کښې کیوونکی اواز وکړی شي نو هرڅوک به په خپل ځان مشغول شي او د خپل ځان د نجات موندلو په غم کښې به ډوب شي، ته به وایې چې د دغه غم په وجه د نورو ټولو خبرو څخه کوڼ دی او بل هیڅ خبره نه اوري.

۲ـ نو په دغې ورځ کښې به په همدغه بنیاد هر سړی د خپلو نژدې اقاربو څخه تښتي او هیڅ پروا به ورباندې نه لري، یا په بل عبارت: هر سړی به د خپل ورور، خپلې مور، خپل پلار، خپلې مېرمنې او هم د خپلو ځامنو او لورګانو څخه ځان په څنګوي، ځکه چې په دغې ورځ کښې به هرڅوک او هر سړی د داسې حالت سره مخامخ وي چې د خپلوانو د حالاتو څخه به یې بې غمه کړی وي او یوازې د خپل ځان په غم به یې اخته کړي وي.

۳ـ ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به خلک په دوه وو ګروپونو باندې ووېشلی شي چې: د ځینو کسانو مخونه به ځلېدونکي او خندېدونکي او خوشاله وي چې د دوزخ څخه به یې نجات موندلی وي، او بالمقابل ځینې نور کسان او نور مخونه به په دغې ورځ کښې خړ پړ او په ګردونو باندې پټ وي چې توروالي به احاطه کړي وي او د غمونو نښې به پکښې د ورایه څرګندې وي، نو دغه دوهم ګروپ کسان به بل څوک نه وي بلکې دوی به د قیامت څخه انکار کوونکي کفار او د حد څخه تجاوز کوونکي فاجران وي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴾ کښې د "إِذَا" کلمه شرطیه ده او جواب یې مقدر دی چې مونږ تري په "اِشْتَغَلَ كُلُّ إِنْسَانٍ بِنَفْسِهِ" سره تعبیر کولی شو[۱]، په همدغه مقدر جواب باندې متصل ایتونه دلالت کوي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدغه ایت کښې د "صَاخَّة" کلمه د شدید (تېز) اواز دپاره وضعه شوې ده کوم چې د ډېر شدت او تېزوالي د کبله د اورېدونکو غوږونه کڼوي[۲]، خو په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د قیامت د ورځې څخه کنایي ده[۳]. شاید چې دغې ورځې ته به ذکر شوی لقب د دې کبله ورکړی شوی وي چې په دغې ورځ کښې به هرڅوک په غم کښې ډوب وي، ته به وایې چې د بلې هرې یوې خبرې څخه کوڼ دی او هیڅ یې نه اوري.

---

(۱) البحر المحیط ج۱۰ ص۴۱۰

(۲) لسان العرب ج۳ ص۳۳؛ القاموس المحیط ج۲ ص۸۰۲

(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۴۸؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ۲۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني کله چې دوهمه شپېلۍ ووهلی شي او قیامت قائم شي نو هر انسان به په خپل ځان مشغول وګرځي.

## هېر مو نه شي

۲_ په ﴿ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ ﴾ کښې د ﴿ يَفِرُّ ﴾ کلمه د "فرار" څخه اخستلې شوې ده چې د تښتېدلو معنی ورکوي. که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د دغه فرار دپاره متعددې غیر متبادرې وجې لیکلې دي[1] خو هېر مو نه شي چې مونږ ته بهتره برېښي چې په دې مقام کښې "فرار" د اعراض او عدم التفات څخه کنايي دی[2]. د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکي ولولئ:

الف: د قیامت په ورځ داسې حالت هم راتلونکی دی چې آدم ﷺ او نوح ﷺ به هم د «نَفْسِي نَفْسِي» کلمات تکراروي[3] یعني زه فقط د خپل ځان د نجات غوښتونکی یم.

ب: یوه ورځ نبي کریم ﷺ د قیامت د حالاتو په بیان کښې وفرمایل چې: په دغې ورځ کښې به ټول خلک پښې لوڅې، بربنډ او ناسنته حشر کړی شي.

نو یوې ښځې پوښتنه وکړه چې: ایا په دغې ورځ کښې به زمونږ ځینې کسان د نورو عورتونه ګوري؟ نبي کریم ﷺ د ذکر شوې ایت په قرائت سره جواب ورکړ[4] چې: ای فلانکۍ! په دغې ورځ کښې به د خلکو د جملې څخه هر سړي ته داسې حال وي چې (د کتلو څخه) به یې بې پروا کړی وي.

## یادونه

۳_ په دې ایتونو کښې چې کوم مضمون ته اشاره شوې ده، هغه ته ورته مضمون د [المعارج: ۱۱ _۱۴] ایتونو کښې هم نازل شوی دی چې یو ځل کتل یې ګټور دي.

په همدې ځای د "عَبَسَ" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو والحمد الله ﷻ.

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ وُجُوهُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُسْفِرَةٌ ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ.

۱۴۲۵/۱۱/۲۸ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۰/۲۰ هـ ش.

---

۱) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۲۲۴

۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۴۹. تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۱۳

۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۰

۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# التکویر (۸۱)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت (التَّكوِيرِ) په نامه باندې د همدې سورت په لومړني ايت کښې د ﴿ كُوِّرَتْ ﴾ کلمه مشتمله ده چې په همدې نامه سره دا سورت د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲_ دا سورت د مفسرينو کرامو په اجماع سره مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳_ د دې سورت ټول ايتونه فقط نهه ويشت (۲۹) دي[۲].

۴_ او ټولې کلمې يې يو سلو څلورو (۱۰۴) کلمو ته رسيږي[۳].

۵_ بالآخره د حرفونو شمېره يې څلور سوه او څلور دېرشو (۴۳۴) ته پورته شوې ده[۴].

۶_ د دې سورت محتويات د نورو مکي سورتونو غوندې په عقيدوي احکامو باندې څرخيږي خو د قيامت د حالاتو په بيان او د قرآن کريم د حقانيت په اثبات باندې پکښې زيات ټينګار شوی دی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ۝١ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ۝٢ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ۝٣ وَإِذَا
ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ۝٤ وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ ۝٥ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ۝٦ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ
زُوِّجَتۡ ۝٧ وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ ۝٨ بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ ۝٩ وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ ۝١٠
وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتۡ ۝١١ وَإِذَا ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ ۝١٢ وَإِذَا ٱلۡجَنَّةُ أُزۡلِفَتۡ ۝١٣ عَلِمَتۡ نَفۡسٞ
مَّآ أَحۡضَرَتۡ ۝١٤ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] کله چې لمر بې نوره کړی شي.

[۲] او کله چې ستوري خړ پړ وګرځولي شي.

[۳] او کله چې غرونه (د خپلو ځايونو څخه) روان کړی شي.

[۴] او کله چې د لسو مياشتو حملدارې (ورلې) اوښې وتالولی شي (خوشې کړی شي).

[۵] او کله چې وحشي ځناوران (د انسانانو سره) غونډ کړی شي.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۳۷

(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۴۵۰

(۳) تفسير الخازن ج۶ ص۴۶۱

(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۲۷۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶] او کله چې دریابونه وسوزولی شي (یا ګډوډ کړی شي).
[۷] او کله چې ارواګانې (د خپلو کالبوتونو سره) جوړه کړی شي.
[۸] او کله چې ژوندۍ ښخه کړی شوې انجلۍ وپوښتله شي.
[۹] چې د کومې ګناه په سبب وژلې شوې ده؟.
[۱۰] او کله چې اعمالنامې وغوړلی شي (او حساب کتاب پیل شي).
[۱۱] او کله چې اسمان د پوست کړی شوې ګډې غوندې تک سور وګرځولی شي.
[۱۲] او کله چې دوزخ سوزوونکی (لمبې) وګرځولی شي.
[۱۳] او کله چې (مؤمنانو ته) جنت نژدې کړی شي.
[۱۴] (کله چې ذکر شوي ټول کارونه وکړی شي) نو هر نفس (هر کس) به په هغو کړو وړو (ښه وي او که بد وي) پوه شي کوم یې چې (د محشر میدان ته) حاضر کړي وي (وړاندې یې رالېږلي وي).

## ارتباط او توضیحات

۱ـ د وړاندېنۍ سورت (عَبَس) وروستني ایتونه د قیامت د حالاتو په بیان باندې مشتمل وه، او د دې سورت (التَّكْوِير) په اولنیو ایتونو کښې همدغه موضوع تعقیبه شوې ده او په څه علاماتو او څه کیفیاتو یې رڼا اچولې شوې ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ فَلْيَقْرَأْ إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ»[۱] یعنې هر چا ته چې دا خبره خوشالي وربښې چې د قیامت ورځې ته داسې وګوري لکه چې یقینًا په سترګو سره یې لیدلي وي نو هغه دې د التکویر، الانفطار او الانشقاق سورتونه قرائت کړي (چې ښه پوره پکښې شرحه شوې ده).

۲ـ په دې مقام کښې د "إِذَا" دولسو کلمو نزول موندلی دی، چې د هرې یوې کلمې سره هغه فعل مقدر دی په کوم باندې چې وروسته د تفسیر په توګه صراحت نازل شوی دی[۲]. د مثال په توګه: ته به وایې چې ﴿ إِذَا ٱلشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴾ داسې نازل شوی دی چې: "إِذَا كُوِّرَتِ الشَّمْسُ كُوِّرَتْ". نو دلته په حقیقت کښې دولس شرطیه جملې نازلې شوې دي چې د دولسو واړو دپاره [۱۴] ایت ﴿ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ ﴾ جواب واقع شوی دی[۳].

یعنې کله چې ذکر شوي دولس کارونه تحقق ومومي نو هرڅوک به په خپلو هغو کړو وړو پوه شي کوم یې چې په دنیا کښې عملي کړي وي او د محشر میدان ته یې حاضر کړي وي (نو هر چا ته به خپل وزن ښه معلوم شي).

هو! په کومه زمانه کښې چې ذکر شوي دولس شیان تحقق ومومي هغه اوږد وخت دی چې د اولنی

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۱
(۲) روح المعاني ج۳۰ ص۵۰
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۱۸۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شپېلی څخه لږ وړاندې پیل کېږي او په هغه وخت باندې ختمېږي په کوم کښې چې حسابات تصفیه شي او هر چا ته د دوزخ یا جنت لاره وښودله شي.

## "تَکْوِیر" څه معنی؟

۳ـ په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ کُوِّرَتْ ﴾ کلمه د "تَکْوِیْر" ـلکه "تَکْرِیْم"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "تَکْوِیْر" دې ته وایي چې یو شی غونډ کړی شي او د پګړی د ولونو غونډې ونغاړل شي[۱]، خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیر کړی دی[۲] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: کله چې لمر بې نوره کړی شي او رڼا يې محوه کړی شي[۳].

ب: کله چې لمر د خپله ځایه راوغورزولی شي او کار ته يې خاتمه ورکړی شي[۴].

ج: کله چې لمر بېرته تاو کړی شي او د مغرب څخه وریاندې طلوع وکړی شي[۵].

## تبصره

۴ـ که څه هم مونږ ته داسې برېښي چې د ﴿ کُوِّرَتْ ﴾ ذکرې شوې معناوې سره څه منافات نه لري نو څه لرې نه ده چې د بدلیت په لحاظ ټولې اراده کړی شي والله ﷻ أعلم بحقیقة المراد؛ مګر ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې په دغو ایتونو کښې اولنی شپږ نښې به په دنیا کښې صورت ونیسي او خلک به يې په غړولو سترګو سره وګوري او پاتې شپږ نښې به د قیامت په ورځ تحقق ومومي[۶]. نو نظر دغه قول ته د ﴿ کُوِّرَتْ ﴾ د کلمې درېم تفسیر غوره برېښي چې د مغرب څخه د لمر طلوع خو د خلکو د نظر لاندې صورت نیسي او بس (اولنی او دوهم تفسیر د خلکو د مرګ څخه وروسته تحقق مومي).

## "کُدُورَة" څه معنی؟

۵ـ په ﴿ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتْ ﴾ کښې د "انکَدَرَ" کلمه اصلاً د "کُدُورَة" ـلکه "رُطُوبَة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "کُدُورَة" د خړوالي معنی ورکوي[۷]. یعنې کله چې ستوري خړ شي او رڼا يې د خپله زوره ولوېږي او تغیر ومومي.

خو ځینو علماوو کرامو ذکره شوې کلمه په ﴿ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ﴾ [الإنفطار:۲] کښې د ﴿ ٱنتَثَرَتْ ﴾ سره مرادفه ګڼلې ده[۸]، یعنې او کله چې ستوري راودوړېږي او راتوی شي.

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۱۵۵ : مفردات الراغب ص۴۶۰
(۲) زاد المسیر ج۸ ص۱۸۸
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۴
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۷۵
(۵) أضواء البیان ج۹ ص۶۲
(۶) الدر المنثور ج۸ ص۴۲۷: تفسیر البغوي ج۴ ص۴۵۲
(۷) مفردات الراغب ص۴۴۴
(۸) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "عِشَار" معنی

۶_ په ﴿وَإِذَا ٱلْعِشَارُ عُطِّلَتْ﴾ کښې د "عِشَار" کلمه د "عُشَرَاء" _لکه "نُفَسَاء"_ جمعه ده، دا د هغې باردارې اوښې نوم دی د کومې په حمل (بَار) باندې چې لس میاشتې تېرې شوې وې او نژدې وې چې جونګی وزېږوي او خپلو مالکانو ته شوده ورکړي[۱].

په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ذکره شوې کلمه په متعددو غیر متبادرو معناوو سره تفسیره کړې ده[۲] که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، خو کومه معنی چې د سلفو صالحینو څخه نقل شوې ده[۳] او د مقام سره هم توافق لري هغه دا ده چې ذکره شوې کلمه په خپله لغوي معنی سره تفسیره کړی شي. یعنې کله چې د قیامت ابتدایي حالت څرګند شي او فتنې او ستونزې زیاتې شي حتی چې ذکرې شوې معززې اوښې هم د خپلو خاوندانو د حفاظت او څارنې لاندې نه وي او معطلې پاتې وي، همدارنګه به په دغه وخت کښې خلک خپلو نورو معززو مالونو ته هم توجه نه کوي.

په همدغه تفسیر باندې د نبي کریم ﷺ یو حدیث هم د اشارې په توګه دلالت کوي چې فرمایلي یې دي چې: یو ځل د یوې رمې څخه لېوه (شرمخ) ګډه وتښتوله، کله چې ترې د رمې شپونکي وژغورله نو لېوه شپونکي ته مخ ورواړاوه او ورته یې وویلې چې: «مَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لَيْسَ لَهَا رَاعٍ غَيْرِي»[۴] یعنې ای شپونکیه! د دغو ګډو شپونکی به د لېوانو په ورځ څوک وي په کومه ورځ چې زما څخه پرته بل شپونکی ونه لري؟ (په کومه ورځ چې خلک په فتنو اخته وي او ګډې یې لېوانو ته پرېښې وي).

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: ایا د ذکر شوي ایت شریف دپاره نني زمانه مصداق نه شي جوړېدلی چې اوښان او نور بارګیر معطل پاتې دي او ځای یې تخنیکي وسائلو نیولی دی؟

مونږ وایو چې: د دغه ډول مفهوم اخستل د مقام سره هیڅ تناسب نه لري ځکه چې:

د مقام مفهوم دا دی چې خلک به د قیامت په قرب کښې د داسې غمونو او مشکلاتو سره مخامخ شي چې معزز مالونه (لکه اورلي اوښې) به یې د نظره غورزېدلې وي. لکه چې یو پښتون شاعر وایي[۵]:

دا دستور دی چې لوی غم په سرې ورشي :: نور غمونه یې هڅه شي تر پښو لاندې

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۵۷۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۲۲۸
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۷۶
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۵۱۷: صحیح مسلم ج۲ ص۲۷۴
(۵) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۲۰۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حال دا چې نن ورځ اوبښان او نور بارګیر څاروي معطل پاتې دي خو تعطیل یې د مشکلاتو د کبله صورت نه دی نیولی بلکې د دې کبله چې چندان ډېره اړتیا ورته نشته.

## دا به هم مشکل وخت وي

۸ـ په ﴿ وَإِذَا ٱلْوُحُوشُ حُشِرَتْ ﴾ کښې هغه مشکل وخت ته اشاره شوې ده په کوم کښې به چې وحشي (ساراني) څاروي د انسانانو څخه نفرت نه خپلوي.

یا په بل عبارت: زمریان او لېوان (شرمخان) او انسانان به سره مشکلات یو ځای کړي او د دواړو جانبو څخه به نفرت بالکل هېر شي.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ نَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ»[1] یعنې د قیامت اولنۍ نښه یو اور دی چې خلک به د مشرق څخه مغرب ته ورغونډ کړي.

نو شاید چې دغه اور به وحشي ساکښان هم د انسانانو سره یو ځای د مشرق څخه مغرب طرف ته سوق کړي او ورسره به یې غونډ کړي، والله ﷻ اعلم.

## د "سجر" معنی

۹ـ په ﴿ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴾ کښې د ﴿ سُجِّرَتْ ﴾ کلمه په اصل کښې د "سَجْر" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې علماوو کرامو په لاندې دوه وو معناوو سره تفسیره کړې ده:

الف: "سَجْر" د اور بلولو ته وایي لکه چې څوک په تنور کښې اور بل کړي[2]. یعنې او کله چې په دریابونو باندې اور بل کړی شي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَٱلْبَحْرِ ٱلْمَسْجُورِ ﴾ [الطور:۶] یعنې او په اور بل کړی شوي دریاب باندې سوګند دی.

ب: "سجر" د اوبو تویولو معنی ورکوي[3]. یعنې او کله چې دریابونه یو په بل کښې ورتوی شي او یو دریاب ترې جوړ شي.

همدا مضمون په راتلونکي سورت کښې راروان دی چې: ﴿ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴾ [الإنفطار:۳] یعنې او کله چې دریابونه سوري او وچولی شي چې خوږې اوبه او تروې اوبه سره ګډې وډې شي.

## "نُفُوس" څه معنی؟

۱۰ـ په ﴿ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ ﴾ کښې د "نُفُوس" کلمه په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۵۴
(۲) لسان العرب ج۴ ص۳۴۶
(۳) القاموس المحیط ج۲ ص۵۲۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاندې معناوو سره تفسیره کړې ده[۱].

الف: "نُفوس" دلته د ارواګانو (ارواحو) معنی ورکوي. یعنې او کله چې ارواګانې د خپلو بدنونو سره ضمیمه کړی شي او مخلوقات راژوندي کړی شي.

ب: دلته "نُفوس" د اشخاصو څخه عبارت دی. یعنې او کله چې اشخاص د خپلو خپلو سیالانو سره جمعه کړی شي او د نېکانو او بدانو بېلې بېلې ډلې تشکیلې کړی شي.

همدغه مضمون ته په [الواقعة:۷_ ۱۰] ایتونو کښې اشاره شوې ده.

## سوال جواب

۱۱_ که څوک وایي چې: د ﴿وَإِذَا ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ﴾ مضمون دا دی چې د قیامت په ورځ به ژوندۍ خښې کړی شوې انجلۍ ته پوښتنه راجع کړی شي چې په څه ګناه وژلې شوې وه؟، نو په دغې پوښتنه کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: دا پوښتنه په حقیقت کښې قاتلینو ته راجع ده خو د توبیخ او تخجیل دپاره به ورباندې مقتوله انجلۍ مخاطبه کړی شي.

د دغې پوښتنې یوه نظیر ته په بل ایت کښې هم اشاره شوې ده چې: ﴿يَوْمَ يَجْمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبْتُمْ﴾ [المائدة:۱۰۹] یعنې هغه ورځ یاده کړه چې الله ﷻ پیغمبران راغونډ کړي نو ورته ووایي چې هغه کوم شی دی چې تاسو ورباندې (په دنیا کښې د خپلو قومونو دپلوه) جواب کړی شوي یاست؟ (ایا ستاسو دعوت یې قبول کړ او که رد یې کړ؟).

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د همدې ایت پورې اړوند ښه خوندور مطالب د [النحل:۵۶_ ۶۰] ایتونو لاندې تېر شوي دي ـ والحمد لله ﷻ، نو هلته یو ځل مراجعه کول ښه کار دی.

## د "کشط" معنی

۱۲_ په ﴿وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتْ﴾ کښې د ﴿كُشِطَتْ﴾ کلمه د "کَشْط" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، د "کَشْط" کلمه د ګډې د پوستکي ویستلو دپاره وضعه شوې ده[۲]. یعنې او کله چې اسمان تک سور رنګی وګرځولی شي لکه چې ګډه د پوسته کړی شوې وي.

همدغه مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَٱلدِّهَانِ﴾ [الرحمن:۳۷] یعنې نو کله چې اسمان وچوي نو د سرې څرمنې غوندې تک سور (ګلابي رنګی) جوړ شي.

﴿فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلْخُنَّسِ ﴿١٥﴾ ٱلْجَوَارِ ٱلْكُنَّسِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴿١٧﴾ وَٱلصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۷۶؛ تفسیر الطبري ج۳۰ ص۶۹
(۲) مفردات الراغب ص۴۴۹؛ تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿١٨﴾ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى ٱلْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ
﴿٢١﴾ وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَءَاهُ بِٱلْأُفُقِ ٱلْمُبِينِ ﴿٢٣﴾ وَمَا هُوَ عَلَى ٱلْغَيْبِ
بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴿٢٥﴾ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ
﴿٢٧﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾

[۱۵] نو د غسې نه ده (لکه چې مشرکان خیال کوي) زه (د ورځې) په داسې پټېدونکو ستورو باندې سوګند یادوم.

[۱۶] چې تېز تلونکي (او د شپې) په خپلو ځایونو کښې قرار نیوونکي دي (چې په سترګو ښکارېږي).

[۱۷] او په شپه باندې هم کله چې نرۍ تیاره (مابنام) شي.

[۱۸] او په سبا باندې هم کله چې سا واخلي (او په اُفق کښې خور وور شي).

[۱۹] چې یقیناً دا (قرآن کریم) هرومرو د کرامت والا لېږلي شوي پرښتې قول دی.

[۲۰] داسې پرښته چې د عرش العظیم د خاوند (الله ﷻ) په نزد عزت (او مرتبه) درلودونکې ده.

[۲۱] چې (په اسمانونو کښې) اطاعت کړی شوې (او هم) پوره امانتګره ده (البته چې دغه پرښته د جبرائیل ﷺ ځخه عبارت ده).

[۲۲] او (هم سوګند دی) چې (ای مشرکانو!) ستاسو اندیوال (محمد ﷺ لیونی نه دی (لکه چې تاسو وریاندې تور لګوي).

[۲۳] او یقیناً محمد ﷺ په ځرګند اُفق کښې جبرائیل ﷺ لیدلی هم دی.

[۲۴] او محمد ﷺ په غیبو باندې بخیل (شوم) هم نه دی (چې ستاسو ځخه وریاندې شکرانه وغواړي).

[۲۵] او دا (قرآن کریم) د رټلي شوي شیطان قول هم نه دی (لکه چې تاسو وریاندې اتهام لګوئ).

[۲۶] نو (ای مشرکانو!) تاسو کومې خوا ته روان یاست؟ (ایا تاسو د عقل ځخه کار نه اخلئ؟).

[۲۷] دا (قرآن کریم) نه دی مګر (تر قیامته پورې) د ټولو عالمونو دپاره پند (او نصیحت) دی.

[۲۸] (البته) د هغه چا دپاره کوم چې ستاسو د جملې ځخه خوښوي چې په سمه لاره باندې لاړ شي (همدوی ترې ګټه اوچتوي).

[۲۹] او تاسو په سمه لاره باندې تلل نه خوښوئ مګر هله چې الله ﷻ اراده وکړي (او توفیق درکړي) چې د ټولو عالمونو رب دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د قیامت د ورځې د ځه حالاتو بیان نازل شوی وه، او په دې ایتونو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د قرآن کریم حقانیت ته اشاره شوې ده کوم چې د ذکرې شوې ورځې دپاره لاربنود دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ نو کله چې قیامت ضرور قائمېدونکی دی او حساب کتاب راتلونکی دی نو په قرآن کریم باندې د مشرکانو تورونه بالکل دروغ دي. او دا څکه چې:

الف: زه په ستورو باندې سوګند یادوم کوم چې د ورځې په رڼا کښې پټېدونکي دي، کوم چې په عین حال کښې په تېزۍ سره روان دي او د شپې د پلوه په خپلو - خپلو ځایونو کښې قرار نیوونکي او څرګندېدونکي دي.

ب: او همدارنګه په شپه باندې سوګند یادوم چې کله د نرۍ تیارې درلودونکې وګرځي (چې یا شروع شي او یا پای ته ورنژدې شي).

ج: او همدارنګه په سبا باندې سوګند یادوم چې کله سا واخلي او ښه رڼا شي.

یا په بل عبارت: زه په ذکرو شوو شیانو باندې سوګند یادوم چې: دا قرآن کریم د جوګي کلام نه دی لکه چې مشرکانورباندې تهمت لګوي، بلکې دا د یوې پرښتې (جبرائیل ﷺ) کلام دی.

البته د دې حیثه نه چې دا یوه پرښته ده بلکې د دې حیثه چې دا د الله ﷻ د پلوه یوه معززه رالېږلې شوې پرښته ده چې د الله ﷻ کلام څمکې ته رانښکته کړي، چې څه نور صفات یې دا دي:

اول: دا پرښته (جبرائیل ﷺ) د ډېر زیات جسماني او روحاني قوت درلودونکې ده چې هیڅوک په هغه امانت کښې د مداخلې توان نه لري کوم چې دغه پرښته ﷺ د خپله څانه سره ښکته کوي.

دوهم: جبرائیل ﷺ د عرش العظیم د خاوند (الله ﷻ) په نزد د لوړې رتبې درلودونکی دی. یا په بل عبارت: الله ﷻ د خپل لوړ کتاب (قرآن کریم) د نازلولو دپاره لوړ رتبه پرښته غوره کړې ده.

دریم: دغه جبرائیل ﷺ په اسمانونو کښې او د پرښتو په مقامونو کښې اطاعت کړی شوی دی او په ټولو پرښتو باندې آمر دی.

څلورم: په دې باندې علاوه، جبرائیل ﷺ (قرآن کریم نازلوونکی) ډېر زیات امانتګر دی چې په امانت کښې د یوې ذرې په اندازه خیانت هم نه خپلوي.

۲ـ ای مشرکانو! همدارنګه زه په ذکرو شوو دریوو شیانو باندې سوګند یادوم چې هغه کس (محمد ﷺ) نه لیونی دی او نه جوګی دی، چا چې په تاسو کښې ډېر عمر تېر کړی دی او تاسو یې ښه پوره پېژنئ، په چا باندې چې دا قرآن کریم جبرائیل ﷺ نازل کړی دی.

۳ـ ای مشرکانو! دا قرآن کریم څه د خوب لیدل هم نه دي، بلکې محمد ﷺ هغه پرښته (جبرائیل ﷺ) په خپلو غړولو سترګو په خپله اصلي څېره لیدلې هم ده کومې چې الله ﷻ د پلوه ورباندې قران کریم نازل کړی دی. دغو لیدلو د اسمان په شرقي څرګند اُفق کښې یو ځل صورت نیولی دی او محمد ﷺ ښه پوره پېژاندلی هم ده چې دا د الله ﷻ د پلوه رالېږلې شوې ده.

۴ـ ای مشرکانو! محمد ﷺ په همدغې غیبي وحې (قرآن کریم) باندې بخیل او شوم هم نه دی چې ستاسو څخه ورباندې د جوګیانو غوندې څه ګټه وته غواړي او په تاسو باندې یې ورکول درانده

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تمامېږي. تاسو كوم طرف ته روان یاست؟ ایا تاسو جوګیان نه دي لیدلي؟ ایا جوګیان چا ته پرته د خه ګټې وټې د خه شي څرګندونه کوي؟.

۵_ لنډه دا چې دا قرآن کریم نه د جوګیانو کلام دی او نه د رټل شوي شیطان کلام دی بلکې د داسې ارشاداتو مجموعه ده چې د قیامت تر ورځې پورې د ټولو عالمونو دپاره پند او لارښود دی.

البته هغه خلک ترې استفاده کوي کوم چې د سمې لارې د موندلو هڅه کوي او په همدې پسې زیار وباسي، کوم چې تعصب نه وي نیولی او انصاف یې د لاسه نه وي ورکړی.

۶_ ای مشرکانو! او ای بنیادمانو! تاسو واورئ چې: تاسو ترهغه نه شئ کولی چې د قرآن کریم څخه استفاده وکړئ او په سمه لاره باندې روان شئ ترڅو چې الله ﷻ (چې د ټولو عالمونو رب دی) ستاسو د هدایت اراده وکړي او تاسو ته توفیق درکړي.

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ ﴾ غوندې یوه جمله په [الواقعة:۷۵] ایت کښې نازله شوې ده چې مونږ پکښې د الله ﷻ په توفیق هملته مناسب تحقیق کړی دی، بیا تحقیقولو ته یې څه اړتیا نه وینو.

ب: په ﴿ بِٱلۡخُنَّسِ ۝ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ﴾ کښې د "خُنَّس" کلمه د "خَانِس" جمعه ده چې د "خُنُوس" _لکه "قُتُول"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "خُنُوس" پټېدلو او بېرته په شا تللو ته ویل کېږي[۱]. د همدغه مصدر څخه په [الناس:۴] ایت کښې د ﴿ ٱلۡخَنَّاسِ ﴾ کلمه هم اشتقاقه شوې ده او د شیطان دپاره لقب ګرځولی شوې ده چې نوموړی د الله ﷻ د نامه په اورېدلو سره مخ بېرته په شا تښتي.

ج: په همدغه عبارت کښې د "جَوَار" کلمه د "جَارِيَة" جمعه ده او د "جَرْيٌ" _لکه "رَمْيٌ"_ څخه یې اشتقاق موندلی دی، "جَرْيٌ" چټک او تېز حرکت ته ویل کېږي[۲].

د: په همدغه عبارت کښې د "كُنَّس" کلمه د "كَانِس" _لکه "ضَارِب"_ جمعه ده او د "كَنْس" _لکه ضَرْب"_ څخه مشتقه شوې ده، "كَنْس" دې ته ویل کېږي چې هوسۍ یا ګوړا خر په خپل پنډغالي کښې قرار ونیسي[۳].

هـ: مفسرینو کرامو په دې موضوع کښې ډېر اوږد بحث کړی دی چې په دغو درېوو کلمو ﴿ بِٱلۡخُنَّسِ ۝ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ﴾ سره کوم شیان مطلب دي[۴]؟، یا په بل عبارت: دلته الله ﷻ په کومو شیانو باندې سوګند یاد کړی دی چې د ذکرو شوو درېوو صفاتو درلودونکي دي؟.

که څوک یې په تفصیل سره د لوستلو شوق لري نو همدلته دې مراجعه وکړي.

---

(۱) لسان العرب ج۶ ص۷۱
(۲) مفردات الراغب ص۹۰
(۳) القاموس المحیط ج۴ ص۸۷
(۴) التفسیر الکبیر ج۳۱ ص۷۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر مونږ ته ظاهره برېښي چې دلته به ستورې مطلب وي[۱]، کوم چې د ورځې د لیدونکو څخه پټېږي او په عین حال کښې په تېزۍ سره حرکت کوونکي دي او بالآخره په شپه کښې د لیدونکو په نظر کښې په خپلو خپلو ټاکلو شوو ځایونو کښې قرار لري.

و: مونږ ښکه دغه ډول تفسیر خوښ کړ چې د دغو ایتونو مضمون د "النَّجْم" د سورت اولنیو ایتونو ته ورته دی او هلته په ستورو سره په سوګند باندې صراحت نازل شوی دی نو غالبه دا ده چې دلته به هم همدغه ډول سوګند مراد وي.

ز: که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد په دې ایتونو کښې د جبرائیل ﷺ یو ځل لیدلو ته اشاره شوې ده چې ﴿ وَلَقَدْ رَءَاهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴾، حال دا چې هلته یې دوه ځله لیدلو ته اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: دا سورت د معراج څخه پخوا نازل شوی دی[۲]، حال دا چې د جبرائیل ﷺ دوهم ځل لیدلو د معراج په شپه په "سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى" کښې صورت نیولی دی.

ح: په ﴿ وَالَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴾ کښې د ﴿ عَسْعَسَ ﴾ کلمه د "عَسْعَسَة" ـ لکه "دَحْرَجَة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د کمزورې تیارې معنی ورکوي، او پوره واضحه ده چې د شپې تیاره یا په شروع (ماښام) کښې او یا په اختتام (سهار) کښې کمزورې وي[۳].

نو که څه هم د همدې کېله ذکره شوې کلمه علماوو کرامو د اضدادو څخه ګڼلې ده او د شپې په شروع او هم د شپې په اختتام دواړو سره یې تفسیره کړې ده[۴] خو مونږ ته د اولنۍ معنی اراده کول غوره برېښي او دا ځکه چې دوهمه معنی په راتلونکي ایت کښې پرته ده.

ط: په ﴿ وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴾ کښې د "صُبْح" کلمه د سبا یا د ورځې د اول وخت معنی ورکوي چې په عربي محاوره کښې په لاندې دوه وو ډولونو سره ویشلی کېږي:

اول: یو "صُبح کاذب" یا "دروغژن سبا" دی چې په اُفق کښې اول ځل نهغه نرۍ رڼا ښکاره شي او لا خوره شوې نه وي.

دوهم: بل "صُبح صادق" یا "ریښتینی سبا" دی چې په اُفق کښې همدغه نهغه نرۍ رڼا خوره شي او د سهار د لمانځه وخت پیل شي.

ي: په دې مقام کښې د "الصُّبْح" څخه همدغه صادق سبا مطلب دی[۵] چې د شپې تیاره پکښې کمزورې ګرځي او د سهار رڼا لږ څه سا اخلي او په خورېدلو پیل کوي.

یا: د پورتنیو ټکو په ملحوظ د ایتونو مضمون هغسې راڅرګندیږي لکه څنګه چې ورته د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده.

---

(۱) اضواء البیان ج۹ ص۷۱؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۴۲

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۸۰

(۳) مفردات الراغب ص۳۳۶؛ لسان العرب ج۶ ص۱۳۹

(۴) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۱۸

(۵) روح المعاني ج۳۰ ص۵۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یب: بالآخره، که بالفرض المحال قرآن کریم حقاني کتاب نه وی او محمد ﷺ په حقه پیغمبر نه وی لکه څنګه چې مشرکان خیال کوي او اتهام لګوي، نو ټوله دنیا به عبثه پیدا شوې وی او اسماني انتظاماتو به هیڅ صورت نه وی نیولی.

## په دغو سوګندونو کښې څه شي ته اشاره ده؟

۲ـ په دې باندې علاوه څه لرې نه ده چې په ذکرو شوو سوګندونو کښې لاندې مطالبو ته هم اشاره وي:

الف: چې په ﴿ بِٱلْخُنَّسِ ۝ ٱلْجَوَارِ ٱلْكُنَّسِ ﴾ کښې دې ته اشاره وي چې: ای مشرکانو! د قرآن کریم حالت د ستورو غوندې دی چې د شپې څرګندېږي او د ورځې د نظره پټېږي، ته به وایې چې بالکل محوه شوه او د منځه لاړه یا متوقف شوه او ځای په ځای ودرېده، خو په عین وخت کښې په پټه سره د ډېرې تېزۍ په حال کښې روان وي، نه محوه شوي وي او نه متوقف دي.

قرآن کریم هم مخ په ترقۍ روان دی چې حرکت یې ستاسو د نظر لاندې نه واقع کېږي، لږ وروسته به ستاسو تر نظر لاندې راشي چې اوج ته ورسېږي.

ب: په ﴿ وَٱلَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴾ کښې د کفارو موقت قوت او موقت زور ته اشاره ده چې مخ په زوال روان دی، لکه څنګه چې په ماښام کښې په کراره-کراره شپه پخېږي او تیاره زیاتېږي همدارنګه به د هغوی زور هم د خاورو سره خاورې شي.

ج: په ﴿ وَٱلصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴾ کښې د نبي کریم ﷺ حالت ته اشاره ده چې د نبوت رڼا یې مخ په خورېدلو روانه ده، لکه چې د سهار رڼا سات په سات زیاتېږي او خورېږي، لږ وخت وروسته به وربانډې ټوله دنیا رڼا شي.

## "ضِنَّة" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَمَا هُوَ عَلَى ٱلْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴾ کښې د "ضَنين" کلمه د "ضِنَّة" ـلکه "عِزَّة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د شومتیا او بخل معنی ورکوي[1]. یعني محمد ﷺ د وحې په ابلاغ باندې بخل (شومتیا) خپلوونکی نه دی چې د جوګیانو غوندې وربانډې شکرانه وغواړي او خپله ګټه وته په نظر کښې ونیسي.

د "التَّكْوِيْر" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ وَفَّقْتَهُمْ إِلَى مَا تُحِبُّ وَتَرْضَى.

۱۴۲۵/۱۲/۵ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۰/۲۶ هـ ش.

[1] مفردات الراغب ص۳۰۸؛ لسان العرب ج۱۳ ص۲۶۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الانفطار (۸۲)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم هغه مصدر (انفطار) ګرځولی شوی دی د کوم څخه چې د همدې سورت په لومړني ایت کښې د ﴿ ٱنفَطَرَتْ ﴾ کلمه اشتقاقه شوې ده.

۲_ دا سورت هم ټول مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[1].

۳_ د دې سورت ټول ایتونه نولسو (۱۹) ته رسېږي[2].

۴_ د کلماتو شمېر یې اتیا (۸۰) کلمې دي[3].

۵_ د تورو شمېر یې درې سوه اوه ویشت (۳۲۷) توري دي[4].

۶_ دا سورت (الانفطار) د نورو مکي سورتونو او په تېره بیا د وړاندېني سورت (التکویر) په څېر عقیدوي احکام ډېر بیانوي او د قیامت د ورځې حالاتو او علاماتو ته پکښې اشاره شوې ده.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتْ ۝١ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ۝٢ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ فُجِّرَتْ ۝٣ وَإِذَا ٱلْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ۝٤ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ۝٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلْكَرِيمِ ۝٦ ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ۝٧ فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ۝٨ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ۝٩ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَٰفِظِينَ ۝١٠ كِرَامًا كَٰتِبِينَ ۝١١ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ۝١٢ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] کله چې اسمان وچوي (درې وړې شي).

[۲] او کله چې ستوري راودورېږي (او تیت پرک شي).

[۳] او کله چې دریابونه (یو بل ته) وروشکولی شي (او خوږې اوبه او تروې اوبه سره ګډې وډې شي).

[۴] او کله چې قبرونه په بل مخ واړولی شي (او مړي ترې ژوندي را اوچت کړی شي).

[۵] نو (په دغه وخت کښې به) هر نفس (هرڅوک) په هغه شي باندې پوه شي (او خبر به شي) کوم یې چې وړاندې لېږلی وي او (یا) یې وروسته پرېښي وي (برابره خبره ده چې ښه وي او که بد وي).

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۴۵

(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۵۵

(۳) تفسیر الخازن ج۱۶ ص۴۶۷

(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۱۹۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶] ای (کافره!) انسانه! ته په خپل کریم رب ﷻ سره څه شي تېر ویستلې (چې کفر دې په دائمي توګه غوره کړ)؟.

[۷] (البته) په خپل هغه رب ﷻ سره چې ته یې (د نطفې څخه) پیدا کړې نو اندامونه یې درجوړ کړه نو اندول یې دربرابر کړ.

[۸] (په خپل هغه رب ﷻ سره) چې په ډېرو څېرو (او بڼو) کښې یې په هغې څېره (او بڼه) تاته پیوند درکړ کومې ته یې چې اراده وشوه (په خپله خوښه یې په انساني شکل جوړ کړې).

[۹] (ای انسانه!) دا غولېدنه مناسب کار نه دی، بلکې تاسو (په دغې غولېدنې باندې علاوه) د جزا تکذیب کوئ (د قیامت د قیام څخه منکر یاست).

[۱۰] حال دا چه یقینا په تاسو باندي (دخپل رب ﷻ د پلوه) ساتونکي پرښتې (تاکلې شوې) دي.

[۱۱] (داسي پرښتي) چې دکرامت والا (او) لیکونکې دي (ظلم او تیری نه کوي).

[۱۲] چې په هغو ټولو کړو وړو پوهېږي کوم چې تاسو یې کوئ (برابره خبره ده چه عقیدوي وي او که عملي).

## د مطلب خلاصه

د دې سورت (الانْفِطَار) په ذکرو شوو ایتونو کښې د وړاندېني سورت (التَّکْوِیْر) مضامین تعقیب شوي دي او د قیامت د ورځې د څه علاماتو او څه کیفیاتو بیان پکښې نزول موندلی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ کله چې لاندې کارونه صورت ونیسي:

الف: چې اسمان وچوي او قوي نظام یې درې ورې شي.

ب: چې ستوري راودورېږي او تیت پرک راتوی شي او خواره واره شي.

ج: چې دریابونه سره خلط ملط شي او خوږې اوبه یې د ترخو اوبو سره ګډې وډې شي او کومه غیر محسوسه (قدرتي) پرده یې چې ترمنځ حائله ده هغه محوه شي.

د: چې قبرونه سرچپه او په بل مخ کړی شي او ټول دفن کړی شوي مړي بېرته ژوندي رااوچت شي.

نو په دغه وخت کښې به هرڅوک په خپلو هغو کړو وړو پوه شي او وریاندې خبر به کړی شي کوم یې چې د خپله مرګه وړاندې لېږلي وي او کوم یې چې د خپل مرګ څخه وروسته پرېښی وي، چې د نېکو یا بدو بنیاد یې ایښی وي.

۲ـ ای بنیادمه! کله چې ته ډېره سخته ورځ (قیامت) په مخکښې لرې نو په تاباندې څه باعث دی چې دغې ورځې ته تیاری نه نیسې او بالکل ترې غافل یې، چې په خپل کریم رب ﷻ باندې دی کفر غوره کړی دی؟! حال دا چې:

الف: ته خپل رب ﷻ د نطفې څخه پیدا کړې او د موجوداتو په قطار کښې یې ودرولې: ایا تا خپل ځان پخپله پیدا کړی دی؟!

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: تاته خپل رب ﷻ روغ رمټ اندامونه دروبښل او ستا د بدن ټولې پرزې يې په کار واچولې، او ستا د موجوديت (ژوند) په خدمت کښې يې لګيا کړې.

ج: ستا د اندامونو ترمنځ يې انډول مراعات کړ چې مثلاً دواړه پښې، دواړه لاسونه، دواړه سترګې او دواړه غوږونه يې په يوې اندازې سره درجوړ کړه.

د: تاته خپل رب ﷻ ښه ښايسته څېره او ښه درکړه او ښه ډولي قامت يې دروباښه، او په دوه وو پښو يې روان کړې.

لنډه دا چې د زښتو ډېرو څېرو څخه ستا رب ﷻ تاته په هغې څېره او ښه کښې پيوند درکړ کومې ته يې چې اراده شوې وه، نو تا خپل ځان ته په خپله څېره او ښه نه ده خوښه کړې. که ستا د رب ﷻ اراده شوې وی نو د خره يا خنزير څېره به يې درکړې وی.

هـ: ای انسانه! د دغو نعمتونو غوښتنه دا ده چې ته خپل رب ﷻ په ټولو عالي نومونو سره وپېژنې لکه رحيم او کريم، يا لکه قهار او جبار. بايد ته د خپل رب ﷻ په رحميت او کريميت باندې ونه غولېږې.

خو تاسو دغه مناسب کار نه کوئ بلکې د جزا ورځې ته د دروغو نسبت کوئ او د خپل رب ﷻ قهاريت او جباريت مو هېر کړې دی، حال دا چې ستاسو د رب ﷻ د پلوه په تاسو باندې ستاسو د ټولو کړو وړو ساتونکې او ثبت کوونکې او د کرامت والا ليکونکې پرښتې مقررې کړی شوې دي چې ستاسو هر قول او فعل ليکي او په هغه شي باندې پوهېږي کوم چې تاسو يې کوئ.

و: نو که بالفرض دنياوي ژوند په پای کښې تصفيه نه درلودی او د قيامت د ورځې راتګ دروغ وی لکه چې تاسو ګومان کوئ نو ستاسو رب ﷻ به په تاسو باندې ليکونکې پرښتې نه وی مقررې کړې لکه په څارويو او ځناورو باندې يې چې نه دي مقررې کړې.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴾ کښې د ﴿ فُجِّرَتْ ﴾ کلمه په اصل کښې د "فَجْر" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د يوه شي د پراخه څيرولو او شکولو معنی ورکوي[1]. يعنې او کله چې دريابونه څيرې کړی شي او هغه قدرتي پرده د منځه يووړله شي کومه چې د خواړه درياب او تروه درياب ترمنځ پرته ده، نو دواړه دريابونه به سره ګډ او يو ځای کړی شي.

۲ـ په ﴿ وَإِذَا ٱلْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴾ کښې د ﴿ بُعْثِرَتْ ﴾ کلمې د "بَعْثَرَة" ـلکه "دَحْرَجَة"ـ څخه اشتقاق موندلی دی، "بَعْثَرَة" دې ته وضعه شوی دی چې د ځمکې د ګېډې څخه سره زر او سپين زر راوويستلی شي او مړي تري ژوندي را اوچت کړی شي[2].

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۷
(۲) لسان العرب ج۴ ص۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مضمون ته نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې اشاره كړې ده چې: «تَقِيءُ الْأَرْضُ أَفْلَاذَ كَبِدِهَا أَمْثَالَ الْأُسْطُوَانِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ»[1] يعني د قيامت په نژدې وخت كښې به ځمكه د خپل جګر ټوټې چې د سرو زرو او سپينو زرو څخه عبارت دي د ستنو غوندې را قى كړي (رابهر كړي).

۳ـ د ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ﴾ ايت مضمون ته په بل ايت كښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ﴾ [لقمان:۳۳] يعني او (اى انسانانو!) هرومرو ضرور دې تاسو په الله ﷻ سره غولوونكى (شيطان) ونه غولوي (چې الله ﷻ غفور او رحيم دى تكره شئ د جناياتو مرتكب شئ).

## يادونه

۴ـ د ﴿وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ﴾ په اړه د الله ﷻ په توفيق د [الرعد:۱۱] او [ق:۱۷، ۱۸] ايتونو لاندې څه مطالب تېر شوي دي او د ليكونكو پرښتو په حالاتو باندې څه رڼا اچولې شوې ده، چې په بيا ليكلو سره يې كتاب نه شو اوږدولى.

دا د يو پلوه، او بله پلوه كه څه هم ځينو علماوو كرامو ليكلي دي چې ليكونكې پرښتې په عقيدوې نېكيو او عقيدوي بديو باندې په ترتيب سره په ښه بوى او بد بوى سره پوهېږي[2] خو مونږ ته بهتره برېښي چې دغه پوهه بلاكيفه ده او يوازې الله ﷻ ته معلومه ده چې پرښتې ورباندې په څه ډول سره پوه كوي.

﴿إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ ۝١٣ وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ ۝١٤ يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ ۝١٥ وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ ۝١٦ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ۝١٧ ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ۝١٨ يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ ۝١٩﴾

[۱۳] يقينًا نيكان به (په دغې ورځ) هرومرو په لوى نعمت (دائمي جنت) كښې وي.

[۱۴] او يقينًا فاجران (كفار) به هرومرو په دوزخ كښې وي.

[۱۵] فاجران به دوزخ ته د جزا په ورځ ورداخلېږي (چې دوى ترې انكاري وه).

[۱۶] او فاجران (كفار) به د دوزخ څخه (هيڅ وخت) غائبېدونكي نه وي (تل به پكښې سوزي).

[۱۷] او (اى پيغمبره!) ته څه شي پوه كړې چې د جزا ورځ كومه (او څنګه ورځ) ده؟.

[۱۸] بيا (وايم چې) ته څه شي پوه كړې چې د جزا ورځ كومه (او څنګه ورځ) ده؟.

[۱۹] (هغه داسې ورځ ده چې:) هيڅ كس به بل كس ته د هيڅ شي واک نه لري، او په دغې ورځ كښې به (ظاهري او باطني) فرمان الله ﷻ پورې مختص وي (او بس).

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۴۴

(۲) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۲۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱_ د ﴿يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا﴾ د جملې مضمون ته په یوه اوږده حدیث کښې اشاره شوې ده چې: یوه ورځ نبي کریم ﷺ د قریشو ټولې کورنۍ وروبللې او د صفا په غونډۍ یې خطابه ورکړه چې: تاسو (د سمې عقیدې او عمل په خپلولو سره) خپل ځانونه د دوزخ څخه وژغورئ ځکه چې: «فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا»[1] یعنې یقینًا زه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه د هیڅ شي واکداري نه شم کولی (زما هیڅ شی په اختیار کښې نشته، زه د هیچا ذموار نه یم).

۲_ که څوک وایي چې: ایا دغه ایت او دغه حدیث شفاعت نه نفي کوي؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې بدون د اجازې شفاعت نفي کړی شوی دی، نه مطلق شفاعت. او همدغه مضمون ته په [غافر:۱٦] ایت کښې هم اشاره شوې ده.

په همدې ځای د "الاِنفِطَار" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق پای ته ورسېد.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الْمَشْفُوعِيْنَ لَهُمْ.

۱۴۲۵/۱۲/۸ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۰/۲۹ هـ ش.

[1] صحیح مسلم ج۱ ص۱۱۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# المطففين(٨٣)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت (الْمُطَفِّفِينْ) لومړنی ایت په خپل نامه باندې مشتمل دی او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲_ په دې سورت کښې علماء کرام اختلاف لري[1] چې د ځینو په نزد دا سورت مکی دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی، ځینې وایي چې دا مدني دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی، او بالآخره ځینې وایي چې دا سورت نه مکي دی او نه مدني دی بلکې د هجرت په سفر کښې نازل شوی دی چې نبي کریم ﷺ د مکې څخه وتلی وه او مدینې منورې ته لا نه وه رسېدلی چې ذکر شوی سورت ورباندې نازل کړی شو.

خو ظاهره دا ده چې دا سورت د مکي سورتونو د جملې څخه دی[2] لکه څنګه چې د همدې سورت څخه وړاندې بېرته سورتونه د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی او مکي سورتونه دي.

۳_ که څوک وایي چې: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د دې سورت د شان نزول په هکله فرمایلي دي چې: «لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ ﷺ الْمَدِينَةَ كَانُوا مِنْ أَخْبَثِ النَّاسِ كَيْلًا فَأَنْزَلَ اللهُ سُبْحَانَهُ ﴿ وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ ﴾ فَأَحْسَنُوا الْكَيْلَ بَعْدَ ذَلِكَ»[3] یعنې کله چې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته لاړ نو په دغه وخت کښې د مدینې منورې خلک د کیل (پیمانې) د حیثه د ټولو خلکو ناپاک خلک وه نو الله ﷻ د ﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴾ سورت نازل کړ نو هغوی د دې څخه وروسته پیمانه ښه کړه او د خباثت څخه یې لاس واخست.

نو پوښتنه دا ده چې ایا د همدغه حدیث څخه د دې سورت مدنیتوب په اثبات نه رسېږي؟

مونږ وایو چې: د سلفو صالحینو عادت وه چې په مصداق باندې به یې هم د شان نزول اطلاق کاوه[4] او قرائت ته به یې هم کله کله د نزول لقب ورکاوه. نو څه لرې نه ده چې د حدیث معنی دا وي چې د هجرت په وخت کښې د مدینې منورې خلک د دې سورت د ډېرو ښو مصداقاتو څخه وه خو چې کله ورباندې نبي کریم ﷺ ذکر شوي پخوا نازل شوی سورت قرائت کړ نو هغوی د دغه بد عمل څخه ډډه وکړه.

۴_ د دې سورت د ایتونو شمېر شپږ دېرش (۳۶) دی[5].

۵_ د کلماتو شمېر یې یو سلو نهه شپېتو (۱۶۹) کلمو ته رسېږي[6].

۶_ د حرفونو شمېر یې اوه سوه او اتیا (۷۸۰) حرفونو ته پورته شوی دی[7].

---

(۱) زاد المسير ج۸ ص۱۹۹؛ روح المعاني ج۳۰ ص۶۷؛ المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۴۹
(۲) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۸۷
(۳) سنن ابن ماجه ص۱۶۰
(۴) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص ۶۴۲
(۵) تفسير البغوي ج۴ ص۴۵۷
(۶) تفسير الخازن ج۶ ص۴۷۰
(۷) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۲۰۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷ـ د دې سورت محتویات د نورو مکي سورتونو محتویاتو ته ورته دي او د عقیدوي احکامو په محور څرخېږي. شاید چې دلته به د کیل او وزن په ذکر کښې هم دېته اشاره وي چې کله په مالي حق کښې بې عدالتي د قیامت په ورځ د شرمندګۍ سبب دی نو عقیدوي بې عدالتي خو به په هغې ورځ کښې د ډېر لوی شرم او خجالت سبب جوړ شي، چې څوک د الله ﷻ سره په شریک یا په شریکانو درلودلو سره عقیده خپله کړي.

۸ـ په دې سورت (الْمُطَفِّفِين) کښې د وړاندېني سورت (الإنْفِطَار) د ځینو مطالبو څه تفصیل نازل شوی دی چې د نېکانو او بدانو حالات پکښې تشریح شوي دي او د هغه کتاب ساتنځای ته پکښې اشاره شوې ده د کوم په لیکنه باندې چې روزمره پرښتې (كِرَامٌ كَاتِبِين) کار کوي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ۝١ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ۝٢ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ۝٣ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ ۝٤ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ۝٥ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ۝٦ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] کم ورکوونکو ته معنوي هلاک (او حسرت) دی.

[۲] (البته) هغو کسانو ته کوم چې کله د خلکو څخه (خپل حق) پیمانه کوي (او یا یې تړي تلي) نو پوره (یې) اخلي.

[۳] او چې کله خلکو ته (حق) ورپیمانه کوي او یا (یې) ورتلي نو کمول کوي (پوره یې نه ورکوي).

[۴] ایا دغه ډله کسان ګومان نه کوي (او نه پوهېږي) چې یقینًا دوی (د ځمکې څخه) راپورته کړی شوي دي (او د خپل رب ﷻ په حضور کښې درېدونکي دي)؟.

[۵] (البته) په ډېره لویه ورځ کښې (چې د قیامت ورځ ده).

[۶] (دوی به هرومرو) په داسې ورځ کښې (مبعوث کړی شي) چې ټول خلک د رب العالمین ﷻ دپاره (د حساباتو د تصفیه کولو په ارتباط) ودرېږي.

## ارتباط او توضیحات

۱ـ په دې ایتونو کښې د وړاندېني سورت (الإنْفِطَار) د وروستني ایت مضمون تعقیب شوی دی او د قیامت د ورځې مشکلاتو ته پکښې اشاره شوې ده چې وړه بې انصافي (عملي جنایات) او لویه بې انصافي (عقیدوي جنایات او کفریات) به دواړه هلته تر محاسبې لاندې ونیولی شي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ځو نکات

۲_ په دې مقام کښې باید لاندې نکات په نظر کښې وساتل شي:

الف: په ﴿ وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ﴾ کښې د "مُطَفِّفِين" کلمه د "تَطْفِيف" څخه اشتقاقه شوې ده، "تطفيف" د يوه طفيف او حقير شي رانيولو ته ويل کېږي[۱]. خو په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه په متصلو دوه وو ايتونو کښې تفسيره شوې ده.

ب: په ﴿ عَلَى ٱلنَّاسِ ﴾ کښې د "عَلَى" توری د "عَنْ" د توري معنی ورکوي[۲] چې جر ورکوونکي توري يو د بل په ځای کارول کيږي.

ج: د همدغه عبارت سره د "أَوْ اتَّزَنُوا عَنْهُمْ" جمله مقدره ده په کومې باندې چې په ﴿ وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ ﴾ کښې د ﴿ أَو وَّزَنُوهُمۡ ﴾ جمله دلالت کوي.

يعنې: د ناچيزه او حقير شي اخستونکو کسانو ته معنوي هلاک او د لويې ورځې حسرت او افسوس دی، کوم چې خپل حق په کيل او وزن کښې پوره اخلي او خلکو ته يې پوره نه ورکوي بلکې ورته کموي يې.

## سوال جواب

د: که څوک وايي چې: د دغو دوارو ايتونو د تلاوت په وخت کښې د سړي په ذهن کښې دا پوښتنه راپيدا کېږي چې د خپل حق پوره اخستل هم جنايت دی او د ﴿ وَيۡلٌ ﴾ په وعيد کښې دخل لري؟

مونږ وايو چې: د ايتونو مضمون دا دی چې د خپل حق پوره اخستل د هغه چا دپاره جنايت دی چې دغه کار ته په خپل ځان پورې اختصاص ورکوي حال دا چې د بل چا د حق په تنقيص باندې اخته وي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ داسې اشاره کړې ده چې: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ»[۳] يعنې ستاسو يو کس به ترهغه کامل مؤمن جوړ نه شي ترڅو چې د خپل ورور دپاره هغه شی خوښ کړي کوم چې د خپل ځان دپاره يې خوښوي.

ه: نبي کريم ﷺ د ﴿ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ ايت په تفسير کښې فرمايلي دي چې: «حَتَّى يَغِيبَ أَحَدُهُمْ فِي رَشْحِهِ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ»[۴] يعنې د قيامت ورځ ډېره سخته ورځ ده آن تردې چې د خلکو يو کس به د خپلو دوارو غوږونو تر نيمايي برخو پورې په خپلو خولو کښې ډوب وي.

و: که څوک وايي چې: پوره واضحه ده چې په پيمانه او تله کښې په تګی سره لږ مال سپمولی

---

(۱) لسان العرب ج۹ ص۲۲۳
(۲) التفسير الكبير ج۳۱ ص۸۸؛ زاد المسير ج۸ ص۲۰۰؛ القاموس المحيط ج۳ ص۲۰۶
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۶
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۷۳۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي، نو ځه حکمت په بنیاد الله ﷻ د لږ حرام مال په اخستلو سره سخت وعید نازل کړ؟

مونږ وایو چې: د دغه سخت وعید په نزول کښې دې ته اشاره ده چې د لږ او حقیر مال رانیوونکي کسان هیڅکله د ډېرو حرامو مالونو په خوړلو باندې دریغ نه کوي که لاس یې ورباندې بر شي.

دغه مضمون ته د یهودانو په ارتباط په [آل عمران:۷۵] ایت کښې اشاره شوې ده.

او یوه فارسي ژبې شاعر په خپلو اشعارو کښې څومره ښه خای په خاي کړی دی چې:

گربه مسکین اگر پر داشتي :: تخم گنجشک از جهان برداشتي

هیچ کس را گرد خود نه گذاشتي :: این دو شاخ گاو اگر خر داشتي

یعنې پیشو غریبې که وزرې درلودی نو د چړچنو توخم به یې د ټولې دنیا څخه ویستلی وی، او که بالفرض د غوایه دوه ښکرونه خره درلودی نو هیڅوک به یې د خپل خان شاوخوا نه وی پرېښي.

په دې باندې علاوه که ذکر شوی عمل د دوه وو متجانسو شیانو ترمنځ صورت ونیسي ـ لکه چې په دوارو پیمانو کښې غنم وي او یا د تلې په دوارو پلو کښې جوار وي ـ نو برسېره په بې عدالتۍ باندې سود هم تحقق مومي، حال دا چې د سودخور په هکله د [البقرة:۲۷۶] ایت کښې ډېر سخت وعید نازل شوی دی، او نبي کریم ﷺ هم پکښې سخت وعید ته اشاره کړې ده لاندې دوه مثالونه یې ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الرِّبَا سَبْعُونَ حُوبًا أَيْسَرُهَا أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ»[۱] یعنې سود چې دی د گناه د حیثه اویا (۷۰) ډوله دی، اسان سود دا دی چې یو سړی د خپلې مور سره جنسي ارتباط ونیسي.

ب: نبي کریم ﷺ د معراج په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «قَالَ هَؤُلَاءِ أَكَلَةُ الرِّبَا»[۲] یعنې زه هلته په داسې قوم باندې ورغلم چې گېډې یې د کوټو غونډې وې او داسې ماران (منگوران) پکښې وه چې د بهرون څخه لیدل کېده. ما پوښتنه وکړه چې ای جبرائیله! دغه کسان څوک دي؟ هغه ﷺ په جواب کښې وویلې چې دغه کسان سود خواره دي.

ز: که څه هم مونږ د هغو ټکیو نومونه نه شو اخستلی او نه راته پکښې معلومات شته د کومو عملي کول چې په پیمانه او تله کښې صورت نیولی شي او ماهر ټکان پرې پوهېږي، خو دومره لیکو چې: ایتونه هر ډول ټکیو ته شمولیت لري او هر ډول ټکي پکښې حرامه ښودلې شوې ده. همدا راز د همدغو ایتونو په استناد د حکمیت په وخت کښې بې عدالتي او زده کوونکو ته د نمراتو په ورکولو کښې بې انصافي او یا داسې نورې نا انډولۍ د همدغه ایت په استناد ټولې حرامې دي.

ح: بالآخره په دې ایتونو کښې مشرکان په غوږ باندې وهلی شوي دي چې: ای مشرکانو! کله چې هغو کسانو ته د قیامت په سخته ورځ کښې د ﴿وَيْلٌ﴾ وعید ټاکلی شوی دی کوم چې په پیمانه او تله کښې بې عدالتي خپلوي، نو تاسو به څنگه د دغه وعید څخه بچ پاتې شئ چې عقیدوي بې

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱٦۴
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۲۷۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



انصافي او بې عدالتي مو خپله کړې ده او د خپل رب ﷻ سره مو مخلوقات په عبادت کښې شريکان درولي دي؟!

﴿كَلَّآ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْفُجَّارِ لَفِى سِجِّينٍ ﴿٧﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سِجِّينٌ ﴿٨﴾ كِتَـٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٩﴾ وَيْلٌ
يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ
أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَـٰتُنَا قَالَ أَسَـٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا
كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا۟ ٱلْجَحِيمِ
﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَـٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ كَلَّآ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْأَبْرَارِ لَفِى عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾
وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَـٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾﴾

[۷] دغسې نه ده (چې حسابات به تصفيه نه شي)، يقينًا د فاجرانو (كفارو) كتاب (اعمالنامې) هرومرو په سجين كښې (ساتلې شوي) دي.

[۸] او (اې پيغمبره!) ته څه شي پوه كړې چې سجين څه شی دی؟

[۹] (سجين) مهر كړی شوی كتاب دی (چې هيڅوک پكښې گوتې نه شي وهلی).

[۱۰] په دغې ورځ (قيامت) كښې د تكذيب كوونكو كسانو دپاره معنوي هلاک (او ډېر لوی حسرت) دی.

[۱۱] (البته) هغه تكذيب كوونكي كوم چې د جزا ورځې ته د دروغو نسبت كوي.

[۱۲] او د جزا په ورځې سره تكذيب نه خپلوي مگر هر تجاوز كوونكی ډېر گنهگار (كافر).

[۱۳] چې كله وربانديې زمونږ ايتونه تلاوت كړی شي نو وايي چې (دا) د پخوانيو (عبثې) قيصې دي (د الله ﷻ د پلوه نه دي نازلې شوې).

[۱۴] دغسې نه ده (لكه چې نومړي خيال كوي) بلكې د دغو (منكرانو) په زړو باندې هغو (كفرياتو) زنگ اچولی دی كوم چې همدوی دي چې (په دوامداره توگه) يې كسب كوي.

[۱۵] (بيا وايم) دغسې نه ده، يقينًا دوی (منكران) په دغې ورځ كښې د خپل رب ﷻ (د ديدار) څخه ضرور په پرده كښې پټ كړی شوي دي (د ديدار څخه محروم كړی شوي دي).

[۱۶] بيا يقينًا همدوی دوزخ ته هرومرو داخلېدونكي دي.

[۱۷] بيا به (د تخجيل دپاره ورته) وويلی شي چې: دا هغه (عذاب) دی كوم چې تاسو به يې (په دنيا كښې) تكذيب كاوه (او عقيده به مو وربانديې نه خپلوله).

[۱۸] دغسې نه ده (چې د جناياتو تصفيه به صورت ونه نيسي) يقينًا د نېكانو كتاب (اعمالنامې) هرومرو په عليين كښې (ساتلی شوې) دي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۹] او ته څه شي پوه کړې چې علیین څه شی دی؟

[۲۰] (علیین) مهر کړی شوی کتاب دی (چې هیڅوک پکښې ګوتې نه شي وهلی).

[۲۱] چې (الله ﷻ ته) مقربې پرښتې ورته حاضرېږي (او بس).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې حاصل یې داسې راځي:

۱ـ ای مشرکانو! دغسې نه ده چې تاسو به د حساب کتاب دپاره مبعوث نه کړی شئ او د تطفیف جزا به ونه ګورئ: او دا څکه چې ستاسو په شمول د ټولو فاجرانو د اعمالو د ثبت کتابونه هرومرو په یوه ځای کښې ساتلې شوي دي کوم چې سجین نومېږي. نو د همدغه ځایه به د قیامت په ورځ د حساباتو د تصفیه کولو دپاره حاضر کړی شي.

ای پیغمبره! ته څه پوه کړې چې سجین څه شی دی په کوم کښې چې د فاجرانو اعمالنامې ساتلې کېږي او د قیامت تر ورځې پورې هلته قرار ورکولی کېږي؟

سِجّین د یوه داسې کتاب نوم دی په کوم باندې چې مهر وهلی شوی دی او هیڅوک پکښې بدلون رابدلون نه شي راوستلی.

۲ـ نو ای پیغمبره! تکذیب کوونکو ته د قیامت په ورځ معنوي هلاک او ډېر حسرت او هم افسوس دی چې د ذکر شوي کتاب په مطابق به ورسره چال چلند وکړی شي. او دا څکه چې:

الف: تکذیب کوونکي (کفار) د جزا د ورځې تکذیب کوي او انکار ترې خپلوي، په کومه ورځ کښې چې مړي راژوندي کېږي او د رب العالمین په حضور کښې د محاسبې دپاره درولی کېږي.

ب: په دغې ورځې باندې تکذیب نه خپلوي مګر هغه کسان کوم چې د شریعت له پولو وتونکي او ډېر غټ ګنهګاران وي او په همدې حالت باندې کلک ولاړ وي.

ج: کوم چې کله ورباندې زمونږ ایتونه قرائت کړی شي نو سمدستي ترې انکار کوي او د عناد په توګه وایي چې: دا ایتونه د الله ﷻ د پلوه نه دي نازل کړی شوي بلکې دا د پخوانیو عبثې او دروغینې قیصې دي چې د خپلو ځانه جوړې کړی شوې دي.

۳ـ ای پیغمبره! دغسې نه ده لکه چې مشرکان خیال کوي او زمونږ په ایتونو د عبثو قیصو نوم ږدي، بلکې د مشرکانو په زړونو باندې هغو کړو وړو زنګ او خیرې اچولې دی کوم چې دوی به کسب کوي او روزمره ورباندې لګیا دي. نو څکه ذکر شوی اتهام لګوي.

۴ـ دغسې نه ده چې دغه کفري او شرکي عقیده به کفارو ته ګټه ورسوي، بلکې دغه به ورته په ډېر زیات ضرر باندې تمامه شي. نو:

الف: په دغې ورځ کښې به کفار د خپل رب ﷻ د دیدار څخه په پرده او حجاب کښې وساتلی شي او بالمقابل مؤمنانو ته به د خپل رب ﷻ دیدار ورعنایت کړی شي او په غړولو سترګو به ورباندې مشرف وګرځولي شي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې باندې علاوه د ذکرې شوې عقيدې درلودونکي به په دغې ورځ کښې هرومرو دوزخ ته داخلېدونکي وي چې هيڅکله به ترې نجات او خلاصون مونده نه کړي.

ج: بيا به د دوزخ په داخل کښې د روحي تعذيب دپاره هغوی ته وويلی شي چې: دا هغه حقيقت دی په کوم باندې چې تاسو په دنيا کښې په دوامداره توګه تکذيب خپل کړی وه او باور مو ورباندې نه کاوه.

۵_ دغسې نه ده چې حساب کتاب به صورت ونه نيسي او قيامت به قائم نه کړی شي. څکه يقينًا د نېکانو (مؤمنانو) د اعمالو کتابونه د دوی د مرګ څخه وروسته په يوه ځای کښې ساتل کېږي کوم چې عليين نومېږي، نو د همدغه ځايه به د قيامت په ورځ د محاسبې دپاره د حشر ميدان ته يووړل شي ترڅو تصفيه صورت ونيسي.

ای پيغمبره! ته څه شي پوه کړې چې عليين څه شی دی؟ ايا ته عليين پېژنې؟ "عِلِّيّين" د داسې کتاب نوم دی کوم چې مهر کړی شوی دی او د مقربو پرښتو څخه په غير نور هيڅ مخلوق هلته نه شي حاضرېدلی او نه پکښې هلته څوک د ګوتو د وهلو توان لري.

## توضيحات

۱_ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْفُجَّارِ ﴾ کښې د ﴿ كِتَـٰب ﴾ کلمه لاندې دوه احتماله درلودلی شي:

اول: چې د دغه کتاب څخه د فاجرانو (کافرانو) هغه اعمالنامې مطلب کړی شي کومې چې روزمره مکرمې پرښتې ليکي، کومو ته چې وړاندې په [الإنفِطَار: ۱۰] ايت کښې اشاره شوې ده[1]. يعنې د فاجرانو (کافرانو) اعمالنامې د هغوی د مرګ څخه وروسته د قيامت تر ورځې پورې په "سِجّين" کښې ثبتېږي او ساتلی کېږي.

دوهم: چې د دغه کتاب څخه د فاجرانو (کافرانو) د نومونو او عملونو کتاب مراد کړی شي کوم چې د همدغه مطلب دپاره خاص ګرځولی شوی دی[2]. يعنې د هغوی نومونه او عملونه په بل کتاب کښې هم ثبت او ليکلی شوي دي کوم چې "سِجّين" نومېږي، نو دغه ليکل به د اعمالنامو په ليکنه باندې علاوه وي.

ب: څه لري نه ده چې ذکر شوي دواړه ډوله کتابونه واقعيت ولري، الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی، او هم څه لرې نه ده چې په ايت شريف کښې دواړه د بدليت په لحاظ سره مراد وي.

ج: په ايتونو کښې د ﴿ سِجِّينٍ ﴾، ﴿ سِجِّينٌ ﴾ دواړه کلمې د "سَاجِن" دپاره د مبالغې صيغې دي چې د "سَجْن" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقي شوې دي[3] نو هره يوه کلمه د "ډېر بندوونکي" معنی ورکوي.

---

(۱) تفسير الطبري ج۳۰ ص۹۲؛ الدر المنثور ج۸ ص۴۴۴؛ تفسير الخازن ج۶ ص۴۷۲

(۲) تفسير تبصير الرحمن ج۲ ص۳۹۳

(۳) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۶۳۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دغه ډول کلمو څخه د "فِسِّيق" کلمه هم ده چې د "فَاسِق" دپاره د مبالغې صيغه ده او د "فِسْق" ـلکه "عِلْم"ـ څخه يې اشتقاق موندلی دی او په "ډېر فاسق" سره معنی کېږي.

خو د ذکرو شوو ايتونو څخه څرګندېږي چې د "سِجِّين" کلمه په شريعت کښې د هغه کتاب دپاره نوم ګرځولی شوی ده کوم ته چې د همدې توضيح د "الف" په بند کښې اشاره شوې ده، کوم چې د اوو ځمکو لاندې موقعيت لري[۱].

د: په ﴿ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴾ کښې د ﴿ مَّرْقُومٌ ﴾ کلمه د "رَقْم" ـلکه "شَرَف"ـ څخه اشتقاق شوې ده چې د مهر او ختم معنی هم ورکوي[۲] او په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده. يعني "سِجِّين" داسې کتاب دی چې مهر کړی شوی دی او هيڅوک پکښې ګوتې نه شي وهلی.

هـ: مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ اعلمـ چې په شريعت کښې په هغه ځای باندې هم د "سِجِّين" اطلاق کېږي کوم چې ـد عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روايت په مطابقـ د اوو ځمکو لاندې موقعيت لري او د قيامت تر ورځې پورې پکښې د کفارو ارواګانې بندې ساتلې کېږي[۳]. البته چې د خپلو کالبوتونو سره به څه ناڅه تعلقات او ارتباط لري، چې الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت درلودونکی دی.

و: خو خينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې په "سِجِّين" کښې لکه څنګه چې د کفارو اعمالنامې ساتلی کېږي همدارنګه پکښې د مرګ څخه وروسته د دوی ارواګانې هم بندې ساتلې کېږي[۴]، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

## "رَيْن" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم ﴾ کښې د ﴿ رَانَ ﴾ کلمه د "رَيْن" ـلکه "بَيْع"ـ څخه اشتقاق شوې ده. په کلک زنګ او خيرې سره د يوه شي پټېدل د "رَيْن" په نوم يادېږي[۵]. يعني دغسې نه ده چې زمونږ ايتونه دروغينې قيصې دي بلکې د کفارو او مشرکانو په زړونو باندې د خپلو کفرياتو او جناياتو زنګ او خيرې غلبه کړې ده او داسې يې ورته پټ کړي دي چې د ايمان راوړلو استعداد يې پکښې د منځه وړی دی.

دغه مضمون ته نبي کريم ﷺ داسې اشاره کړې ده چې: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ قَلْبُهُ فَإِنْ زَادَ زَادَتْ فَذَلِكَ الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَهُ اللهُ فِي كِتَابِهِ»[۶] يعني

(۱) تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۸۵
(۲) لسان العرب ج۱۲ ص۲۴۹
(۳) الدر المنثور ج۸ ص۴۴۳
(۴) تفسير المظهري ج۱۰ ص۲۲۱
(۵) لسان العرب ج۱۳ ص۱۹۲؛ تفسير القاسمي ج۱۷ ص۹۲
(۶) سنن ابن ماجه ص۳۱۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یقینًا کله چې مؤمن بنیادم ګناه وکړي یوه ګناه، نو دغه ورته په زړه کښې تک تور ټکی (داغ) وګرځي، نو که توبه یې وویستله او د ګناه څخه یې لاس واخست او مغفرت یې وغوښت نو زړه یې سوان شي (او ذکر شوی تور ټکی محوه شي) او که په ګناه کښې یې زیادت وکړ نو تور ټکی هم نور اضافه شي (د ګناه په تکرار سره زیاتېږي آن تردې چې ټول زړه یې احاطه کړي) نو دغه کیفیت هغه "ران" دی کوم چې الله ﷻ په خپل کتاب (قرآن کریم) کښې ذکر کړی دی.

په همدې اړه د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۷] ایت لاندې بنه مفصل بحث تېر شوی دی، چې یو ځل کتل به یې د دې مقام د وضاحت دپاره په ګټه تمام شي.

## د الله ﷻ دیدار حق دی

۳_ د ﴿ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴾ څخه د اشارې په توګه څرګندېږي چې الله ﷻ به جنتیانو ته خپل دیدار ورعنایت کړي ـ اللهم اجعلنا منهم ـ او دا څکه چې په دغې ورځ کښې به د کفارو محجوبیت د روحي تعذیب او سزا په توګه صورت ونیسي حال دا چې هلته به مؤمنان د روحي تعذیب او سزا څخه هم بچ وي نو ضرور به د دوی د سترګو څخه پرده لرې کړی شي که نه نو د کفارو سره به یو برابر وګرځي.

خو په همدغې اشارې باندې د [القیامة:۲۳] ایت کښې صراحت نازل شوی دی او مونږ د الله ﷻ په توفیق په همدې موضوع باندې د [الأنعام:۱۰۳] او [یونس:۲۶] ایتونو لاندې څه رڼا اچولې ده. نو هیله ده چې د څه نور تفصیل دپاره هملته مراجعه وکړی شي.

## څو نکات

۴_ په دغو وروستنیو ایتونو کښې لاندې نکات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: لکه څنګه چې وړاندې ﴿ كِتَٰبَ ٱلْفُجَّارِ ﴾ د دوه وو معناوو احتمال درلود همدارنګه ﴿ كِتَٰبَ ٱلْأَبْرَارِ ﴾ هم د دوه وو معناوو احتمال لري، چې یا ترې اعمالنامې مرادې کړی شي او یا بل کوم خاص کتاب. او څه لرې نه ده چې دواړه واقعیت ولري.

ب: د ﴿ عِلِّيِّينَ ﴾ کلمه د "عِلّي" جمعه ده چې د ادغام څخه وړاندې "عِلّيو" ـ لکه "سِجّين" یا لکه "بِطّيخ" ـ وه[1]. دا د مبالغې صیغه ده او د "عُلُوّ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده ، چې د لوړوالي معنی ورکوي.

ج: د "عِلّيين" کلمه د نحویت په لحاظ په رفعي حالت کښې "عِلّيون" لوستله کېږي او په نصبي او جري دواړو حالتونو کښې "عِلّيين" قرائت کېږي. دغه کلمه په شریعت کښې په خپله اصلي معنی باندې پاتې نه ده بلکې د "كِتابُ الأَبْرار" دپاره نوم ګرځولی شوې ده[2].

---

(۱) روح المعاني ج۳۰ ص۷۴
(۲) لسان العرب ج۱۵ ص۹۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په شریعت کښې د دغې کلمې په هغه مقام باندې هم اطلاق کېږي په کوم کښې چې د
مؤمنانو ارواګانې قرار لري(۱) البته چې د همدې مقام څخه به په عین حال کښې خپلو قبرونو ته او
هم د شنو مرغانو په جوجورو کښې جنتونو ته خي راخي.

هـ: نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «...فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي تَلِيهَا حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ»(۲) يعني د مؤمن د روح سره د هر اسمان څخه مقربې پرښتې تر هغه اسمانه پورې مشايعت (ملګرتيا) کوي کوم چې ورته نژدې وي آن تردې چې د مؤمن روح اُووم اسمان ته ورسېږي (البته چرته چې عليين موقعيت لري).

نو د همدې حديث په استناد په ﴿ يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ كښې د ﴿ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ د كلمې څخه د هر اسمان مقربې پرښتې مطلب دي.

﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ
ٱلنَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ
ٱلْمُتَنَٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ إِنَّ
ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ كَانُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾
وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمُ ٱنقَلَبُوا۟ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾
وَمَآ أُرْسِلُوا۟ عَلَيْهِمْ حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى
ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ ٱلْكُفَّارُ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ ﴾

[۲۲] يقيناً ابرار (نېكان) به (د قيامت په ورځ) په ډېر لوی نعمت كښې وي.

[۲۳] چې په پاچايي تختونو باندې به په داسې حال كښې (ناست) وي چې (جنتي نعمتونو ته) به ګوري (او هم به د خپل رب ﷻ ديدار كوي).

[۲۴] (ای كتونكيه!) ته به يې په مخونو كښې د لوی نعمت تازګي پېژني (او د ورايه به درته پكښې ښكارېږي).

[۲۵] نېكان به (هلته) د مهر كړی شوو شرابو څخه (په ورځښلو) خړوبولي كېږي.

[۲۶] چې ختم (پای) به يې (خيری نه بلكې) مشک وي، او په دغو (نعمتونو) كښې دې نو رغبت كوونكي رغبت وكړي (د خپل خان دپاره دې وكتي).

(۱) القاموس المحيط ج۳ ص۳۰۵

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۱۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۷] او د دې (شرابو) سره ګډ کړی شوي (شراب) به د تسنيم (د چينې) څخه وي.

[۲۸] په (تسنيم سره مونږ) د شرابو داسې چينه (اراده کوو) چې مقرب بندګان به د هغې څخه (پرته د ګډونې سوچه شراب) څښي.

[۲۹] يقيناً هغه کسان کومو چې جرم (کفر) غوره کړی دی د هغو کسانو څخه (نن ورځ) خاندي (او مسخرې وربانديې کوي)، کومو چې ايمان راوړی دی (او پاخه ايمانداران دي).

[۳۰] او کله چې هغوی په دوی باندې تېرېږي نو يو تربله سترګکونه وهي (د ملنډو دپاره اشارې کوي).

[۳۱] او کله چې هغوی (کفار) خپلو کورونو ته ورګرځي نو په داسې حال کښې ورګرځي (چې په ذکر شوي کار باندې) خوشالېدونکي وي (او پرې پښېمان نه وي).

[۳۲] او کله چې هغوی (کفار) مؤمنان وګوري نو (ګوته ورته نيسي او) وايي چې يقيناً دغه ډله خلک ګمراهان دي.

[۳۳] حال دا چې په مؤمنانو باندې کفار د ساتونکو په حيث نه دي لېږلي شوي (چې د لارې د سوالي او کوږوالي پوښتنه به يې دوی ته راجع کړی شي).

[۳۴] نو نن ورځ (په قيامت کښې) به هغه کسان د کفارو څخه خاندي (ملنډې به وربانديې وهي) کومو چې ايمان راوړی دی (او په ايمان باندې مړه شوي دي).

[۳۵] (البته) په داسې حال کښې (به ورپورې خاندي) چې په پاچايي تختونو باندې به ناست وي (او خپلو نعمتونو او د هغوی عذابونو ته) به ګوري.

[۳۶] (بيا به مؤمنانو ته وويلی شي چې) ايا کفارو ته د هغو کارونو جزا ورکړی شوه (او انتقام ترې واخستل شو) کوم چې دوی (په دنيا کښې) وه چې کول به يې؟.

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د قيامت څه حالاتو ته اشاره شوې وه چې د هر چا حسابات به پکښې تصفيه کړی شي، او په دې ايتونو کښې د تصفيې د نتيجې بيان ته اشاره کېږي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

۱ـ ای پيغمبره! په دغه ورځ کښې به ابرار (نېکان) هرومرو په ډېر لوی عظيم الشان نعمت کښې استوګنه ولري. د مثال په توګه:

الف: نېکان به په ښايسته پاچايي تختونو باندې ناست وي او په عين حال کښې به د يو پلوه د خپل رب ﷻ په ديدار باندې سرلوړي کړی شوي وي او د بله پلوه به په خپلو خدمتګارانو او جنتي ماڼيو کښې کتل راکتل کوي.

ب: د هغوی مخونه به د نعمتونو په تازګۍ کښې د ورايه پېژاندل کېږي، ته به د هغوی په مخونو کښې خوشالي ګوري او پوښتنې ته به څه اړتيا نه ليده کېږي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: هغوی ته به د غلمانو د پلوه د "رَحِيق" په نوم شراب هم ورځښول کېږي چې تر ځښلو وروسته به په شرابي لوښي (جام) کښې د دنیاوي شرابو غونډې خیرې نه پاتې کېږي بلکې د دغو شرابو پاتې او آخر به جنتي مشک وي.

نو ای پیغمبره! رغبت کوونکي دې د دغو نعمتونو په ګټلو کښې رغبت وکړي او یو دې د بل څخه وړاندې شي، نه د دنیاوي مال په ګټلو کښې.

د: د ذکرو شوو د "رَحِيق" په نوم شرابو سره به د "تَسْنِيم" د شرابو څخه هم څه اندازه ورګډ کړی شوي وي. البته مونږ په "تَسْنِيم" سره د شرابو هغه چینه اراده کوو د کومې څخه به چې مقرب بندګان سوچه شراب څښي چې د بل ډول شرابو سره به نه وي ګډ کړی شوي.

۲_ ای پیغمبره! د ذکرو شوو نعمتونو خاوندان مؤمنان دي، او هغه مجرمان (کفار) نه دي د کومو څه حالات چې په دنیا کښې په لاندې ډول سره وه:

الف: دوی به په مؤمنانو پورې خندا کوله او حقیر او سپک به ورته برېښېدل.

ب: کله به چې همدغه مجرمان په مؤمنانو باندې تېرېدل او د دوی حالت به یې کتل نو یو تر بله به یې د دوی په هکله سترګکونه وهل او په سترګو او وروځو به یې ورته اشارې کولې.

ج: بیا به چې کله همدغه مجرمان خپلو کورونو ته ستانه شول نو د ډېرې خوښۍ په حال کښې به ستنېدل او پر خپلې تحقیري او توهیني کړنلارې به نه پښېمانه کېدل.

د: کله به یې چې مؤمنان ولیدل نو برسېره په توهیني اشارو باندې به یې په خپلو منځو کښې مؤمنانو ته ګوته نیوله او ویلې به یې چې: دغه ډله بې لارې ډله ده چې سمه لاره یې پرېښې ده په کومې باندې چې مونږ روان یاستو.

۳_ ای پیغمبره! مجرمان او کفار په تحقیر آمیزه توګه مؤمنانو ته د ګمراهانو لقب ورکوي چې سمه لار یې غلطه کړې ده، حال دا چې د دوی د لارې سموالی او ناسموالی په هغوی پورې څه اړه نه لري، او نه ورباندې هغوی مقرر کړی شوي دي چې هلئ زر شئ تاسو دغه کسان په سمه لاره برابر کړئ. هغوی باید د خپلو ځانونو د لارې په سموالي کښې هڅې وکړي.

یا په بل عبارت: دا د پیغمبرانو کار دی چې د چا تګلاره سمه وګڼي او د چا تګلارې ته د غلطې تګلارې لقب ورکړي او بس.

۴_ ای پیغمبره! د قیامت په ورځ به حالات بالعکس وي، چې مؤمنان به په هغو کسانو پورې خاندي کومو چې کفر غوره کړی دی او ورته به وایي چې:

ای کفارو! تاسو ډېر بې عقله خلک یاست چې باقي نعمتونه مو په فاني نعمتونو باندې خرڅ کړه او خپله ګټه او تاوان مو ونه شو سنجولی.

البته چې مؤمنان به په کفارو باندې په داسې حال کښې خاندي او مسخرې به ورباندې کوي چې په پاچايي تختونو باندې به ناست وي او په خپلو نعمتونو او باغونو کښې به بنکته پورته ګورې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راګوري، او هم به يې د کفارو ډول- ډول عذابونه په نظر کښې نيولي وي چې دا هغه کسان دي کومو به چې په مونږ باندې په دنيا کښې خندل او مسخرې به يې راباندې کولې.

۵ـ په دغه وخت کښې به مؤمنان مخاطب کړی شي چې: ای مؤمنانو! ايا کفارو ته د هغه جنايت جزا ورکړی شوه د کوم چې دوی په دنيا کښې مرتکب شوي وه چې په تاسو پورې به يې خندنې کولې؟ ايا تاسو ترې د خندا انتقام واخست؟ ايا دا خندا د هغې خندا جزا ده؟.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴾ ايت په دوه وو ډولونو سره تفسير کړی شوی دی[۱]، چې د بدليت په لحاظ د دواړو اراده کول هم څه باک نه لري. هغه دا:

الف: يعنې نېکان (مؤمنان) به د کفارو په شان د خپل رَب ﷻ د ديدار څخه محجوب (په پرده کښې) نه وي بلکې په پاچايي تختونو باندې به ناست وي او د خپل رب ﷻ په ديدار به سرلوړي وګرخولی شي.

په دې تفسير سره دغه ايت د وړاندېني [المطففين:۱۵] ايت سره تړلی ګرځي.

ب: يعنې مؤمنان (نېکان) به په داسې حال په پاچايي تختونو باندې ناست وي چې خپلو خدمتګارانو او خپلو ورکړی شوو نعمتونو ته به ګوري.

په همدې مضمون باندې د [الدهر:۱۹] ايت لاندې د احاديثو په رڼا کښې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده، والْحَمْدُ لله ﷻ.

## د "رَحِيق" د کلمې معنی

۲ـ په ﴿ رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ۝ خِتَـٰمُهُۥ مِسْكٌ ﴾ کښې د ﴿ رَّحِيقٍ ﴾ کلمه د صافو شرابو دپاره وضعه شوې ده چې نور مشتقات نه لري[۲]، او د ﴿ مَّخْتُومٍ ﴾ کلمه پکښې د "خِتَام" څخه اشتقاقه شوې ده چې د هر مشروب آخر د "خِتَام" په نامه يادېږي[۳]. يعنې جنتيان به په داسې شرابو سره خړوبولی کېږي چې په يوه شي سره به ختمېږي او آخر ته به رسېږي چې هغه شی د مشکو څخه عبارت دی، نو د دنياوي شرابو غوندې به يې په آخر کښې خيرې نه پاتې کېږي.

همدغه شراب نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې ذکر کړی دی چې: «وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ سَقَى مُسْلِمًا عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللهُ ﷻ مِنَ الرَّحِيقِ الْمَخْتُومِ»[۴] يعنې او هر مسلمان چې بل مسلمان ته د تندې په حال کښې (اوبه) ورڅښوي نو الله ﷻ به هغه ته د "رَحِيق مَخْتُوم" څخه شراب ورڅښوي.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۴۸۶
(۲) مفردات الراغب ص۱۹۶
(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۱۶۴؛ الدر المنثور ج۸ ص۴۵۱؛ تفسير الطبري ج۲۰۴ ص۱۰۷
(۴) سنن ابي داوٗد ج۱ ص۲۳۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د جنتي شرابو چینه (تسنیم)

۳_ په ﴿ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ۝ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ کښې د ﴿ تَسْنِيمٍ ﴾ کلمه د "سنام" _لکه "سراب"_ څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې د اوښ د بوکان معنی ورکوي[۱] او لوړوالي ورسره لازم دی، خو په دې مقام کښې د خاصو جنتي شرابو د چینې نوم دی[۲] کومه چې په متصل ایت کښې تفسیره شوې ده.

یعنې د رحیق مختوم سره به د یوې خاصې عالي چینې څه شراب خلط او ګډ کړی شوي وي. البته مونږ داسې چینه اراده کوو د کومې څخه به چې مقرب بندګان بدون د خلطه سوچه شراب څښي.

## د ایتونو مصداق

۴_ په هره زمانه کښې چې لاندې کارونه رامنځته شي نو د [المطففین:۲۹_ ۳۳] ایتونو مصداق تحقق پیدا کوي:

الف: چې بدعتونه زیات شي او شریعت تر پښو لاندې کړی شي.

ب: چې ډلې ټپلې ډېرې شي او هرڅوک په خپله خوښه کړې لاره باندې روان شي.

ج: چې د حق ملګري لږ یا ورک شي او د باطل ملګري ډېر شي.

د: چې خلک دنیاوي شهواتو پسې څغلي او آخرت هېر کړي.

ه: چې د دین څخه د اور سکروټه جوړه شي، دیندارانو ته د هره پلوه ګوانښ متوجه وي او بې دینه خلک بې خطره ژوند کوي.

و: چې خلک دنیاوي مالونه خپل اصلي هدف وګرځوي او ټول فکر یې په خوراک او څښاک کښې انحصار ولري.

ز: چې عالم ته د جاهل لقب ورکړی شي او په متقیانو پورې خندنې وشي، بالمقابل جاهلان د علماوو په نامه یاد شي او د هوښیارانو لقب ورکړی شي.

ح: چې ډمبازي زیاته شي او مینه وال یې ډېر شي.

ط: چې نارینه او زنانه په محفلونو او تعلیمي ځایونو کښې یوځای شي او حیا د منځه لاړه شي.

ي: چې هرڅوک خپل لوړوالی د بل په تنقیص کښې ګوري.

یا: بالآخره چې د جهاد مینه د زړونو څخه ووځي او خلک د کفارو په دوستۍ او انډیوالۍ باندې ویاړي، او داسې نور.

پورتني کارونه په افغانستان کښې د څه وخت څخه راپه دېخوا پیل شوي دي، نو الله ﷻ دې فضل وکړي چې آخر به یې لا په څه شي تمامېږي؟!.

اللهم اید المسلمین والمجاهدین في جمیع اقطار العالم، آمین یا رب العالمین.

---

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۶۳۱

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۸۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي

۵ـ هېر مو نه شي چې که څه هم د ﴿ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴾ ایت غوندې بل ایت هم په همدې مجموعه کښې وړاندې تېر شوی دی چې په لومړی توضیح کښې یې مونږ ـ د الله ﷻ په توفیق ـ دوه ډوله تفسیر ذکر کړی دی.

خو په دې مقام کښې د هغو دواړو تفسیرونو څخه فقط دوهم تفسیر مراد دی ـ والله ﷻ اعلم ـ ، ځکه چې دلته ورسره وړاندینی متصل ایت په نظر کښې نیولی کېږي. یعنې مؤمنان به په پاچایي تختونو باندې په داسې حال ناست وي چې خپلو نعمتونو او د کفارو عذابونو (دواړو) ته به ګوري او د انتقام په توګه به ورپورې خاندي.

په همدې ځای باندې د "الْمُطَفِّفِين" سورت ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ يُسْقَوْنَ مِنْ رَحِيقٍ مَخْتُوم.

۱۴۲۵/۱۲/۱۷ هـ ق = ۱۳۸۳/۱۰/۹ هـ ش.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الانشقاق (٨٤)

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د کوم مصدر (الانْشِقَاق) څخه چې د دې سورت په لومړي ایت کښې د ﴿ ٱنشَقَّتْ ﴾ کلمه اشتقاقه شوې ده همغه مصدر د همدې سورت دپاره نوم ګرځولی شوی دی.

۲ـ دا سورت د علماوو په اتفاق سره مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه پنځه ویشت (۲۵) دي[۲].

۴ـ د کلماتو شمېر یې یو سل او اُوه (۱۰۷) دی[۳].

۵ـ د حرفونو شمېر یې څلورو سوو او دېرشو (۴۳۰) حرفونو ته رسېږي[۴].

۶ـ په وړاندېني سورت (الْمُطَفِّفِين) کښې د اعمالنامو د مقر ذکر نازل شوی وه چې یا به "سِجِّین" وي او یا به "عِلِّیّین" وي، او په دې سورت کښې د همدغو اعمالنامو ذکر ته اشاره شوې ده چې د قیامت په ورځ به د خپل مقر څخه د محاسبې دپاره د محاسبي مقام ته وړاندې کړی شي.

۷ـ دا سورت د نورو مکي سورتونو غوندې په عقیدوي ارشاداتو پورې زیات تماس نیسي خو د بعث بعد الموت بیان ته پکښې ډېر تفصیل ورکړی شوی دی.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتْ (١) وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ (٢) وَإِذَا ٱلْأَرْضُ مُدَّتْ (٣) وَأَلْقَتْ مَا
فِيهَا وَتَخَلَّتْ (٤) وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ (٥) يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا
فَمُلَٰقِيهِ (٦) فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ (٧) فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا (٨)
وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا (٩) وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ (١٠) فَسَوْفَ يَدْعُوا۟
ثُبُورًا (١١) وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا (١٢) إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا (١٣) إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ (١٤)
بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا (١٥) ﴾

د ډېر مهربان (او) د ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] کله چې اسمان وچوي.

[۲] او د خپل رب ﷻ (تکویني امر) ته غوږ ونیسي (په چاودېدلو کښې یې اطاعت وکړي) حال

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۶۰
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۶۳
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۴۷۸
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۲۲۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا چې (د خپل رب ﷻ اطاعت ته) لایق ګرځولی شوی دی.

[۳] او کله چې ځمکه خوره کړی شي (او لوړې ژورې یې هوارې کړی شي).

[۴] او (هم) هغه شیان بهر راوغورزوي کوم چې پکښې (پټ) دي، او (د ټولو څخه) خالي شي.

[۵] او (هم چې کله ځمکه په خالي کېدلو کښې) د خپل رب ﷻ (تکویني امر) ته غوږ کېږدي (اطاعت یې وکړي) حال دا چې (د خپل رب ﷻ اطاعت ته) لایقه ګرځولې شوې ده. (نو په دغه وخت کښې به هر څوک په خپلو وړاندېنیو او وروستنیو کړو وړو باندې پوه شي).

[۶] ای بنیادمه! یقینًا ته خپل رب ﷻ ته (تر ملاقاته او مرګه پورې) ډېر زیار ویستونکی یې زیار ویستل، نو (بیا د همدغه) خپل زیار سره ملاقي کېدونکی یې. (هغه دا چې):

[۷] نو هر هغه څوک چې عملنامه یې ورته په خپل ښي لاس ورکړی شي.

[۸] نو ژر ده چې محاسبه به ورسره وکړی شي اسانه محاسبه (چې مغفرت به ورسره ملګری وي).

[۹] او خپل کور کهول ته به (همدغه کس په جنت کښې) خوشاله کړی شوی وروګرځي.

[۱۰] او هر هغه څوک چې عملنامه یې ورته (په کیڼ لاس) د خپلې شا د پلوه ورکړی شي.

[۱۱] نو ژر ده چې (د خپل ځان دپاره) به هلاک (مرګ) وغواړي.

[۱۲] او (هم ژر ده چې) سوزوونکي دوزخ ته به داخل شي.

[۱۳] یقینًا همدغه کس په خپل (دنیاوي) کور کهول کښې خوشاله ګرځولی شوی وه (نو په آخرت کښې د خوشالۍ برخه نه لري).

[۱۴] یقینًا همدغه کس (په دنیا کښې) ګومان کاوه چې هیڅکله به بېرته ونه ګرځي (او بیا به راژوندي نه کړی شي).

[۱۵] هو! (نوموړی به بېرته وګرځي) یقینًا د ده رب ﷻورباندې بینا دی (ټول تیت پرک پرزجات یې ګوري).

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې مقام کښې د شرط دپاره د "إِذَا" څلور کلمې نازلې شوې دي چې د څلورو واړو جواب یو دی خو علماوو کرامو یې په تعین کښې متعدد اقوال کړي دي[۱]، چې مونږ ته یې بهتره دا برېښي چې دلته د جواب دپاره د "عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ" جمله مقدره وګڼله شي، چې په همدې جمله باندې د "الانْفِطَار" په سورت کښې صراحت نازل شوی دی او هم پرې د راتلونکو متصلو ایتونو مضامین دلالت کوي چې هر چا ته به خپله خپله عملنامه ورکړی شي ښه وي او که بده.

## د ځو لغاتو معناوې

۲ـ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۲۷۰؛ زاد المسیر ج۸ ص۲۰۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د "أَذِنَتْ" کلمه د "استَمَعَتْ" معنی ورکوي(۱)، او د "حُقَّتْ" کلمه د هغه مصدر (حق) څخه اشتقاقه شوې ده د کوم څخه چې د "حَقِيقٌ" کلمې اشتقاق موندلی دی(۲). يعنې کله چې اسمان وچوي او د خپل رب ﷻ امر ته په چاودېدلو سره غوږ کېږدي او اطاعت يې وکړي، حال دا چې اسمان د دې دپاره لايق ګرځولی شوی دی چې د خپل رب ﷻ تکويني امر ته لبيک ووايي او عملي يې کړي، چې د ده ﷻ د امر څخه نه بغاوت کوي او نه يې ترې بغاوت کول په توان کښې شته.

ب: په ﴿ مُدَّت ﴾ کښې د ځمکې غزولو او هوارولو ته اشاره ده(۳). يعنې کله چې د ځمکې څخه غرونه والوزول شي او لوړې ژورې يې د منځه لاړې شي. همدې مضمون ته په [طه:۱۰۵_۱۰۷] ايتونو کښې اشاره شوې ده.

ج: په ﴿ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا ﴾ کښې د "مَا" کلمه د ځمکې د خزانو او مړو څخه کنايه ده کوم چې د ځمکې په ګېډه کښې قرار لري(۴)، چې وړاندې په [الإنفطار:۴] ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

يعنې: کله چې ځمکه په خپله ګېډه کښې پټې کړې خزانې او پټ کړي مړي بهر راوغورځوي او ګېډه يې ترې بالکل خالي شي، او هم چې کله ځمکه د دغو کارونو په عملي کولو سره د خپل رب ﷻ تکويني امر ته غوږ کېږدي او اطاعت يې وکړي، حال دا چې ځمکه د دې دپاره لايقه ګرځولې شوې ده چې د خپل رب ﷻ تکويني امر "طَوْعًا أَوْ كَرْهًا" په عمل سره ومني.

نو کله چې ذکر شوي ټول کارونه صورت ونيسي، نو هر چا ته به په محاسبې سره آينه په لاس کښې ورکړی شي چې خپل مخ پکښې وګوري چې جنتي دی او که دوزخي.

د: په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَٰقِيهِ ﴾ کښې د ﴿ كَادِحٌ ﴾ کلمه د "كَدْح" څخه اشتقاقه شوې ده چې د کوښښ کولو او زيار ويستلو معنی ورکوي(۵).

په همدې عبارت کښې د ﴿ إِلَىٰ رَبِّكَ ﴾ کلمات د "مرګ" څخه کنايي دي او د "لِقَاء" کلمه ورسره مقدره ده، چې مونږ ترې په "إِلَى لِقَاءِ رَبِّكَ" سره تعبير کولی شو(۶).

دا د يو پلوه، او د بل پلوه د ﴿ فَمُلَٰقِيهِ ﴾ کلمې د ضمير په مرجع کښې دوه احتماله شتون لري چې دواړه په اصلي مطلب کښې متحد: دي هغه دا چې: ځينې علماء کرام وايي چې دغه ضمير په ﴿ رَبِّكَ ﴾ کښې د "رَبّ" مبارکې کلمې ته راجع دی(۷)، او ځينې نور وايي چې د ﴿ كَدْحًا ﴾ کلمې ته راجع دی کومه چې ورسره ډېره نژدې ده(۸).

---

(۱) القاموس المحيط ج۱ ص۱۲۷
(۲) لسان العرب ج۱۰ ص۵۱
(۳) تفسير ابي السعود ج۹ ص۱۳۱
(۴) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۲۷۰؛ تفسير الخازن ج۶ ص۴۷۸
(۵) مفردات الراغب ص۴۴۳
(۶) تفسير الکشاف ج۴ ص۷۲۶
(۷) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۶۲
(۸) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۱۰۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې اى بنيادمه! ته د خپل رب ﷻ تر ملاقاته (مرګه) پورې زيار ويستونكى او عمل كوونكى يې، خو ته تر مرګه وروسته ضرور د خپل رب ﷻ سره او يا د خپل عمل او خپلو كړو وړو سره د محاسبې په ډګر كښې پيوسته كېدونكى يې، نور نو ستا خوښه چې نېک كارونه كوې او كه بد.

## محاسبه په دوه ډوله ده

۳ـ په ﴿ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴾ كښې دې ته اشاره ده چې د قيامت د ورځې محاسبه په لاندې دوه وو ډولونو سره صورت نيسي:

الف: يوه اسانه محاسبه ده چې په ايت كښې ورباندې صراحت شوى دى. دا ډول محاسبه د هغه چا سره ترسره كيږي كوم ته چې په ښي لاس عملنامه وركړى شي، دا ډول محاسبه په ډېرو احاديثو كښې ښه پوره واضحه شوې ده. د مثال په توګه:

اول: يو ځل عائشې رضي الله عنها د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې اسانه محاسبه كومه يوه ده؟ نبي كريم ﷺ جواب وركړ چې: «أَنْ يَنْظُرَ فِي كِتَابِهِ فَيَتَجَاوَزَ عَنْهُ»[1] يعني اسانه محاسبه دا ده چې الله ﷻ د بنده عملنامه فقط وګوري او څه (جنايات) چې پكښې شتون ولري د هغو څخه ورتېر شي.

دوهم: نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «...فَإِنِّي قَدْ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَإِنِّي أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ فَيُعْطَى صَحِيفَةَ حَسَنَاتِهِ»[2]. تفصيل يې دا دى چې: د قيامت په ورځ به يو بنده خپل رب ﷻ ته په بلا كيفه توګه نژدې كړى شي، نو الله ﷻ به يې وپوښتي چې ايا دغه (جنايات) پېژنې؟ (كوم يې چې په عملنامه كښې ليكلي شوي وي). بنده به په خپلو جناياتو باندې اقرار وكړي چې: هو، اى زما ربه! (ما دغه جنايات كړي دي). نو الله ﷻ به ورته ووايي چې ما په دنيا كښې دغه (جنايات) په تا باندې پټ كړي وه او نن ورځ يې درته ښښنه كوم.

نو د نوموړي بنده د نېكيو اعمالنامه به (په ښي لاس) وركړى شي.

ب: بله سخته محاسبه ده چې ټكي په ټكي پكښې بدله او سزا صورت ونيسي او عفوه (مغفرت) او تېرېدنه پكښې تحقق ونه لري، دا ډول محاسبه د هغه چا محاسبه ده كوم ته چې اعمالنامه په چپ لاس سره وركړى شي، چې نبي كريم ﷺ ورته په يوه حديث كښې داسې اشاره كړې ده چې: «وَمَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ هَلَكَ»[3] يعني او د هر چا سره چې په محاسبه كښې مناقشه (سختي) وكړى شي نو هغه (په معنوي هلاک سره) هلاک شو.

## دلته د "أهل" د كلمې تفسير

۴ـ علماوو كرامو په ﴿ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴾ كښې د "أهل" كلمه په دنياوي مېرمنو[4] يا

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۰۳
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص ۳۶۰
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۳۶؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۱
(۴) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۲۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په جنتي مېرمنو سره[۱] تفسيره کړې ده، برابره خبره ده چې حورې وي او که بنيادماني وي.

که څه هم دغه دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري او د بدليت په لحاظ دواړه هم اراده کېدلی شي خو بهتره داده چې ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې په جنتي مېرمنو سره تفسيره کړی شي، ځکه په دې تفسير سره دغه ايت شريف د راتلونکي ايت شريف ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴾ سره په ځرګنده توګه مقابل واقع کېږي، هغه دا چې: اصحاب الشمالو په دنياوي کورونو او کهولونو کښې خوشالي تېره کړې ده او اصحاب اليمين به په اُخروي کورونو او کهولونو کښې د خوشالۍ خاوندان وګرځي.

همدې مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَـٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا ﴾ [الأحقاف: ۲۰] يعنې د قيامت په ورځ به کفارو ته وويلی شي چې تاسو خپل لذتونه (او د ښو اعمالو ثمرات) په خپل نژدې (او حقير) ژوند کښې بېولي (تېر کړي) دي (نو دلته تاسو برخه نه لرئ).

## په ياد ولرئ

۵ـ په ياد ولرئ چې کافر ته به د قيامت په ورځ عملنامه په چپ (کيڼ) لاس کښې ورکړه شي لکه چې په [الحاقة:۲۵] کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی، او په عين حال کښې به دغه ورکړه د شا د پلوه صورت ونيسي لکه چې په دې مقام کښې ورباندې د ﴿ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ﴾ کلمات دلالت کوي، چې علماوو کرامو په لاندې دولونو سره تفسير کړی دی[۲]:

الف: د کافر دواړه لاسونه به شاته تړلي وي[۳].

ب: د کافر ښی لاس به په غاړه کښې غوراب ګرځولی شوی وي، او چپ (کيڼ) لاس به يې شا پلو ته اړولی شوی وي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ فَسَوْفَ يَدْعُواْ ثُبُورًا ﴾ کښې د "ثُبور" کلمه د الله ﷻ په توفيق د [الفرقان:۱۳] ايت لاندې معنی شوې ده چې د هلاک او حسرت دپاره وضعه شوې ده.

يعنې چا ته چې عملنامه په کيڼ لاس د شا د پلوه ورکړه شي نو نوموړی به ډېر ژر د خپل ځان دپاره هلاک او مرګ وغواړي او د حسرت چيغه به اوچته کړي او سوزوونکي اور ته به داخل شي.

## "حور" څه معنی؟

۶ـ په ﴿ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴾ کښې د ﴿ يَحُورَ ﴾ کلمه د "حور" ـلکه "قول"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د بېرته ګرځېدلو معنی ورکوي[۴]. يعنې د چپ لاس د عملنامې خاوند په دنيا کښې ګومان

(۱) تفسير البغوي ج۴ ص۴۶۴؛ الدر المنثور ج۸ ص۴۵۷
(۲) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۶۳
(۳) تفسير الطبري ج۳۰ ص۱۱۷؛ روح المعاني ج۳۰ ص۸۰
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۷۳۶؛ مفردات الراغب ص۱۳۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کاوه چې هیڅکله به تر مړه کېدلو او تیت پرک کېدلو وروسته بېرته ونه ګرځي او د دوهم خل دپاره به ژوندي نه کړی شي. دغسې نه ده، بلکې یقیناً بېرته به نوي ژوند ته وروګرځي ځکه چې د دوی رب ﷻ یې په ټولو شیندلو شوو اجزاوو باندې ښه بینا دی چې یو جزء یې هم ترې نه شي پټېدلی، نو هرومرو ټول اجزاء به یې یو خل بیا راغونډ کړي او یو خل بیا به ترې بنیادم جوړ کړي.

﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقُرۡءَانُ لَا يَسۡجُدُونَ ۩ ﴿٢١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونِۭ ﴿٢٥﴾ ﴾

[۱۶] نو نه (دغسې نه ده چې تصفیه به ونه شي) زه په شفق باندې سوګند یادوم.

[۱۷] او په شپه او په هغو شیانو باندې هم کوم چې شپه یې (په خپله تیاره کښې) راغونډوي.

[۱۸] او په سپوږمۍ باندې هم (سوګند یادوم البته) کله چې غونډه (پوره) شي.

[۱۹] چې هرومرو ضرور به تاسو د یوه حالت څخه وروسته په بل حالت باندې سواره شئ (او وار په وار به ورسره پیوسته شئ).

[۲۰] نو کفارو (او مشرکانو) ته څه دلیل دی (څه وجه لري) چې ایمان نه راوړي؟

[۲۱] او چې کله ورباندې قرآن کریم تلاوت کړی شي (الله ﷻ ته په إخلاص) سجده نه کوي (او د عبادت څخه یې څنګ کوي).

[۲۲] (وجه نه لري) بلکې هغه کسان (عناداً) تکذیب کوي کومو چې کفر غوره کړی دی.

[۲۳] او الله ﷻ په هغو شیانو باندې (هم) ډېر ښه پوهېږي کوم چې تکذیب کوونکي یې (په زړونو کښې) ساتي (نو مطابقه سزا به پرې ورکړي).

[۲۴] نو ته تکذیب کوونکو ته په دردناک عذاب سره زیری ورکړه.

[۲۵] مګر هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي دوی لره (د الله ﷻ په نزد) نه پرې کېدونکی اجر (ټاکلی شوی) دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې څه أُخروي حالاتو ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې په هغو څو شیانو باندې سوګندونه یاد شوي دي کوم چې د همدغو حالاتو تحقق او واقع کېدل په اثبات رسوي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ نو ای انسانانو! دغسې نه ده چې تاسو به د ذکرو شوو أُخروي حالاتو سره مخامخ نه شئ: زه په دغو شیانو باندې سوګند یادوم:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: زما دې په شفق باندې سوګند وي کوم چې د ماښام په وخت کښې موجود وي او بیا ډېر ژر د زوال سره مخامخ کېږي.

ب: زه په شپه سوګند یادوم، هغه چې د ورځې رڼا د منځه وړي او د تورې تیارې حالت په دنیا باندې خوروي، او تر څه وخته وروسته د منځه ځي.

ج: زه په هغو شیانو باندې سوګند یادوم کوم چې د ورځې په ځمکه کښې خواره واره ګرځي او په شپه کښې بېرته راغونډېږي، ته به وایې چې د لوی تجیر لاندې قرار نیسي، او همدا حالت وربانديې په دوامداره توګه ورځي.

د: زه په سپوږمۍ باندې سوګند یادوم چې کله د نریوالي څخه غټه شي او په ورو ورو کمال ته ورسېږي.

په دغو ټولو شیانو باندې سوګند دی چې: ای انسانانو! تاسو هم ضرور د دغو شیانو غوندې تغیر موندونکي یاست او په یوه حالت باندې پاتې کېدونکي نه یاست. نو تاسو به د ځینو حالاتو څخه ښکته کېږئ او په ځینو نورو حالاتو باندې به سورېږئ، چې د دغو دنیاوي ټولو حالاتو د تېرېدلو په تعقیب به د اُخروي حالاتو سره مخامخ شئ، دغه حالات هم ستاسو څخه لرې نه دي.

۲_ ای پیغمبره! کله چې انسانان د قیامت د مشکلاتو سره ضرور مخامخ کېدونکي دي نو دوی ته څه وجه ده چې د خپلو ځانونو دپاره د نجات لاره نه لټوي چې ایمان راوړي او د توحید عقیده خپله کړي؟ په دوی باندې څه باعث دی چې کله ورباندې قرآن کریم قرائت کړی شي او د الله ﷻ د عبادت دعوت ورکړی شي نو دوی اجابت نه خپلوي چې سجده ورته وکړي او نه ورته (د شرکیاتو څخه خالي) عبادت کوي؟

۳_ د کفارو سره په کفر باندې د کلکو درېدلو دپاره هیڅ معقول دلیل نشته بلکې دوی پرته له دلیله د قرآن کریم تکذیب کوي او شرکي (کفري) عقیدې ته ادامه ورکوي. حال دا چې الله ﷻ په هغو ټولو شیانو باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې دوی یې په زړونو کښې پټ ساتي، هغه دا چې دوی محض عناد نیولي دي او باطله تګلاره یې کلکه کړې ده.

۴_ نو ای پیغمبره! ته دغو عنادیانو ته په دردناک عذاب سره زیری او خبر ورکړه، چې هرومرو به وربانديې نازل کړی شي او د تېښتې لاره به ترې مونده نه کړي.

۵_ مګر هغو کسانو دپاره د الله ﷻ په نزد نه پرې کېدونکي او بې انتهاء اجرونه او ثوابونه ټاکلي شوي دي کومو چې ایمان راوړی دی او نېک اعمال یې ورسره ضمیمه کړي دي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴾ کښې د ﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ ﴾ کلمات وړاندې د [الواقعة:۷۵] ایت کښې هم نازل شوي دي چې هملته پکښې د الله ﷻ په توفیق څه مناسبه شرحه تېره شوې ده، چې بیا شرحه کولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څو مطالب

۲ـ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب په ذهن کښې وساتل شي:

الف: په ﴿ بِٱلشَّفَقِ ﴾ کښې د "شفق" کلمه هغه سوروالي ته ویل کېږي کوم چې د لمر د لوېدلو څخه وروسته په غربي افق کښې تر څه وخته پورې موجود وي او بیا له منځه ځي[۱].

ب: په ﴿ وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ ﴾ کښې د ﴿ وَسَقَ ﴾ کلمه د "وَسق" ـلکه "ضَرب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د غونډولو معنی ورکوي.

او د "مَا" کلمه پکښې عامه ده چې هغو ټولو مخلوقاتو ته شامله ده کومو ته چې شپه شمولیت لري او په خپله تیاره کښې یې راغونډوي[۲].

د همدغه مطلب څخه په بل ایت کښې داسې تعبیر نازل شوی دی چې: ﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَا تُبۡصِرُونَ ۝ وَمَا لَا تُبۡصِرُونَ ﴾ [الحاقة:۳۸، ۳۹] یعنې نو داسې نه ده، زه په هغو شیانو سوګند یادوم کوم چې تاسو یې ګورئ او په هغو شیانو باندې هم کوم چې تاسو یې نه ګورئ.

ج: په ﴿ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴾ کښې د ﴿ ٱتَّسَقَ ﴾ کلمه د "اتّساق" څخه اشتقاق شوې ده چې په اصل کښې "اِوْتِساق" ـلکه "اِکْتِساب" ـ وه او د غونډېدلو او پوره کېدلو معنی ورکوي[۳].

د: په ﴿ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ ﴾ کښې د ﴿ لَتَرۡكَبُنَّ ﴾ کلمې د "رُکوب" ـلکه "قُتول" ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د سورېدلو دپاره وضعه شوې ده خو دلته ترې پیوستون مراد دی.

ه: په همدې عبارت کښې د ﴿ طَبَقًا ﴾ کلمه په ﴿ لَتَرۡكَبُنَّ ﴾ سره منصوبه ګرځېدلې ده او د "عَن" توری پکښې د "بَعْدَ" معنی ورکوي[۴]، او هم د "طَبَق، طَبَق" دواړه کلمې هره یوه د حالت څخه عبارت ده[۵].

و: یعنې ای بنیادمانو! لکه څنګه چې ذکر شوي څلور شیان (په کومو باندې چې سوګندونه یاد شوي دي) په یوه حالت باندې پاتې کېدونکي نه دي، همدارنګه به تاسو هم د مرګ څخه وروسته په یوه حالت باندې پاتې نه شئ او وار په وار به د مختلفو حالاتو سره مخامخ وګرځئ لکه د نکیر منکر سوال جواب، بیا ژوندي کېدل، د حساباتو تصفیه او نور.

ز: که څه هم په ایتونو کښې په قصدي توګه د أخروي حالاتو بدلون رابدلون مطلب دی چې خبره په همدې حالاتو کښې راروانه ده، مګر د اشارې په توګه ترې د دنیاوي حالاتو اختلاف هم معلومېږي چې انسان د نطفې د حالت څخه تر بوډاتوب او مرګه پورې د زېنتو ډېرو حالاتو سره

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۱۸۰
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۱۰۶
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۸۹
(۴) روح المعاني ج۳۰ ص۸۲
(۵) لسان العرب ج۱۰ ص۲۱۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مخامخ کېږي چې د یوه حالت څخه کوزېږي او په بل حالت باندې سورېږي لکه غم، خوشالي، روغتیا، بیماري، غنا، فقر، خندا، ژړا او داسې نور.

## د تلاوت دیارلسمه سجده

۳ـ په ﴿وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا يَسْجُدُونَ۩﴾ کښې د قرآن کریم د تلاوت دیارلسمه (۱۳) سجده ده د کومې په اړه چې ابو هریره ﷺ په خپل یوه حدیث کښې ویلي دي چې: «سَجَدْتُ بِهَا خَلْفَ أَبِي الْقَاسِمِ ﷺ فَلَا أَزَالُ أَسْجُدُ فِيهَا حَتَّى أَلْقَاهُ»(۱) یعنې ما په دغې سجدې سره (په لمانځه کښې) د ابو القاسم ﷺ پسې سجده کړې ده نو زه به همېشه یم چې په دې سورت (الإنْشِقَاق) کښې به د تلاوت سجده کوم ترڅو چې د پیغمبر ﷺ سره (د مرګ په سبب) ملاقي (پیوسته) شم.

د تلاوت د سجدې پورې اړونده وضاحتونه د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۲۰۶] ایت لاندې تېر شوي دي.

## "إِيْعَاء" څه معنی؟

۴ـ په ﴿بِمَا يُوعُونَ﴾ کښې د ﴿يُوعُونَ﴾ کلمه په اصل کښې "يُوعِيُون" ـ لکه "يُكْرِمُون" ـ وه او د "إِيْعَاء" ـ لکه "إِكْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "إِيْعَاء" دې ته وایي چې څوک یو شی د ساتنې دپاره په لوښي (وعاء) کښې واچوي(۲).

خو په دې مقام کښې ترې هغه قلبي کیفیات مراد دي چې کفار او مشرکان یې د مؤمنانو په هکله په کفري عقیدې باندې علاوه پټ ساتي لکه کینه، عداوت، عناد، چلونه او داسې نور.

## یو نحوي تحلیل

۵ـ په ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ کښې د "إِلَّا" توری د منقطعې استثناء دپاره دی چې مستثنی منه یې په ﴿فَبَشِّرْهُم﴾ کښې د "هُمْ" کلمه ده کومه چې کفارو او مشرکانو ته راجع ده(۳). یعنې هغوی ته په دردناک عذاب سره خبر ورکړه مګر هغو کسانو چې ایمان راوړی دی او نېک اعمال یې ورسره ملګري کړي دي نو د دوی دپاره د الله ﷻ په نزد نه پرې کېدونکی او نه ناقص کېدونکی اجر ټاکلی شوی دی.

په همدې ځای باندې د الله ﷻ په توفیق د "الإنْشِقَاق" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ يَنْقَلِبُونَ إِلَى أَهْلِيهِمْ مَسْرُورِيْنَ.

۱۴۲۵/۱۲/۲۰ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۱/۱۱ هـ ش.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۴۷
(۲) مفردات الراغب ص۵۶۵
(۳) تفسیر الکشاف ج۴ ص۷۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# البروج (۸۵)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت په نامه (البروج) باندې د همدې سورت اولنی ایت مشتمل دی، او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲_ دا سورت مکی سورت دی[۱] او د هجرت څخه وړاندې په هغه وخت کښې نازل شوی دی کله چې مشرکانو په مؤمنانو باندې ډېر زیات ظلم او تېرې ته لاس اچولی وه.

۳_ د دې سورت د ایتونو شمېر دوه ویشت (۲۲) دی[۲].

۴_ د کلماتو شمېر یې یو سلو نهو (۱۰۹) کلمو ته رسېدلی دی[۳].

۵_ د حروفو تعداد یې څلور سوه او اته پنځوسو (۴۵۸) ته پورته شوی دی[۴].

۶_ په دې سورت کښې د نورو مکي سورتونو غوندې د عقیدې په تصحیح او ساتنې باندې ټینګار شوی دی او په همدې اړه مؤمنانو ته حوصله ورکړه شوې ده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلْبُرُوجِ ﴿١﴾ وَٱلْيَوْمِ ٱلْمَوْعُودِ ﴿٢﴾ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ﴿٣﴾ قُتِلَ أَصْحَٰبُ
ٱلْأُخْدُودِ ﴿٤﴾ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلْوَقُودِ ﴿٥﴾ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ﴿٦﴾ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ
بِٱلْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ﴿٧﴾ وَمَا نَقَمُواْ مِنْهُمْ إِلَّآ أَن يُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴿٨﴾ ٱلَّذِى لَهُۥ
مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٩﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] په اسمان باندې سوګند دی چې د ستورو خاوند (درلودونکی) دی.

[۲] او په وعده کړی شوې ورځې (قیامت) باندې (هم سوګند دی).

[۳] او د جمعې ورځې او د عرفې په ورځې باندې (هم سوګند دی، چې یقینًا د مؤمنانو سره به نصرت وکړی شي).

[۴] د خندق ملګري وژلی شوي (لعنت کړی شوي) دي.

[۵] (یا په بل عبارت:) د داسې اور (ملګري) چې د ډېرو خاشاکو خاوند وه.

[۶] (البته) چې کله د خندق ملګري په اور باندې (د خندق شاوخوا) ناست وه.

(۱) تفسیر الطبري ج ۳۰ ص ۱۲۷
(۲) تفسیر البغوي ج ۴ ص ۴۶۶
(۳) تفسیر الخازن ج ۶ ص ۴۸۲
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج ۲۰ ص ۲۴۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷] حال دا چې دوی په هغو عذابونو باندې حاضر وه کوم چې دوی په مؤمنانو باندې ترسره کول (د دوی تر نظر لاندې وه خو رحم یې ورباندې نه کاوه).

[۸] د خندق ملګرو د مؤمنانو څخه د عیب په نظر نه کتل مګر دېته چې دوی په الله ﷻ سره ایمان راوړی وه چې د کلکې ارادې خاوند (او) د ستاینو څښتن دی.

[۹] هغه الله ﷻ چې همده ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو پاچایي (واکداري) ده. او الله ﷻ په هر شي باندې د حضور درلودونکی دی (چې هیڅ شی ترې غائب نه شي ګرځېدلی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنۍ سورت د وروستنیو ایتونو په مضامینو کښې دا مضمون هم شامل وه چې کفار په خپلو زړونو کښې ـعلاوه په کفر باندېـ د مؤمنانو په ارتباط کینه، عداوت، حسد، بې رحمي او نور بد خاصیتونه هم پټ ساتي.

په دې ایتونو کښې د پخوانیو اُمتونو یوې قیصې ته اشاره شوې ده، په کومه کښې چې د کفارو بد خاصیتونه ښه پوره ښه ډاګه شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

۱ ـ په لاندې څلورو شیانو باندې سوګند دی چې هرومرو او ضرور به الله ﷻ مؤمنانو ته په کفارو باندې غلبه ورکړي او په دنیا او آخرت کښې به ورته په هغوی باندې نصرت وربه برخه کړي.

الف: په اسمان باندې سوګند دی کوم چې د بې شماره او زېښتو ډېرو ستورو درلودونکی دی په کومو کښې چې د الله ﷻ څخه پرته هیڅوک تصرف نه شي کولی، او کوم چې هر یو په خپل محور باندې روان دی او هیڅکله د ټکر سره نه مخامخ کېږي.

ب: په موعوده ورځ (قیامت) باندې سوګند دی چې هر څوک به پکښې د خپلو کړو وړو د سزا یا جزا سره مخامخ شي.

ج: د جمعې په ورځ سوګند دی کومه چې د مؤمنانو په قوت باندې شهادت ورکوي، په کومه کښې چې مؤمنان د خپل رب ﷻ په عبادت باندې راغونډېږي.

د: د عرفې په ورځ باندې سوګند دی په کومه کښې چې مؤمنان ډېره لویه عظیم الشانه عبادتي اجتماع تشکیلوي.

۲ ـ ای پیغمبره! ستا دښمنان (کفار او مشرکان) به داسې مقهور او ملعون وګرځي لکه څنګه چې د خندقونو خاوندان ملعون او مقهور ګرځېدلي دي چې څه تفصیل یې دا دی:

الف: دغو خلکو د اور داسې خندقونه تیار کړي وه چې د ډېر اور درلودونکي وه او ډېرې غټې لمبې ترې اوچتېدلې او زېښت ډېر خاشاک یې درلوده.

ب: دغه کسان د اور په شاوخوا کښې په بې خطره ځایونو کښې د ننداري دپاره ناست وه او په دغو خندقونو کښې یې د مؤمنانو ورغورزول په خپلو سترګو سره لیده او مزه یې ترې اخستله.

یا په بل عبارت هغوی په مؤمنانو باندې هیڅ زړه سوی نه درلود او نه یې پرې ترحم کاوه، چې د دوی د نظر لاندې سوزېدل او کباب کېدل.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: مؤمنانو نور هیڅ ګناه نه درلوده چې د دغه تعذیب سره یې مخامخ کړي وه پرته د دې چې په الله ﷻ باندې یې ایمان راوړی وه داسې الله ﷻ چې د ټولو ستاینو درلودونکی دی او هم د کلکې ارادې خاوند دی چې د همده ﷻ څخه په غیر نه بل څوک د ستاینې وړ دی او نه د ده ﷻ د ارادې په وړاندې څوک څنډ واقع کېدلی شي.

د: بلکې په همدې الله ﷻ پورې د اسمانو او ځمکو واکداري اختصاص لري او د همده ﷻ څخه په غیر پکښې هیڅوک د تصرف توان نه لري.

او په دې باندې علاوه الله ﷻ په هر شي باندې د حضور درلودونکی دی چې هیڅ شی ترې غائب نه شي جوړېدلی.

## توضیحات

۱_ د دې سورت د لومړنیو دریوو ایتونو په ارتباط لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ ﴾ کښې د "بُرُوج" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الحجر:۱۶] ایت لاندې پوره څېړل شوې ده چې د ستورو معنی ورکوي.

ب: ټول مفسرین کرام سره متفق دي چې په ﴿ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ ﴾ کښې د وعده کړی شوې ورځې څخه د قیامت ورځ مطلب ده په کومه کښې به چې هرڅوک د خپلو کړو وړو سزا یا جزا وګوري.

ج: د ﴿ وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ ﴾ په تفسیر کښې مفسرینو کرامو ګڼ شمېر اقوال کړي دي چې تقریبًا څلوریشتو (۲۴) قولونو ته رسېږي[1]، خو ډېر غوره تفسیر هغه دی کوم چې ماثور دی او د نبي کریم ﷺ څخه روایت شوی دی چې فرمایلي یې دي: «الْيَوْمُ الْمَوْعُودُ يَوْمُ الْقِيَامَةِ وَالْيَوْمُ الْمَشْهُودُ يَوْمُ عَرَفَةَ وَالشَّاهِدُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ»[2] یعني موعوده ورځ د قیامت ورځ ده او مشهوده ورځ د عرفې ورځ ده او (بالآخره) شاهده ورځ د جمعې ورځ ده.

د: شاید چې د عرفې ورځې ته به د "مَشۡهُود" لقب د دې کبله ورکړی شوی وي چې دغې ورځې ته د حج په موسم د عرفات د غونډۍ ترڅنګ د مؤمنانو ډېره غټه اجتماع ورحاضرېږي.

او د جمعې ورځ به ځکه د "شَاهِد" په نوم یاده شوې وي چې د دغې ورځې خاص لمونځ د مؤمنانو په مستقل حکومت باندې شهادت ورکوي. د همدې کبله دغه خاص لمونځ په اول ځل په مدینه منوره کښې اداء کړی شو چرته چې د دغه حکومت اولنی بنیاد اېښودلی شوی دی چې پوره تفصیل یې د [الجمعة:۹] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد الله ﷻ.

هـ: که څه هم د ایتونو د نزول په وخت کښې مؤمنانو نه د عرفات د غونډۍ ترڅنګ شرعي مستقله اجتماع کولی شوه او نه یې په مکه معظمه کښې د جمعې لمونځ اداء کړی وه، مګر الله ﷻ

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۲۱۶؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۹۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته په همدغه کمزوري حالت کښې بشارت ورکړ او څه موده وروسته یې د معجزې په توګه دغه بشارت ته تحقق ورکړ چې مؤمنان یې د استقلال خاوندان وګرځول چې د جمعې لمونځ یې پرته له کوم ګواښ څخه په مدینه منوره کښې اداء کړ، او هم یې په حجة الوداع کښې د عرفات ترڅنګ د شریعت په مطابق لویه اجتماع جوړه کړې شوه.

و: د ذکرو شوو څلورو واړو سوګندونو جواب مقدر دی[1]، په کوم باندې چې د سوګندونو کلمات دلالت کوي د کوم څخه چې مونږ په "لَيَنصُرَنَّ اللهُ الْمُؤمِنِينَ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَهُمْ" سره تعبیر کولی شو. یعنې په ذکرو شوو شیانو باندې سوګند دی چې هرومرو ضرور به الله ﷻ د مؤمنانو سره په کفارو باندې نصرت وکړي او د هغوی د اذیتونو په مقابل کښې به یې قدمونه محکم او ټینګ وګرځوي چې په همدې مضمون باندې په [محمد: ۷] ایت کښې صراحت شوی دی.

## "اُخدُود" څه معنی؟

۲_ په ﴿ قُتِلَ أَصْحَٰبُ ٱلْأُخْدُودِ ﴾ کښې د "اُخدُود" کلمه مفرده ده چې جمعه یې "أَخادِيْد" ده. دا د هغې ژورې کندې (خندق) نوم دی کوم چې په ځمکه کښې په مستطیل شکل سره وکنودل شي[2].

او په ﴿ ذَاتِ ٱلْوَقُودِ ﴾ کښې د "وَقُود" کلمه (د "و" په زور سره) د هغو خاشاکو دپاره وضعه شوې ده په کومو باندې چې اور بلېږي[3] او د "و" په پېښ سره (وُقُود) د اور بلولو معنی ورکوي[4].

یعنې د دې زمانې عنادي کفار به هم په دنیا او آخرت کښې ملعون او مغلوب وګرځولی شي لکه څنګه چې په پخوانیو زمانو کښې د خندق ملګري ملعونان او مغلوبان ګرځولي شوي وه.

## د اصحاب الاخدود قیصه

۳_ د دغې قیصې په ارتباط ځینو مفسرینو کرامو ډېر اوږده بحثونه لیکلي دي[5]، مونږ د لنډون په غرض دلته د هغو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم مو چې د نبي کریم ﷺ د احادیثو[6] څخه راغونډ کړي دي هغه دا چې:

الف: یوه هلک د یوه راهب په لارښوونه د وخت کفري او شرکي عقیده پرېښودله او د عیسی ﷺ دین یې قبول کړ چې تر دغه وخت پورې لا محمد ﷺ نه وه مبعوث شوی او ذکر شوی دین منسوخ نه وه ګرځېدلی.

ب: دغه تازه مؤمن هلک یوازې په ایمان راوړلو باندې اکتفاء ونه کړه بلکې خپل حق دین ته یې د دعوت په چلونه باندې هم پیل وکړ چې: ای خلکو! کفري او شرکي عقیده پرېږدئ او هغه

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۷۲۹
(۲) لسان العرب ج۳ ص۱۶۰
(۳) مفردات الراغب ص۵۶۶
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۱۱۰
(۵) روح المعاني ج۳۰ ص۸۸؛ تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۲۸۷_۲۹۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۹۵؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۶۹
(۶) صحیح مسلم ج۲ ص۴۱۵، جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۱، مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۲۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سمه عقیده خپله کړئ کومه چې ما خپله کړې ده، د دغې عقیدې د سموالي او حقانیت یوه نښه دا ده چې هر مریض چې زما عقیده خپله کړي نو زما په دعاء، به ترې الله ﷻ مرض پورته کړي او روغ رمټ به شي.

ج: ډېرو مریضانو ذکر شوی شرط قبول کړ او د مرضونو څخه یې شفاوې موندلې. او د دعوت اثر لا زیات شو او پیروان یې مخ په ډېرېدلو وه.

د: د وخت کافر پاچا په خپله پاچاهۍ باندې ودار شو او د نومورې تازه مؤمن هلک په وژلو باندې یې امر وکړ چې په ډېره بې رحمه طریقه دې ووژل شي ترڅو خلک ترې عبرت واخلي.

ه: نو په همدې بنیاد د پاچا د عسکرو یوې ډلې یوه غره ته وخېژاوه ترڅو یې د یوه لوی کمره څخه ښکته راورغړوي او شهید یې کړي. خو د غره د سره دغه ډله عسکر ټول پخپله راورغښتل او هلک روغ رمټ بېرته راستون شو.

بیا بلې ډلې د غرقولو دپاره نوموړی هلک دریاب ته بوته خو دا ځل هم نتیجه بالعکس شوه چې ټول پخپله غرق شوه او هلک روغ رمټ پاتې شو.

و: بیا دغه مؤمن داعي هلک پاچا مخاطب کړ چې: ای پاچا! که ته غواړې چې ما شهید کړې نو ما په داسې غشي ووله چې زما د رب ﷻ نوم ورباندې یاد کړې او د غشي راخوشې کولو په وخت کښې ووایه چې: «بِسْمِ اللهِ رَبِّ هَذَا الْغُلَامِ» یعنې د الله ﷻ په نامه چې د همدغه هلک رب دی.

ای پاچا! ته دغه کار په یوه غټه اجتماع کښې ترسره کړه چې ټول خلک د دغې صحنې ننداره وکړي.

ز: پاچا همدغسې وکړل او هلک یې شهید کړ.

لنډه دا چې هلک خلکو ته وښودله او په خپل مرګ سره یې ورته څرګنده کړه چې زمونږ رب فقط الله ﷻ دی او بس چې زه یې په نامه سره قرباني شوم. ته به وایې چې نوموړي هلک خپل ځان پخپله شهید کړی وي او استشهادي حمله یې کړې وي.

ح: نو همدغه استشهادي دعوت په عوامو باندې ډېر اثر وغورزاوه نو اکثریت یې د کفري او شرکي عقیدې څخه تېر شوه او توحیدي عقیده یې خپله کړه.

ط: نو پاچا د دې دپاره چې د خلکو د ایمان راوړلو مخه ونیسي یو خندق وکنود او د اوره یې ډک کړ او امر یې وکړ چې که هرڅوک د نوموړي هلک عقیده حقه کڼي او په عیسی ﷺ باندې ایمان راوړي هغه دې په دغه اور کښې کباب کړی شي او سر په ځړې دې پکښې وروغورزولی شي.

د همدغه کفري فرمان په سبب ډېر خلک اور ته په داسې حال ورواچولی شوه چې کفارو یې ننداره کوله او زړه یې وربانډې هیڅ نه سوزېده.

## د ایتونو ارشادات

۴ـ په دې مقام کښې د ذکرو شوو ایتونو څخه لاندې ارشادات جوتېږي:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د قیامت تر ورځې پورې ټولو مؤمنانو ته عموماً او د ایتونو د نزول د وخت مؤمنانو ته خصوصاً تسلي او ډاډ ورکړی شوی دی چې د تاریخ په اوږدو کښې مؤمنانو ډېر تکالیف او د کفارو د لاسه ډېر ربړې ګاللي دي او د خپل دین څخه نه دي تېر شوي. نو تاسو هم باید په اذیتونو او تکلیفونو باندې صبر وکړئ څکه چې جنت ته وریا نه شئ داخلېدلی.

په همدې مضمون باندې په [البقرة:۲۱۴] ایت کښې صراحت نازل شوی دی.

ب: د دې زماني کفار په غوږ باندې وهلی شوي دي چې:

ای کفارو! د مؤمنانو د زوررولو څخه لاس واخلئ او توحیدي عقیده خپله کړئ، که نه نو نه به په دنیا کښې ښه ورځ وګورئ او نه به په آخرت کښې د خوشالۍ خاوندان جوړ شئ: بلکې په دنیا او آخرت دواړو کښې به د الله ﷻ د رحمت څخه لرې وغورزولی شئ.

په همدې بنیاد ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې په پای کښې د خندق څخه اور اوچت شو او ننداره‌چیان یې وسوزول[1].

ج: څرنګه چې ذکر شوي مؤمن هلک ظالم او کافر پاچا ته د خپل ځان د شهادت طریقه وروښودله، ته به وایې چې خپل ځان یې پخپله د دین د پیاوړتیا او د خپل رب ﷻ د رضامندۍ د لاسته راوړلو دپاره شهید کړ؛ نو د دغه کار په حکایت کښې مؤمنانو ته دا ارشاد نغښتی دی چې صرف د همدغه غرض دپاره په کفارو باندې استشهادي حملې وکړئ، لکه څنګه چې نن ورځ د فلسطین مسلمانان په یهودانو باندې همدغسې حملې جاري ساتي.

په دغه مطلب باندې د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۱۹۵] ایت لاندې څه زیاته رڼا اچولې شوې ده چې یو خل کتل یې بهتر دي.

د: که څه هم د اور خندق ته د وراچولو په وخت کښې مؤمنانو ته جائزه وه چې په کفري کلمه باندې یې د نجات دپاره تلفظ کړی وی مګر هغوی ـ علیهم الرحمة والرضوان ـ په عزیمت باندې عمل وکړ او بهتره لاره یې غوره کړه.

په همدې ارتباط د [آل عمران:۲۸] او د [النحل:۱۰۶] ایتونو لاندې ښه پوره څېړنه تېره شوې ده والحمد لله ﷻ، خو دلته ورباندې وراضافه کوو چې:

نبي کریم ﷺ په خپل یوه حدیث کښې ابو الدرداء ﷺ مخاطب کړی دی چې: «لَا تُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئًا وَإِنْ قُطِّعْتَ وَحُرِّقْتَ»[2] یعنې ای أبو الدرداء! ته د الله ﷻ سره (په عبادت کښې) څه شی شریک مه جوړوه اګر که ته پرې کړی شې او (یا) وسوزلی شې.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُوا۟ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا۟ فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۲۹۴

(۲) سنن ابن ماجه ص۲۹۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَذَابُ ٱلْحَرِيقِ ﴿١٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْكَبِيرُ ﴿١١﴾ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾
وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ
ٱلْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطٌۢ
﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِى لَوْحٍ مَّحْفُوظٍۭ ﴿٢٢﴾

[۱۰] یقیناً هغه کسان کوم چې نارینه مؤمنان او زنانه مؤمناني په فتنه کښې اچوي (او تعذیب ورکوي) بیا یې (د دغه کار څخه) توبه هم نه وي ویستلي (چې ورباندې پښېمانه شي)، نو دوی لره د دوزخ عذاب دی او دوی لره د سوزېدلو عذاب دی.

[۱۱] یقیناً هغه کسان کومو چې ایمان راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي (نو) دوی ته (د الله ﷻ په وړاندې) داسې جنتونه دي چې لاندې تري (څلور) لښتي (ویالې) بهېږي، چې دغه ډېره لویه کامیابي ده.

[۱۲] (ای پیغمبره!) یقیناً ستا د رب ﷻ په قوت سره کلک نیول ډېر سخت دي.

[۱۳] یقیناً ستا رب ﷻ همدی ﷻ اول ځل پیدا کول کوي او د (ژوندون) بېرته راګرځول هم کوي.

[۱۴] او همدی ﷻ ډېر بښونکی او ډېر دوستي کوونکی دی.

[۱۵] (ستا رب ﷻ) د لوی عرش څښتن دی.

[۱۶] (ستا رب ﷻ) د هغو (ډېرو) کارونو کوونکی دی د کومو کولو ته یې چې اراده وشي.

[۱۷] (ای پیغمبره!) ایا تاته د لښکرو (د هلاک) خبره درغلې ده؟.

[۱۸] (البته) د فرعون د لښکرو او د ثمودیانو د لښکرو (خبره).

[۱۹] بلکې هغه کسان (بدون د دلیله) په تکذیب کښې (پراته) دي کومو چې کفر غوره کړی دی (او عناداً ورباندې کلک دي).

[۲۰] حال دا چې الله ﷻ د دوی څخه (په علم او قدرت سره) احاطه کړې ده (چې د تښتېدلو هیڅ لاره نه شي درلودلی).

[۲۱] بلکې دا (کتاب) لوستل شوی لوی (عظیم الشان) کتاب دی.

[۲۲] دا (په لوستلو سره نازل شوی کتاب) په لوح محفوظ کښې (ثبت) دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو په مضامینو باندې زیاته رڼا اچولې شوې ده چې حاصل یې داسې راخېژي:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ د اصحاب الأخدود په شمول د قیامت تر ورځې پورې هغو کسانو ته د دوزخ عذاب او همدارنګه سوزوونکی عذاب ټاکلی شوی دی کوم چې مؤمنان نارینه او زنانه د ایمان راوړلو د کبله تعذیبوي ترڅو یې کفر ته بېرته ورستانه کړي او مرتدان ترې جوړ کړي.
البته ذکر شوي دواړه عذابونه په آخرت کښې د هغو فتنو اچوونکو دپاره ټاکلی شوي دي کوم چې د دغه کار د کولو څخه وروسته توبه تائب نه شي او د عدم توبې په حال کښې مړه شي (همدغه کفري عقیده د خان سره قبر ته یوسي).
۲_ بالمقابل هغه کسان کومو چې ایمان راوړی وي او نېک اعمال یې ورسره یوځای کړي وي برابره خبره ده چې د ایمان د کبله په فتنه کښې اچولي شوي وي او که ترې بچ پاتې شوي وي، د دې دپاره د الله ﷻ په وړاندې په آخرت کښې داسې باغونه تیار کړی شوي دي چې لاندې ترې څلور ډوله لښتې او ویالې بهېږي.
۳_ ای پیغمبره! فتنه اچوونکو ته برسېره په أخروي عذاب باندې دنیاوي عذاب هم شته البته چې کله ورته ستا د رب ﷻ اراده وشي. او دا ځکه چې:
الف: یقینًا ستا د رب ﷻ نیونه ډېره سخته ده چې هیڅوک او هیڅ شی یې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی او نه یې څوک مخه بلې خوا ته اړولی شي.
ب: یقینًا ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د نشت څخه پیدا کول کوي او بیا د مرګ څخه وروسته بل ځل ژوندن بېرته اعاده کوي او مړي د قبرونو څخه ژوندي را اوچتوي.
ج: خو د دې سره-سره ستا رب ﷻ مغفرت کوونکی هم دی چې که څوک د کفریاتو او د فتنو اچولو څخه وروسته توبه تائب جوړ شي نو بښنه ورته کوي.
د: نو په همدې بنیاد ستا رب ﷻ دوستي کوونکی هم دی چې د توبې څخه وروسته د خپلو دښمنانو سره دښمني ته ادامه نه ورکوي.
هـ: ستا رب ﷻ د ډېر لوی عرش خاوند دی نو د توبې قبول او د دښمنۍ ختمول یې د کمزورۍ څخه نمایندګي نه کوي بلکې دا یې په زیاتې مهربانۍ او لطف باندې دلالت کوي.
و: په دې باندې علاوه ستا رب ﷻ د هغه کار کوونکی دی کوم ته چې اراده وکړي نو:
ایا تاته د هلاکو کړی شوو لښکرو خبره در رسېدلې ده؟. یا په بل عبارت:
اول: ایا ته خبر یې چې ستا رب ﷻ فرعونیان څنګه هلاک کړه؟ ایا د دوی مشر (فرعون) د ربوبیت دعوه نه وه کړې او د مؤمنانو په تعذیب کښې مخکښ نه وه؟
دوهم: ایا ته خبر یې چې ستا رب ﷻ د ثمودیانو بنیاد څنګه وویست؟ ایا دوی په خپل صنعتي مهارت سره خپلو خانونو ته نجات ورکړی شو؟.
۴_ ای پیغمبره! ستا د زمانې د کفارو سره نه په خپلو کفریاتو باندې څه دلیل شته او نه د خپل نجات دپاره څه وسائل او توان لري. بلکې پرته له کوم دلیله د قرآن کریم په تکذیب اخته دي. حال

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا چې: الله ﷻ د دوی په ټولو اطرافو باندې په علم او قدرت سره احاطه کړې ده نو هرومرو به یې په ټاکلي وخت کښې په عذاب مبتلا کړي.

۵ـ لنډه دا چې: قرآن کریم دروغجن کتاب نه دی او نه ورسره دغه لقب تناسب لري بلکې دا په لوست سره نازل شوی عالي شان کتاب دی او په داسې عالي شانه تخته کښې ایښودل شوی دی کومه چې د شیطانانو او جوګیانو د مسه کولو څخه خوندي او محفوظه ده.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ ٱلْحَرِيقِ ﴾ کښې د دوزخ عذاب او سوزوونکي عذاب ترمنځ څه توپیر دی؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوي دواړه عذابونه په تاکید باندې حمل کړي دي[1] او ځینو د جهنمي عذاب څخه أخروي عذاب مراد کړی دی او د عذاب الحریق کلمه یې په دنیاوي عذاب سره تفسیره کړې ده[2].

همدارنګه ځینو د اول عذاب څخه زَمْهَرِیر (سوړ دوزخ) اراده کړی دی او دوهم عذاب یې په ګرم دوزخ سره معنی کړې ده[3].

او بالآخره ځینې علماء کرام وایي چې: ﴿ عَذَابُ ٱلْحَرِيقِ ﴾ د ګرم دوزخ په داخل کښې ډېر زیات ګرم اور دی[4]، والله ﷻ اعلم بمراد کتابه العزیز.

## څو مطالب

۲ـ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: په ﴿ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴾ کښې الله ﷻ د خپل کامل قدرت په مثالونو کښې د "فرعون" هلاک ته اشاره کړې ده چې نوموړی د یو پلوه د ربوبیت دعوه ګیر وه لکه چې په [النازعات:۲۴] ایت کښې وړباندې صراحت نازل شوی دی لکه څنګه چې د اصحاب الأُخدود مشر د ربوبیت مدعي وه[5] او د بله پلوه نوموړی د مؤمنانو په تعذیب کښې هم د أصحاب الأُخدود څخه کم نه وه چې په [ص:۱۲] ایت کښې د ذو الأوتاد (د موږیو خاوند) په لقب یاد شوی دی.

ب: په همدغه ایت کښې الله ﷻ د ثمودیانو هلاک ته هم اشاره کړې ده چې دوی د اصحاب الأُخدود غوندې په دنیاوي ثروتونو باندې ډېر غره وه او په صنعتونو کښې یې زیات مهارت درلود لکه چې په [الشعراء:۱۴۹] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

---

(۱) تفسیر المظهري ج۱۰ ص۲۳۸
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۲۹۵
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۲۵۳
(۴) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۳۷
(۵) صحیح مسلم ج۲ ص۴۱۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو د دې سره-سره نه فرعونیانو د الله ﷻ د عذاب څخه نجات موندلی کړ او نه ثمودیان د نجات خاوندان وګرځېده. نو ایا د دې زمانې کفار به په نجات بریالي شي؟.

ج: په ﴿ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴾ کښې د "لَوْح مَحْفُوظ" په ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [الرعد:۳۹] ایت لاندې ښه پوره څېړنه تېره شوې ده چې بیا څېړلو ته یې څه اړتیا نه ګورو او د [الواقعة:۷۸] ایت لاندې هم پکښې څه بیان تېر شوی دی.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفیق د "الْبُرُوج" سورت پښتو ترجمه او تفسیر پای ته ورسېد.

اللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ لَهُمُ الْفَوْزُ الْكَبِير

۱۴۲۵/۱۲/۲۵ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۱/۱۶ هـ ش.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الطارق(٨٦)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (الطَّارِق) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی.
۲_ دا سورت د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی او مکي سورت دی[۱].
۳_ د دې سورت د ایتونو شمېر اولسو (۱۷) ته رسېږي[۲].
۴_ د کلماتو شمېر یې دوه اویا (۷۲) کلمو ته رسېدلی دی[۳].
۵_ د حرفونو شمېر یې دوه سوه او نهه دېرش (۲۳۹) حرفونو ته اوچت شوی دی[۴].
۶_ دا سورت د نورو مکي سورتونو غوندې د عقیدوي ارشاداتو څخه بحث کوي خو د قیامت په قیام او د قرآن کریم په حقانیت باندې پکښې زیات ټینګار شوی دی.
۷_ د دې سورت (الطَّارِق) او د وړاندېني سورت (الْبُرُوج) تناسب ډېر واضحه دی چې دواړه مکي سورتونه دي او دواړه په ﴿وَٱلسَّمَآءِ﴾ سره پیل شوي دي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ۝١ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ۝٢ ٱلنَّجْمُ ٱلثَّاقِبُ ۝٣ إِن كُلُّ نَفْسٍ
لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ۝٤ فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ۝٥ خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ ۝٦ يَخْرُجُ مِنۢ
بَيْنِ ٱلصُّلْبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ۝٧ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجْعِهِۦ لَقَادِرٌ ۝٨ يَوْمَ تُبْلَى ٱلسَّرَآئِرُ ۝٩ فَمَا لَهُۥ
مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ ۝١٠ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] په اسمان او په طارق باندې سوګند دی.
[۲] او (ای پیغمبره!) ته څه شي پوه کړې چې طارق څه شی دی؟ (زما ترې څه شی مراد دی؟).
[۳] (طارق چې دی) داسې ستوری دی چې (د تیارې) څېروونکی (او سوری کوونکی) دی.
[۴] (سوګند دی چې) هیڅ نفس (هیڅوک) نه دی مګر (د الله ﷻ د پلوه)ورباندې ساتونکې (پرښته) شته (چې ټول کړه وړه یې لیکي).
[۵] نو انسان دې وګوري (فکر دې وکړي) چې د څه شي څخه پیدا کړی شوی دی؟

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۷۴
(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۴۷۲
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۲۵۹
(۴) تفسير الخازن ج۶ ص۴۸۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶] انسان د داسې اوبو (نطفې) څخه پیدا کړی شوی دی چې په زغرده (په رحم) کښې توییدونکې دی.

[۷] داسې اوبه چې د ملا د تیر او د سینې د هډوکو د منځ څخه بهر راوځي.

[۸] یقیناً الله ﷻ د انسان په راګرځولو (بیا ژوندي کولو) باندې هرومرو قدرت درلودونکی دی.

[۹] په هغې ورځ کښې (به انسان بیا ژوندی کړی شي) په کومه کښې چې ټول عملونه (ښه وي او که بد) ښکاره ګرځولی کېږي.

[۱۰] نو (په دغه ورځ کښې) انسان ته نه خپل قوت شته او نه ورته کومک کوونکی (شته چې نجات مونده کړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندینی سورت (الْبُرُوج) په ﴿ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴾ باندې ختم شوی وه او دا سورت (الطَّارِق) چې په کومو ایتونو سره پیل شوی دی په هغو کښې د ﴿ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴾ کلمات هم نازل شوي دي. یعنې برسېره په دې چې د قرآن کریم په شمول هر شی په لوح محفوظ کښې ساتلی شوی دی د انسان ټول کړه وړه هم د "کرام الکاتبین" د پلوه روزمره په اعمالنامو کښې لیکلی کېږي او ساتل کېږي، چې د قیامت په ورځ به د محاسبې دپاره د حشر میدان ته حاضر کړی شي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ په اسمان باندې سوګند دی او په طارق باندې سوګند دی.

ای پیغمبره! ته څه شي پوه کړې چې دغه (طارق) چې سوګند ورباندې یاد شوی دی څه شی دی؟

دغه (طارق) د داسې ستوري څخه عبارت دی کوم چې د ورځې د پلوه د نظره پټ دی او د شپې د مخې په خپلې رڼا سره تیاره سوری کوي او خپل ځان کتونکو ته ورڅرګندوي.

په دغو دواړو باندې سوګند دی چې هیڅوک او هیڅ نفس نه دی مګر په هغه باندې داسې ساتونکی مقرر دی کوم چې روزمره یې ټول کړه وړه لیکي او د عملنامې په کتاب کښې یې ثبتوي.

۲ـ نو دغه د عملنامې کتاب به هرومرو د قیامت په ورځ د محاسبې دپاره راڅرګند شي او تصفیه به صورت ونیسي. نو هر انسان ته په کار دي چې د بعث بعد الموت څخه انکار ونه کړي، او په خپل ګرېوان کښې سر ښکته کړي او تفکر وکړي چې د الله ﷻ د پلوه نوموړی د څه شي څخه پیدا کړی شوی دی. نو د تفکر په نتیجه کښې به پوه شي چې:

الف: د الله ﷻ د پلوه هر انسان په زغرده د توي کړی شوو اوبو (نطفې) څخه پیدا کړی شوی دی چې په زغرده او تېزۍ سره د ملا او د سینې د هډوکو د منځ څخه جدا کېږي او په رحم کښې قرار نیسي.

ب: که انسان عناد نه وي نیولی په دې باندې به هم پوه شي چې د ذکرو شوو اوبو څخه د انسان پیدا کوونکی هرومرو د قدرت درلودونکی دی چې د مرګه وروسته یې د دوهم ځل دپاره راژوندی کړي او د قبر څخه یې را اوچت کړي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ ای پیغمبره! دغه پیدا کول او بیا ژوندي کول به ضرور په داسې ورځ کښې صورت ونیسي چې په هغې ورځ کښې به ټول پټ کارونه او ټولې پټې خبرې رالوڅې کړی شي او پرده به ترې پورته کړی شي، او همدارنګه به هر چا ته خپله اعمالنامه په ښي لاس یا چپ لاس سره ورکړی شي.

نو په دغې ورځ کښې به هیڅوک نه قوت ولري چې په خپل زور سره نجات حاصل کړي او نه به ناصر او مرستندوی ولري چې د هغه په زور سره نجات ترلاسه کړی شي.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: دلته د "طَارِق، طَارِقٌ" دواړه کلمې د "طَرَقَ" ـلکه "ضَرَبَ"ـ څخه اشتقاقي دي، چې د ټکولو معنی ورکوي[۱]. د همدې مصدر څخه د "طَرِيْقَة" کلمې هم اشتقاق موندلی دی چې د لارې په معنی ده چې د تلونکو کسانو په پښو سره ټکوله کېږي او "مَطْرُوقَة" (ټکولې شوې) ګرځي[۲].

ب: د شپې راتلونکي کس ته هم "طَارِق" ویل کېږي چې غالبًا دغه کس دېته اړ کېږي چې دروازه وټکوي ځکه چې د شپې دروازې او وروانه بندوي[۳].

دغه کلمه په همدې معنی سره په یوه اورېده حدیث کښې هم استعماله شوې ده چې: «وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ إِلَّا طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمَنُ»[۴] یعني یو ځل نبي کریم ﷺ د جبرائیل ؑ د پلوه مخاطب وګرځولی شو چې: ای محمده! ته وایه چې: ای ډېره مهربانه الله! زه په تا سره د هر شپې راتلونکي کس د شر څخه پنا غواړم مګر د هغه شپې راتلونکي کس څخه نه، کوم چې په خیر سره د شپې راتلل کوي (او د خیر او خوشالۍ خبر راوړي).

ج: خو دلته ذکره شوې کلمه په ﴿ٱلنَّجْمُ ٱلثَّاقِبُ﴾ سره تفسیره شوې ده چې: د "ثَاقِبُ" کلمې پکښې د "ثَقَبَ" ـلکه "ضَرَبَ"ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د سورې کولو معنی ورکوي[۵]، شاید چې ستورې ته به دغه لقب د دې کبله ورکړی شوی وي چې په خپلې رڼا سره د شپې تیاره سورې کوئ او خپل ځان څرګندوي (چې سپین ځلېږي).

د: ځینو علماوو کرامو د ﴿ٱلنَّجْمُ ٱلثَّاقِبُ﴾ څخه خاص خاص ستورې اراده کړي دي[۶]، مګر بهتره دا ده چې مطلق ستورې ترې اراده کړی شي ترڅو په استغراق سره ټولو ستورو ته شمولیت ولري چې هر یو ستوری د شپې رڼا ځېروي او په اسمان کښې روڼ ځلېږي.

---

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۲۱۵
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۱۱۷
(۳) البحر المحیط ج۱۰ ص۴۴۸
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۲۶۸
(۵) القاموس المحیط ج۱ ص۴۱۱؛ لسان العرب ج۱ ص۲۳۶
(۶) تفسیر الخازن ج۶ ص۴۹۰؛ اضواء البیان ج۹ ص۱۵۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: د ﴿إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ﴾ ایت د ذکرو شوو دواړو سوګندونو جواب دی[۱]، چې د "لَمَّا" توری پکښې د "إِلَّا" د توري معنی ورکوي[۲]، او په دې معنی سره په [یس:۳۲] ایت کښې هم نازل شوی دی.

و: په همدغه ایت کښې ﴿حَافِظٌ﴾ کلمه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په "ساتونکې پرښتې" سره تفسیره کړې ده[۳]، نو شاید چې دا به ټولو ساتونکو او لیکونکو پرښتو ته شامله وي.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: په اسمان او هم په اسمان کښې په هغو ځلېدونکي ستورو باندې سوګند دی کوم چې د ورځې هلته پټېدونکی دی او د شپې څرګندېدونکی دی چې هیڅوک نه دی مګر د الله ﷻ د پلوه ورباندې ساتونکې پرښتې مقررې دي چې ټول کړه وړه یې په لیکنې سره په دنیا کښې پټ ساتي خو دغه لیکنه به په آخرت کښې د ستورو غوندې راڅرګنده شي او هیڅوک به ترې انکار خپل نه کړی شي.

## درې لغات

۲ـ په ﴿مِن مَّآءٍ دَافِقٍ﴾ کښې د ﴿دَافِقٍ﴾ کلمه د "دَفْق" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "دَفْق" په زغرده د اوبو تویولو ته ویل کېږي، نو د ﴿دَافِقٍ﴾ کلمه د "مَدْفُوق" معنی ورکوي[۴]. یعني هغه اوبه چې په زغرده په رحم کښې توی کړی شوې دي.

او په ﴿بَيْنِ ٱلصُّلْبِ وَٱلتَّرَآئِبِ﴾ کښې د "صُلْب" کلمې په اصل کښې د "صَلَابَة" ـلکه "شَرَافَة"ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې کلکوالي او سختوالي ته ویل کېږي.

خو دغه کلمه هغه هډوکي ته هم وضعه شوې ده کوم چې د انسان د ولو د منځ څخه پیل کېږي او تر کوناټیو پورې اوږدېږي[۵]، په کوم پورې چې پوښتۍ نښتې دي چې په پښتو کښې ورته د ملا تیر ویل کېږي.

او په همدغه عبارت کښې د "تَرَائِب" کلمه د "تَرِيبَة" ـلکه "شَرِيفَة"ـ جمعه ده، "تَرِيبَة" د سینې هغو هډوکو ته وضعه شوې ده کوم چې قوسي شکل لري او دواړه سرونه یې د ملا د تیر پورې پیوسته دي[۶].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې مقام کښې علماء کرام په لاندې ډول اختلاف لري:

الف: ځینې وایي چې: د نارینه د نطفې دپاره اصلي مرکز د ملا تیر دی او د زنانه وو د نطفې

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۷۳۴
(۲) القاموس المحیط ج۴ ص۱۷۲
(۳) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۱۴۳
(۴) القاموس المحیط ج۴ ص۱۹۴؛ تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۴
(۵) لسان العرب ج۱ ص۵۲۶
(۶) مفردات الراغب ص۷۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مرکز د سینې هغه هډوکي دي په کومو باندې چې غاړکۍ زنګوي[۱].

یعنې د آدم علیه السلام او د حواء رضی الله عنها څخه په غیر نور ټول انسانان هر یو د هغو په زغرده توی کړی شوو اوبو څخه پیدا کړی شوي دي کومې چې د نارینه وو د ملا د تیر څخه او د زنانه وو د سینو د هډوکو څخه راوځي او په رحم کښې د جنین دپاره تومنه ګرځي.

ب: خینې نور وایي چې د نارینه وو او زنانه وو دواړو د نطفو اصلي مرکز د ملا تیر او د سینو هډوکي دي، چې د دواړو نطفې د دغو دواړو څخه راوځي او په رحم کښې سره ګډېږي[۲]، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال وإلیه المرجع والمآل.

## "سَرِیْرَةٌ" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ یَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ﴾ کښې د "سَرَائِرُ" کلمه د "سَرِیْرَةٌ" ـلکه "شَرِیْفَةٌ"ـ جمعه ده. "سَرِیْرَةٌ" هر هغه عمل ته وضعه شوې ده کوم چې په دنیا کښې د خلکو څخه په پټه صورت ونیسي، برابره خبره ده چې دغه عمل نېک وي او که بد وي[۳]. یعنې د قیامت په ورځ به ټول پټ اعمال (آن قلبي اعمال هم) راڅرګند کړی شي.

د همدې مضمون دپاره نبي کریم ﷺ په خپل یوه اورده حدیث کښې ډېر ښه مثال ښودلی دی چې: «لِکُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ یَوْمَ الْقِیَامَةِ عِنْدَ اسْتِهِ عَلَى قَدْرِ غَدْرَتِهِ»[۴] یعنې د قیامت په ورځ به د هر ټګمار د کوناټي په سر د هغه د غدر (ټګۍ) په اندازه بېرغ ولاړ وي. (چې ډېر لوړ بېرغ به د ټګ مشر په کوناټي باندې رېږي).

﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ۝١١ وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ۝١٢ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ۝١٣ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ۝١٤ إِنَّهُمۡ یَکِیدُونَ کَیۡدٗا ۝١٥ وَأَکِیدُ کَیۡدٗا ۝١٦ فَمَهِّلِ ٱلۡکَٰفِرِینَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَیۡدَۢا ۝١٧ ﴾

[۱۱] په اسمان باندې سوګند دی چې د باران خاوند دی.

[۱۲] او په ځمکه باندې (سوګند دی) چې په نباتاتو سره د چاودېدلو خاونده ده.

[۱۳] چې یقینًا دا (قرآن کریم د حق او باطل) بېلوونکی قول دی.

[۱۴] او چې دا قرآن کریم) ټوقې (او عبث) خبرې نه دي.

[۱۵] یقینًا کفار (د قرآن کریم د محوه کولو دپاره) پټ تدبیر کوي پټ تدبیر کول.

(۱) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۴۱؛ الدر المنثور ج۸ ص۴۷۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۹۸
(۲) البحر المحیط ج۱۰ ص۴۵۱
(۳) لسان العرب ج۴ ص۳۵۷
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۳۰۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۶] او زه (هم د کفارو د محوه کولو دپاره) پټ تدبیر کوم پټ تدبیر کول

[۱۷] نو (ای پیغمبره!) ته کفارو ته مهلت ورکړه، دوی ته مهلت ورکړه ډېر لږ وخت (مهلتګی ورکړه).

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د دې سورت په سریزه کښې لیکلي دي چې په دې سورت کښې د قیامت په قیام او د قرآن کریم په حقانیت ډېر ټینګار شوی دی. څرنګه چې په وړاندې ایتونو کښې اولنی مطلب ختم شو نو په دې ایتونو کښې د دوهم مطلب په بیان باندې پیل وشو.

۲_ په ﴿وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ﴾ کښې د "رَجۡع" کلمه مفسرینو کرامو دلته په باران سره تفسیره کړې ده[۱]، شاید چې دا لقب په ورته د دې کبله ورکړی شوی وي چې د باران ورېنت بیا-بیا صورت نیسي.

۳_ په ﴿وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ﴾ کښې د "صَدۡع" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الحجر:۹۴] ایت لاندې معنی کړې ده چې دغه کلمه په کلک جسم کښې د درز کولو څخه عبارت ده.

خو په دې مقام کښې ترې هغه درز (چاود) مطلب دی کوم چې په ځمکه کښې د نباتاتو په زرغونېدلو سره صورت نیسي چې تبغ ترې بهر راوځي[۲].

۴_ د ﴿إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ۝ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ﴾ دواړه جملې د ذکرو شوو دواړو سوګندونو جواب دی. یعنې په اسمان او ځمکې باندې په ذکرو شوو لحاظونو سره سوګند دی چې:

یقینًا دا قرآن کریم د حق او باطل ترمنځ جدا کوونکی قول او کتاب دی، دا کتاب توقې نه دي او نه د عبثیاتو مجموعه ده، لکه څنګه چې وړاندې د کفارو او مشرکانو د پلوه دغه تهمت تپل کېږي.

همدې مطلب ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «هُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ»[۳] یعنې قرآن کریم د باطل څخه د حق جدا کوونکی دی توقې (عبث خبرې) نه دي.

۵_ شاید چې په ذکرو شوو سوګندونو او په ذکر شوي جواب کښې به دېته اشاره وي چې:

الف: لکه څنګه چې د باران په ورېښت او د نباتاتو په زرغونېدلو کښې شک نشته همدارنګه د قرآن کریم په حقانیت کښې هم شک او شبه نشته.

ب: لکه څنګه چې الله ﷻ د اسمان څخه د باران په نازلولو سره د ځمکې د اوسېدونکو مادي ارتیاوې پوره کړې دي همدارنګه یې د قرآن کریم په نزول سره د دوی معنوي او روحي احتیاجات هم کامل ګرځولي دي چې د قیامت تر ورځې پورې د ټولو بندګانو دپاره لاربښود دی.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۱۲۲: الدر المنثور ج۸ ص۴۷۶
(۲) روح المعاني ج۳۰ ص۱۰۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "رُوَيْد" څه معنی؟

۶ـ په ﴿ فَمَهِّلِ ٱلْكَٰفِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًۢا ﴾ کښې د "مَهِّلْ" او "أَمْهِلْ" دواړه کلمې اصلا د "مُهْلَة" څخه اشتقاقې دي چې لومړنۍ کلمه په دوهمې کلمې سره تاکیده شوې ده[۱].

او د "رُوَيْد" کلمه پکښې د تصغیر صیغه ده چې مکبر اسم یې "رَوْد" ـلکه "ضَرْب"ـ دی چې مصدر دی او د مهلت معنی ورکوي[۲]، خو په دې مقام کښې د ﴿ رُوَيْدًۢا ﴾ کلمه مفسرینو کرامو په "قَلِيلًا" سره تفسیره کړې ده[۳].

یعنې ای پیغمبره! د قرآن کریم د محوه کولو دپاره د کفارو د پلوه د هر پټ تدبیرونه په کار اچولی شوي دي او مونږ د دوی د محوه کولو دپاره پټ تدبیرونه په کار اچوو. نو ته هغوی ته مهلتګی (د لږ وخت) ورکړه او منتظر اوسه چې ترڅو تاته د جهاد امر درنازل کړی شي نو ته به هلته وګورې چې د کفارو پټ تدابیر او چلونه به یې هیڅ په درد دوا نه شي.

په همدې ځای باندې د الله ﷻ په توفیق د "الطَّارِق" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلِ الْقُرْآنَ لَنَا نُورًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ.

۱۴۲۵/۱۲/۲۸ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۱/۱۹ هـ ش.

---

(۱) البحر المحیط ج۱۰ ص۴۵۳

(۲) لسان العرب ج۳ ص۱۸۹

(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۷۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۹۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# الأعلى (٨٧)

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (الْأَعْلَی) د همدې سورت په لومړي ایت کښې نازل شوی دی.

۲_ د دې سورت په مکیتوب کښې اختلاف شته خو د البراء بن عازب ﷺ د یوه حدیث[۱] څخه معلومېږي چې دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی.

۳_ د علي ﷺ څخه روایت دی چې فرمایلي یې دي: «کَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ یُحِبُّ هٰذِهِ السُّورَةَ»[۲] یعني د الله ﷻ پیغمبر ﷺ چې وه دغه سورت یې ډېر خوښاوه.

د همدې کبله ځینو مفسرینو کرامو د احادیثو په رڼا کښې لیکلي دي چې نبي کریم ﷺ به دغه سورت (غالبًا) د وترو، جمعې او همدارنګه د اخترونو په لمونځونو کښې قرائت کاوه[۳].

۴_ د دې سورت د ایتونو شمېر نولس (۱۹) دی[۴].

۵_ د کلماتو شمېر یې دوه اویا (۷۲) دی[۵].

۶_ او د حرفونو شمېر یې دوه سوه او څلور اتیا (۲۸۴) دی[۶].

۷_ په دې سورت کښې د نورو مکي سورتونو غوندې عقیدوي احکام مطرح شوي دي په تېره بیا په توحید، د آخرت په حقانیت او نبي کریم ﷺ ته پکښې په ارشاداتو باندې ډېر ټینګار شوی دی.

۸_ په وړاندېنې سورت (الطَّارِق) کښې د انسان پیدایښت او د نباتاتو زرغونېدلو ته اشاره شوې وه، په دې سورت (الْأَعْلَی) کښې هم همدغه دوه مطلبه څه ناڅه تشریح شوي دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ سَبِّحِ ٱسْمَ رَبِّكَ ٱلْأَعْلَى ۝١ ٱلَّذِى خَلَقَ فَسَوَّىٰ ۝٢ وَٱلَّذِى قَدَّرَ فَهَدَىٰ ۝٣ وَٱلَّذِىٓ
أَخْرَجَ ٱلْمَرْعَىٰ ۝٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحْوَىٰ ۝٥ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ۝٦ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ
إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ ۝٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝٨ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ۝٩
سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ ۝١٠ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلْأَشْقَى ۝١١ ٱلَّذِى يَصْلَى ٱلنَّارَ ٱلْكُبْرَىٰ ۝١٢ ثُمَّ لَا
يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ۝١٣ قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ۝١٤ وَذَكَرَ ٱسْمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ۝١٥ بَلْ تُؤْثِرُونَ

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۲۰۶
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۹۹
(۴) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۷۵
(۵) تفسیر الخازن ج۶ ص۴۹۳
(۶) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۲۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿١٦﴾ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ﴿١٧﴾ إِنَّ هَٰذَا لَفِي ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ ﴿١٨﴾
صُحُفِ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (ای پیغمبره!) د خپل عالي شان رب ﷻ نامه ته (په دوامداره توګه) د پاکی نسبت کوه.

[۲] هغه رب ﷻ چې هر شی یې پیدا کړی دی نو (اندامونه او ضروریات یې) وربرابر کړي دي.

[۳] او هغه رب ﷻ چې هر شی یې په اندازه کړی دی نو لارښودانه یې ورته کړې ده.

[۴] او هغه رب ﷻ چې څرځای یې (د ځمکې څخه) راویستلی دی (نباتات یې رازرغون کړي دي).

[۵] نو (څه وخت وروسته) یې همدا (څرځای) د سیلاب ځګ تور ته مایل سور رنګی ګرخولی دی.

[۶] (ای پیغمبره!) ژر دی چې مونږ به په تا باندې (د قرآن کریم د تکمیله پورې خپل ایتونه) قرائت کړو چې ته به یې نه هېروې.

[۷] مګر هغه ایتونه چې د الله ﷻ اراده وشي (چې موقت یا غیر موقت یې هېر کړې).
یقیناً الله ﷻ په ښکاره شي او په هغه شي باندې پوهېږي کوم چې پټېږي (په ټولو شیانو باندې پوه دی).

[۸] او مونږ تا د اسان شریعت د (اشاعت) دپاره اسانوو (توفیق درکوو).

[۹] نو پند ورکوه (پند ورکولو ته ادامه ورکړه) یقیناً شان دا دی چې ستا پند ورکول ګټه رسوي.

[۱۰] ژر دی چې هغه څوک به ترې پند واخلي کوم (چې د الله ﷻ څخه ډارېږي).

[۱۱] او ستا د پند څخه به بدبخته (عنادي کافر) څنګ وکړي (قبول به یې نه کړي).

[۱۲] هغه (عنادي کافر) چې لوی اور (دوزخ) ته داخلېږي.

[۱۳] بیا به په همدې لوی اور (دوزخ) کښې نه مړ کېږي او نه به (پکښې) ژوندی کېږي.

[۱۴] یقیناً هغه چا بری مونده کړ (کامیاب شو) چې تزکیه (د جنایاتو څخه خلاصون) یې خپل کړ.

[۱۵] او چا چې د خپل رب ﷻ نوم یاد کړ نو (پنځه وخته) لمونځ یې اداء کړ.

[۱۶] بلکې (ای کفارو!) تاسو نژدې (او حقیر) ژوند (په اُخروي ژوند باندې) غوره کوئ.

[۱۷] حال دا چې آخرت (اُخروي ژوند) ډېر بهتر او ډېر دوامدار (باقي) دی.

[۱۸] یقیناً دغه (وړاندې مضمون) ضرور په پخوانیو صحیفو کښې (ثبت) دی.

[۱۹] (البته) د ابراهیم ؑ او د موسی ؑ په صحیفو کښې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنې سورت مضامین په دې تمام شوي وه چې مشرکان غواړي چې په خپلو چلونو او پټو تدبیرونو سره د الله ﷻ د ارادې مخه ونیسي او د قرآن کریم د ترقی په وړاندې خنډ واقع شي، خو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی به په دې موخه کښې بريالي نه شي او چلونه به يې په خپل ضرر تمام شي او معکوسه نتيجه به ورکړي. په دې ايتونو کښې همدغه مضمون تعقيب شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

۱ـ ای پيغمبره! هيڅکله به کفار ستا د رب ﷻ د ارادې مخه بنده نه کړی شي نو ته هغوی ته مهلت ورکړه او تر څه وخته پورې يې هلاک ته منتظر اوسه، خو په عين حال کښې د خپل رب ﷻ تسبيحات وايه چې ستا رب ﷻ د عالي او لوړو صفاتو درلودونکی دی، لکه:

الف: ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هر شی يې پيدا کړی دی او هر شی يې برابر کړی دی او هم يې هر ساکښ ته ضروريات او اندامونه ورتيار کړي دي.

ب: ستا رب ﷻ هر شی په اندازه کړی دی او هر ساکښ ته يې په يو مېچ اندامونه ورکړي دي چې يوه پښه يې ورته د بلې په اندازه ورکړې ده او يو لاس يې ورته هم د بل لاس څخه اوږد نه دی پيدا کړی او نه يې د سترګو او غوږونو او نورو اندامونو ترمنځ څه تفاوت ليده کېږي.

ج: ستا رب ﷻ هر ساکښ ته لاره او طريقه هم ښودلې ده چې د خپلو اندامونو څخه په څه ډول سره استفاده وکړي؟، او په ساکښانو کښې يې بنيادم ته د معنوي او روحي لارې د ښودانې مهرباني هم کړې ده چې عقل يې ورکړی دی او شريعت يې ورنازل کړی دی.

د: ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د څارويو دپاره يې په ځمکه کښې نباتات رازرغون کړي دي او ځړ خايونه يې پکښې جوړ کړي دي.

ه: خو همدغه تازه او تکه شنه ورشو او ځرځای څه وخت وروسته د اوبو د څګ په شان بې بنياده ګرځوي چې نبات يې پکښې د خزان سره مخامخ کوي او د ځمکې څخه يې راجدا کوي او شين رنګ يې هم په تور او زيړ رنګ سره بدلوي.

۲ـ ای پيغمبره! لکه څنګه چې ستا رب ﷻ د انسانانو مادي او بدني ضروريات ورپوره کړي دي همدارنګه يې د دوی معنوي او روحي ضروريات هم د پامه نه دي غورزولي بلکې د همدې مطلب دپاره يې په تاباندې قرآن کريم درنازل کړی دی او لا درنازلوي يې.

۳ـ دا قرآن کريم اثباتوي چې دا حقاني کتاب دی او زمونږ د پلوه تاته درنازل شوی دی، نو په همدې بنياد يې مونږ په تاباندې قرائت کوو چې ته يې نه هېروې.

يا په بل عبارت: دا قرآن کريم ستا په ذهن کښې مونږ ساتو چې ستا څخه نه هېرېږي مګر هغه چې د الله ﷻ اراده وشي چې منسوخ يې وګرځوي.

يقيناً الله ﷻ په ځرګندو شيانو او په هغو شيانو باندې پوهېږي کوم چې د خلکو د نظره پټ دي، نو د قرآن کريم د حفظ کولو دپاره ورته ستا ظاهري هلې ځلې او قلبي زيار ټول معلوم دي او هيڅ شی ترې پټ نه دی.

۴ـ ای پيغمبره! ژر دی چې مونږ به تا د همدغې ديني لارې د اشاعت دپاره اسان وګرځوو نو توفيق به درکړو چې د يو پلوه به درته قرآن کريم حفظ کړو او د بله پلوه به د ابلاغ او دعوت حوصله دربېرزو کړو.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ نو په همدې بنیاد ته په دعوت او ابلاغ کښې هیڅ قصور مه کوه او خلکو ته پند ورسوه، او دا ځکه چې ستا د پند او وعظ څخه که عنادي کفار ګټه پورته نه کړي نو مؤمنانو ته خو ضرور ګټه رسوي، نو په همدې بنیاد ستا د دعوت په نتیجه کښې خلک لاندې دوه لارې خپلوي:

الف: ژر دی چې هغه کسان به ستا د پند څخه استفاده وکړي کوم چې د الله ﷻ څخه ډارېږي او یا عناد نه وي نیولي او غوارې چې حقه لاره مونده کړي.

ب: بالمقابل ستا د پند او نصیحت څخه هغه څوک ډډه کوي او غوږ ورته نه ږدي کوم چې بدبخته وي او په ازل کښې ورته لیکلی شوي وي چې ډېر لوی اور ته به داخلېږي.

البته چې د دوزخ اور داسې اور دی چې عنادي کفار (دوزخیان) به پکښې نه ژوندي کېږي چې استراحت وکړي او نه به پکښې مړه کېږي چې د عذابه خلاص شي.

۶_ ای پیغمبره! یقیناً هغه چا فلاح او کامیابي مونده کړه کوم چې په همدې قرآن سره او ستا په پند سره د خپل ځان تزکیه وکړي، او په دې باندې علاوه په دوامداره توګه د خپل رب ﷻ نوم یادوي او خپلو لمونځونو ته ادامه ورکوي.

۷_ ای بنیادمانو! په دې کښې هیڅ شک او شبه نشته چې قرآن کریم د نجات لاره ده خو تاسو عناد نیولی یاست چې د خپلو ځانونو دپاره یې دستور العمل نه ګرځوئ بلکې تاسو حقیر او نژدې ژوند غوره کوئ او د آخرت دائمي ژوند د پښو لاندې کوئ. حال دا چې آخرت او د آخرت ژوند ډېر بهتر دي چې همېشه پاتې کېږي او د زوال سره نه مخامخ کېږي.

۸_ ای پیغمبره! دا خبره (چې د خپلو ځانونو تزکیه کوونکي کسان فلاح موندونکي دي) یوازې ستا د امت دپاره اختصاص نه لري بلکې دا خبره پخوانیو ټولو امتونو ته هم شامله ده، نو:

د همدې کبله دغه مطلب په پخوانیو کتابونو کښې هم موجودیت درلود او په پخوانیو صحیفو کښې هم ثبت وه چې هغه د ابراهیم ﷺ او د موسی ﷺ د صحیفو څخه عبارت دي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ سَبِّحِ ٱسْمَ رَبِّكَ ﴾ کښې نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی دی خو ټول امت ته پکښې تلقین پروت دی چې د الله ﷻ نومونه په پاکۍ سره یاد کړی شي که نه نو الحاد به صورت ونیسي.

په همدې ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف: ۱۸۰] ایت لاندې بنه مفصل بحث تېر شوی دی.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الواقعة: ۹۶] ایت لاندې د یوه حدیث په رڼا کښې لیکلي دي چې: کله ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو نبي کریم ﷺ امر وکړ چې دغه ایت په سجده کښې وګرځوئ نو د هماغه وخته راپه دېخوا مونږ د سجدې په حالت کښې د خپل رب ﷻ نامه ته د پاکۍ نسبت کوو او وایو چې: "سُبْحَانَ رَبِّيَ ٱلْأَعْلَىٰ".

## "حُوَّة" څه معنی؟

۲_ په ﴿ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحْوَىٰ ﴾ کښې د ﴿ غُثَآءً ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفیق د [المؤمنون: ۴۱] ایت

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاندې معنی شوې ده چې د سیلاب د هغه خګ څخه عبارت ده کوم چې د اوبو په سر باندې روان وي او د ورستو پاڼو او خیرو څخه یې جوړښت موندلی وي.

او په همدغه ایت کښې د ﴿ أَحْوَىٰ ﴾ کلمه صفت مشبه ده او د "حُوَّة" ـ لکه "قُوَّة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. په عربي ژبه کښې د "حُوَّة" لفظ په لاندې دوه وو معناوو سره استعمالېږي[1]:

الف: هغه تور رنګ چې شنه رنګ ته مایل وي.

ب: هغه سور رنګ کوم چې تور رنګ ته میلان ولري.

په دې مقام کښې دوهمه معنی په زړه پورې ده. او دا ځکه چې خزان شوي نباتات په همدغه رنګ ګرځندېږي. یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په ځمکه کښې د شنو نباتاتو په زرغونولو سره د څارویو دپاره څر ځایونه او ورشوګانې تشکیلوي، او په همدغو نباتاتو باندې خزان ورنازلوي چې د سیلاب د خګ په شان یې د بېخه وباسي او توروالي ته مایل په سره رنګ سره یې اړوي.

## نِسیان په دوه ډوله دی

۳ـ په ﴿ فَلَا تَنسَىٰٓ ۝ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ کښې د "تَنسَى" کلمه د "نِسْيَان" ـ لکه "غِشْيَان" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې په دې مقام کښې یې په لاندې دوه وو صورتونو سره تفسیر کېدلی شي:

الف: یو دائمي نِسیان (هېرول) دي چې د نَسخې معنی ورکوي. یعنې ای پیغمبره! ژر ده چې مونږ په تاباندې خپل ایتونه د قرآن کریم د تکمیل پورې قرائت کړو نو زمونږ ذمواري ده چې ته به قرائت کړی شوي ایتونه نه هېروې (ستا د ذهن څخه به نه اوځي) مګر هغه ایتونه کومو ته چې الله ﷻ د نَسخې اراده وکړي او ستا د ذهن څخه یې وباسي.

دې ډول نسیان ته په ﴿ مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ أَوْ مِثْلِهَآ ﴾ [البقرة:۱۰۶] ایت کښې په ﴿ أَوْ نُنسِهَا ﴾ سره اشاره شوې ده. یعنې مونږ چې د کوم ایت (حکم) نسخه کړو او یا هغه (د یاد درلودونکو څخه) هېر کړو نو په عوض یې د هغه څخه بهتر او یا (اقلا) د هغه مثل حکم نازلوو.

ب: بل موقت نسیان دی چې لږ وخت دوام کوي. یعنې زمونږ ذمواري ده چې ته به قرائت کړی شوي ایتونه نه هیروې مګر هغه ایتونه کومو ته چې الله ﷻ اراده کړې وي چې په موقته توګه یې ستا د ذهن څخه وباسي او لږ وخت وروسته یې بېرته درپه زړه کړي.

دې ډول نسیان ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې داسې اشاره کړې ده چې یو ځل یې د یوه سړي څخه قرائت واورېد نو ویې فرمایل چې: «رَحِمَهُ اللهُ لَقَدْ أَذْكَرَنِي آيَةً كُنْتُ نُسِّيتُهَا»[2] یعنې په دغه سړي باندې دې الله ﷻ مهرباني وکړي چې یقیناً ماته یې داسې یو ایت را په یاد کړ چې ما هېر کړی وه.

همدغه مضمون په نورو احادیثو کښې هم روایت شوی دی[3].

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۲۰۶

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۲۸

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۳۶۲ او ج۲ ص۷۵۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ﴿ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ﴾ ایت څخه څرګندېږي چې نبي کریم ﷺ په ابلاغ او تذکیر باندې مطلقًا مکلف نه وه بلکې د مخاطب د استفادې په شرط سره مکلف وه، حال دا چې په بل ایت کښې دغه شرط ته اشاره نه ده شوې چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ [المائدة:۶۷] یعنې ای پیغمبره! ته هغه ارشادات ابلاغ کړه کوم چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل کړی شوي دي؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو د دغه سوال دپاره ډېر جوابونه کړي دي[۱]، خو بهتره دا ده چې په ذکر شوي ایت شریف کښې د "إِنْ" توری د شرط دپاره نه دی ترڅو ذکرشوی اعتراض وارد شي بلکې دغه (إِنْ) د مثقل (إِنَّ) څخه مخفف دی او د "هٗ" ضمیر شان ورسره مقدر دی چې مونږ ترې په "فَذَكِّرْ إِنَّهُ" سره تعبیر کولی شو. یعنې: ای پیغمبره! ژر ده چې مونږ به تاته توفیق درکړو چې اسان شریعت خلکو ته ابلاغ کړې نو ته خپل ابلاغ او تذکیر ته ادامه ورکړه چې یقینًا شان دا دی چې دغه کار خلکو ته ګټه رسوي چې مؤمنان ترې استفاده کوي، او غیر عنادي کفار د تاثیر لاندې واقع کېږي، او په عنادي کفارو باندې د الله ﷻ حجت اتمام ته رسېږي.

دغه جواب څکه بهتر دی چې د یو پلوه ورباندې وروستني ایتونه دلالت کوي چې خلک پکښې په دوه ډلو (نېکبختانو او بدبختانو) باندې وېشلی شوي دي، او د بله پلوه په همدغه مطلب باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ تَنفَعُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ [الداریات:۵۵] یعنې ای پیغمبره! او ته په دې قرآن کریم سره خپل پند ورکولو ته ادامه ورکړه چې یقینًا پند ورکول مؤمنانو ته ګټه رسوي.

### اور په دوه ډوله دی

۵_ په ﴿ ٱلَّذِى يَصْلَى ٱلنَّارَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې اور په دوه ډوله دی. خو ځینو مفسرینو کرامو دواړه ډوله اورونه په دوزخ کښې ګڼلي دي چې هلته ډېرې طبقې موجودیت لري چې ځینې د ځینو نورو څخه د تفاوت درلودونکې دي[۲]، الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾ [النساء:۱۴۵] یعنې یقینًا منافقان د اور په ټیټه پایه کښې دي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې لوی اور به د دوزخ اور وي او وړوکی اور به د دنیاوي اور څخه عبارت وي. لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «نَارُكُمْ هَذِهِ الَّتِي تُوقِدُونَ جُزْءٌ وَاحِدٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ حَرِّ جَهَنَّمَ»[۳] یعنې ستاسو دغه اور چې تاسو یې بلوئ (او استفاده

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج ۲۰ ص ۲۸۲؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج ۴ ص ۶۵۰
(۲) روح المعاني ج ۳۰ ص ۱۰۸
(۳) جامع الترمذي ج ۲ ص ۸۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تري کوئ) د دوزخ د ګرموالي د اویا (۷۰) برخو څخه یوه برخه ده. (هغه اور د دې اور څخه اویا (۷۰) چنده ګرم دی.

## نه مرګ او نه ژوند

۶ـ په ﴿ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴾ ایت کښې د کفارو حالت ته اشاره شوې ده چې هلته به همېشه وي، اما د مؤمنانو عاصیانو حالت ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې داسې اشاره کوي چې: «وَلَكِنْ نَاسٌ أَصَابَتْهُمُ النَّارُ بِذُنُوبِهِمْ أَوْ بِخَطَايَاهُمْ فَأَمَاتَهُمْ إِمَاتَةً حَتَّى إِذَا كَانُوا فَحْمًا أُذِنَ فِي الشَّفَاعَةِ فَجِيءَ بِهِمْ ضَبَائِرَ ضَبَائِرَ»[1] یعنې مګر څه خلک به وي چې د خپلو ګناهونو په سبب او یا د خپلو خطاګانو په سبب به ورته اور ورسېږي نو د (مطابقې سزا ورروسته) به یې مړه کړي آن تردې چې کله په دوزخ کښې سکاره وګرځي نو الله ﷻ به (شفاعت کوونکو ته) په شفاعت کولو کښې اجازه وکړي نو (د دوزخ څخه به) ډلې-ډلې راوستلی شي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: تاسو د یوه حدیث په رڼا کښې د [مریم:۳۹] ایت لاندې لیکلي دي چې مرګ به د یو حیوان په څېره کښې د دوزخ او د جنت ترمنځ ذبحه کړی شي، نو پوښتنه دا ده چې د مرګ د مړه کېدلو څخه وروسته به عاصیان مؤمنان په دوزخ کښې څنګه مړه کړی شي حال دا چې په دغه وخت کښې به مرګ پخپله مړ شوی او د منځه تللی وي؟

مونږ وایو چې: څه لرې نه ده چې مرګ به هغه وخت د منځه یووړل شي چې کله یو عاصي مؤمن هم په دوزخ کښې پاتې نه وي او سوچه کفار پکښې پراته وي، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال.

## دوه حدیثونه

۸ـ د ﴿ بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا ﴾ په ارتباط لاندې دوه حدیثونه د مثال په توګه ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ أَحَبَّ دُنْيَاهُ أَضَرَّ بِآخِرَتِهِ وَمَنْ أَحَبَّ آخِرَتَهُ أَضَرَّ بِدُنْيَاهُ فَآثِرُوا مَا يَبْقَى عَلَى مَا يَفْنَى»[2] یعنې څوک چې خپله دنیا خوښه کړي نو خپل آخرت ته یې ضرر ورساوه، او څوک چې خپل آخرت خوښ کړي نو خپلې دنیا ته یې ضرر ورساوه، نو تاسو په هغه شي باندې کوم چې فنا کېږي هغه شی غوره کړئ کوم چې بقاء لري (په دنیا باندې آخرت غوره کړئ).

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَا دَارَ لَهُ وَمَالُ مَنْ لَا مَالَ لَهُ وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهُ»[3] یعنې دنیا د هغه چا کور دی چې (په آخرت کښې) کور نه لري او د هغه چا مال دی چې په آخرت کښې مال نه لري او دنیا ته هغه څوک راغونډول کوي کوم چې (کامل) عقل نه لري.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۱۹: صحیح مسلم ج۱ ص۱۰۴: مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۱۲
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۱٦۵
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۴۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وایي چې: په ﴿إِنَّ هَٰذَا لَفِي ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ﴾ کښې د "هَٰذَا" په کلمې سره څه شي ته اشاره ده؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو بهتره ګڼلې ده چې په دغې (هَٰذَا) سره به د وړاندېنیو څلورو [الأعلى:۱۴_ ۱۷] ایتونو مضمون ته اشاره وي[1]، یعنې د ابراهیم ﷺ او د موسی ﷺ په صحیفو کښې هم د ذکرو شوو ایتونو مطالبو نزول موندلی وه نو دا مضمون په ټولو شریعتونو کښې اتفاقي دی.

همدې ایتونو ته ورته ایتونه وړاندې په [النجم:۳۸_ ۵۵] کښې هم نازل شوي دي.

## ټولې اسماني صحیفې څو دي؟

۱۰_ ځینو علماوو کرامو د ځینو احادیثو په رڼا کښې لیکلي دي چې ټولې اسماني صحیفې پوره سل (۱۰۰) دي چې په لاندې پیغمبرانو علیهم‌السلام باندې نازلې شوې دي[2]:

الف: په شیث ﷺ باندې پنځوس (۵۰) صحیفې نازلې شوې وې.

ب: په ادریس ﷺ باندې دېرش (۳۰) صحیفو نزول موندلی وه.

ج: په ابراهیم ﷺ باندې لس (۱۰) صحیفې نازلې شوې وې.

د: بالآخره، په موسی ﷺ باندې د تورات د نزول څخه مخکښې لسو (۱۰) صحیفو نزول موندلی وه. چې ټولې سل (۱۰۰) صحیفې کېږي، والله ﷻ اعلم.

په همدې ځای باندې د "الْأَعْلَىٰ" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو والحمد لله ﷻ.

اللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ آثَرُوا الْآخِرَةَ عَلَى الدُّنْيَا.

۱۴۲۶/۱/۱ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۱/۲۱ هـ ش.

[1] تفسیر الطبري ج۳۰ ص۱۵۸؛ تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۲۵؛ روح المعاني ج۳۰ ص۱۱۱؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۰۲

[2] الدر المنثور ج۸ ص۴۸۹؛ تفسیر أبي السعود ج۹ ص۱۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الغاشیة(۸۸)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت په نامه (الْغَاشِيَة) باندې د همدې سورت لومړنی ايت مشتمل دی.
۲_ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].
۳_ د دې سورت ټول ایتونه شپږ ويشت (۲۶) دي[۲].
۴_ د کلماتو شمېر یې دوه نوي (۹۲) کلمې دی[۳].
۵_ د دې سورت د حرفونو تعداد درې سوه او يو اتيا (۳۸۱) حرفونو ته پورته شوی دی[۴].
۶_ دا سورت هم د نورو مکي سورتونو غوندې په عقيدوي احکامو پورې ډېر ارتباط نيسي په تېره بيا د قيامت د ورځې حالات او د الله ﷻ د توحيد دلايل پکښې نازل شوي دي.
۷_ په وړاندېنې سورت (الْأَعْلَى) کښې د دوزخيانو او جنتيانو څه أخروي کيفياتو ته اشاره شوې وه او په دې سورت کښې همدغه کيفياتو ته څه تفصيل ورکړی شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْغَـٰشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَـٰشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ تَصْلَىٰ نَارًا
حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ ءَانِيَةٍ ﴿٥﴾ لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴿٦﴾ لَّا يُسْمِنُ وَلَا
يُغْنِى مِن جُوعٍ ﴿٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِى جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا
تَسْمَعُ فِيهَا لَـٰغِيَةً ﴿١١﴾ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴿١٤﴾
وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِىُّ مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] (ای پیغمبره!) ایا تاته د پټوونکې ورځې خبره درغلې ده؟ (هغه دا چې:)
[۲] ځينې مخونه (ځينې کسان) به په دغې ورځ کښې ذليل وي.
[۳] زيار ويستونکي به وي (او) ستومانه کېدونکي به وي.
[۴] ګرم اور ته به داخلېږي.
[۵] د ډېرې ګرمې چينې څخه به څړوبول کېږي.

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۸۶
(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۴۷۸
(۳) تفسير الخازن ج۶ ص۴۹۷
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۲۸۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶] دوی لره به (هلته) خوراک نه وي مگر ضریع (بدبویه تریخ بوټی).
[۷] چې نه به څربول کوي او نه به د لوږې څخه مخنیوی کوي.
[۸] ځینې مخونه (ځینې کسان) به په دغې ورځ کښې نعمتونه درلودونکي وي.
[۹] چې د خپل کوښښ (نیک عمل) د کبله به خوشاله وي.
[۱۰] په اوچت (لوړ رتبه) جنت کښې به (اوسېدونکي) وي.
[۱۱] چې چټي خبرې به پکښې نه اوري.
[۱۲] په دې جنت کښې به بهېدونکې چینه (بلکې چینې) وي.
[۱۳] په دې جنت کښې به پاچايي اوچت تختونه وي.
[۱۴] (په دې جنت کښې به) د شرابو بې لاستي اېښودلي شوې (تيار) جامونه (گيلاسونه) وي.
[۱۵] او (هم به پکښې) قطار قطار بالښتونه وي.
[۱۶] او (هم به پکښې) غوړولي شوې توشکونه (فرشونه) وي.

## ارتباط او توضيحات

۱ـ د وړاندېنې سورت (الْأَعْلَى) د وروستنيو ايتونو په مطالبو کښې دا مطلب هم شامل وه چې دنيا حقيره او فاني ده او آخرت بهتر او باقي دی. په دې ايتونو کښې د همدغه مطلب څه تفصيل نازل شوی دی.

۲ـ په ﴿هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْغَـٰشِيَةِ﴾ کښې د "غَاشِيَة" کلمه د "غِشَاوَة" ـلکه "كِرَامَة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "غِشَاوَة" هغې پردې ته ويل کېږي چې يو شی پټوي[۱]، خو په دې مقام کښې د قيامت ورځ په همدې لقب سره ياده شوې ده[۲].

شايد چې دغه لقب به ورته د دې کبله ورکړی شوی وي چې په دغې ورځ کښې کفار په مشکلاتو سره پټېږي او په مؤمنانو باندې نعمتونه او خوشالۍ احاطه کوي چې په دې سورت کښې دغو دواړو حالاتو ته اشاره شوې ده.

يعنې ای پيغمبره! ايا تاته د قيامت د ورځې څه حالات درغلي دي چې کفار به په مشکلاتو باندې پټوي او مؤمنان به په نعمتونو او خوشاليو سره پټوي؟ (هو، درغلي دي) چې هغه وروسته بيان شوي دي.

۳ـ مفسرينو کرامو د ﴿عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ﴾ دواړه کلمې په دوه ډوله تفسيرې کړې دي چې:

الف: ځينې وايي چې دلته د کفارو دنياوي عمل او دنياوي ستوماني مطلب ده[۳]. يعنې په دغې ورځ کښې به ډېر مخونه (کفار) خوار ذليل وي حال دا چې همدوی په دنيا کښې ډېر عبادت

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۳
(۲) اضواء البيان ج۹ ص۱۹۸؛ تفسير ابن کثير ج۴ ص۵۰۲
(۳) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۱۳۴؛ زاد المسير ج۸ ص۲۳۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوونکي او په عبادتونو کښې ډېر ستوماني ګالونکي وه، چې په آخرت کښې به يې دغه ستوماني هيڅ په درد باندې دوا نه شي. لکه عيسوي راهبان او هندي شيخان (پاپان).

ب: ځينې نور وايي چې: دلته اُخروي زيار ويستل او ستوماني ګالل مراد دي[۱]. يعنې په دغه ورځ کښې به ځينې مخونه (کفار) خوار او ذليل وي او هم به د ستونزمنو کارونو ترسره کوونکي وي چې په خپلو غاړو کښې به د دوزخ زنځيرونه او غورابونه راکاږي او د زقوم د ونې څخه به خوراک کوي او همدارنګه به په دوزخي غرونو باندې ښکته کېږي او پورته کېږي او داسې نور، چې دغه ټول کارونه د ډېرې سختې ستوماني موجبات دي.

## تبصره

۴ـ مونږ ته د ايتونو د تفسير په حيث دوهم تفسير غوره برېښي، او دا ځکه چې:

الف: د دغو دواړو کلمو ﴿ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴾ څخه وړاندې کلمه ﴿ خَٰشِعَةٌ ﴾ او وروسته جمله ﴿ تَصۡلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴾ دواړه د ﴿ وُجُوهٌ ﴾ دپاره خبرونه دي نو په کار دي چې ذکرې شوې دواړه منځنۍ کلمې هم د همدغې مبتدأ (وُجُوهٌ) دپاره خبرونه وګڼلی شي.

ب: په دې مقام کښې د ټولو کفارو څخه په ﴿ وُجُوهٌ ﴾ سره تعبير نازل شوی دی حال دا چې ټول کفار خو نه عيسوي راهبان دي او نه هندي شيخان دي بلکې ټول عمر په لهو او لعب کښې مشغوليت او مصروفيت لري.

## "آنِيَة" څه معنی؟

۵ـ په ﴿ تُسۡقَىٰ مِنۡ عَيۡنٍ ءَانِيَةٍ ﴾ کښې د ﴿ ءَانِيَة ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفيق د [الرحمن:۴۴] ايت لاندې تحليله شوې ده چې د "أَنَي" ـ لکه "رَمَي" ـ څخه اشتقاقه شوې ده او د هغو اوبو دپاره وضعه شوې ده کومې چې په حرارت کښې انتهاء ته رسېدلي وي. يعنې کفار به د دوزخ ډېر ګرم اور ته داخل شي او هلته به د ډېرو زياتو ګرمو خوټېدلو اوبو څخه ورځښولی کېږي.

## "ضَرِيع" څه شي ته وايي؟

۶ـ په ﴿ لَّيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴾ کښې د ﴿ ضَرِيعٍ ﴾ کلمه د يوه بدبويه سور رنګي بوټي نوم دی[۲]، چې په دې مقام کښې علماوو کرامو په ډېرو معناوو سره تفسيره کړې ده[۳]، مګر عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: "شَجَرٌ فِي النَّارِ"[۴] يعنې دلته ضَرِيع په اور (دوزخ) کښې د يوې ونې نوم دی،

(۱) اضواء البيان ج۹ ص۱۹۰؛ تفسير ابو السعود ج۹ ص۱۴۸
(۲) مفردات الراغب ص۳۰۴
(۳) زاد المسير ج۸ ص۲۳۴
(۴) تفسير ابن کثير ج۴ ص۵۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه څنګه چې قرانې "زَقُوم" په دوزخ کښې د یوې ونې نوم دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدغه ایت کښې د "إِلَّا" توری د حقیقي حصر دپاره نه دی ترڅو اعتراض وارد شي چې د دوزخیانو خوراک خو د [الدخان:۴۴] ایت کښې "زَقُّوم" ښودلی شوی دی.

بلکې دغه توری دلته د اضافي حصر دپاره دی. نو څه لرې نه ده چې د دوزخیانو خوراک به د طبقاتو یا زمانو او یا د اشخاصو په اعتبار سره بدلون مومي[۱] والله ﷻ اعلم.

په همدې ارتباط د [الحاقة:۳۶] ایت لاندې هم څه وضاحت تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د ﴿ ضَرِيعٍ ﴾ کلمه په ﴿ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ﴾ سره واضحه کړه؟

مونږ وایو چې: د خینو مفسرینو کرامو د قول په بنیاد[۲] کله چې مشرکانو واورېده چې د دوزخیانو خوراک به هلته "ضَرِيع" وي نو د تمسخر په توګه به یې ویلې چې: که مونږ دوزخ ته لاړ شو نو په "ضَرِيع" باندې خو به ښه څاربه شو لکه اوښان چې ورباندې څربېږي، نو الله ﷻ جواب ورکړه چې دغه دوزخي "ضَرِيع" داسې بوټی دی چې نه څربول کوي او نه د لوږې مخه نیسي.

## د څو لغاتو معناوې

۸ـ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولې:

الف: که څه هم په ﴿ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَـٰغِيَةً ﴾ کښې د ﴿ لَـٰغِيَةً ﴾ کلمه د مقدر موصوف (كَلِمَة) دپاره صفت ګرځېدلی شي چې د اسم فاعل صیغه شي[۳]، یعنې ای اورېدونکیه! ته به په جنت کښې چټې وینا نه اورې؛ مګر بهتره دا ده چې د "عَاقِبَة" غوندې د مصدر صیغه وګڼله شي چې د "لَغْو" معنی ورکړي او دا څکه چې په "لَغْو" سره په [الواقعة:۲۵] ایت کښې صراحت نازل شوی دی. یعنې ای اورېدونکیه! ته به په جنت کښې چټې ویل نه اورې.

ب: په ﴿ وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴾ کښې د "أَكْوَاب" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الأحزاب:۷۱] ایت لاندې معنی شوې ده چې نې لاستو ګیلاسونو ته ویل کېږي.

ج: په ﴿ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴾ کښې د "نَمَارِق" کلمه د "نُمْرُقَة" جمعه ده. "نُمْرُقَة" (چې اولنی او دریم توری یې پېښې لري) د بالښت معنی ورکوي[۴].

د: په ﴿ وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ﴾ کښې د "زَرَابِيُّ" کلمه د "زِرْبِيَة" ـلکه "شِرْقِيَة"ـ جمعه ده، چې د توشک

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۱۳۴؛ روح المعاني ج۳۰ ص۱۱۳
(۲) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۳۲
(۳) البحر المحیط ج۱۰ ص۴۶۳
(۴) القاموس المحیط ج۴ ص۴۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معنی ورکوي[۱]. یعني په جنت کښې غوړېدلي فرشونه او توشکونه دي او دې ته به اړتیا نه پېښېږي چې د یوه ځایه انتقال او په بل ځای کښې وغوړلی شي.

﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾﴾

[۱۷] ایا نو مشرکان اوښانو ته نه ګوري چې (د الله ﷻ د پلوه) څنګه پیدا کړی شوي دي؟

[۱۸] او هم اسمان ته نه ګوري چې څنګه (بې ستنو) اوچت جوړ کړی شوی دی؟

[۱۹] او هم غرونو ته نه ګوري چې څنګه (په ځمکه باندې) نصب کړی شوی دی؟ (چې اضطراري حرکت یې ورته درولی دی).

[۲۰] او هم ځمکې ته نه ګوري چې (د معیشت دپاره) څنګه فرش ګرځولې شوې (او غوړولې شوې) ده؟.

[۲۱] نو (ای پیغمبره!) ته (خلکو ته) دوامداره پند ورکړه چې یقینًا فقط ته پند ورکوونکی یې (او بس).

[۲۲] تهورباندې مسلط کړی شوی نه یې (چې په زور به یې په ایمان باندې مشرف ګرځوې).

[۲۳] مګر هغه څوک چې (ایمان ته) شا کړي او کفر غوره کړي (نو هغوی د الله ﷻ د قدرت لاندې دي).

[۲۴] نو الله ﷻ به یې په لوی عذاب سره معذب وګرځوي (او دوزخ ته به یې ورداخل کړي).

[۲۵] یقینًا خاص مونږ ته د دوی بېرته راګرځېدل دي (د تښتېدلو لاره نه لري).

[۲۶] بیا یقینًا خاص په مونږ باندې د دوی سره محاسبه ده (نو موافق چال چلند به ورسره وکړو).

## ارتباط او توضیحات

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د قیامت د ورځې د څه حالاتو بیان نازل شوي وه، او په دې ایتونو کښې د همدغې ورځې څخه انکار کوونکي کسان څه دلایلو ته متوجه کړی شوي دي چې د الله ﷻ په توحید او په کامل قدرت باندې دلالت کوي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د پرېمانه دلایلو د جملې څخه په

(۱) لسان العرب ج۱ ص۴۴۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دې مقام کښې د دغو څلورو شیانو "اوښ، اسمان، غرونو، ځمکو" په نومونو صراحت نازل کړ؟

مونږ وايو _والله ﷻ اعلم_ چې: دا د دې کبله چې دغه څلور شیان ټولو خلکو ته عمومًا او عربو ته خصوصًا ډېر عام الفهم دي چې هرڅوک ترې په ډېرې اسانۍ سره د خپلې عقيدې د تصحيح دپاره استفاده کولی شي.

په دې مقام کښې دلته ځینو مفسرینو کرامو[1] د اوښ زښت ډېر عجیبه خاصیتونه لیکلي دي که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## ماثور تفسير

۳_ په يو حديث کښې راغلي دي چې: يو ځل نبي کريم ﷺ وفرمایل چې: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَإِذَا قَالُوهَا عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ» يعني زه د الله ﷻ د پلوه مامور کړی شوی يم چې د خلکو سره تر هغه وجنګېږم ترڅو دوی د توحيد کلمه (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ووايي (او د دعوت په وړاندې خنډ ونه ګرځي) نو کله چې دوی د توحيد کلمه وويلې (او د دعوت مخه يې پرانستې پرېښودله) نو زما څخه يې خپلې وینې او خپل مالونه په امن کښې وساتل، مګر د همدغې کلمې په حق سره (نيول کېږي چې شرعًا د نيولو کار وکړي)، اما باطني محاسبې به يې په الله ﷻ باندې وي (چې په زړونو پوهېږي).

«ثُمَّ قَرَأَ: ﴿إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ﴾»[2] يعني بيا نبي کريم ﷺ د استشهاد دپاره ذکر شوی ايت قرائت کړ.

په همدې ځای د "الْغَاشِيَة" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو، والحمد لله ﷻ على ما انعم علينا.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ وُجُوهُهُمْ نَاعِمَةٌ لِسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ.

۱۴۲۶/۱/۴ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۱/۲۴ هـ ش.

---

(۱) روح المعاني ج ۳۰ ص ۱۱۶؛ تفسير القاسمي ج ۱۷ ص ۱۳۶

(۲) جامع الترمذي ج ۲ ص ۱۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الفجر(۸۹)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (اَلْفَجْر) د همدې سورت لومړنی ایت دی او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا ګرځولی شوی دی.

۲ـ دا سورت د جمهورو مفسرینو کرامو په نزد مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت د ایتونو شمېر دېرش (۳۰) دی[۲].

۴ـ ټولې کلمې یې یو سلو نهه دېرش (۱۳۹) کلمې دي[۳].

۵ـ د حرفونو شمېر یې پنځه سوه او پنځه نوي (۵۹۵) حرفونو ته رسېږي[۴].

۶ـ دا سورت په ډېرو مطالبو باندې مشتمل دی. د مثال په توګه:

الف: د عبرت اخستلو دپاره پکښې ځینو پخوانیو هلاکو کړی شوو قومونو ته اشاره شوې ده.

ب: انسان پکښې په دې باندې پوهولی شوی دی چې د مال ورکړه إکرام نه دی او تنګلاسي توهین نه دی بلکې دغه دواړه په دنیا کښې د امتحان دپاره تحقق مونده کوي.

ج: د قیامت د ورځې څه حالاتو او کیفیاتو ته پکښې څه بیان نزول موندلی دی.

۷ـ لکه څنګه چې په وړاندېنۍ سورت (اَلْغَاشِیَة) کښې دېته اشاره شوې وه چې د قیامت په ورځ به خلک په دوه وو ګروپونو باندې وویشلې دارنګه په دې سورت (اَلْفَجْر) کښې هم د خلکو دوه وو ګروپونو ته اشاره شوې ده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَٱلْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِى ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِى حِجْرٍ ﴿٥﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] په سبا (سهار) باندې سوګند دی.

[۲] او د (ذو الحجې) په لسو شپو هم (سوګند دی).

[۳] او په جوفت او طاق باندې هم (سوګند دی).

[۴] او په شپه باندې هم (سوګند دی) کله چې لاړه شي (او ختمه شي).

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۹۲

(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۸۱

(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۰۲

(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۳۰۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(چې هرومرو به ستا رب ﷻ د وعد او وعید منکران معذب کړي).

[۵] ایا په دغو شیانو کښې د عقل د څښتن دپاره لوی سوګند شته؟ (ایا دا سوګندونه په وعد او وعید باندې دلالت کوي؟ هو، دا ورباندې کامل دلایل دي).

## ارتباط او توضیحات

۱ـ وړاندېنې سورت (الْغَاشِيَة) په وعد او وعید باندې تمام شوی وه او د دې سورت (الْفَجْر) په ذکرو شوو ایتونو کښې د وعید په تحقق باندې سوګندونه یاد شوي دي چې هرومرو او ضرور به صورت نیسي.

۲ـ په ﴿ وَٱلْفَجْرِ ﴾ کښې د "فَجْر" کلمه علماوو کرامو په ګڼو تفسیرونو سره واضحه کړې ده[۱] چې دلته د کومې ورځې په سبا باندې سوګند یاد شوی دی؟، مګر بهتره دا ده چې ذکره شوې کلمه دلته په اطلاق سره پرېښودله شي ترڅو د هرې ورځې سبا ته شامله شي.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴾ [التکویر:۱۸] یعنې او په سبا باندې سوګند دی کله چې سا واخلي (او په اُفق کښې خور شي).

۳ـ په ﴿ وَلَيَالٍ عَشۡرٖ ﴾ کښې د "لَيَالٍ عَشْرٍ" څخه د لوی اختر د میاشتې لومړنۍ لس شپې مطلب دي[۲]. او دا څکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ الْعَشْرَ عَشْرُ الْأَضْحَى»[۳] یعنې یقیناً په ایت شریف کښې لس شپې د لوی اختر د میاشتې لومړنۍ لس شپې دي. که څه هم دا حدیث معلول (ضعیف) دی[۴]، مګر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په موقوف حدیث سره تقویه شوی دی چې: «هِيَ اللَّيَالُ الْعَشْرُ الْأُولَى مِنْ ذِي الْحِجَّةِ»[۵] یعنې دا لس شپې د ذي الحجې د میاشتې څخه لومړنۍ لس شپې دي (په دغو لسو شپو باندې سوګند یاد شوی دی).

۴ـ د ﴿ وَٱلشَّفۡعِ وَٱلۡوَتۡرِ ﴾ دواړو کلمو په تفسیر کښې ځینو مفسرینو کرامو د علماوو کرامو شل (۲۰) قوله نقل کړي دي[۶] حال دا چې ټول اقوال پکښې شپږ دېرشو (۳۶) ته رسېږي[۷]، مګر شیخ المفسرین العلامه الطبري علیه الرحمة ذکرې شوې دواړه کلمې په اطلاق سره پرېښې دي[۸]، ترڅو ټولو اشیاوو ته شمولیت ولري، او ټول په سوګند یادولو کښې داخل شي.

مونږ ته همدغه تفسیر غوره برېښي چې په بل ایت کښې ورته داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ فَلَآ

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۲۳۸
(۲) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۱۶۹
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۷۸
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۰۶
(۵) الدر المنثور ج۸ ص۵۰۰
(۶) زاد المسیر ج۸ ص۲۳۸
(۷) روح المعاني ج۳۰ ص۱۲۰
(۸) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۱۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ﴾ [الحاقة:۳۸، ۳۹] يعني نو دغسې نه ده، زه په هغو شيانو باندې سوګند يادوم چې تاسو يې ګورئ او په هغو شيانو باندې هم چې تاسو يې نه ګورئ.

۵ـ په ﴿وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَسۡرِ﴾ کښې د ﴿يَسۡرِ﴾ کلمه چې په اصل کښې "يَسْرِي" ده او د "سُرْيَان" لک "نُقْصَان" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، د تللو معنی ورکوي. دغه معنی جمهورو علماوو کرامو خوښه کړې ده[1].

۶ـ د ذکرو شوو پنځو وارو سوګندونو جواب مقدر دی[2] چې مونږ ترې په "لَيُعَذِّبُ رَبُّكَ الَّذِينَ أَنْكَرُوا الْوَعْدَ وَالْوَعِيدَ" سره تعبير کولی شو. يعني هرومرو به ستا رب ﷻ هغه کسان معذب کړي کوم چې د وعد او وعيد څخه انکار کوونکي دي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿هَلۡ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ﴾ کښې د ﴿حِجۡرٍ﴾ کلمه د "عقل" څخه عبارت ده، شايد چې دا لقب به د دې کبله عقل ته ورکړی شوی وي چې هوښيار بنيادم د خپل عقل په سبب د جناياتو د ارتکاب څخه منعه کوي او د شريعت په رڼا کښې سمه لاره مونده کوي.

۷ـ نو د ايتونو لنډ مضمون به داسې راوځېږي چې:

ايا په دغو پنځو شيانو کښې د عقل د خاوندانو دپاره د سوګند کولو لياقت شته؟

هو، د عقل خاوندان پوهېږي چې ټول مخلوقات د يوه کامل نظام لاندې چلېږي او په خپل خپل ځای او وخت کښې تحقق مومي. د مثال په توګه:

الف: سهار د هرې شپې په پای کښې راځي نه په منځ کښې.

ب: د هرې مياشتې لس-لس شپې د سپوږمۍ د رڼا په ملحوظ تفاوت لري او هيڅکله د مياشتې د آخر شپې د مياشتې د اول يا د منځ شپې نه شي جوړېدلی او نه په فضيلت کښې برابرې دي.

ج: جوفت او طاق هر يو خپل خپل ځای لري او يو د بل په ځای کښې قرار نه شي نيولی.

د: هره شپه په خپل ټاکلي وخت باندې خې راځي او داسې نور.

نو هوښياران پوهېږي چې دا نظام عبث نه دی چې په پای کښې تصفيه ونه لري، او هم پوهېږي چې وعد او وعيد هرومرو په ټاکلي وخت سره ضرور تحقق مومي.

﴿أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ ﴿٧﴾ ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُواْ ٱلصَّخۡرَ بِٱلۡوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرۡعَوۡنَ ذِي ٱلۡأَوۡتَادِ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ طَغَوۡاْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿١١﴾ فَأَكۡثَرُواْ فِيهَا ٱلۡفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ ﴿١٤﴾﴾

---

(۱) اضواء البيان ج۹ ص۳۲۱؛ المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۹۴

(۲) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۱۴۲؛ تفسير ابي السعود ج۹ ص۱۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶] (ای پیغمبره!) ایا ته نه ګورې چې ستا رب ﷻ د عادیانو سره څه کړي دي؟
[۷] (البته د عادیانو هغه قبیله چې) د (خپل نیکه) ارم په نامه (هم یادیږي) کومه چې د لوړو ستنو (او یا د لوړو بنګلو) خاونده وه.
[۸] هغه عادي قبیله چې د دوی غوندې (د الله ﷻ د پلوه) په ښارونو کښې (نور څوک) نه وه پیدا کړی شوي.
[۹] او (ایا ته نه ګوري چې ستا رب ﷻ) د ثمودیانو سره څه ډول چال چلند (کړی) دی؟ هغه ثمودیان چې په وادي القری (خپل تاټوبي) کښې به یې کلکې ډبرې تراشلې (او کوټې به یې پکښې جوړولې).
[۱۰] او (ایا ته نه ګورې چې ستا رب ﷻ) د فرعون (او فرعونیانو) سره څنګه چال چلند کړی دی (البته) داسې فرعون چې د موړیو (قوت یا ظلم) خاوند وه؟.
[۱۱] (ذکرې شوې درېواړه ډلې) هغه کسان وه چې په ښارونو کښې یې طغیان (او سرکشې) خپله کړې وه.
[۱۲] نو ډېر فسادونه یې پکښې خواره کړي وه.
[۱۳] نو ستا رب ﷻ وربانديې د عذاب متروکه ورنازله (وربښکته) کړه.
[۱۴] یقینًا ستا رب ﷻ په څارنځای کښې دی (هر شی د سزا یا جزا دپاره څاري).

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! ته ډاډه اوسه چې ستا د زمانې د عنادي کفارو سره به هم ستا رب ﷻ هغه چال چلند وکړي کوم یې چې د پخوانیو عنادي کفارو سره کړی وه چې په بنیاد ویستونکي عذاب سره یې هلاک کړي دي. یا په بل عبارت:

۱ـ ایا ته نه ګورې او تاته علم نشته چې ستا رب ﷻ د عادیانو سره څه وکړه او څنګه عذاب یې وربانديې ورنازل کړ؟

البته هغه عادیان کوم چې د "ارم" د اولادې څخه وه او ډېر لوړ لوړ قدونه یې درلوده او د ډېرو دنګو-دنګو ماڼیو درلودونکي وه بلکې د خپلې زمانې په ښارونو کښې یې سارې او سیال نه درلود.

۲ـ ایا ته نه ګورې او تاته معلومات نشته چې ستا رب ﷻ د ثمودیانو سره څه وکړه څوک چې دوهمه درجه عادیان وه او هم د هغوی څخه وروسته وربانديې څمکه اباده کړی شوې وه.

دغه دوهمه درجه عادیان په صنعت کښې ډېر وړاندې وه حتی چې په خپل استوګنځای او خپله منطقه کښې به یې ډبرې تراشلې او کورونه او ښارونه به یې پکښې جوړول.

۳ـ بالآخره، ایا تاته د فرعون په حالت باندې علم نشته چې ستا رب ﷻ په څه ډول عذاب باندې اخته کړ؟

حال دا چې نوموړي د یو پلوه د ډېر زیات قوت او ثروت خاوند وه او د بله پلوه ډېر سخت ظالم وه، چې په ډول ډول بې رحمیو سره به یې مومنان تعذیبول او کفر ته به یې کشول.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای پیغمبره! د ذکرو شوو قومونو او د دوی د امثالو د هلاکت او د بنیاد ویستلو وجه دا وه چې: دوی په ښارونو کښې سرکشي او بغاوت خپل کړی وه او څوک یې نه پرېښودل چې ستا د رب ﷻ په ورنازل کړی شوي شریعت باندې عمل وکړي نو د همدې کبله یې په ښارونو کښې ډېر زیات فساد خور کړ او د فساد د خورولو په یوه لاره باندې یې هم دریغ ونه کړ، بلکې د فساد د خورولو ټولې حیلې یې په کار اچولې وې.

۵_ د همدې کبله په هغوی باندې ستا رب ﷻ د عذاب متروکه ورښکته کړه او ټول یې ورباندې پوپنا کړه.

یقیناً ستا رب ﷻ د هر شي څارنه کوي او په هر شي باندې مراقبت کوونکي دي چې هیڅ شی ترې نه شي پټېدلی.

۶_ ای پیغمبره! ستا د زمانې کفارو ته په کار دي چې د عناد څخه لاس واخلي او ستا اتباع او پیروي ته غاړې کېږدي، ترڅو د پخوانیو عنادیانو کفارو غوندې د بنیاد ویستونکي عذاب سره مخامخ نه شي.

## توضیحات

۱_ د عادیانو، ثمودیانو، فرعونیانو او نورو کفري عنادي ډلو د هلاک قیصې د قرآن کریم په نورو سورتونو کښې وړاندې تېرې شوي دي، هیله ده چې د تفصیل دپاره هملته مراجعه وکړی شي.

## څو نکات

۲_ په ﴿ بِعَادٍ ۝ إِرَمَ ذَاتِ ٱلْعِمَادِ ۝ ٱلَّتِى لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِى ٱلْبِلَـٰدِ ﴾ کښې باید لاندې نکات په ذهن کښې وساتل شي:

الف: د ﴿ إِرَمَ ﴾ کلمه مفسرینو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۱]، لکه:

اول: ځینې وایي چې: د عادیانو په نیکونو کښې یو کس د "إِرَم" په نامه یادېده نو ذکر شوی قوم د خپل نیکه په نامه یاد شوی دی، چې د دوی څخه په [النجم: ۵۰] ایت کښې په ﴿ عَادًا ٱلْأُولَىٰ ﴾ سره تعبیر شوی دی. یا په بل عبارت: د عادیانو یوې قبیلې ته "عَادُ الْأُولَی" یا "عَادُ إِرَم" وایي کومې ته چې هُود ﷺ د پیغمبر په حیث وراستولی شوی وه، او بله قبیله یې د "عَادُ الْآخِرَة" یا "ثمودیانو" په نامه یادېږي کومې ته چې صالح ﷺ د پیغمبر په حیث ورغلی وه کومې ته چې په راتلونکې متصل ایت کښې اشاره شوې ده.

دوهم: ځینې وایي چې: په (عادیانو) کښې یوه خاصه قبیله د "إِرَم" په نامه یادېده کومې چې واکداري درلوده او حاکمه قبیله وه[۲]، په اصطلاح په هغوی کښې شاهي کورنۍ "إِرَم" نومېده.

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۲۴۱؛ روح المعاني ج۳۰ ص۱۲۳
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۰۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دریم: خو جمهور علماء کرام وايي چې: "اِرَم" د عاديانو د ښار نوم وه چې ډېر لوی ښار وه او په يمن کښې واقع وه[۱].

ب: د "عِمَاد" کلمه لاندې دوه احتماله درلودلی شي چې د بدليت په لحاظ د دواړو معناوو اراده کول هم ښه خبره ده چې په عاديانو باندې ذکره شوې کلمه په دواړو احتمالونو سره صادقېږي:

اول: د "عِمَاد" کلمه د "عِمَادَة" ـ لکه "عِبَادَة" ـ جمعه ده. "عِمَادَة" د مانۍ او تعمير معنی ورکوي[۲].

همدا معنی په بل ايت کښې هم نازله شوې ده چې: ﴿ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ ﴾ [الشعراء: ۱۲۹] يعنې ای عاديانو! او تاسو ډېرې لوړې او دنګې مانۍ جوړوئ، شايد چې تاسو په ځمکه کښې په دائمي توګه اوسېږئ.

دوهم: دا کلمه مصدر ده ـ لکه "قِتَال" ـ او د اوږدوالي دپاره وضعه شوې ده[۳] چې د دغو خلکو قامتونه ډېر لوړ او دنګ وه. همدې معنی ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴾ [القمر: ۲۰] يعنې عاديان به د هلاک په وخت کښې په ځمکه باندې داسې غورزول کېده لکه چې يقيناً دوی د ېيخه راوتلي د خرما ډډونه وي.

ج: د ﴿ ذَاتِ ٱلْعِمَادِ ﴾ کلمه د ﴿ إِرَمَ ﴾ د کلمې دپاره يو صفت دی او ﴿ ٱلَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي ٱلْبِلَٰدِ ﴾ يې دوهم صفت دی[۴].

د: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو د ﴿ إِرَمَ ﴾ د کلمې دپاره دوهمه معنی خوښه کړې ده[۵]، مګر مونږ ته يې اولنۍ معنی په زړه پورې برېښي. او دا ځکه چې:

دغو دواړو صفاتو يوازې په واکدارې (شاهي) کورنۍ پورې اختصاص نه درلود بلکې ټول عاديان د دې صفاتو درلودونکي وه.

ه: بالآخره په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې: "اِرَم" د هغه ښار نوم دی کوم چې د "عاد" يوه زوی (شداد) په درې سوو کالو کښې جوړ کړی وه[۶].

خو دا قيصه د اسرائيلياتو څخه ده او څه حقيقت نه لري[۷]. نو په کار دي چې څوک ورباندې باور ونه کړي، د همدې غرض دپاره ورته مونږ دلته اشاره وکړه.

## "جَوب" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ جَابُوا۟ ٱلصَّخْرَ بِٱلْوَادِ ﴾ کښې د ﴿ جَابُوا ﴾ کلمه د "جَوْب" ـ لکه "قَوْل" ـ څخه اشتقاقه

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۹۵
(۲) القاموس المحيط ج۳ ص۳۰۷
(۳) لسان العرب ج۳ ص۳۰۳
(۴) تفسير ابي السعود ج۹ ص۱۵۴
(۵) تفسير ابن کثير ج۴ ص۵۰۷
(۶) تفسير الکشاف ج۴ ص۷۴۸
(۷) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۱۴۴؛ نظم الدرر ج۸ ص۴۱۷؛ روح المعاني ج۳۰ ص۱۲۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

شوې ده چې د پرې کولو معنی و رکوي[۱]، خو په دې مقام کښې د تراشلو څخه کنايي ده چې په بل ایت کښې وربانديې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿وَتَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتٗا﴾ [الشعراء:۱۴۹] یعني ای ثمودیانو! تاسو د غرونو څخه کوټې تراشئ (او جوړوئ نو د دغه نعمت شکریه وکړئ او توحیدي عقیده خپله کړئ).

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدغه ایت کښې د "الْوَاد" کلمه د هغه ځای نوم دی په کوم کښې چې ثمودیان اوسېدل چې د "وَادِي الْقُرَى" په نامه ډېر شهرت لري[۲].

## هېر مو نه شي

۴ـ په دې مقام کښې لاندې دوه مطلبونه وړاندې تېر شوي دي، باید چې هېر نه کړی شي:

الف: په ﴿وَفِرۡعَوۡنَ ذِي ٱلۡأَوۡتَادِ﴾ کښې "فِرْعَوْن" ته د "ذِي الأَوْتَاد" لقب ورکړی شوی دی او د [صٓ: ۱۲] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلی شوي دي چې دغه لقب یا د ډېر قوت څخه نمایندګي کوي او یا د زیات ظلم څخه کنايي دی.

ب: په ﴿إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ﴾ کښې د "مِرْصَاد" کلمه د [النبأ: ۲۱] ایت لاندې ښه پوره څرګند شوې ده والحمد لله ﷻ، خو دلته ترې څارنځای مطلب دی[۳] چې په بل ایت کښې ورته داسې اشاره شوې ده: ﴿وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا﴾ [الأحزاب:۵۲] یعني او الله ﷻ په هر شي باندې څارونکی دی چې هیڅ شی ترې نه پټېدلی شي او نه ترې تښتېدلی شي.

﴿فَأَمَّا ٱلۡإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكۡرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ ﴿١٦﴾ كَلَّاۖ بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴿١٨﴾ وَتَأۡكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكۡلٗا لَّمّٗا ﴿١٩﴾ وَتُحِبُّونَ ٱلۡمَالَ حُبّٗا جَمّٗا ﴿٢٠﴾﴾

[۱۵] نو هر چې انسان دی کله یې چې خپل رب ﷻ امتحان کړي نو عزت ورکړي او نعمتونه ورکړي نو نوموړی وايي چې: ماته خپل رب ﷻ عزت راکړ (چې ما یې لیاقت درلود).

[۱۶] او هر چې (انسان دی) کله یې چې خپل رب ﷻ امتحان کړي نو روزي یې وربانديې تنګه کړي نو نوموړی وايي چې: زه خپل رب ﷻ سپک کړم.

[۱۷] دغسې نه ده (لکه چې تاسو خیال کوئ)، بلکې تاسو (په افعالو کښې هم په غلطه لاره روان یاست) چې یتیم ته عزت نه ورکوئ.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۰۰
(۲) اضواء البیان ج۹ ص۲۱۵
(۳) البحر المحیط ج ۱۰ ص۴۷۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۸] او (همدارنګه) تاسو د مسکین په خوراک ورکولو باندې تېزول نه کوئ (او نه پخپله هغه ته خوراک ورکوئ).

[۱۹] او تاسو ټول مېراث خورئ (او وارثانو ته ټاکلې برخه نه ورکوئ).

[۲۰] او (بالآخره) تاسو مال خوښوئ ډېر خوښول (چې افراطي محبت ورسره لرئ).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو د وروستني ایت په ارتباط د څارنې څرنګوالي ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! نو ته د خپل رب ﷻ د څارنې او مراقبت څو مثالونه په خپل اُمت باندې قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ بنیادم چې دی کله یې چې خپل رب ﷻ په غنا سره د ازمېښت لاندې ونیسي او عزت ورکړي او همدارنګه ورباندې د نعمتونو پرېماني ورنازله کړي، نو په دغه وخت کښې یې امتحان او ازمېښت په زړه کښې نه ګرځي او وایي چې ماته خپل رب ﷻ عزت او پرېمانه نعمتونه ځکه راکړه چې زه یې وړتیا لرم او زما څخه خپل رب ﷻ راضی دی او زما کړه وړه یې خوښ دي.

۲ـ بالمقابل کله یې چې خپل رب ﷻ په فقر او تش لاسۍ سره امتحان کړي او د نعمتونو تنګي ورباندې وروليې، نو په دغه وخت کښې یې هم امتحان د ذهن څخه اوځي او وایي چې: زه خپل رب ﷻ سپک کړم او د بې عزتۍ سره یې مخامخ کړم.

حال دا چې: ای بنیادمه! دغسې نه ده لکه چې ته خیال کوې. او دا ځکه چې:

د الله ﷻ په نزد عزت او ذلت، په تقوی او عدم تقوی پورې ارتباط لري او غنا او فقر دواړه د امتحان په بنیاد صورت نیسي او بس.

۳ـ ای بنیادمانو! ستاسو غلطیا یوازې په اقوالو کښې نه ده بلکې تاسو په افعالو کښې هم د غلطۍ مرتکبین ګرځي او کامیابي مو د لاسه اوځي. مثلاً:

الف. تاسو نه د یتیمانو سره احسان کوئ او نه یې عزت کوئ بلکې د هغوی په عدم احسان او عدم عزت (توهین) کښې اخته یاست.

ب: تاسو نه پخپله فقیرانو او مسکینانو ته خوراک او څښاک ورکوئ او نه بل څوک هڅوئ چې دغه کار وکړي او د الله ﷻ په لار کښې انفاق وکړي.

ج: تاسو د مړو په متروکه مالونو کښې هم د زیات حرص څخه کار اخلئ چې مستحقینو ته مقرره کړې شوې برخه نه ورکوئ بلکې ټول میراثي مال پخپله خورئ او ګېډه ورباندې اچوئ، او په دې لار کښې ډېر زیات زیار وباسئ.

د: لنډه دا چې: تاسو د دنیاوي فاني مال سره ډېره زیاته مینه او محبت لرئ او په راغونډولو کښې یې نه په مشروعه لاره صرفه کوئ او نه غیر مشروعه لاره د پامه غورزوئ، حال دا چې ستاسو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تول حالات دمراقبت لاندې دي او تاسو په هر وخت کښې د خپل رب ﷻ د څارنې لاندې یاست چې په وخت سره به د محاسبې سره مخامخ کړی شئ.

## توضیحات

۱ـ د اولنیو دواړو ایتونو مضمون ته په بل ځای کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً﴾ [الأنبياء:۳۵] یعنې او مونږ تاسو په شر او خیر (دواړو) سره امتحانول، بیا به تاسو مونږ ته راجع کړی شئ او محاسبه به درسره صورت ونیسي.

## د یتیم إکرام څه شی دی؟

۲ـ په ﴿بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ﴾ کښې د ﴿لَّا تُكْرِمُونَ﴾ کلمه د "إِكْرَام" څخه اشتقاقه شوې ده، "إِكْرَام" دې ته ویل کېږي چې څوک چا ته داسې ګټه ورسوي چې څه نقصان پکښې نه وي نغښتی[۱]، نو د یتیم سره "إِكْرَام" کول لاندې صورتونه درلودلی شي:

الف: چې یتیم ته خپل حق ورکړی شي او د ده د کمزورۍ څخه بده استفاده ونه کړی شي.

ب: چې برسېره د حق په ورکولو باندې اخلاقي او روزنیزه ګټه هم ورته ورسوله شي.

دغه مضمون په ډېرو احادیثو کښې روایت شوی دی لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ الْيَتِيمِ وَالْمَرْأَةِ»[۲] یعنې ای الله! یقینًا زه (په ظالمانو باندې) د دوه وو کمزورو کسانو حق تنګوم (ورباندې یې حراموم) چې یو کمزوری یتیم دی او بله کمزورې زنانه ده.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ»[۳] یعنې د مسلمانانو په کورونو کښې غوره کور هغه دی چې یتیم پکښې وي او احسان ورسره کېږي. او د مسلمانانو په کورونو کښې بد کور هغه دی چې یتیم پکښې وي او بده وضعه ورسره کېږي (اکرام ورسره نه کېږي).

## "لَمّ" څه معنی؟

۳ـ په ﴿وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا﴾ کښې د "تُرَاث" کلمه په اصل کښې "وراث" وه چې د میراث معنی ورکوي او د "لَمًّا" کلمه پکښې د "جمع" معنی ورکوي[۴]. یعنې تاسو میراث خورئ تول خوراک چې حقدارانو ته پکښې خپل حق نه ورکوئ.

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۳] ایت لاندې لیکلي دي چې د جاهلیت په زمانه کښې به

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۴۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج ۳ ص ۴۴۰
(۳) سنن ابن ماجه ص ۲۶۲
(۴) لسان العرب ج ۱۲ ص ۵۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زنانه وو او ماشومانو ته په میراث کښې برخه نه ورکوله کېده ځکه چې دواړه توره نه شي وهلی او د دښمن مقابله نه شي کولی، او میراث باید هغه چا ته ورکړی شي چې دغه کار ونه کولی شي.

## د "جَمّ" معنی

۴ـ په ﴿ وَتُحِبُّونَ ٱلْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴾ کښې د "جَمّ" کلمه د "ډېر" معنی ورکوي هر شی چې وي[۱].
یعنې او تاسو په ډېر افراطي محبت سره مال خوښوئ او مینه ورسره لرئ.
افراطي محبت دې ته ویل کېږي چې آخرت پکښې بالکل هېر کړی شي. یا په بل عبارت: د دنیاوي مال سره افراطي محبت او مینه د دې څخه عبارت ده چې څوک فقط د مال لاسته راوړنه په نظر کښې ونیسي او شریعت بالکل د لحاظ څخه وغورزوي. لکه چې په لاندې احادیثو کښې ورته اشاره شوې ده:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ بِمَا أَخَذَ مِنَ الْمَالِ بِحَلَالٍ أَوْ بِحَرَامٍ»[۲] یعنې هرومرو به په خلکو باندې داسې زمانه ورشي چې سړی به په هغه شي باندې څه باک (پروا) نه کوي کوم یې چې د مال څخه رانیولی وي چې (دا یې) په حلاله (جائزه) طریقه (رانیولی دی) او که په حرامه (ناجائزه) طریقه (یې ترلاسه کړی دی)؟.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ أَحَبَّ دُنْيَاهُ أَضَرَّ بِآخِرَتِهِ وَمَنْ أَحَبَّ آخِرَتَهُ أَضَرَّ بِدُنْيَاهُ فَآثِرُوا مَا يَبْقَى عَلَى مَا يَفْنَى»[۳] یعنې څوک چې خپله دنیا په افراطي محبت سره محبوبه وګرځوي نو هغه خپل آخرت ته ضرر ورساوه او څوک چې خپل آخرت خوښ کړي نو خپلې دنیا ته یې ضرر ورساوه نو تاسو په هغه شي باندې چې فنا کېږي هغه شی غوره کړئ چې باقي پاتې کېږي.

﴿ كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِاْىٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۚ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَـٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ يَقُولُ يَـٰلَيْتَنِى قَدَّمْتُ لِحَيَاتِى ﴿٢٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يَـٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾ فَٱدْخُلِى فِى عِبَـٰدِى ﴿٢٩﴾ وَٱدْخُلِى جَنَّتِى ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۱] (انسان دی په خپل قول او فعل کښې) غلطي نه کوي. (او دا خکه چې:) کله ځمکه پسته (او نرمه) کړی شي، پستول- پستول (ترڅو بنه هواره کړی شي).

---

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۵۳۲
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۴۳۲
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۱۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۲] او ستا رب ﷻ (په بلا کیفه توګه) راشي او پرښتي هم صفونه- صفونه (راشي).

[۲۳] او په دغې ورځ کښې دوزخ هم (د محشر میدان ته) راوستلی شي (رابنکودلی شي)، په دغې ورځ کښې به انسان پند واخلي (او نصیحت به قبول کړي)، حال دا چې (په دغه وخت کښې به ورته) پند څنګه وي (څه په درد به يې وخوري)؟.

[۲۴] (په دغه وخت کښې به) انسان ووايي چې: ای کاش چې د خپل (دغه) ژوند دپاره مې (د دنیا څخه څه نېک اعمال) وړاندې رالېږلی وي (چې اوس مې د نجات سبب ګرځېدلی وي).

[۲۵] نو په دغې ورځ کښې د الله ﷻ د عذاب غوندې عذاب هیڅوک (چا ته) نه شي ورکولی (او نه د چا توان رسېږي).

[۲۶] او (همدارنګه په دغې ورځ کښې) د الله ﷻ د تړلو غوندې تړل هیڅوک نه شي کولی (بلکې نه څوک عذابول کولی شي او نه تړل).

[۲۷] ای مطمئنه (ارامه) نفسه!.

[۲۸] (د) خپل رب ﷻ (موعد) ته په داسې حال ورستون شه چې ته راضي (او) راضي کړی شوی يې (ته د خپل رب ﷻ څخه راضي يې او خپل رب ستا څخه راضي دی).

[۲۹] نو ته زما (د صالحو) بندګانو (په ډله) کښې داخل شه.

[۳۰] او (هم) زما (تیار کړی شوي) جنت ته ننوځه.

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! ذکر شوی انسان دی په قول او فعل کښې غلطیاوې پرېږدي او د قیامت د سختې ورځې څخه دې وېږدار شي چې:

۱_ دغه سخته ورځ به په هغه وخت کښې صورت ونیسي چې:

الف: کله ځمکه وټکوله شي بنه پوره ټکول، نو هیڅ لوړه ژوره هم پکښې پرېنښودله شي بلکې هواره وګرځوله شي.

ب: کله ستا رب ﷻ د محاسبې او فیصلې دپاره په بلا کیفه توګه راشي.

ج: کله پرښتې صفونه-صفونه (قطارونه قطارونه) ودرېږي.

د: کله دوزخ د حشر میدان ته رابنکودلی شي او کفارو ته په دغې ورځ کښې د ترهیب دپاره راوستلی شي.

نو په دغه وخت کښې به نوموړی انسان پند واخلي او ستا ارشادات به قبول کړي، خو په دغه وخت کښې به يې پند اخستل څه په درد وخوري او په څه درد به يې دوا شي؟.

۲_ د همدې کبله به په دغه وخت کښې ذکر شوی انسان په ډېر حسرت او افسوس سره وايي چې: ای کاش چې ما په دنیا کښې ارشادات او پندونه قبول کړي وی او د خپل دغه ژوند دپاره مې داسې کړه وړه وړاندې را استولي وی چې اوس مې په درد دوا شوي وی او د عذاب څخه وربandې بچ شوي وی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به د دنیا تعذیبوونکي او حبس کوونکي ظالمان او جابران د الله ﷻ د پلوه په تعذیب اخته وي او په حبس به محکوم وي نو هلته به د ده ﷻ د عذاب غوندې عذاب څوک چاته نه شي ورکولی او نه به د ده ﷻ د حبس او تړلو غوندې حبس کول او تړل د چا د لاسه پوره وي، بلکې د ده ﷻ څخه پرته به د هیچا څه شی د واکه پوره نه وي.

۴_ ای پیغمبره! بالمقابل په دغې ورځ کښې به مؤمنان هر یو ډاډه کړی شي او ستا د رب ﷻ د پلوه به مخاطب وګرځولی شي چې: ای مطمئنه نفسه!:

الف: ته د خپل رب ﷻ موعد ته بېرته ورتاو شه او هغه ځای ته چې تاسره یې وعده شوې ده په داسې حال کښې بېرته وروګرځه چې ته د خپل رب ﷻ په نعمتونو باندې ډېر خوښ او خوشاله یې او هم ستا څخه خپل رب ﷻ پوره راضي دی.

ب: ته لاړ شه او زما د مخلصو بندګانو په ډله کښې شامل شه او زما هغه جنت ته ورننوځه کوم چې ما ستا غوندې بندګانو دپاره تیار کړی دی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴾ کښې د "دَكّ" کلمه د ځمکې پستولو او نرمولو ته ویل کېږي[1]، خو په دې مقام کښې ترې د ځمکې هوارول مطلب دي لکه چې په [طه.۱۰۵_ ۱۰۷] ایتونو کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی.

## د دوزخ راښکودل

۲_ په ﴿ وَجِاْىٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ﴾ کښې د حشر میدان ته د دوزخ راښکودلو ته اشاره ده چې همدغه مضمون د الله ﷻ په توفیق د [الشعراء:۹۱] ایت لاندې د یوه حدیث په رڼا کښې ډېر ښه تفسیر شوی دی، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## دلته د "ل" توری څه معنی ورکوي؟

۳_ په ﴿ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴾ کښې د "ل" توری مفسرینو کرامو په دوه ډوله معنی کړی دی[2] چې دواړه ډوله په اصل مطلب کښې اختلاف نه لري هغه دا چې:

الف: دلته د "ل" توری اجلیه دی، او د "حَيَاة" څخه اُخروي "حَيَاة" مطلب دی. یعنې ای کاش! چې ما د دغه اُخروي ژوند دپاره په دنیا کښې څه داسې کړه وړه مخکښې رالېږلي وی چې اوس مې په درد دوا شوي وی.

ب: دغه د "ل" توری دلته د "وقت" معنی ورکوي او د "حَيَاة" څخه دنیاوي "حَيَاة" مراد دی. یعنې

---

[1] مفردات الراغب ص ۱۷۲
[2] روح المعاني ج ۳۰ ص ۱۲۹؛ تفسیر القاسمي ج ۱۷ ص ۱۵۲؛ البحر المحیط ج ۱۶ ص ۳۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای کاش! چې ما د خپل دنیاوي ژوند په وخت کښې د اُخروي ژوند دپاره څه شیان مخکښې رالیږلي وی چې اوس مې وربانديې نجات موندلی وی.

## یو تفسیري تحلیل

۴ـ په ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ ۝ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ ﴾ کښې لاندې تفسیري تحلیل په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: د ﴿ عَذَابَه ـ وَثَاقَهُۥ ﴾ دواړه کلمې د تشبیهي "ک" په تقدیر سره منصوبې دی.

ب: د دغو دواړو کلمو ضمیرونه (ه، ه) د الله ﷻ څخه کنایي دي. نو ته به وایې چې داسې عبارت: "کَعَذَابِ اللهِ، کَوَثَاقِ اللهِ" نازل شوی وي.

یعنې په دغې ورځ کښې به د الله ﷻ د عذاب غوندې عذاب څوک چا ته نه شي ورکولی او نه به د الله ﷻ د تړلو په شان تړل څوک کولی شي.

یا په بل عبارت: په دغې ورځ کښې به واکداري یوازې په الله ﷻ پورې اختصاص ولري او بس. نو هلته به دنیاوي جبابره او فراعنه نه د تعذیب توان لري او نه به د حبس او تړلو وسه لري، بلکې دوی به پخپله د الله ﷻ د تعذیب لاندې وي او حبس او تړل شوي به وي.

همدې مضمون ته په نورو ایتونو کښې هم اشارې شوې دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴾ [المؤمن:۱۶] یعنې په دغې ورځ کښې به الله ﷻ ووایي چې نن ورځ پوره واکداري د چا دپاره مختصه ده؟ نن ورځ ټوله واکداري (ظاهري او باطني) فقط په الله ﷻ پورې اختصاص لري چې هیڅ شریک نه لري او په خلکو باندې د خپلې ارادې تحمیلوونکی دی.

دوهم: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَٱلْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴾ [الانفطار:۱۹] یعنې په دغې ورځ کښې (ظاهري او باطني) د حکم چلول په الله ﷻ پورې مختص دي او بس.

## سوالونه او جوابونه

۵ـ په دې مقام کښې لاندې سوالونه د سړي په ذهن کښې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: په ﴿ ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴾ سره کوم نفس مراد دی او دا د کوم نفس لقب دی؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ په توفیق د [یوسف:۵۳] ایت لاندې لیکلې شوي دي چې دا د هغه نفس لقب دی کوم چې د ګناهونو د ارتکاب څخه مطمئن او معصوم دی.

ب: که څوک وایي چې: ایا ذکر شوی خطاب یوازې پیغمبرانو پورې اختصاص لري چې د ګناهونو څخه معصومان دي؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: دغه خطاب ټولو مؤمنانو (أصحاب اليمين) ته شامل دی[١]، او دا خکه چې د مرګ څخه وروسته او یا عین د ځنکدن په وخت کښې ټول مؤمنان د ګناهونو د ارتکاب څخه په عصمت کښې ګرځي، او د واقع کېدلو څخه يې بچ کېږي، ته به وايي چې معصومان دي.

ج: که څوک وايي چې: ذکر شوی خطاب په کوم وخت کښې صورت نیسي؟

مونږ وايو چې: ځینو علماوو کرامو دغه وخت د روح د قبض وخت او ځینو د قبره څخه د راپورته کېدلو وخت او ځینو د جنت د داخلېدلو وخت ښودلی دی[٢]. مګر بهتره دا ده چې دغه وخت په اطلاق سره پرېښودل شي، څه لرې نه ده چې مؤمنانو ته به په مکرره توګه موقع په موقع په ذکر شوي خطاب سره اطمنان ورکړی شي، یا الله! مونږ ته دغه خطاب راپیرزو کړې!.

په همدې بنیاد ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې کله عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) خاورو ته وسپارل شو نو په دغه وخت کښې د ټولو خلکو په وړاندې ذکر شوی ایت شریف قرائت کړی شو خو هیڅوا ونه شو لیدلی چې قرائت کوونکی څوک وه[٣].

د: که څوک وايي چې: دغه عبارت ﴿ ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ ﴾ څه معنی؟

مونږ وايو چې: د دغه عبارت سره د "مَوْعِد" کلمه مقدره ده چې د "ارْجِعِي إِلَى مَوْعِدِ رَبِّكِ" عبارت ترې جوړېږي[٤]. یعنې ته هغه ځای ته ورستون شه کوم چې تاته خپل رب ﷻ وعده کړې او ټاکلی دی. دغه "مَوْعِد" په ﴿ فَٱدۡخُلِي فِي عِبَٰدِي ۝ وَٱدۡخُلِي جَنَّتِي ﴾ سره تفسیر شوی دی.

دغه عبارت ته ورته عبارت د ابراهیم عليه السلام څخه هم راحکایت شوی دی چې: ﴿ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓ ﴾ [العنكبوت:٢٦] یعنې او ابراهیم عليه السلام وویلې چې: یقینًا زه د خپل رب ﷻ رضامندۍ ته هجرت کوونکی یم (او هغه ځای ته روان یم کوم یې چې راته ټاکلی دی).

هـ: که څوک وايي چې: په ﴿ فِي عِبَٰدِي ﴾ کښې د "عِبَاد" کلمې څخه کوم بندګان مطلب دي؟

مونږ وايو چې: د دې څخه صالح بندګان مراد دي د کومو په ډله کښې چې د شاملېدلو غوښتنه د سلیمان عليه السلام څخه هم راحکایت شوې ده چې: ﴿ وَأَدۡخِلۡنِي بِرَحۡمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ [النمل: ١٩] یعنې ای زما ربه! او ما په خپل رحمت سره د خپلو صالحو بندګانو په ډله کښې داخل کړه.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفیق د "الْفَجْر" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

اللَّهُمَّ أَدْخِلْنَا فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ وَأَدْخِلْنَا فِي جَنَّتِكَ الْفِرْدَوْس.

١٤٢٦/١/١٢ هـ ق - ١٣٨٣/١٢/٢ هـ ش.

---

(١) تفسیر القرطبي ج٢٠ ص٥٨
(٢) تفسیر القاسمي ج١٧ ص١٥٣؛ زاد المسیر ج٨ ص٢٤٨؛ تفسیر البغوي ج٤ ص٤٨٦
(٣) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٥١١؛ الدر المنثور ج٨ ص٥١٥
(٤) تفسیر الکشاف ج٤ ص٧٥٢؛ تفسیر ابي السعود ج٩ ص١٥٩؛ البحر المحیط ج١٠ ص٤٧٧

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# البلد (۹۰)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

د دې سورت (الْبَلَد) په نامه باندې د همدې سورت لومړنی ایت مشتمل دی.

۱_ دا سورت د جمهورو علماوو کرامو په نزد مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۲_ د دې سورت ټول ایتونه پوره شل (۲۰) دي[۲].

۳_ د دې سورت د کلماتو شمېره دوه اتیا (۸۲) کلمو ته رسېږي[۳].

۴_ د دې سورت د حرفونو تعداد درې سوو او شلو (۳۲۰) حرفونو ته پورته شوې ده[۴].

۵_ په وړاندېنی سورت (الْفَجْر) کښې انسان د هغو اقوالو او هغو افعالو څخه منعه کړی شوې وه کوم چې ورته په دنیا او آخرت کښې په ضرر تمامېږي.

۶_ په دې سورت (الْبَلَد) کښې ورته د یو پلوه د الله ﷻ نعمتونه وریه یاد کړی شوي دي او د بله پلوه ورته هغه کړنلاره ښودلې شوې ده کومه چې ورته په دنیا او آخرت کښې ګټوره واقع کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿لَآ أُقْسِمُ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ۝١ وَأَنتَ حِلٌّۢ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ۝٢ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ۝٣ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِى كَبَدٍ ۝٤﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحم الله ﷻ په نامه.

[۱] دغسې نه ده (لکه چې تاسو مشرکان خیال کوئ)، په دغه ښار (مکه معظمه) باندې سوګند دی.

[۲] حال دا چې (ای پیغمبره!) ته په همدغه ښار کښې اصلي اوسېدونکی یې (او احترام دې پکښې نه ساتل کېږي).

[۳] او په زېږوونکي (پلار) او په هغه شي (مولود) باندې هم سوګند دی) کوم چې پلار یې زېږوي.

[۴] چې یقیناً مونږ انسان په مشقت کښې پیدا کړی دی (په دنیاوي ژوند کښې نا ارامه دی).

## ارتباط او توضیحات

۱_ د وړاندېني سورت (الْفَجْر) د وروستنیو ایتونو مضامین په دې باندې هم شامل وه چې الله ﷻ به خپلو مخلصو بندګانو ته په آخرت کښې زښتې ډېرې خوشالۍ ورکړي.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۰۳
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۸۸
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۱۲
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۳۳۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې ایتونو کښې مؤمنانو (مخلصو بندګانو) ته ډاډ او تسلي ورکوله کېږي چې:

الف: د کفارو او مشرکانو ظلم او تېری تمامېدونکی دی او داسې وخت ضرور راتلونکی دی چې دوی به د سخت حسرت سره مخامخ شي.

ب: کامله خوشالي په آخرت کښې صورت نیسي د دنیا ژوند تول په مشقتونو او زحمتونو باندې ډک دی، نو د کفارو په تعذیبونو سره بې حوصلې کېدل په کار نه دي.

۲ـ په ﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴾ کښې د ﴿ لَآ أُقۡسِمُ ﴾ غوندې کلمات د [الواقعة:۷۵] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق شرحه شوی دی چې بیا تکرارولو ته یې څه ضرورت نه ګورو.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدغه ایت کښې د مفسرینو کرامو په اتفاق سره د "هَٰذَا ٱلۡبَلَدِ" څخه د مکې معظمې ښار مطلب دی[1].

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: دغسې نه ده چې مشرکان او کفار به د مؤمنانو په تعذیب سره د اسلام د ترقۍ مخه بنده کړي، په همدغه مطلب باندې دغه ښار (مکه معظمه) شهادت ورکوي چې د تاریخ په اوږدو کښې د جبابره وو څخه بچه ساتلې شوې ده، او د اصحاب الفیل غوندې ظالمان یې په تخریب باندې نه دي توانېدلي.

۳ـ په ﴿ وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴾ کښې د ﴿ حِلُّۢ ﴾ کلمه د تفسیر په لحاظ دوه احتماله درلودلې شي چې د بدلیت په لحاظ د دواړو اراده کول هم څه اشکال نه لري. هغه دا چې:

الف: دا کلمه ﴿ حِلُّۢ ﴾ د "نَصَرَ يَنْصُرُ" د باب څخه صفتي اسم ده او د "حُلُول" ـ لکه "قُتُول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اړولو او اقامت کولو معنی ورکوي او په مقابل کښې یې "اِرْتِحَال" ـ لکه "اِکْتِسَاب" ـ استعمالېږي چې د کوچېدلو دپاره وضعه شوي دي[2]. یعنې ای پیغمبره! که څه هم مشرکان نن ورځ په تا او ستا په ملګرو باندې ظلم او تېری کوي او غواړي چې د دغه ښاره مو وشړي حال دا چې ته د دغه ښار اصلي اوسېدونکی یې او ستا په موجودیت سره د دغه ښار شرافت لا پسې زیات شوی دی، مګر تاسو د زغم څخه کار واخلئ او د مشکلاتو ګاللو ته خپلې ملاوې وتړئ لکه څنګه چې په همدغه ښار کښې پخوانیو اصلي اوسېدونکو (بي بي هاجرې رضي الله عنها او اسماعیل علیه السلام) مشکلات ګاللي وه.

ب: دا کلمه د "ضَرَبَ يَضْرِبُ" د باب صفتي اسم ده چې د "حَلَال" ـ لکه "حَرَام" ـ څخه یې اشتقاق موندلی دی[3]. یعنې ای پیغمبره! دغه ښار محترم ښار دی حتی چې حیوانات او ځناور پکښې د اذیت او تعذیب څخه مامون دي حال دا چې په همدغه محترم ښار کښې د مشرکانو د پلوه ستا او ستا د ملګرو اذیت او تعذیب حلال او مباح ګڼلې کېږي. خو داسې یوه ورځ راتلونکې ده چې به

---

(۱) روح المعاني ج ۳۰ ص ۱۳۳

(۲) تفسیر القاسمي ج ۱۷ ص ۱۵۵؛ لسان العرب ج ۱۱ ص ۱۶۴

(۳) القاموس المحیط ج ۱ ص ۶۹۷؛ تفسیر القرطبي ج ۲۰ ص ۶۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه ښار کښې به تا او ستا ملګرو ته د الله ﷻ د پلوه د دغو مشرکانو اذیت، تعذیب، وهل او ټکول حتی وژل حلال او مباح وګرځولی شي.

دغه مضمون ته د مکې معظمې د فتحې په ورځ نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې داسې اشاره کړې ده چې: «وَإِنَّهَا حَلَّتْ لِي سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ»[1] یعنې الله ﷻ په مکه معظمه باندې خپل پیغمبر او مؤمنان مسلط وګرځول نو د همده ﷻ د پلوه ماته د ورځې په یوه ساعت کښې دلته وژل او تعذیبول حلال او مباح ګرځولی شوي دي، چې په دغه ښار کښې دغه کارونه چا ته نه پخوا حلال ګرځولی شوي وه او نه به ورته وروسته حلال وګرځولی شي.

۵_ که څه هم د ﴿ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴾ کلمات مفسرینو کرامو په آدم ؑ او د ده ؑ په اولادې سره یا په نوح ؑ او د ده ؑ په اولادې سره او بالآخره یا په ابراهیم ؑ او د ده ؑ په اولادې سره تفسیر کړي دي، مګر بهتره دا ده چې ذکر شوي کلمات په خپل اطلاق سره پرېښودل شي ترڅو هر والد او هر مولود ته شامل شي[2].

۶_ په ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ ﴾ کښې د ﴿ كَبَدٍ ﴾ کلمه د شدت او مشقت دپاره وضعه شوې ده[3]. یعنې په دغه ښار (مکه معظمه) او هم په والد او مولود باندې سوګند دی. یا په بل عبارت: دغه درې واړه شهادت ورکوي چې موږ یقیناً انسان د مشقاتو او ستونزو د ګاللو دپاره مساعد پیدا کړی دی، چې د مختلفو ربړو سره به مخامخ کېږي.

نو ای پیغمبره! لکه چې په دغه ښار کښې بي بي هاجرې رضي الله عنها او اسماعیل ؑ مشکلات تېر کړي دي او لکه چې پلار د خپل اولاد په روزنه او تربیه کښې سختۍ ګالي او بالآخره لکه چې هر مولود د خپل پیدائښت په مختلفو مراحلو کښې د مشقاتو سره مخامخ کېږي، همدارنګه به ته او ستا ملګري هم د کفارو د لاسه مشکلات او مشقات ګالي او په نتیجه کښې به کامیابیو ته رسېږي.

﴿ أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ۝٥ يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ۝٦ أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ۝٧ أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ۝٨ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ۝٩ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ۝١٠ ﴾

[۵] ایا انسان ګومان کوي چې هیڅوک به ورباندې هیڅکله قدرت درلودونکی نه شي (چې مغلوب یې وګرځولی شي)؟.

[۶] نوموړی وایي چې: ما (د خپلو مطالبو د ترلاسه کولو دپاره) زښت ډېر مال لګولی (او مصرف کړی) دی، (نو ضرور به خپل مرامونه ترلاسه کړم).

[۷] ایا انسان ګومان کوي چې هیڅوک یې نه ګوري (او نه یې پېژني)؟.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۳۲۸
(۲) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۱۹۶
(۳) لسان العرب ج۳ ص۳۷۶؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۰۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸] (ایا مونږ انسان نه پېژنو!) ایا مونږ ورته دوه سترګې (د لیدلو دپاره) نه دي ګرځولي (پیدا کړي)؟!.

[۹] او (ایا مونږ ورته) ژبه او دوه شونډې (نه دي پیدا کړي)؟!.

[۱۰] (هو، دا مو کړي دي) او د (خیر او شر) دوه لارې مو هم ورته ښودلي دي (چې شریعت مو ورنازل کړی دی او عقل مو ورکړی دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې هغه تېري او ظلم ته اشاره شوې وه کوم به چې په حرم شریف کښې د مشرکانو د پلوه په نبي کریم ﷺ او په مؤمنانو باندې جائز ګڼل کېده.

په دې ایتونو کښې د یو پلوه مشرکان تهدید شوي دي چې په خپل قوت باندې مه غره کېږئ او د هغه اقدس ذات څخه وډار شئ چې تاسو ته یې موجودیت او قوت درکړی دی. او د بله پلوه یې شمېره عقلي او حسي نعمتونو ته اشاره شوې ده او وریې یاد شوي دي ترڅو یې شکریه وکړي او د کفري عقیدې او ظلم څخه لاس واخلي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل دعوتي اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ کافر انسان په مؤمنانو باندې ظلم او تېري ته ادامه ورکوي او غواړي چې کفري او شرکي عقیدې ته یې وروا ړوي.

ایا نوموړی ګومان کوي چې په ده باندې د هیچا زور نه رسېږي او د هیچا د قدرت لاندې نه دی؟ دغسې نه ده، بلکې الله ﷻورباندې کامل قدرت لري او په وخت سره به یې په دنیا او آخرت کښې د کفریاتو او شرکیاتو په سزا اخته کړي.

۲ـ نوموړی وایي چې: ما زښت ډېر مال مصرف کړی او لګولی دی، نو د همدغه مال په زور به د اسلام د پرمختګ مخه ونیسم او ودې ته به یې پرېنږدم.

دغسې نه ده، د نوموړي مال د الله ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی بلکې د همدغه مال په هکله به هم د پوښتنو سره مخ شي چې دا دې د کومه کړی دی؟ او په کومو شیانو کښې دې مصرف کړي دی؟

۳ـ ایا نوموړی ګومان کوي چې هغه هیچا نه دی لیدلی او هیڅوک یې نه پېژني؟ دغسې نه ده، مونږ یې ښه پېژنو، چې یوازې همدا زمونږ په قدرت سره دنیا ته راغلی دی او بس. یا په بل عبارت:

الف: ایا مونږ ورته دوه سترګې نه دي ورکړې؟ او د لیدلو خاوند مو نه دی ګرځولی؟

ب: ایا مونږ ورته ژبه نه ده ورکړې چې د زړه رازونه ورباندې څرګندوي او خبرې اترې ورباندې کوي؟.

ج: ایا مونږ ورته دوه شونډې نه دي ښنلي چې په خوراک او څښاک کښې ترې کار اخلي او همدارنګه یې ښکلا او ښایست وربرابر کړی دی او نورې ګټې ترې هم اخلي؟.

د: بالآخره، آیا مونږ ورته عقل نه دی ورکړی چې د ښناورو څخه مو ورباندې جدا کړي دي؟.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او همدارنګه ایا مونږ ورته شریعت نه دی ورنازل کړی او شرعي او غیر شرعي او همدارنګه د خیر او شر دواړه لارې مو نه دي ورښودلي؟.

## توضیحات

۱ـ په ﴿أَهۡلَكۡتُ مَالٗا لُّبَدًا﴾ کښې د "لُبَد" کلمه د کثیر (ډېر) معنی ورکوي[۱]. یعنې ما د اسلام په مخنیوي او عیشیاتو کښې زښت ډېر مال مصرف کړی دی چې ضرور به ورباندې مطلب ته ورسېږم په ماباندې د هیچا زور د پاسه نه دی.

حال دا چې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيۡهِمۡ حَسۡرَةٗ ثُمَّ يُغۡلَبُونَ﴾ [الأنفال:۳۶] یعنې یقینًا هغه کسانو چې کفر غوره کړی دی د دې دپاره خپل مالونه خرڅ کوي ترڅو د الله ﷻ د لارې څخه خلک منعه کړي، نو زر ده چې خپل مالونه به په همدې لاره کښې خرڅ کړي خو بیا به ورباندې حسرت وګرځي (او) بیا به مغلوب کړی شي.

همدارنګه نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ»[۲] یعنې د قیامت په ورځ به بنیادم قدم وانخلي ترڅو چې د خپل مال په هکله هم وپوښتلی شي چې دا یې د کوم ځایه کسب کړی (حاصل کړی) دی او په کوم شي کښې یې خرڅ کړی دی؟.

## صرفي تحلیل

۲ـ په ﴿وَشَفَتَيۡنِ﴾ کښې د "شَفَتَيۡنِ" کلمه د "شفة" مثنی ده چې د شونډې معنی ورکوي او په اصل کښې "شَفَهَة" وه نو د "هـ" توری یې د تخفیف دپاره حذف شوی دی، د همدې کبله کله چې دوه کسان سره مخامخ خبرې وکړي نو په "شَافَهَ فُلَانٌ فُلَانًا" سره ترې تعبیر کېږي. یعنې فلانی کس د فلاني کس سره شونډې په شونډې (مخامخ) خبرې وکړې[۳].

## "نَجۡدَيۡنِ" څه معنی؟

۳ـ په ﴿وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ﴾ کښې د "نَجۡدَيۡنِ" کلمه د "نَجۡد" مثنی ده چې اصلاً د لوړ ځای معنی ورکوي[۴]، خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په "الْهُدَى وَالضَّلَالَة" سره تفسیره کړې ده[۵]. یعنې او بنیادم ته مونږ د هدایت او ضلالت دواړه لارې ورښودلې دي ترڅو د عقل څخه کار واخلي نو د خیر لاره غوره کړي او د شر د لارې څخه اجتناب وکړي.

(۱) القاموس المحیط ج۴ ص۱۱۷؛ مفردات الراغب ص۴۶۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۱۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۶۷
(۳) لسان العرب ج۱۳ ص۵۰۷
(۴) مفردات الراغب ص۵۰۲
(۵) الدر المنثور ج۸ ص۵۲۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي
مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا
وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا
بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾ ﴾

[۱۱] نو ناشکره انسان د غره په سخته لار (غاښي) باندې ونه خوت.

[۱۲] او (ای پیغمبره!) ته څه شي پوه کړې چې سخته لار (غاښی) څه شی دی؟ (زما ترې څه شی مراد دی؟).

[۱۳] دا (عَقَبَه) د غاړې (غلام یا وینځې) خلاصون (ازادول) دي.

[۱۴] یا د لوږې په خاونده ورځ کښې خوراک ورکول دي.

[۱۵] (البته) داسې یتیم ته چې د قرابت (نژدېکت) څښتن وي.

[۱۶] یا داسې مسکین ته چې د خاورو خاوند وي (په خاورو ککړ وي).

[۱۷] بیا نوموړی (ناشکره انسان) د هغو کسانو د ډلې څخه نه شو کومو چې ایمان راوړی دی او یو تربله په صبر سره توصیه کوي او (هم) یو تربله په مهربانۍ (او شفقت) سره توصیه کوي.

[۱۸] دغه کسان (ایمانداران او توصیه کوونکي) د ښي لاس ملګري دي (په ښیو لاسونو کښې به اعمالنامې ورکړی شي).

[۱۹] او هغو کسانو چې زمونږ په ایتونو باندې کفر غوره کړی دی همدوی د چپ لاس ملګري دي.

[۲۰] په دوی (اصحاب الشمال) باندې قلف کړی شوی اور دی (دائمي دوزخ دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د سورت د پیل څخه هغو بدو کارونو ته اشاره شوې وه کوم چې ناشکره انسان یې عملي کوي او ورته مناسب وه چې عملي کړی یې نه وي.

په دې ایتونو کښې هغو نېکو کارونو ته اشاره کېږي کوم چې ناشکره انسان یې نه عملي کوي او ورته مناسب وه چې عملي کړی یې وي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د ناشکره انسان څه نور خاصیتونه هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ ناشکره انسان په سخته لاره او په لوړ غاښي باندې ونه خوت، او ای پیغمبره!:

الف: ته څه شي پوه کړې چې په غاښي باندې ختل څه شی دی او زما ورباندې څه شی مراد دی؟

ب: د غاښي په سخته لاره باندې د ختلو څخه زما لاندې کارونه مطلب دي:

اول: د غلام او وینځې ازادول.

دوهم: په داسې ورځ کښې خوراک ورکول چې لوږه پکښې موجودیت ولري او خلک وږي وي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(۳۰) درېیم: په تېره بیا داسې یتیم ته خوراک ورکول کوم چې د قرابت او خپلوۍ خاوند وي.
څلورم: یا داسې مسکین ته خوراک ورکول کوم چې د خاورو خاوند وي چې فرش نه لري او په خاورو باندې ناسته پاسته کوي.

۲ـ د ناشکره انسان په خاصیتونو کښې دا خبره هم د ذکر وړ ده چې نوموړي لاندې کارونه هم ونه کړه:

الف: نوموړی د هغو کسانو څخه ونه ګرځېد کومو چې ایمان راوړی وي او توحیدي عقیده یې خپله کړې وي.

ب: او نه د هغو کسانو څخه جوړ شو کوم چې صبر کوونکي دي او نورو ته هم په صبر کولو توصیه کوي.

ج: بالآخره، نوموړی د هغو کسانو څخه هم جوړ نه شو کوم چې مهربان زړونه لري او نورو ته هم په ترحم او مهربانۍ سره توصیه کوي.

۳ـ هو! نوموړي ذکر شوي کارونه ونه کړه چې نه په سخت غاښي باندې وخوت او نه یې ایمان راووړ، خو هرڅوک چې ذکر شوي کارونه وکړي نو همغوی د ښي لاس ملګري دي چې اعمالنامې به په ښیو لاسونو سره ورکړی شي او جنت ته به په دائمي توګه ورننوځي.

۴ـ بالمقابل، هغه کسان کومو چې زمونږ په ایتونو باندې کفر غوره کړی دی نو هغوی د نوموړي ناشکره انسان په شمول د چپ لاس ملګري دي چې اعمالنامې به ورته په چپو لاسونو سره ورکړی شي او د دوزخ اور به وربانديې په داسې حال بلېږي چې دروازې به یې قلف کړی شوي وي نو په توره تیاره کښې به په دائمي توګه معذبېږي.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې د څو لغاتو معناوې ولولئ؛ هغه دا چې:

الف: په ﴿فَلَا ٱقۡتَحَمَ ٱلۡعَقَبَةَ﴾ کښې د ﴿ٱقۡتَحَمَ﴾ کلمه د "اِقْتِحَام" ـلکه "اِکْتِسَاب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "اِقْتِحَام" په شدت او سرعت سره په یوه شي کښې داخلېدلو او یا ترې تېرېدلو ته وایي[۱].

ب: په همدغه ایت کښې د "عَقَبَة" کلمه د هغې سختې لارې دپاره وضعه شوې ده کومه چې په غره باندې ختلې وي[۲]، څه لرې نه ده چې مونږ ترې په پښتو کښې په "غاښي" سره تعبیر وکړو. مګر په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه په ﴿فَكُّ رَقَبَةٍ ۝ أَوۡ إِطۡعَٰمٞ﴾ سره تفسیره شوې ده.

شاید چې د دغو دواړو کارونو څخه به په "عَقَبَة" سره د دې کبله تعبیر نازل شوی وي چې دغه دواړه کارونه په ناشکره انسان باندې ډېر سخت او ګران وي.

ج: په ﴿فَكُّ رَقَبَةٍ﴾ کښې د "فَكّ" کلمه د ازادولو معنی ورکوي، چې کله ترې په "عِتْق" تعبیر

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۱۵۹؛ القاموس المحیط ج۳ ص۵۶۶
(۲) لسان العرب ج۱ ص۶۲۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کبدلی شي، د دغه کار (عِتق) په فضائلو کښې ډېر احادیث روایت شوي دي چې ځینو مفسرینو کرامو یې دلته بنه غټه مجموعه رانقله کړې ده[۱]، هیله ده چې علاقمندان هملته مراجعه وکړي.

د: په ﴿ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴾ کښې د "مَسْغَبَة" کلمه میمي مصدر ده او د عامې لوږې په معنی ده[۲].

ه: په ﴿ ذَا مَقْرَبَةٍ ﴾ کښې د "مَقْرَبَة" کلمه هم میمي مصدر ده چې د قُرب (نږدېوالي) معنی ورکوي (برابره خبره ده چې دغه نږدېوالی نسبي وي او یا د ګوانډیتوب نږدېوالی وي)[۳].

و: په ﴿ ذَا مَتْرَبَةٍ ﴾ کښې د "مَتْرَبَة" کلمه هم میمي مصدر ده چې د خاورو معنی ورکوي نو دلته د مسکین څخه هغه ناداره کس مطلب دی کوم چې فرش او ظرف نه لري او د مجبوریت د کبله په خاورو باندې ناسته ولاړه کوي[۴].

ز: په ﴿ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴾ کښې د "مُوصَدَة" کلمه اسم مفعول مونث ده او د "اِيْصَاد" ـ لکه "اِكْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د دروازې تړلو او قلف کولو ته ویل کېږي[۵]. یعنې په اصحاب الشمال باندې داسې اور مسلط کړی شوی دی د کوم چې دروازې قلف او بندې وي نو په دائمي توګه به هلته په توره تیاره کښې معذبېږي.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ د ﴿ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ الآیة په ﴿ اقْتَحَمَ ﴾ باندې عطف دی او د "ثُمَّ" توری د ذکري تراخي دپاره دی[۶]، ته به وایې چې داسې عبارت: "فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ وَلَا آمَنَ بِآيَاتِنَا" نازل شوی دی. یعنې ناشکره انسان نه په سخت غاښې باندې وخوت او نه یې زمونږ په ایتونو ایمان راووړ.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایې چې: په ﴿ أُوْلَئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴾ کښې د ﴿ أُوْلَئِكَ ﴾ په کلمې سره کومو کسانو ته اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: په ذکرې شوې کلمې سره شکرګزارانو بندګانو ته اشاره ده په کومو باندې چې ایتونه په ضمني توګه دلالت کوي.

په همدې ځای د "الْبَلَد" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْ أَصْحَابِ الْمَيْمَنَةِ.

۱۴۲۶/۱/۱۶ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۲/۶ هـ ش.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۱۳
(۲) مفردات الراغب ص۱۳۹
(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۱۳۸
(۴) الدر المنثور ج۸ ص۵۲۵
(۵) القاموس المحیط ج۱ ص۱۵۲
(۶) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۰۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الشمس (۹۱)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (الشمس) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی.

۲ـ دا سورت د مفسرینو کرامو په اتفاق سره مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه پنځلس (۱۵) ایتونه دي[۲].

۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېر څلور پنځوس (۵۴) کلمو ته رسېږي[۳].

۵ـ د دې سورت د حرفونو شمېر دوه سوه او اویا (۲۷۰) حرفه ده[۴].

۶ـ د وړاندیني سورت (البَلَد) سره يې تناسب دا دی چې دا سورت هم د هغه سورت غوندې مکي سورت دی، او د هغه سورت په څېر په سوګندونو باندې پیل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَٱلشَّمْسِ وَضُحَىٰهَا ۝١ وَٱلْقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ۝٢ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ۝٣ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰهَا ۝٤ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ۝٥ وَٱلْأَرْضِ وَمَا طَحَىٰهَا ۝٦ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّىٰهَا ۝٧ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَىٰهَا ۝٨ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝١٠ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] په لمر سوګند دی او د لمر په رڼا (سوګند) دی.

[۲] او په سپوږمۍ (سوګند) دی چې کله (په طلوع سره) د لمر پیروي (اتباع) وکړي.

[۳] او په ورځ (سوګند) دی چې کله لمر ښه څرګند کړي (او ورځ ښه پخه شي).

[۴] او په شپه (سوګند) دی چې کله لمر پټ کړي (او رڼا يې ورکه کړي).

[۵] او په اسمان (سوګند) دی او هم په هغه اقدس ذات ﷻ باندې (سوګند) دی چې اسمان يې (په عجیب کیفیت سره) جوړ کړی دی.

[۶] او په ځمکه (سوګند) دی او هم په هغه اقدس ذات ﷻ باندې (سوګند) دی چې ځمکه يې (د خلکو د معیشت دپاره) غوړولې ده.

[۷] او په انساني نفس (سوګند) دی او هم په هغه اقدس ذات ﷻ باندې (سوګند) دی چې

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۱۰

(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۹۱

(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۱۷

(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۳۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



انساني نفس یې (د اندامونو او استعدادونو د حیثه) برابر کړی دی.

[۸] نو (انساني نفس ته) یې د هغه عصیان او تقوی ورښودلې ده (او په ښه او بده لاره یې پوه کړی دی).

[۹] (سوګند دی) چې یقینًا هغه چا کامیابي مونده کړه چې خپل خان یې د (کفریاتو او معاصیو څخه) تزکیه کړ (او بچ یې ترې وساته).

[۱۰] او یقینًا هغه څوک نا اُمید (او ناکام) شو چې خپل خان یې (په معاصیو او کفریاتو کښې) پټ کړ (او پکښې احاطه یې کړه).

## ارتباط او توضیحات

۱_ د وړاندېنې سورت (الْبَلَد) په وروستنیو ایتونو کښې خلک په دوه وو ډلو وېشلي شوي وه چې یوه ډله اصحاب الیمین وه او بله ډله اصحاب الشمال وه.

د دې سورت (الشَّمْس) په ذکرو شوو ایتونو کښې د همدغه وېش په بنیاد په اثبات رسول شوې ده چې انسان د نېکو او بدو دواړو استعداد لري.

۲_ په ﴿ وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ﴾ کښې د "ضُحَى" کلمه د لمر خورېدلو ته وضعه شوې ده[۱]، خو په دې مقام کښې عبد الله عباس رضي الله عنهما د لمر په رڼا سره تفسیره کړې ده[۲]. یعني په لمر سوګند دی او هم د لمر په رڼا سوګند دی.

۳_ په ﴿ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ﴾ کښې د "تَلَى" کلمه د "تُلُوّ" _لکه "عُتُلّ"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اتباع او پیروۍ معنی ورکوي[۳]، دغه پیروي لاندې دوه صورتونه درلودلی شي[۴]:

الف: د لومړنیو درې شپو میاشتې په غروب سره د لمر د غروب اتباع کوي چې لږ وخت وروسته د لمر غونډې لوېږي.

ب: په څوارلسمې او نورو رڼو شپو کښې سپوږمۍ په طلوع سره د لمر د غروب اتباع کوي او ډېر لږ وخت وروسته ورپسې راخېژي.

مګر مونږ ته په دې مقام کښې غوره برېښي چې دوهم صورت مراد کړی شي. او دا څکه چې:

په اولنې صورت باندې په عربي محاوره کښې د "قَمَر" د کلمې اطلاق نه کېږي بلکې د "هلال" د کلمې په نامه یادېږي. یعني په سپوږمۍ باندې سوګند دی البته کله چې څوارلسمې او نورو رڼو شپو ته ورسېږي.

۴_ په ﴿ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ۝ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰهَا ﴾ کښې د "هَا، هَا" دواړه ضمیرونه د "الشَّمْس"

---

(۱) مفردات الراغب ص ۳۰۱
(۲) الدر المنثور ج ۸ ص ۵۲۸
(۳) لسان العرب ج ۱۴ ص ۱۰۲
(۴) تفسیر القرطبي ج ۲۰ ص ۷۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کلمې ته راجع دی[۱]. یعنې په ورځ باندې سوګند دی البته کله چې لمر ښه پوره ځرګند کړي او رڼا یې ښه پوره موج ته ورسېږي، او هم په شپه باندې سوګند دی البته چې لمر ښه پوره پټ کړي او تیاره ښه پوره زیاته شي.

## "مَا" د "الَّذِي" معنی ورکوي

۵ـ علماوو کرامو[۲] په دې ګومان چې د "ما" کلمه د غیر ذو العلمو (غیر ناطقو) پورې اختصاص لري په ﴿ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ۝ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا ۝ وَنَفۡسٖ وَمَا سَوَّىٰهَا ﴾ کښې یې د "مَا، مَا، مَا" درې واړه کلمې د مصدریت دپاره ګڼلې دي.

مګر سمه خبره دا ده چې ذکره شوې کلمه په ذو العلمو کښې هم استعمالېږي[۳] او په قرآن کریم کښې هم همدا استعمال نازل شوی دی چې: ﴿ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ﴾ [الكافرون:۳] یعنې ای پیغمبره! کفارو ته ووایه چې او تاسو د هغه الله ﷻ عبادت کوونکي نه یاست چې زه یې عبادت کوم.

نو په دې مقام کښې ذکرې شوې درېواړه کلمې هره یوه د "الَّذِي" په تاویل سره د الله ﷻ څخه کنایي دي[۴].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ وَمَا طَحَىٰهَا ﴾ کښې د "طَحَىٰ" کلمه د "طَحْوٌ" ـلکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د خورولو او غوړولو معنی ورکوي[۵]. یعنې په ځمکه باندې سوګند دی او په هغه اقدس ذات ﷻ باندې سوګند دی چې ځمکه یې د خلکو د معیشت دپاره خوره کړې او غوړولې ده.

## "الهام" څه معنی؟

۶ـ په ﴿ فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ﴾ کښې د "أَلْهَمَ" کلمه د "اِلْهَام" ـلکه "اِکْرَام"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په بیان سره تفسیره کړې ده[۶]. یعنې الله ﷻ هر انسان ته د خیر او شر دواړه لارې وښودلې او ورته بیان یې کړې.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې هم اشاره شوې ده چې: ﴿ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ﴾ [البلد:۱۰] یعنې او مونږ انسان ته دوه (د خیر او شر) لارې ښودلې دي.

## یو صرفي تحلیل

۷ـ په ﴿ مَن دَسَّىٰهَا ﴾ کښې د "دَسَّ" کلمه په اصل کښې "دَسَّسَ" ـلکه "کَرَّمَ"ـ وه چې د "س" درې

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۶۳
(۲) زاد المسیر ج۸ ص۲۵۷؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۴۹۲
(۳) لسان العرب ج۱۵ ص۴۷۱
(۴) مفردات الراغب ج۱۰ ص۴۸۶
(۵) مفردات الراغب ص۳۱۱
(۶) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۲۱۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



توري يې درلوده، د دې کلمې د مجردو مصدر "دَسّ" ـ لکه "مَدّ" ـ دی چې د پټولو او دفنولو معنی ورکوي[۱]. بیا دریم د "س" توری په "ي" سره تبدیل کړی شو لکه چې په "تَقَضَّى الْبَازِي" کښې د "تقضى" کلمه په اصل کښې "تَقَضَّضَ" وه خو دریم "ض" یې په "ي" سره تبدیل شو[۲]. یعني باز په ښکار باندې ورالوتی (ورلوېدلی) وه.

## د سوګندونو جواب

۸ـ وړاندې یوولس سوګندونه ذکر دي، که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د دغو ټولو سوګندو جواب مقدر ګڼلی دی[۳] خو بهتره دا ده چې تقدیر ته څه اړتیا نشته او د ټولو دپاره د ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴾ جمله د خپلې معطوفې جملې ﴿ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ﴾ سره جواب واقع شوې ده[۴]. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

الله ﷻ شهادت ورکوي چې د اسمان جوړوونکی دی او د ځمکې خوروونکی دی او هم د انساني نفس د استعداداتو برابروونکی دی. او همدارنګه لمر او د لمر رڼا او هم سپوږمۍ او ورځ او هم شپه، او اسمان او هم ځمکه او انساني نفس، دا ټول شهادت ورکوي چې یقیناً هغه څوک کامیاب شو چا چې خپل ځان تزکیه کړ او د معاصیوو او کفریاتو څخه یې بچ وساته، او یقیناً هغه څوک ناکام شو چا چې خپل ځان په معاصیوو او کفریاتو کښې پټ او دفن کړ.

د شهادت وضاحت یې دا دی چې: که بالفرض دنیا په پای کښې تصفیه نه درلودی او د الله ﷻ په نزد د متقي او فاجر ترمنځ توپیر موجود نه وی، نو ذکرو شوو انتظاماتو ته به الله ﷻ صورت نه وی ورکړی چې په دغه تقدیر سره به ټول انتظامات عبثیات وي او الله ﷻ د عبثیاتو څخه پاک او منزه دی.

﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَىٰهَآ ﴿١١﴾ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشْقَىٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقْيَٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴾

[۱۱] ثمودیانو د خپلې ډېرې زیاتې سرکشۍ د امله (صالح ؑ ته) د دروغو نسبت وکړ (چې ته رښتیانی پیغمبر نه یې).

[۱۲] کله چې د دغې قبیلې ډېر بدبخته سړی (د ټولو په مشوره) پورته شو (چې اوښه قتله کړي).

(۱) القاموس المحيط ج۲ ص۱۷۸
(۲) لسان العرب ج۷ ص۲۱۹
(۳) تفسير الكشاف ج۴ ص ۷۶۰
(۴) تفسير ابو السعود ج۹ ص۱۶۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۳] نو هغوی ته د الله ﷻ پیغمبر (صالح ﷺ) وویلې چې تاسو د الله ﷻ (د معجزې) اوښه د خوړولو د څپل (نوبت) سره پرېږدئ (ضرر مه ورسوئ).

[۱۴] نو هغوی صالح ﷺ تکذیب کړ نو اوښه یې (د بدبخته سړي په لاس) زخمي کړه، نو د خپلې ګناه په سبب ورباندې خپل رب ﷻ په غضب شو نو ټوله قبیله یې (په عذاب کښې) برابره وګرځوله (ټوله یې د ځرمې هلاکه کړه).

[۱۵] او د دې قبیلې رب ﷻ د هغوی د عاقبت څخه ونه ډار شو (او نه ورسره ډار تناسب درلود).

## ارتباط او توضیحات

۱ـ په دې ایتونو کښې د ناکامو کسانو د یوه مثال ذکر نازل شوی دی کومو ته چې د وړاندېنیو ایتونو په وروستني ایت کښې اشاره شوې وه.

۲ـ د ثمودیانو قیصه په نورو سورتونو کښې (لکه الأعراف، هُود او نور) تېره شوې ده نو هیله ده چې د تفصیل دپاره هملته مراجعه وکړی شي.

۳ـ که څه هم په ﴿ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِطَغۡوَىٰهَآ ﴾ کښې د "طَغۡوَى" کلمه د "طَغَا يَطۡغُو" ـلکه "دَعَا يَدۡعُو"ـ د باب څخه مشتقه شوې ده او د هغه شي دپاره صفتي اسم ده کوم چې د عادي اندازې څخه تجاوز کړی وي[۱]، مګر په مصدري معنی سره هم استعمالېږي[۲] چې په دې تقدیر د طغیان او عصیان سره مرادفه ګرځي. او په دې مقام کښې همدغه استعمال مطلب دی[۳].

یعني ثمودیانو د خپلې هغې سرکشۍ په سبب د صالح ﷺ تکذیب وکړ کومه چې د عادي اندازې څخه اووښتې وه او د چتې وتلې وه.

۴ـ نبي کریم ﷺ د ﴿ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشۡقَىٰهَا ﴾ په ارتباط په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «انْبَعَثَ لَهَا رَجُلٌ عَزِيزٌ عَارِمٌ مَنِيعٌ فِي رَهْطِهِ»[۴] یعني د معجزې اوښې (د وژلو) دپاره یو کلک خبیث او په قوم کښې مخور سړی ورپورته شو (او د ټولو په مشوره یې اوښه قتله کړه).

د دغه خبیث سړي نوم "قدار بن سالف" وه[۵].

۵ـ د ذکرې شوې اوښې په هکله د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۷۷] ایت لاندې څه معلومات لیکلی شوي دي، هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

### "دَمۡدَمَة" څه معنی؟

۶ـ په ﴿ فَدَمۡدَمَ عَلَيۡهِمۡ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمۡ فَسَوَّىٰهَا ﴾ کښې د "دَمۡدَمَ" کلمه د "دَمۡدَمَة" ـلکه "دَحۡرَجَة"ـ

---

(۱) القاموس المحیط ج۳ ص۸۰
(۲) لسان العرب ج۱۵ ص۸
(۳) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۶۴
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۷؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۲
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۱۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه اشتقاقه شوې ده چې د غضب کېدلو معنی ورکوي[۱]. یعنې په ثمودیانو باندې د خپلو جنایاتو د کبله خپل رب ﷻ په غضب شو نو (داسې عذاب یې ورباندې ورنازل کړ چې) ټول یې د ځرمې هلاک کړه او یو برابر یې وګرځول.

## هېر مو نه شي

۷_ هېر مو نه شي چې په ﴿ وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴾ کښې د "لَا يَخَافُ" مستتر ضمیر ځینو علماوو کرامو صالح ﷺ او ځینو د اوښې وژونکي ته راجع ګڼلی دی[۲]. خو عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې دغه ضمیر په وړاندېنۍ ایت کښې د ﴿ رَبُّهُم ﴾ کلمې ته راجع دی[۳]. یعنې د ثمودیانو رب ﷻ د خرمي هلاک کړ او د دنیاوي مجازي پاچاهانو غوندې یې د عاقبت څخه ونه ډار شو چې د دغه هلاک څخه به را ته څه مشکل پېښ شي، او نه یې د شان سره ډارېدل څه مناسبت درلود.

په همدغه ځای د "الشَّمْس" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ قَدْ زَكُّوا اَنْفُسَهُمْ.

۱۴۲۶/۱/۲۱ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۲/۱۱ هـ ش.

(۱) القاموس المحيط ج۲ ص۲۱۰
(۲) زاد المسير ج۸ ص۲۶۰
(۳) تفسير الطبري ج۳۰۹ ص۲۱۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الليل (۹۲)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


# سریزه

۱_ د دې سورت نوم (اللَّيْل) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی.
۲_ دا سورت د جمهورو مفسرینو کرامو په نزد مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[1].
۳_ د دې سورت د ایتونو شمېر یو وېشت (۲۱) دی[2].
۴_ د دې سورت د کلماتو شمېر یو اویا (۷۱) دی[3].
۵_ د دې سورت د حرفونو شمېر درې سوه او لس (۳۱۰) دی[4].
۶_ دا سورت (اللَّيْل) د وړاندېني سورت (الشَّمْس) سره په کلماتو او مضامینو کښې زیات شباهت لري. د مثال په توګه:
هلته انسان په دوه ډوله تقسیم شوی وه او دلته همدغو دواړو ډولونو ته د څرنګوالي او نتایجو په لحاظ زیات تفصیل ورکړی شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ ﴿١﴾ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ ﴿٣﴾ إِنَّ سَعْيَكُمْ
لَشَتَّىٰ ﴿٤﴾ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٧﴾
وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسْتَغْنَىٰ ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْعُسْرَىٰ ﴿١٠﴾ وَمَا يُغْنِى عَنْهُ
مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ﴿١١﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] په شپه باندې سوګند دی کله چې (هر شی) پټ کړي (او ښه تیاره شي).
[۲] او په ورځ باندې (سوګند) دی کله چې ښه روښانه شي.
[۳] او په هغه اقدس ذات ﷻ باندې (سوګند) دی چې نر او ښځه (نارینه او زنانه) يې پیدا کړي دي.
[۴] چې يقيناً ستاسو کوښښ (عملونه) متفرق (او راز-راز) دي.
[۵] نو هر هغه څوک چې (د الله ﷻ په لاره کښې) ورکړه کوي او (د الله ﷻ څخه) داريږي،

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۳۱۵
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۹۴
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۲۱
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۳۶۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶] او په ښایسته ملت (اسلام) سره تصدیق (او باور) کوي،

[۷] نو ژر ده چې مونږ به نوموړي ته د اسان خصلت خپلولو دپاره اساني ورکړو.

[۸] او هر هغه څوک چې شومتیا کوي او (د الله ﷻ څخه) بې پروایي کوي (ترې نه ډارېږي)،

[۹] او ښایسته ملت (اسلام) ته د دروغو نسبت کوي،

[۱۰] نو ژر ده چې مونږ به نوموړي ته د سخت خصلت خپلولو دپاره اساني ورکړو.

[۱۱] او د نوموړي څخه به خپل مال (د عذاب) د هیڅ شي مخنیوی ونه کړي، (البته) کله چې (په معنوي هلاک سره) هلاک شي او په کنده کښې ولوېږي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

مونږ د الله ﷻ په توفیق د دې سورت په سریزه کښې لیکلي دي چې دا سورت د وړاندیني سورت (الشَّمس) دپاره د تفصیل مثال لري. نو حاصل یې داسې راځېژي:

۱ـ په شپه باندې سوګند دی البته کله چې ښه پوره تیاره شي او هر شی پټ کړي او هم په ورځ باندې سوګند دی البته کله چې ښه پوره روښانه شي او هغه ټول شیان رالوڅ کړي کوم چې شپې پټ کړي وه. او بالآخره په هغه اقدس ذات ﷻ باندې سوګند دی چې د یوې نطفې څخه یې په یوه رحم کښې نارینه او زنانه دواړه بنیادمان پیدا کړي دي.

۲ـ په دغو باندې سوګند دی چې: ای انسانانو! یقینًا په دنیا کښې ستاسو کړه وړه مختلف دي او یو برابر نه دي، نو نظر دغه اختلاف ته تاسو په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلي شوي یاست:

۳ـ یو هغه انسان دی چې لاندې کارونه غوره کوي:

الف: چې شومتیا نه خپلوي او د خپلو مالونو څه برخه د الله ﷻ په لاره کښې او د الله ﷻ د رضامندۍ د لاسته راوړلو دپاره خرڅوي او مستحقینو ته یې ورکوي.

ب: چې د الله ﷻ څخه ډارېږي او د کفریاتو او مناهیوو څخه ډډه کوي.

ج: چې په غوره ملت باندې عقیده لري او د قیامت په قیام او حساب کتاب باندې باوري وي.

نومونږ د دغه انسان دپاره داسې خاصیت خپلولو ته اساني ورکوو چې د اُخروي اسانیو بنیاد دی چې نه به وربادې په قبر کښې سختي وي او نه په محاسبه او محشر کښې بلکې په ډېره خوشالۍ او راحت سره به جنت ته داخل شي.

۴ـ بل هغه انسان دی چې لاندې تګلاره یې خپله کړې وي:

الف: چې بخل او شومتیا کوي او د الله ﷻ په لار کښې د انفاق څخه ډډه کوي.

ب: چې د الله ﷻ څخه بې پروا وي او ترې نه ډارېږي نو نه د کفریاتو څخه په څنګېږي او نه د شرکیاتو څخه.

ج: چې په غوره ملت باندې عقیده نه لري او د جنت خوشالي ورته دروغ برېښي بلکې د بعث بعد الموت څخه انکاري وي.

نو د دغه انسان دپاره به مونږ هرومرو د داسې خاصیت د خپلولو دپاره اساني ورکړو چې د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخروي سختیو او ستونزو بنیاد دی نو هم به په قبر او هم به د حشر په میدان او بالآخره هم به په دوزخ کښې په دائمي توګه په سختیو کښې اخته وي.

په دغه وخت کښې به نوموړي ته خپل هغه مال په درد دوا نه شي او د عذاب مخه به ترې وانه ړوي په کوم باندې يې چې بخل او شومتيا کړې وه او د غرور او تکبر سبب يې جوړ شوی وه.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ ﴾ ایت د ذکرو درېواړو سوګندونو دپاره جواب واقع شوی دی. یا په بل عبارت: لکه چې شپه د ورځې څخه په ذات او هم په نتايجو کښې جدا ده او لکه چې نارینه د زنانه وو څخه په ذات او هم په نتائجو کښې جدا دي، دارنګه مؤمن انسان د کافر انسان څخه په تګلارې او هم په نتائجو کښې جدا او بېل دی.

لنډه دا چې د هغو بېلتون د دغو دواړو په بېلتون باندې شهادت ورکوي او دلالت پرې کوي.

## څو نکات

۲ـ په دې مقام کښې باید څو نکات په ذهن کښې وساتل شي کومو ته چې د الله ﷻ په توفیق وړاندې د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده. هغه دا چې:

الف: په ﴿ وَصَدَّقَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴾ او ﴿ وَكَذَّبَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴾ کښې د "اَلْحُسْنٰى، اَلْحُسْنٰى" دواړه کلمې هره یوه د مقدر موصوف دپاره صفت واقع شوې ده. چې د همدغه مقدر موصوف څخه په "كَلِمَةُ التَّوْحِيد" یا په "مِلَّةَ الْإِسْلَام" او یا نورو الفاظو سره تعبیر کېدلی شي[1].

ب: په ﴿ لِلْيُسْرَىٰ ﴾ کښې د "اَلْيُسْرَى" کلمه هم د مقدر موصوف دپاره صفت ده چې په "اَلْخِصْلَةُ الْيُسْرَى" یا "الطَّرِيقَةُ الْيُسْرَى" سره ترې تعبیر صورت نیولی شي[2].

دغه اسلامي خصلت ته د دې کبله دغه لقب (ډېر اسان) ورکړی شوی دی چې دا خصلت په دنیا او آخرت کښې د اسانیو او خوشالیو بنیاد دی.

ج: په ﴿ لِلْعُسْرَىٰ ﴾ کښې د "اَلْعُسْرَى" کلمه هم د مقدر موصوف دپاره صفت واقع شوې ده چې په "اَلْخِصْلَةُ الْعُسْرَى" یا "الطَّرِيقَةُ الْعُسْرَى" سره تعبیربدلی شي.

نو کفري خاصیت څکه د "اَلْعُسْرَى" (ډېر سخت) په نامه یاد شوی دی چې دغه خاصیت په دنیا او آخرت کښې د سختیو او مشکلاتو اساس دی.

## ماثور تفسیر

۳ـ په دې مقام کښې څینو مفسرینو کرامو[3] د احادیثو یوه مجموعه راغونډه کړې ده چې د

(۱) روح المعاني ج۳۰ ص۱۴۸
(۲) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۶۶؛ اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۳۷۳
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۱۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایتونو په تفسیر پورې ارتباط لري. هیله ده چې لوستونکي همدلته مراجعه وکړي، خو موږ فقط د لاندې یوه حدیث په ذکر باندې اکتفاء کوو چې:

نبي کریم ﷺ په خپل یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فکلٌ میسرٌ أمّا أهلُ السّعادةِ فییسّرون لعمل أهلِ السّعادةِ وأمّا أهلُ الشّقاوةِ فییسّرون لعمل أهلِ الشّقاوة» یعنې ای صحابه کرامو نو ستاسو هر یوه کس ته اساني درکړی شوې ده، نو هر چې نېکبخته دي نو هغوی ته د نېکبختانو د عمل دپاره اساني ورکوله کېږي، او هر چې بدبخته دي نو هغوی ته د بدبختانو د عمل دپاره اساني ورکوله کېږي. «ثمّ قرأ ﴿فأمّا من أعطی واتّقی...﴾ الآیات»[1] یعنې بیا نبي کریم ﷺ ذکر شوي ایتونه د استشهاد دپاره قرائت کړه.

﴿إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ ﴿١٣﴾ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ ﴿١٩﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾﴾

[۱۲] یقیناً په موږ باندې هدایت (د سمې لارې ښوونه) دي.

[۱۳] او یقیناً وروستنی کور او اولنی کور (دواړه دنیاوې) خاص موږ ته دي (زموږ ملکیت دي).

[۱۴] نو زه تاسو د داسې اور (دوزخ) څخه ډاروم چې سختې لمبې وهي

[۱۵] دغه (سخته لمبه وهونکي اور) ته نه داخلېږي مګر ډېر بد بخت بنیادم

[۱٦] (البته) هغه بنیادم کوم چې پیغمبر ﷺ تکذیبوي او (د شریعت څخه) مخ اړوي.

[۱۷] او ژر ده چې د دغه اور څخه ډېر پرهېزګار ډډه وکړي (ترې په څنګ شي).

[۱۸] (البته) هغه ډېر پرهېزګار چې خپل مال ورکوي (نرخو بري) پاک شي.

[۱۹] په داسې حال کښې چې د ده په نزد هیڅا نه څه نعمت (او ورکړه) نه وي (داسې نعمت) چې بدله یې ورکوله کېږي (او د ده یکښې د هغوی له لورې شکریه مطلب وي).

[۲۰] (بلکې نوموړی د مال په ورکړې سره هیڅ شی نه غواړي) مګر د خپل لوی رب ﷻ د رضامندۍ غوښتنه (کوي او بس).

[۲۱] او ژر ده چې نوموړی به (د خپل رب ﷻ د عوضونو په ورکړه) راضي (او خوشاله) شي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې حاصل یې داسې راځي:

۱_ ای بنیادمانو! تاسو د خپلو اعمالو او کړو وړو په لحاظ په ذکرو شوو دوه وو ګروپونو باندې وېشلې شوي یاست. که نه نو ستاسو ټولو هدایت او لارښوونه موږ په خپل اقدس ذات باندې تفضلاً

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضروري ګرځولې ده او دغه ضرورت مو پوره کړی هم دی چې پیغمبران مو درلېږلي دي او کتابونه او شریعتونه مو درنازل کړي دي او هم مو په عقلونو سره د نورو حیواناتو څخه تاسو جدا کړي یاست.

۲ـ ای بنیادمانو! ستاسو په طغیان سره مونږ ته کوم ضرر هم نه رسېږي او نه د ضرر رسېدلو امکان شته چې د دنیا او آخرت ټوله واکداري فقط په مونږ پورې اختصاص لري او بس.

هو! د طغیان په صورت کښې تاسو فقط خپلو ځانونو ته ضرر رسوئ او بس.

۳ـ نو په همدې بنیاد زه تاسو د هغه اور (دوزخ) څخه یو خل بیا ډاروم کوم چې ډېرې تېزې لمبې وهي، کوم ته چې نه داخلېږي مګر هغه بدبخته او بدنصیبه بنیادم چې د هدایت تکذیب کوي او د توحیدي عقیدې څخه مخ اړوي او هم د خپل رب ﷻ څخه نه ډارېږي.

۴ـ ای بنیادمانو! ډېر ژر ده چې د دغه شدید او سخت اور څخه هغه څوک څنګ وکړي او خپل ځان ترې بچ کړي کوم چې د لاندې خاصیتونو درلودونکی وي:

الف: چې د خپل رب ﷻ څخه ډېر ډارېدونکی وي او د کفریاتو او منهیاتو څخه ډډه کوي.

ب: چې بخل نه کوي بلکې خپل مال د دې دپاره فقیرانو او مستحقینو ته ورکوي ترڅو وریاندې خپل ځان د ګناهونو څخه تزکیه او پاک کړي.

ج: کومو فقیرانو ته چې نوموړی خپل مال ورکوي د هغوی د یوه کس د پلوه هم د ده په نزد کوم نعمت او کوم احسان موجودیت نه لري چې په خپلې ورکړې سره یې بدله او مکافات په نظر کښې نیولې وی.

د: لنډه دا چې نوموړی په خپلې مالي ورکړې سره هیڅ شی نه غواړي مګر د خپل عالي شان رب ﷻ رضامندي غواړي او بس.

۵ـ نو ای پیغمبره! هرڅوک چې ذکر شوی اخلاص خپل کړي نو ډېر ژر ده چې برسېره په نجات به ورته د خپل رب ﷻ د پلوه دومره نعمتونه ورکړی شي چې وریاندې به خوښ او خوشاله شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴾ کښې د ﴿ تَلَظَّىٰ ﴾ کلمه چې اصلاً "تَتَلَظَّى" وه، د "لَظَى" ـلکه "غضی"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د سوچه او تېزو لمبو معنی ورکوي[۱]، په همدې ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [المعارج:۱۵] ایت لاندې څه نور وضاحت هم تېر شوی دی.

## ماثور تفسیر

۲ـ د ﴿ لَا يَصْلَىٰهَآ إِلَّا ٱلْأَشْقَى ﴾ ایت په ارتباط یو خل نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِلَّا شَقِيٌّ» یعنې اور ته نه داخلېږي مګر بدبخت بنیادم.

چا پوښتنه وکړه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! وَمَنِ الشَّقِيُّ؟» ای د الله رسوله! بدبخت بنیاذم څوک دی؟

[۱] مفردات الراغب ص۰ ۴۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ په جواب كښې وويلې چې: «مَنْ لَمْ يَعْمَلْ لِلّهِ بِطَاعَةٍ وَلَمْ يَتْرُكْ لَهُ مَعْصِيَةً»[۱] يعنې دا هغه څوک دی چې الله ﷻ ته يې هيڅ اطاعت نه وي کړی او د همده ﷻ دپاره يې هيڅ ګناه نه وي پرېښې.

## سوال جواب

۳ـ كه څوک وايي چې: د پورتنيو دواړو ايت او حديث څخه د سړي په ذهن كښې ګرځي چې دوزخ ته داخلېدل په كفارو پورې انحصار لري، نو ايا عاصي مؤمن ته د دوزخ د داخلېدلو احتمال نشته؟

مونږ وايو چې: ذكر شوي حصر د خاص دوزخ په نسبت صورت نيولی دی كوم چې په ﴿ تَلَظَّىٰ ﴾ سره توصيف شوی دی، نه د مطلق دوزخ په نسبت ترڅو ذكر شوی اعتراض وارد شي.

## شان نزول

۴ـ د اكثرو مفسرينو كرامو په نزد د ﴿ وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلْأَتْقَى ﴾ څخه تر ﴿ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴾ پورې پنځه ايتونه د ابو بكر الصديق ﷺ په هكله نازل شوي دي چې داسې غلامان به يې دمشركانو څخه اخستل او بيا به يې ازادول كوم به چې د هغوی د پلوه تعذيبېدل چې د اسلام څخه بېرته كفر او شرک ته وګرځي، لكه بلال ﷺ او داسې نور[۲].

مګر د مفهوم په لحاظ سره دا ايتونه د قيامت تر ورځې پورې هغو ټولو كسانو ته شامل دي چې په اخلاص سره مالي عبادت كوي.

## د غار دوه ملګري

۵ـ د [التوبة: ۴۰] ايت په بنياد نبي كريم ﷺ او ابو بكر الصديق ﷺ د غار دوه ملګري وه چې دواړو ته د الله ﷻ د پلوه د خوشالۍ بشارت وركړی شوی دی. هغه دا:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ﴾ [الضحى:۵] يعنې ای پيغمبره! هرومرو ژر ده چې تاته به خپل رب ﷻ (د هر نعمتونه) دركړي نو ته به ورباندې خوښ او خوشاله شې.

ب: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴾ [الليل: ۲۱] يعنې او هرومرو ژر ده چې (نوموړي "ابو بكر الصديق ﷺ" ته به د خپل رب ﷻ د پلوه نعمتونه وركړی شي) نو هغه به ورباندې خوښ او خوشاله شي.

په همدې ځای د (اللَّيْل) سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.
اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ يُؤْتُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمُ الْأَعْلَى وَلَسَوْفَ يَرْضَوْنَ بِمَا يُعْطَوْنَ.
۱۴۲۶/۱/۲۳ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۲/۱۳ هـ ش.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۱۸
(۲) تفسير القرطبي ج۲۰ ص۹۰؛ الدر المنثور ج۸ ص۵۳۷؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۵۲۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الضحی (۹۳)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت (الضُّحَی) نوم د همدې سورت لومړنی ایت دی.

۲_ دا سورت د مفسرینو کرامو په اتفاق سره مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی(۱).

۳_ د دې سورت د ایتونو تعداد یوولسو (۱۱) ایتونو ته رسیږي(۲).

۴_ د کلماتو شمېر فقط څلوېښت (۴۰) دی(۳).

۵_ د حرفونو شمېر یې یو سلو دوه اویاوو (۱۷۲) ته پورته شوی دی(۴).

۶_ په دې سورت کښې د تېر وخت په لحاظ نبي کریم ﷺ ته دا بشارت ورکړی شوی دی چې ستا څخه خپل رب ﷻ راضي دی، او د راتلونکي وخت په ملحوظ ورته وعده ورکړه شوې ده چې ستا حالات به روزمره مخ په ترقۍ روان وي.

۷_ په وړاندېنې سورت (اللَّیْل) کښې د مشرکانو عنادي هلو ځلو ته اشاره شوې وه او په دې سورت (الضُّحَی) کښې هغوی په غوږ وهلی شوي دي چې ستاسو عنادي هلې ځلې مطلوبه نتیجه نه شي ورکولی او د اسلام د پرمختګ مخه نه شي نیولی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلضُّحَىٰ ۝١ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ۝٣ وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ
ٱلۡأُولَىٰ ۝٤ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ۝٥ أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ۝٦ وَوَجَدَكَ
ضَآلّٗا فَهَدَىٰ ۝٧ وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ۝٨ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ۝٩ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا
تَنۡهَرۡ ۝١٠ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ۝١١ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر رحم درلودونکي الله ﷻ په نامه.

[۱] په څاښت (او روښانه ورځ) سوګند دی.

[۲] او په شپه (سوګند) دی چې کله (د خوځېدونکو شیانو په لحاظ) ارامه شي.

[۳] چې (ای پیغمبره!) تاته خپل رب ﷻ رخصت نه دی درکړی (اوړیکي یې درسره نه دي شکولي) او نه درباندې په غضب شوی دی.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۲۰
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۴۹۷
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۲۵
(۴) تفسیر اللباب ج۲۰ ص۳۸۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴] او هرومرو ستا دپاره د دنیا څخه آخرت غوره دی.

[۵] او ضرور به تاته خپل رب ﷻ (په راتلونکي کښې د هر نعمتونه) درکړي نو ته به (وریاندې) خوښ (او راضي) شې.

[۶] ایا په تاباندې د خپل رب ﷻ علم نه وه چې ته یتیم وې نو پناځای یې درکړ؟.

[۷] او ستا رب ﷻ په تاباندې پوه وه چې ته (په شریعت باندې) ناخبره (او نابلده) وې نو ښودانه یې درته وکړه (د شریعت خاوند یې وګرځولې).

[۸] او ستا رب ﷻ په تاباندې پوه وه چې ته فقیر (او نادار) وې نو خپل رب ﷻ غني وګرځولې.

[۹] نو هر چې یتیم دی نو ته ورته قهر مه کوه.

[۱۰] او هر چې سوال کوونکی دی ته هغه مه رټه (مه یې خپه کوه).

[۱۱] او هر چې (ستا د رب ﷻ نعمت دی) نو ته د خپل رب ﷻ په نعمت باندې څرګندونه کوه (او شکرګزاري یې وکړه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت (اللَّيْل) په وروستني ایت کښې الله ﷻ متقیانو ته عموماً وعده ورکړې ده چې په بې شمېره نعمتونو باندې به خوشاله شي، او په دې سورت (الضُّحَى) کښې د متقیانو مشر (محمد ﷺ) ته خصوصاً په همدې وعدې باندې صراحت نازل شوی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د دې سورت په نزول سره د مشرکانو هغه خبره رده شوې ده چې محمد ﷺ ته خپل رب ﷻ رخصت ورکړی (ارتباط یې ورسره پرې کړی دی) او وریاندې په غُصه شوی دی[1]. البته هغوی دا خبره په هغه وخت کښې کوله چې کله د څه حکمتونو په بنیاد د وحې نزول لږ څه سوړ شو او ځنډ پکښې راغی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! ته د خپل رب ﷻ د پلوه څه ارشادات په نظر کښې ونیسه او خپل ځان وریاندې ډاډه او متسلي کړه هغه دا چې:

۱ـ ته د مشرکانو په دې خبره هیڅ پروا مه کوه او مه وریاندې غمژن کېږه چې: په محمد ﷺ باندې خپل رب ﷻ په غضب شوی دی او رخصت کړی یې دی نو د همدې امله یې وریاندې وحې قطعه کړې ده. ته خکه د هغوی خبرو اوپرو پاګندتهالتفات مه کوه چې:

الف: په څاښت او په رڼا ورځ سوګند دی او هم په توره شپه باندې سوګند دی البته چې کله پکښې چوپتیا خوره شي او ګرځېدونکي شیان پکښې ارام ونیسي، چې تاته نه خپل رب ﷻ رخصت درکړی دی او نه درباندې په غضب شوی دی.

یا په بل عبارت: د وحې سرپدل او لږ څه تالبدل د غضب څخه نمایندګي نه کوي بلکې لکه څنګه

[1] جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د ورځې او شپې بدلون رابدلون د حکمتونو په بنیاد صورت نیسي همدارنګه د وحې سوړوالی هم په حکمتونو باندې ولاړ دی.

ب: ته ډاډه اوسېږه چې ستا دپاره د دنیاوي حالت څخه اُخروي حالت ډېره غوره دی چې هلته به تاته خپل رب ﷻ دومره نعمتونه درکړي چې ته به وربانديې راضي او خوشاله شې.

که بالفرض د مشرکانو خبرو حقیقت درلودی (چې په تاباندې خپل رب ﷻ په غضب دی) نو حالت به دې بالعکس وی او ستا دپاره به د آخرت څخه دنیا بهتره وی، لکه څنګه چې د مشرکانو دپاره د آخرت څخه دنیا بهتره ده بلکې همدا دنیا ورته جنت ده اوبس.

۲ـ ای پیغمبره! په دنیا کښې هم ستا حالات مخ په ترقۍ وه او مخ په ترقۍ دي، چې د نن څخه دې سبا غوره ده. ته خو لاندې مثالونو ته متوجه شه:

الف: ایا ته خپل رب ﷻ یتیم نه وې موندلی؟ ایا په تاباندې پوه نه وه چې ستا پلار وفات شوی وه؟

هو، ستا پلار خو ستا د زېږېدنې څخه لا پخوا وفات شوی وه خو تاته خپل رب ﷻ روزونکي وټاکل او بې سرپرسته یې پرېنښودلې.

ب: ایا ته خپل رب ﷻ د شریعت څخه ناخبره نه وې موندلی؟ ایا ستا رب ﷻ پوه نه وه چې ته د شریعت څخه ناخبره وې او ورسره بلد نه وې؟.

هو، ته د دې څخه ناخبره وې چې تاته به شریعت درکولی کېږي او ته به پیغمبر ګرځولی کېږې.

خو تاته خپل رب ﷻ نبوت درکړ او قرآن کریم یې درباندې درنازل کړ او هم یې د شریعت هدایت درپېرزو کړ.

ج: ایا ته خپل رب ﷻ تنګلاسی نه وې موندلی؟ ایا په تاباندې یې علم نه درلود چې ته تنګلاسی او فقیر وې.

هو، ته یو وخت تنګلاسی وې خو خپل رب ﷻ درڅخه تنګلاسي ختمه کړه او غني یې وګرځولې او د غنا وسائل یې درته برابر کړه.

۳ـ ای پیغمبره! نو ته د شکرګزارۍ په بنیاد لاندې احکام عملي کړه:

الف: هر چې یتیم دی نو ته په هغه باندې مه په غضب کېږه، ته هم په یو وخت کښې یتیم وې او خپل رب ﷻ د مهربانانو په غېږ کښې پنا درکړه.

ب: هر چې سوالګر او تنګلاسی دی نو ته یې مه رټه او مه یې خپه کوه چې ته هم په یو وخت کښې تنګلاسی وې خو خپل رب ﷻ درڅخه تنګلاسي ختمه کړه.

ج: بالآخره، هر چې په تاباندې د خپل رب ﷻ نعمت دی نو د هغه څرګندونه کوه او د دعوت په اشاعت سره یې شکریه وکړه، چې په یو وخت کښې ته د دغه نعمت (نبوت) درلودونکی نه وې خو خپل رب ﷻ درباندې فضل وکړ او د آخر الزمان پیغمبر په حیث یې مبعوث کړې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ﴾ کښې د ﴿ سَجَىٰ ﴾ کلمه د "سُجُوًّا" ـ لکه "عُلُوًّا" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د ارام او سکون معنی ورکوي[1]. یعنې په شپه سوګند دی کله چې د خوربدونکو مخلوقاتو په لحاظ ساکنه شي او ارام واخلي (چوپه چوپتیا خوره شي).

او په ﴿ وَمَا قَلَىٰ ﴾ کښې د "قَلَی" کلمې د "قِلَی" ـ لکه "بغی" ـ یا "قِلاء" ـ لکه "کِساء" ـ څخه اشتقاق موندلی او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الشعراء:۱۶۸] ایت لاندې لیکلي دي چې دغه مصدرونه د سخت غضب او بدګڼلو دپاره وضعه شوي دي.

نو حاصل یې هغسې راځېږي لکه څنګه چې ورته وړاندې د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

### هېر مو نه شي

۲ـ هېر مو نه شي چې که څه هم ټول علماء کرام په دې کښې اتفاق لري چې دا سورت هغه وخت نازل شوی دی کله چې د وحې نزول څه سوړ شوی او ټال شوی وه[2] مګر په دې کښې مختلف دي چې د وحې د ټالېدلو وجه څه وه؟، او همدارنګه په دې کښې هم مختلف دي چې دغه خبره چا کړې وه چې نبي کریم ﷺ ته خپل رب ﷻ رخصت ورکړی دی او ارتباط یې ورسره شکولی دی؟[3].

خو مونږ ته بهتره برېښي چې د وحې د سوړوالي او ټالېدلو په وجه کښې سکوت وکړو چې هغه وخت به همدا غوښتنه وه او ټول قرآن کریم د مقتضی الحال په مطابق نازل شوی دی.

او هم راته بهتره برېښي چې ذکره شوې خبره به مشرکانو یا د مشرکانو کوم نماینده کړې وي، لکه چې وړاندې ورته د الله ﷻ په توفیق د ارتباط په بیان کښې اشاره شوې ده.

### دوه ډوله تفسیر

۳ـ د ﴿ وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ﴾ ایت مفسرینو کرامو[4] په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسیر کړی دی چې دواړه واقعیت لري او څه منافات سره نه لري، چې د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي:

الف: ځینې وایي چې د "اَلْآخِرَةُ" څخه اُخروي او دائمي ژوند مطلب دی او د "اَلْاُولَی" څخه دغه نژدې او موجوده ژوند مطلب دی. یعنې ای پیغمبره! ستا دپاره په آخرت کښې ډېرې لوړې درجې په نظر کښې نیولې شوې دي چې کُبرَی شفاعت په ټاپوري اختصاص لري او "لواء الحمد" به همدا ستا په لاس وي او داسې نور.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۳۰؛ القاموس المحیط ج۲ ص۵۲۶
(۲) زاد المسیر ج۸ ص۲۶۶
(۳) روح المعاني ج ۳۰ ص ۱۵۶؛ الدر المنثور ج۸ ص۵۴۲؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۴۹۷؛ تفسیر الطبري ج ۳۰ ص۲۳۱
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۲۲؛ تفسیر القرطبي ج ۲۰ ص۹۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "لواء الحمد" په هکله نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «لِوَاءُ الْحَمْدِ بِيَدِي»[۱] يعنې په دغه نوم سره بيرغ به د قيامت په ورځ خاص زما په لاس وي او بس (زما څخه پرته به هيچاته دغه امتيازي بيرغ ورنه کړی شي).

ب: د "الْآخِرَةُ" څخه د دنياوي ژوند وروستني وختونه مراد دي او د "الْأُولَى" څخه د همدغه ژوند تېر شوي او وړاندېني وختونه مراد دي. يعنې ای پيغمبره! ستا حالات مخ په ترقی روان دي، ستا دپاره د نن ورځې څخه د سبا ورځ بهتره ده او داسې وخت هم راتلونکی دی چې ستا د دعوت په اثر به ډلې-ډلې خلک په اسلام کښې داخلېږي او ستا دين به ټولې دنيا ته ورسېږي.

## ماثور تفسير

۱۴_ د ﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ﴾ ايت نبي کريم په يوه حديث کښې ډېر ښه تفسير کړی دی چې: «فَقَالَ اللهُ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ فَقُلْ إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوءُكَ»[۲] يعنې نو الله ﷻ وفرمايل چې ای جبرائيله! ته محمد ﷺ ته ورشه (زمونږ د پلوه) ورته ووايه چې يقيناً مونږ به دې (د قيامت په ورځ) د خپل أمت په باره کښې خوشاله کړو او خپه کوو به دې نه.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: په ﴿ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴾ کښې د "لَمْ يَجِد" کلمه د "وُجُود" _لکه "سُجُود"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د موندلو معنی ورکوي، حال دا چې د الله ﷻ څخه هيڅ شی نه شي ورکېدلی چې مونده يې کړي؟

مونږ وايو: کله چې د موندلو نسبت الله ﷻ ته وشي لکه چې د دې سورت په درېوو کلمو (لَمْ يَجِد، وَجَدَ، وَجَدَ) کښې ورته شوی دی، نو هلته "وُجُود" د علم معنی ورکوي[۳]. يعنې ايا ستا رب ﷻ په تاباندې پوه نه وه چې ته يتيم وې نو تاته يې پناځای درکړ؟

## د نبي کريم ﷺ د ژوند حالات

۶_ د نبي کريم ﷺ د ژوند حالات د سيرت کتابونو ښه په تفصيل سره ليکلي دي[۴]، خو مونږ به دې مقام کښې د ايتونو د ارتباط په بنياد فقط همدومره ليکو چې:

نبي کريم ﷺ د خپل پلار (عبد الله) د وفات څخه تقريباً شپږ مياشتې وروسته زېږېدلی دی چې تر اتو کالو پورې يې د خپل نيکه (عبد المطلب) په پنا کښې قرار درلود.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۲
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۱۱۳
(۳) مفردات الراغب ص۵۴۹؛ تفسير القاسمي ج۱۷ ص۱۸۰
(۴) سيرت ابن هشام ج۱ ص۱۷۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د عبد المطلب د وفات څخه وروسته يې خپل تره (ابو طالب) روزنه په غاړه واخستله حتی چې خپل همدغه تره (ابو طالب) ورته د خديجة الكُبرى رضي الله عنها په نكاح سره كور هم اباد كړ.

دغه بي بي (أمُّ الْمُؤمِنِين خديجة الكُبرى رضي الله عنها) ډېره مالداره كونده ښځه وه چې بيا يې خپل ټول مال نبي كريم ﷺ ته وروبانښه.

## د "ضَالّ" كلمې معنی

۷_ په ياد ولړئ چې په ﴿ وَوَجَدَكَ ضَآلاًّ فَهَدَىٰ ﴾ كښې د "ضَالّ" كلمه د "ضَلال" _لكه "عَذَاب"_ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [يوسف:۸] لاندې ښه پوره شرحه كړې ده.

خو په دې مقام كښې يې هم د ناخبرئ او نابلدئ معنی مناسبه ده. يعني او ستا رب ﷻ په ناباندې پوه وه چې ته د شريعت څخه ناخبره او ورسره نابلده وې نو هدايت يې درته وكړ او ورسره بلد يې كړې او هم يې ورباندې ښه پوره پوه كړې.

## د نبي كريم ﷺ تنګلاسي ختمه شوه

۸_ نبي كريم ﷺ نه خور درلوده او نه يې ورور درلود، فقط يوه مور يې وه چې هغه هم د ده ﷺ د عمر په شپږ كلنئ كښې وفاته شوه په داسې حال كښې چې د پلار (عبد الله) څخه ورته دومره مال هم نه وه پاتې شوی چې د دغه يو كس ګوزارهورباندې شوې وی.

نو په همدې بنياد نبي كريم ﷺ تنګلاسی او فقير وه خو الله ﷻ يې دغه تنګلاسي او فقر د منځه وبووړ، چې په ﴿ وَوَجَدَكَ عَآئِلاً فَأَغْنَىٰ ﴾ ايت كښې ورته اشاره شوې ده.

علماوو كرامو ذكر شوی ايت شريف په متعددو ډولونو سره تفسير كړی دی[1] خو مونږ ته چې كوم تفسير غوره برېښي هغه دا دی چې:

الف: بي بي خَدِيجَةُ الْكُبْرَى (مالدارې كونډې ښځې) نبي كريم ﷺ ته خپل مال د مضاربت په توګه وركړ چې دغه تجارت ښه پرېمانه ګټه وكړه او د ده ﷺ تنګلاسي ورسره ختمه شوه.

ب: څه وخت وروسته نبي كريم ﷺ ذكره شوې مالداره كونډه بي بي په نكاح واخستله چې هغې ورته خپل ټول مال وبانښه او ورته هبه يې كړ.

## د نعمت څرګندونه

۹_ په ﴿ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴾ كښې د نعمت شكرګزارئ او څرګندونې ته اشاره ده چې په لاندې ډولونو سره ترسره كېدلی شي:

الف: چې د نعمت په مقتضی عمل وكړی شي او حقوق يې پوره اداء كړی شي، نو د بدني

[1] المحرر الوجيز ج۱۶ ص۳۲۳؛ روح المعاني ج۳۰ ص۱۶۳؛ التفسير الكبير ج۳۱ ص۲۱۹؛ اضواء البيان ج۹ ص۲۸۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبادتونو شكرگزاري او څرگندونه بدني عبادتونه دي او د مالي عبادتونو شكرگزاري او څرگندونه مالي عبادتونه دي.

ب: چې په قول او يا فعل سره د نعمت څرگندونه وكړي چې نه ورباندې خوله پټه كړى شي او نه داسې وضعه غوره كړى شي چې د نعمت په نشتوالي باندې دلالت كوي.

د مثال په توګه كه يو مالدار سړي چا ته د مال سوال وكړي او د چا زكات قبول كړي نو هغه په حقيقت كښې هغه مالي نعمت پټ كړ كوم چې الله ﷻ وركړى وه.

همدې مضمون ته په يوه حديث كښې داسې اشاره شوې ده چې:

يوه ورځې نبي كريم ﷺ د يوه صحابي ﷺ سره -چې زړې جامې يې اغوستې وې او د فقر څخه يې نمايندګي كوله- په لاندې ډول سوال جواب وكړ:

نبي كريم ﷺ: ايا ته څه مال لرې؟

صحابي ﷺ: هو، اى د الله رسوله! زه د هر ډول مال درلودونكى يم.

نبي كريم ﷺ: «فَإِذَا آتَاكَ اللهُ مَالًا فَلْيُرَ أَثَرُهُ عَلَيْكَ»(۱) نو كله چې تاته الله ﷻ مال دركړى دى نو د هغه نښې دې په تاباندې وليدى شي (داسې لباس واغونده چې د مال په درلودلو باندې دلالت وكړي).

همدارنګه د بندګانو د احساناتو او نېكيو څرګندونه هم په كار ده او دا ځكه چې نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «مَنْ أُعْطِيَ عَطَاءً فَوَجَدَ فَلْيَجْزِ بِهِ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُثْنِ فَإِنْ مَنْ أَثْنَى فَقَدْ شَكَرَ وَمَنْ كَتَمَ فَقَدْ كَفَرَ»(۲) يعنې چا ته چې (د بندګانو د پلوه) څه وركړه صورت ونيسي بيا نوموړي څه شى مونده كړي (چې مكافات يې ورباندې اداء كولى شي) نو بدله دې پرې وركړي، او څوک چې څه شى مونده نه كړي نو هغه دې (ورباندې) ستاينه وكړي (او د خلكو په وړاندې دې توصيف كړي)، او دا ځكه چې څوک چې ستاينه وكړي نو هغه شكرګزاري وكړه او څوک چې پټوالى غوره كړي (او ستاينه ونه كړي) نو هغه ناشكري وكړه.

په همدې ځاى باندې د "الضُّحَى" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ يُحَدِّثُونَ بِنِعْمَتِكَ. آمين.

۱۴۲۶/۱/۲۷ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۲/۱۷ هـ ش.

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۲۹۰

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# ألم نشرح (٩٤)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت لومړنی کلمه ﴿أَلَمْ نَشْرَحْ﴾ د همدې سورت دپاره نوم ګرځولې شوې ده.
۲_ دا سورت د مفسرینو کرامو په اجماع سره مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].
۳_ د دې سورت د ایتونو شمېر فقط اته (۸) دي[۲].
۴_ د دې سورت د کلماتو شمېر نهه ویشتو (۲۹) ته رسېږي[۳].
۵_ د دې سورت د حرفونو شمېر یو سلو دریو (۱۰۳) حرفونو ته پوره شوی دی[۴].
۶_ د دې سورت او د وړاندېني سورت (الضُّحَى) مضامین سره دومره ورته دي چې ځینو علماوو کرامو دواړه یو سورت ګڼلی دی[۵].
یا په بل عبارت: په دواړو کښې نبي کریم ﷺ ته ارشادات متوجه دي او په دواړو کښې ورته تسلي ورکړه شوې ده او هغه نعمتونه پکښې یاد شوي دي چې ورته ورکړه شوي وه او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾ الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٥﴾ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٦﴾ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ ﴿٧﴾ وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَب ﴿٨﴾﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] (ای پیغمبره!) ایا مونږ ستا (د ګټې) دپاره ستا سینه (په نبوت سره) نه ده پرانستې؟ (هو، پرانستې مو ده).
[۲] او مونږ ستا (د اوږو) څخه ستا درونند بار (پېټی) کوز کړی دی.
[۳] (البته) هغه بار چې ستا شا (ملا) یې چغوله (نژدې وه چې ماته یې کړي).
[۴] او مونږ ستا (د ګټې) دپاره ستا یادښت اوچت کړې ده.
[۵] نو یقیناً د سختی سره اساني ده.
[۶] یقیناً (د همدغې یوې) سختی سره (بله) اساني (هم) شته دی.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۲۶
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۰۱
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۳۹۶
(۴) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۳۰
(۵) تفسیر المراغي ج۳۰ ص۱۸۸؛ اضواء البیان ج۹ ص۳۰۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


[۷] نو کله چې ته (د یو کار څخه) فارغ شې نو (په بل کار کښې خپل خان) ستومانه کوه.
[۸] او (په عین حال کښې) خپل رب ﷻ ته رغبت (او زاري) کوه (چې دا کار هم درته په دوه وو اسانیو سره انجام کړي).

## توضیحات

۱ـ په ﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴾ کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ته د شرح الصدر (د سینې د پرانستلو نعمت) وربه یاد کړی دی. هغه دا چې:

د بعثت څخه وړاندې نبي کریم ﷺ د شریعت څخه ناخبره او د شرعي احکامو سره نابلده وه چې یوازې د الله ﷻ په وحدانیت باندې معتقد وه او بس. نو د همدې کبله به د حراء په غار کښې یوازې په تفکري عبادت باندې مشغولېده چې د نورو شرعي عبادتونو څرنګوالي ورته هیڅ معلوم نه وه.

نو الله ﷻ ورباندې خپل فضل وکړ او په نبوت سره یې د ده ﷺ سینه خلاصه کړه او د شرعي علومو مرکز یې وګرځاوه.

همدې مضمون ته په نورو نصوصو کښې هم اشاره شوې ده، د مثال په توګه:

الف: ﴿ وَوَجَدَكَ ضَآلاً فَهَدَىٰ ﴾ [الضحی:۷] یعنې او ستا رب ﷻ په تاباندې پوه وه چې ته (د شریعت څخه) ناخبره یې نو (په نبوت سره) یې درته ښودانه وکړه.

ب: ﴿ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَاْ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِي ﴾ [یوسف:۱۰۸] یعنې ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې زه او هغه کسان چې زما پیروي کوي په قلبي رڼا (او په روښانه لاره) باندې یاستو (په شریعت باندې مو سرونه خلاص دي او هیڅ تشویش راسره نشته).

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په احادیثو کښې ثابته ده چې د نبي کریم ﷺ مبارکه سینه د بعثت څخه وړاندې د پرښتو د پلوه په بلا کیفه توګه څېرلې شوې او شق شوې وه[۱]، نو ایا په ایت شریف کښې دغه شق الصدر (د سینې څیرلو) ته اشاره نه ده لکه چې ځینو مفسرینو کرامو دا ایت شریف په همدغه ډول سره تفسیر کړی دی[۲]؟

مونږ وایو چې: څرنګه چې د لغت په لحاظ دَ "شَرْح" او "شَقّ" دواړه کلمې یوه دَ بلې څخه جدا دي نو په کار دي چې هره یوه په خپله‌خپله معنی سره پرېښودله شي او یوه په بلې باندې حمل نه کړی شي.

نو په همدې بنیاد مونږ وایو چې د نبي کریم ﷺ شرح الصدر په قرآن کریم سره ثابت دی او شق الصدر یې په احادیثو سره په اثبات رسېدلی دی.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۵؛ صحیح مسلم ج۱ ص۹۲؛ سنن النسائي ج۱ ص۷۶
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۵۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## انقاض څه معنی؟

۳ـ په ﴿ أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴾ کښې د ﴿ أَنقَضَ ﴾ کلمه د "إِنْقَاض" ـ لکه "إِكْرَام" ـ څخه اشتقاق شوې ده، دا د هغه اواز (ټس) نوم دی کوم چې د درانده بار د اوچتولو د کبله د اوچتوونکي په ملا کښې صورت نیسي[1]، چې د بار د پوره دروندوالي څخه نمایندګي کوي.

یعنې ای پیغمبره! مونږ ستا د اوږو څخه هغه دروند بار او پېټی ښکته کړ د کوم اوچتول چې په تا باندې ډېر سخت تمامېده.

## دروند بار څه شی دی؟

۴ـ پاتې شوه دا خبره چې دغه دروند بار د څه شي څخه کنایې دی؟ نو د هغه په تعین کښې که څه هم مفسرینو کرامو ښه ډېر اقوال کړي دي[2] خو مونږ ته غوره برېښي چې ذکر شوی بار به د متعددو شیانو څخه عبارت وي چې نبي کریم ﷺ ته لمبر په لمبر وردمخه شوی دی. هغه دا چې:

الف: په نبي کریم ﷺ باندې د وحې اولنی ځل نزول ډېر سخت تمام شو حتی چې تبه ورباندې ورغله. همدې موضوع ته د الله ﷻ په توفیق د [المزمل:۱] ایت لاندې اشاره شوې ده.

خو دغه دروند بار الله ﷻ د خپل پیغمبر ﷺ د اوږو څخه د ورقه بن نوفل په ډاډ او اطمنان ورکولو سره ښکته کړ.

ب: بیا د وحې سوړوالی د نبي کریم ﷺ دپاره ښه غټ دروند بار جوړ شو حتی چې کله به یې قصد کاوه چې د یوه لوړ غره څخه خپل ځان راوغورزوي[3]. دغه بار به په هغه وخت کښې په نبي کریم ﷺ باندې لا ډېر دروند جوړېده چې کله به ورته مشرکانو همدغه حالت د الله ﷻ په غضب باندې تعبیرا. ، لکه چې د الله ﷻ په توفیق د [الضحی:۱] ایت لاندې ورته اشاره شوې ده.

خو دغه دروند بار هم الله ﷻ د خپل پیغمبر ﷺ د اوږو څخه ښکته کړ او د وحې نزول یې تود کړ او سوړوالی یې د منځه لرې کړ.

ج: د بعثت په اول وخت کښې بد اخلاقي او ظلمونه اوج ته رسېدلي وه، همدارنګه د مشرکانو عناد ډېر زیات وه چې مقابله کول ورسره اسان کار نه وه، د همدې کبله نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَقُلْتُ رَبِّ إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً»[4] یعنې ما خپل رب ﷻ ته عرض وکړ نو ومې ویلې چې: ای زما ربه! کله چې زه مشرکان توحید ته دعوتوم او د بد اخلاقیو مخه یې نیسم نو په دغه وخت کښې به مې هغوی په سر باندې ووهي او د ډوډۍ غوندې به یې (هوار) پرېږدي (وګرځوي).

---

(۱) لسان العرب ج۷ ص۲۴۴

(۲) روح المعاني ج۳۰ ص۱۶۹

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۳۴؛ مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۶۹

(۴) صحیح مسلم ج۲ ص۳۸۵؛ مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۱۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو څکه په نبي کريم ﷺ باندې د دغو عناديانو دعوتول ډېر درانده تماميده او په دغسې شرايطو کښې ورته د دعوت چلول درونډ پېټی وګرځېد.

خو الله ﷻ فضل وکړ او د خپل پيغمبر ﷺ حوصله يې لويه کړه چې هر ډول وارخطايي يې ترې پورته کړه چې د هر قسم ستونزو او مشکلاتو ګالل يې وزغملی شوه او همدارنګه يې د مشرکانو قاتلانه دسيسې او پلانونه ټول شنډ کړه.

## د ذکر لوړول

۵_ علماوو کرامو د ﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ ايت په متعددو ډولونو سره تفسير کړی دی[۱]، خو عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: «لَا يُذْكَرُ اللهُ إِلَّا ذُكِرْتَ مَعَهُ»[۲] يعني الله ﷻ نه يادېږي مګر ته (نبي کريم ﷺ) ورسره يادېږې.

نو په همدې بنياد څوک چې په الله ﷻ باندې حمد او ثناء وايي هغه به په نبي کريم ﷺ باندې درود استوي، او څوک چې په الله ﷻ باندې مقبول ايمان راوړي نو هغه به په نبي کريم ﷺ باندې هم ايمان راوړي او په نبوت به يې اعتراف خپلوي.

لنډه دا چې د قيامت تر ورځې پورې په اذان او خطبو او همدارنګه په نورو مجالسو کښې د الله ﷻ د نامه سره د نبي کريم ﷺ نوم هم يادېږي.

اما نبي کريم ﷺ د خپل أمت په هکله فرمايلي دي چې: «خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُءُوا ذُكِرَ اللهُ ﷻ»[۳] يعني ستاسو غوره بندګان هغه دي چې کله دوی وليدل شي نو (خلکو ته) الله ﷻ ياد شي.

## يو نحوي قانون

۶_ په ﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ ايتونو کښې بايد لاندې نحوي قانون په پام کښې ونيول شي[۴]:

په کوم مقام کښې چې يوه کلمه معرفه ذکره شي او بيا همدغه کلمه په عين مقام کښې د دوهم ځل دپاره هم معرفه ذکره شي (لکه چې په ايت شريف کښې د ﴿ الْعُسْرِ ﴾، ﴿ الْعُسْرِ ﴾ دواړه کلمې معرفې نازلې شوې دي) نو دواړه کلمې په مصداق کښې متحدې وي.

او کله چې يوه کلمه نکره ذکره شي او بيا همدغه کلمه په عين مقام کښې دوهم ځل هم نکره ذکره شي (لکه چې په ايت شريف کښې د ﴿ يُسْرًا ﴾، ﴿ يُسْرًا ﴾ دواړه کلمې نکرې نازلې شوې دي) نو د هرې يوې کلمې مصداق د بلې څخه مغاير وي.

---

[۱] زاد المسير ج۸ ص۲۷۲
[۲] الدر المنثور ج۸ ص۵۵۰
[۳] سنن ابن ماجه ص۳۰۳
[۴] نظم الدرر ج۸ ص۳۰۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې د "مَعَ، مَعَ" دوه کلمې نازلې شوې دي چې هره يوه په اجتماع باندې دلالت کوي حال دا چې سختې د اسانۍ سره ضديت لري؟

مونږ وايو چې: دلته د "مَعَ، مَعَ" دواړه کلمې هره يوه د "بَعْد" په معنی سره ده[1] شايد چې د "مَعَ، مَعَ" دواړو کلمو به د دې دپاره نزول موندلی وي چې هره يوه اساني د سختۍ په تعقيب په ډېره زغرده رامنځته کيږي، ته به وايې چې د سختۍ سره بالکل په زمانه کښې متحده ده.

نو د ايت شريف حاصل به داسې راوخيژي چې: د الله ﷻ په فضل سره د يوې سختۍ په تعقيب په ډېره عجله سره دوه اسانۍ صورت نيسي، نو بندګانو ته په کار دي چې د سختۍ د نزول په وخت کښې بې حوصلې نه شي.

همدغه مضمون ته عمر الفاروق ؓ داسې اشاره کړې چې: «وَإِنَّهُ لَنْ يَغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ»[2] يعني او يقيناً شان دا دی چې هيڅکله به يوه سختي په دوه وو اسانيو باندې غلبه مونده نه کړي چې دواړه د منځه يوسي، بلکې دوه اسانۍ به په يوه سختۍ باندې غالبې ګرځي او د منځه به يې وړي.

### "نَصَبْ" څه معنی؟

۸_ په ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ﴾ کښې که څه هم مفسرينو کرامو د ﴿فَرَغْتَ﴾ کلمه په متعددو معناوو سره تفسيره کړې ده[3]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په اطلاق سره پرېښودله شي ترڅو د هر کار څخه فراغت ته شامله شي.

همدارنګه په همدغه ايت کښې د "انصَبْ" کلمه د "نَصَب" _لکه "غَرَض"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ستومانۍ معنی ورکوي[4].

يعنې ای پيغمبره! کله چې د هرې يوې سختۍ سره دوه اسانۍ ملګرې دي نو کله چې ته د يوه کار (لکه لمونځ، جهاد يا داسې نورو) څخه فارغ شوې نو سمدستي په بل کار باندې شروع کوه او ځان پکښې ستومانه کړه، خو په عين حال کښې خپل رب ﷻ ته په سوالونو او عاجزۍ سره رغبت کوه ترڅو د دوه وو اسانيو په نزول سره درته تازه شروع کړی شوی کار هم سرته ورسوي.

په همدې ځای د "أَلَمْ نَشْرَحْ" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ اشْرَحْ صُدُورَنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضَى وَيَسِّرْ عَلَيْنَا كُلَّ عُسْرٍ بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ.

۱۴۲۶/۱/۳۰ هـ ق = ۱۳۸۳/۱۲/۲۰ هـ ش.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۱۸۸
(۲) الموطا للإمام مالک ص۲۶۳
(۳) زاد المعاد ج۸ ص۲۷۳
(۴) لسان العرب ج۱ ص۷۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# التین(۹۵)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱ـ د دې سورت (التِّین) نوم د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی.

۲ـ دا سورت د جمهورو علماوو کرامو په نزد مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه فقط اته (۸) ایتونه دي[۲].

۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېر څلور دېرشو (۳۴) کلمو ته رسېدلی دی[۳].

۵ـ د دې سورت د حرفونو شمېر یو سلو پنځو (۱۰۵) حرفونو ته اوچته شوی دی[۴].

۶ـ په وړاندېني سورت (أَلَمْ نَشْرَحْ) کښې د اکرم المخلوقات (محمد ﷺ) څه حالات نازل شوي وه او په دې سورت کښې د انساني نوعې څه کرامت ته اشاره شوې ده چې انسان په څمکه کښې د خلافت درلودونکی دی، نو په کار دي چې دغه کرامت د توحیدي عقیدې په خپلولو سره وساتي، که نه نو کرامت به بالکل د لاسه ورکړي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ۝١ وَطُورِ سِينِينَ ۝٢ وَهَٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ۝٣ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ۝٤ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ۝٥ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۝٦ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ۝٧ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ۝٨﴾

د ډېر مهربان (او) د ډېر رحم درلودونکی الله ﷻ په نامه.

[۱] په انځر او په ښون (د دواړو په زرغونځایونو) باندې سوګند دی.

[۲] او د سینین په غره (طور) باندې (سوګند دی).

[۳] او په دغه امان درلودونکي ښار (مکه معظمه) باندې (سوګند دی).

[۴] چې یقینًا مونږ په ډېر ښایسته اعتدال (ظاهري او باطني بڼه) کښې انسان پیدا کړی دی.

[۵] بیا مونږ نوموړی انسان د کوزو (او ښکته) شیانو څخه ډېر کوز (او ښکته) ګرځوو (چې په دوزخ کښې یې اچوو).

[۶] مګر هغه کسان (په کوزو کښې کوز نه ګرځوو) کومو چې ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي نو د دوی دپاره (زمونږ په نزد) نه پرېکړی شوی (دائمي) اجر (جنت) دی.

---

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۷۷۳

(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۵۰۴

(۳) تفسير الخازن ج۶ ص۵۳۴

(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۴۰۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷] نو (ای کافر انسانه!) د دلایلو څخه وروسته تا د جزا په ورځې (قیامت) باندې څه شی تکذیب کوونکی گرځوی؟.

[۸] ایا الله ﷻ د ټولو حکم کوونکو (عدل کوونکو) ښه حکم کوونکی (ښه عدل کوونکی) نه دی؟ (نو ایا تاته به د تکذیب سزا درنه کړي او په اسفل سافلین کښې به دې ونه گرځوي؟).

## توضیحات

په دې مقام کښې لاندې نکات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

۱- په دې

الف: په ﴿وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ﴾ کښې د "تِين، زَيْتُون" دواړه کلمې مفسرينو کرامو په ګڼو معناوو سره تفسيرې کړې دي(۱)، خو بهتره دا ده چې دواړه د شام او فلسطين په ځمکو سره تفسيرې کړې شي په کومو کښې چې د انځر او زيتون ونې په کثرت سره شتون لري(۲)، په کومو کښې چې ډېر پيغمبران تېر شوي دي لکه ابراهيم عليه السلام، عيسى عليه السلام او داسې نور.

ب: د ﴿وَطُورِ سِينِينَ﴾ په ارتباط د [المؤمنون: ۲۰] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق څه وضاحتونه ليکلي شوي دي چې د "طُور" د کلمې څخه هغه غر مراد دی په کوم کښې چې موسى عليه السلام د خپل رب ﷻ سره مناجات کړی وه.

دغه کلمه دلته د ﴿سِينِينَ﴾ کلمې ته مضافه شوې ده او هلته يې د "سَيْنَاء" کلمې ته اضافت موندلی دی، دغه دواړه کلمې هره يوه د هغه ځای نوم دی چرته چې د "طُور" غر واقع دی.

ج: په ﴿وَهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ﴾ کښې د ﴿ٱلْبَلَدِ﴾ څخه په اتفاق سره د مکې معظمې ښار مطلب دی. او ﴿ٱلْأَمِينِ﴾ لقب ورته د دې کبله ورکړی شوی دی چې دغه ښار آن د بعثت څخه وړاندې (د جاهليت په زمانه کښې) د امن درلودونکی وه او د خلکو سر او مال پکښې خوندي وه حال دا چې په شاوخوا سيمو کښې يې چور او چپاول روان وه.

د: په ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ کښې د ﴿تَقْوِيمٍ﴾ کلمه که څه هم مصدر ده او د تعديل سره مرادفه ده(۳)، خو دلته ترې حاصل بالمصدر (هغه معنی) مراده ده کومه چې په تقويم او تعديل سره مرتبېږي چې د ظاهري او باطني شکل او صورت څخه عبارت ده(۴).

هـ: دغه ايت د ذکرو شوو څلورو واړو سوګندونو دپاره جواب دی نو حاصل يې داسې راځېږي چې: په هغو ځمکو باندې سوګند دی کومې چې د انځر او زيتون درلودونکې دي په کومو کښې چې ډېر پيغمبران تېر شوي دي، او هم د سيناء په غره باندې سوګند دی په کوم کښې چې موسى عليه السلام د

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۵۲۶؛ زاد المسير ج۸ ص۲۷۲؛ المحرر الوجيز ج۱۶ ص۳۲۹
(۲) تفسير الکشاف ج۴ ص۷۷۳
(۳) تفسير روح المعاني ج۳۰ ص۱۷۵
(۴) تفسير البغوي ج۴ ص۵۰۴؛ تفسير اضواء البيان ج۹ ص۳۳۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل رب ﷻ سره مناجات کړي وه، او بالآخره د مکې معظمې په ښار باندې سوګند دی په کرم کښې چې آخر الزمان پیغمبر (محمد ﷺ) مبعوث شوی دی چې:

یقینًا مونږ انسان په ډېره ښایسته څېره کښې پیدا کړی دی او ډېره ښایسته معنوي څېره مو ورکړې ده چې د عقل درلودونکی مو ګرځولی دی او په نورو مخلوقاتو باندې مو ورته کرامت ورکړی دی. یا په بل عبارت: انسان مو په نورو مخلوقاتو باندې عالي او اوچت جوړ کړی دی.

و: ذکر شوي څلور واړه سوګندونه په خپل جواب او د انسان په بهترۍ باندې دلالت کوي او شاهدي ورباندې ورکوي. او دا څکه چې:

ذکر شوي سوګندونه د پیغمبرانو په لوړلو باندې دلالت کوي او شاهدي ورکوي چې ټول پیغمبران د انسانانو څخه وه او ټول پیغمبران فقط انسانانو ته استولي شوي دي نه څناورو او ځارویو ته.

په همدې مطلب باندې زښت ډېر نصوص مشتمل دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: ﴿ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ﴾ [البقرة: ۳۰] یعنې او هغه وخت یاد کړه چې ستا رب ﷻ پرښتو ته وویلې چې یقینًا زه په ځمکه کښې د یوه خلیفه ګرځوونکی (پیدا کوونکی) یم.

دوهم: ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾ [الإسراء: ۷۰] یعنې او یقینًا مونږ (په دنیا کښې) بنیادمان د کرامت خاوندان ګرځولي دي او په وچه او لمده کښې مو سواره کړي دي او هم مو ورته پاکیزه او سپېڅلي شیان روزي کړي دي.

## هېر مو نه شي

۲ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ ثُمَّ رَدَدْنَٰهُ أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ﴾ کښې د "رَدَدْنَا" کلمه د "جَعَلْنَا" په معنی سره ده او دوه مفعوله غواړي چې يو مفعول يې د "هٗ" ضمير دی چې ﴿ ٱلْإِنسَٰنَ ﴾ ته راجع دی او دوهم مفعول يې د ﴿ أَسْفَلَ ﴾ کلمه ده چې د ﴿ سَٰفِلِينَ ﴾ کلمې ته مضافه ده[1].

نو حاصل يې داسې راځي چې: مونږ انسان په نورو مخلوقاتو باندې عالي ګرځولي دي او نور مخلوقات مو ورته سافلين (ښکته او لاندې) ګرځولي دي. خو بیا مونږ همدغه عالي انسان د ښکته مخلوقاتو څخه ډېر ښکته (أسْفَلَ سَافِلِينَ) ګرځوو مګر هغه کسان په خپل اوچتوالي باندې باقي پرېږدو کومو چې ایمان راوړی وي او نېک اعمال يې ورسره ضمیمه کړي وي نو د همدغو کسانو دپاره زمونږ په نزد نه پرې کېدونکی اجر دی چې د اخروي دائمي نعمتونو څخه عبارت دی.

دغه مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ [البينة: ۶] یعنې دغه کفار چې دي همدوی د ټولو مخلوقاتو څخه ډېر بد او شریر مخلوقات دي چې همدوی اهل النار او دوزخیان دي.

---

(۱) روح المعاني ج۳۰ ص۱۷۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ﴾ کښې د "كَ" په ضمير سره څوک مخاطب کړی شوي دي؟

مونږ وايو چې: د دغه ضمير په هکله مفسرين کرام په لاندې دوه وو ډلو وېشلی شوي دي:

الف: جمهور علماء کرام وايي چې: په ذکر شوي ضمير سره (د التفات په توګه) کافر انسان مخاطب کړی شوی دی[1]، او د "يُكَذِّبُ" کلمه د "يَجْعَلُ" کلمې ته متضمنه ده[2]. يعنې ای کافره انسانه! د دغو دلايلو څخه وروسته د جزا په ورځې سره څه شی تا تکذيب کوونکی ګرځوي؟ ايا ته نه پوهېږې او تاته معلومه نه ده چې الله ﷻ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ دی او د هر چا څخه زيات او ښه عدل کوونکی دی نو ضرور به سزا درکړي او د عالي رتبې څخه به دې ډېرې ښکته طبقې ته وغورزوي؟.

ب: ځينې علماء کرام وايي چې: دلته نبي کريم ﷺ ته خطاب متوجه دی او د "مَا" کلمه د هغه "مَنْ" معنی ورکوي کوم چې استفهام ته متضمن دی، او همدارنګه د "بِ" جاره توری د سبب دپاره دی[3]. يعنې ای پيغمبره! هغه څوک دی چې د دغو دلايلو څخه وروسته د جزا د ورځې په سبب ستا تکذيب وکړی شي او څه برهان وړاندې کړی شي؟ ايا الله ﷻ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ نه دی؟ ايا ذکر شوي بې دليله تکذيب کوونکي ته به سزا ورنه کړي او أَسْفَلَ سَافِلِينَ به يې ونه ګرځوي؟

## يادونه

۴ـ هېر مو نه شي چې نبي کريم ﷺ د دغه سورت (التين) په هکله په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَمَنْ قَرَأَ وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ فَلْيَقُلْ بَلَى وَأَنَا عَلَى ذَلِكَ مِنْ الشَّاهِدِينَ»[4] يعنې او هرڅوک چې دغه سورت (وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ) قرائت کړي (او اخر ته يې ورسېږي) نو ودې وايي چې: هو، الله ﷻ احکم الحاکمين دی او زه په همدغه (مطلب) باندې د شهادت ورکوونکو څخه يم.

په همدې ځای د "التِّين" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنَا أَسْفَلَ سَافِلِينَ.

۱۴۲۶/۲/۲ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۲/۲۲ هـ ش.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۳۳۲؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۵۰۴
(۲) لسان العرب ج۱ ص۷۰۷
(۳) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۶۷۳
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۵۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# العلق (٩٦)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


# سریزه

۱ـ د دې سورت په نامه (الْعَلَق) باندې د همدې سورت دوهم ایت مشتمل دی.
۲ـ دا سورت د مفسرینو کرامو په اجماع سره مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[1].
۳ـ د دې سورت د ایتونو شمېر فقط نولس (۱۹) ایتونه دي[2].
۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېر دوه نوي (۹۲) کلماتو ته رسېږي[3].
۵ـ د دې سورت د حرفونو شمېر دوه سوه اویا (۲۷۰) حرفونو ته پوره شوی دی[4].
۶ـ په دې سورت (الْعَلَق) کښې د وړاندېني سورت (التِّين) په مطالبو باندې لږ څه رڼا اچولې شوې ده چې په علم او قلم سره پکښې د انسان کرامت ته اشاره کېږي او د هغه چا حالت هم پکښې لږ څه واضحه شوی دی چې انساني کرامت یې د لاسه ورکړی وي او اسفل سافلین ګرځېدلی وي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] د خپل هغه رب ﷻ په نامه سره قاري (لوستونکي) جوړ شه چې (هر شی) یې پیدا کړی دی.
[۲] چې انسان یې د ترلو شوو (منجمدو) وینو څخه پیدا کړی دی.
[۳] ته (په خلکو باندې قرآن کریم) قرائت کړه په داسې حال کښې چې ستا رب ﷻ د ډېر زیات کرامت درلودونکی دی (چې په هر چا باندې بلا عوضه احسان کوي).
[۴] ستا هغه رب ﷻ چې (انسان ته) یې په قلم سره ښودانه کړې ده (او بدون د قلمه یې هم ورته ښودانه کړې ده).
[۵] انسان ته یې (په قلم او په غیر قلم سره) هغه شیان ښودلي دي چې نوموړی وربانډې نه پوهېده.

## شان نزول او توضیحات

۱ـ د دغو ایتونو شان نزول په احادیثو کښې ښه مشرح روایت شوی دی[5]، خو مونږ یې دلته د

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۲۳
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۰۶
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۳۷
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۱۲
(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۲؛ صحیح مسلم ج۱ ص۸۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څو تکو په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

الف: د حراء د غره په يوه غار كښې نبي كريم ﷺ په تفكري عبادت باندې مشغول وه چې جبرائيل ﷺ ورغی او په غېږ کښې يې ونيوه او ورته يې وويلې چې: «اقْرَأْ» يعنې ولوله، خو نبي كريم ﷺ په جواب کښې وويلې چې: «مَا أَنَا بِقَارِئٍ» يعنې زه قاري او لوستونکی نه يم.

ب: د جبرائيل ﷺ او نبي كريم ﷺ ترمنځ ذكر شوي كلمات درې ځله تكرار شوه.

ج: په څلورم ځل سره جبرائيل ﷺ د ﴿ اَقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ ﴾ څخه تر ﴿ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾ پورې ذكر شوې پنځه ايتونه قرائت کړه او نبي كريم ﷺ هم پنځه واړه ايتونه د هغه ﷺ په تعقيب قرائت کړه.

د: بيا په نبي كريم ﷺ باندې تبه ورغله او د غار څخه کور ته ورستون شو او هغه كيفيت صورت ونيوه كوم چې د الله ﷻ په توفيق د [المزمل:۱] ايت لاندې ليكلى شوى دى.

## سوالونه او جوابونه

۲_ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې راپيدا کېږي:

الف: که څوک وايي چې: د هغو درېوو كلمو (اقْرَأْ، اقْرَأْ، اقْرَأْ) مفعول څه شی وه كومې چې جبرائيل ﷺ په اول ملاقات کښې نبي كريم ﷺ ته اورولې وې؟

مونږ وايو چې: د ذكرو شوو درېواړو كلمو مفعول او مقروء دغه پنځه ايتونه دي په كومو کښې چې بحث روان دی. يا په بل عبارت: جبرائيل ﷺ نبي كريم ﷺ ته وويلې چې د ﴿ اَقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ ﴾ څخه نيولې تر ﴿ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾ پورې ايتونه قرائت کړه.

ب: که څوک وايي چې: ايا دغه پنځه ايتونه يې ورته ليکلي شوي وړاندې کړه چې قرائت يې کړه؟

مونږ وايو چې: ډېرو علماء كرام وايي چې دغه پنځه واړه ايتونه يې ورته په يوه وريښمينه کپړه کښې ليکلي شوي وړاندې کړه[1].

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د جبرائيل ﷺ به په ذكرو شوو درېوو كلمو سره مطلب دا وه چې ته زما په تعقيب دغه پنځه ايتونه قرائت کړه. يا په بل عبارت: زه چې څه قرائت کوم هغه ته هم قرائت کړه.

ج: که څوک وايي چې: په ﴿ اَقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ ﴾ کښې د ﴿ اَقْرَأْ ﴾ د كلمې دپاره مقروء يا مفعول څه شی دی؟

مونږ وايو چې: ډېرو مفسرينو كرامو د دغې كلمې دپاره د "مَا يُوحَى إِلَيْكَ" كلمات مقدر ګڼلي دي[2] مګر مونږ ته دا جواب خوندور نه برېښي ځکه چې د دغه جواب په بنياد پخپله د "اقْرَأْ" كلمه د مقروء څخه بهر پاتې کېږي، ته به وايي چې دا كلمه په جلي وحې کښې شامله نه ده.

---

(۱) الدر المنثور ج۸ ص۵۶۲

(۲) روح المعاني ج۳۰ ص۱۷۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو مونږ ته بهتر جواب دا برېښي چې ذکره شوې د "اقرأ" کلمه تکلیفي امر نه دی ترڅو مقروء وغواړي؛ بلکې دا تکویني امر دی چې په "کُن قارئًا" سره تعبیرېږي[۱].

یعنې اې پیغمبره! ته قرائت کوونکی وګرځه. یا په بل عبارت: ربښتیا چې ته قرائت کوونکی نه وې خو اوس د خپل رب ﷻ په تکویني امر سره قرائت کوونکی جوړ شه.

د: که څوک وایي چې: ایا په ﴿ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ﴾ کښې هم د ﴿ٱقۡرَأۡ﴾ کلمه تکویني امر ده چې مقروء نه غواړي؟

مونږ وایو چې: دلته دغه کلمه تکلیفي امر ده او مقروء یې "هَذَا القُرآنُ" دی[۲]. یعنې اې پیغمبره! کله چې ته د خپل رب ﷻ په تکویني امر سره قاري وګرځېدلې نو په خپل اُمت باندې دغه قرآن کریم او هغه څه قرائت کړه کوم چې تاته وحې کېږي.

همدې مضمون ته الله ﷻ داسې اشاره کړې ده چې: ﴿لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ﴾ [الإسراء: ۱۰۶] یعنې مونږ په تاباندې قرآن کریم د دې دپاره ټوټه- ټوټه درنازل کړ چې ترڅو یې ته په خلکو باندې په ارام- ارام سره قرائت کړې.

ه: که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ د حراء په غار کښې څومره موده په تفکري عبادت باندې مشغول وه او ذکر شوي صورتحال په کومه میاشت کښې پېښ شو؟

مونږ وایو چې[۳]: د نبي کریم ﷺ عادت وه چې په کال کښې به یې یوه میاشت په ذکر شوي غار کښې تېروله، ته به وایې چې په کال کښې به یې (زمونږ په اصطلاح) یوه میاشت اعتکاف کاوه.

ذکر شوی صورتحال چې په کومه میاشتې کښې تحقق وموند او نبوت او بعثت پکښې ظهور وکړ هغه د رمضان مبارکه میاشت وه.

و: که څوک وایي چې: د سیرت ځینو کتابونو[۴] لیکلي دي چې ذکر شوي صورتحال په خوب کښې تحقق موندلی وه حال دا چې دا لیکنه د احادیثو څخه مخالفه ده.

مونږ وایو چې: عائشه (أم المؤمنین) رضي الله عنها په خپل یوه حدیث کښې وایي چې: په نبي کریم ﷺ باندې د وحې نزول په ربښتینو خوبونو سره پیل شو هغه دا چې هیڅ خوب به یې نه لیده مګر هغه به د سبا د رڼا غوندې کټ مټ ربښتیا کېده[۵].

نو څه لرې نه ده چې هغه صورتحال به نبي کریم ﷺ په خوب کښې هم لیدلی وي کوم چې په احادیثو کښې په اثبات رسېدلی دی او په ویښه یې تحقق موندلی دی.

ز: که څوک وایي چې: د ذکر شوي شان نزول څخه څرګندېږي چې ذکر شوي پنځه ایتونه په ټول

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۰۲
(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۴۰؛ اضواء البیان ج۹ ص۳۵۱
(۳) سیرت ابن هشام ج۱ ص۲۵۴
(۴) سیرت ابن هشام ج۱ ص۲۵۵
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۳۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


قرآن کریم کښې اولني نازل شوي ایتونه دي حال دا چې ځینې علماء کرام وايي چې د "الفاتحة" سورت د ټولو څخه اول او وړاندې نازل شوی دی؟[۱].

مونږ وایو چې: د دغو علماوو کرامو مطلب دا دی چې اولنی کامل نازل شوی سورت "الفاتحة" دی[۲] چې وړاندې ترې بل کامل سورت نه دی نازل شوی، او دا يې مطلب نه دی چې وړاندې ترې هیڅ ایت نزول نه دی موندلی.

## "عَلَق" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ ﴾ کښې د "عَلَق" کلمه د "عَلَقَة" جمعه ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الحج:۵] ایت لاندې لیکلي دي چې دا د هغې جامدې (پرنډ) وینې نوم دی کومه چې د نطفې څخه جوړه شي او بیا ترې په رحم کښې د جنین جوړښت صورت نیسي.

یعنې ای محمده! ته د خپل هغه رب ﷻ په نامه قاري (لوستونکی) وګرځه چې ټول مخلوقات يې پیدا کړي دي او هر یوه ته يې د معیشت لاره ښودلې ده، او په تېره بیا چې باشعوره او هوښیار بنیادم يې د هغې منجمدې (پرنډ) وینې څخه پیدا کړی دی کومه چې نه شعور لري او نه هوښیاري او نه عقل، نو هیڅ عجیبه نه ده چې ستا رب ﷻ تا د أُمیتوب سره-سره پرته د زده کړې څخه قاري او لوستونکی وګرځوي.

## د ښوداني دولونه

۴ـ په ﴿ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ۝ عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې د الله ﷻ ښودانه په لاندې دوه وو ډولونو سره صورت نیسي:

الف: یوه هغه ښودانه ده چې بدون د لیک او قلم څخه ترسره کېږي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴾ [الکهف:۶۵] یعنې موسی ﷺ زمونږ یو بنده (خضر ﷺ) مونده کړ چې مونږ ورته د خپله جانبه (بدون د قلمه) علم ښودلی وه.

ب: بله هغه ښودانه ده چې په لیک او لوست سره حاصلېږي.

نو په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته داډ ورکړی شوی دی چې الله ﷻ انسان ته ذکر شوي دواړه ډوله ښودانه کړې ده، او ستا ښودانه د اول ډول څخه ده چې ستا أُمیتوب يې بالکل مخه نه شي نیولی.

په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې په قلم سره لومړنی لیکونکی ادریس ﷺ وه[۳]، والله ﷻ أعلم وعلمه أتقن.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۱۱۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۰۱
(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۱۸۰؛ اضواء البیان ج۹ ص۳۶۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ ﴿٦﴾ أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ ﴿٧﴾ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجۡعَىٰٓ ﴿٨﴾ أَرَءَيۡتَ
ٱلَّذِي يَنۡهَىٰ ﴿٩﴾ عَبۡدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴿١٠﴾ أَرَءَيۡتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلۡهُدَىٰٓ ﴿١١﴾ أَوۡ أَمَرَ بِٱلتَّقۡوَىٰٓ
﴿١٢﴾ أَرَءَيۡتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١٣﴾ أَلَمۡ يَعۡلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾ كَلَّا لَئِن لَّمۡ يَنتَهِ لَنَسۡفَعَۢا
بِٱلنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٖ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٖ ﴿١٦﴾ فَلۡيَدۡعُ نَادِيَهُۥ ﴿١٧﴾ سَنَدۡعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا لَا
تُطِعۡهُ وَٱسۡجُدۡۤ وَٱقۡتَرِب ۩ ﴿١٩﴾ ﴾

[۶] دغسې په کار نه ده (چې د الله ﷻ د نعمتونو شکرګذاري ونه کړه شي. او دا خکه چې:) یقینًا هرومرو انسان سرکشي کوي.

[۷] (البته) د دې کبله چې خپل ځان (په مال سره) بې پروا ګوري.

[۸] (ای انسانه!) یقینًا خپل رب ﷻ ته ستا بېرته ستنېدل دي (نو محاسبه به درسره وکړي).

[۹] (ای هوښیاره لیدونکیه!) ته د هغه چا په هکله خبر راکړه کوم چې منعه کوي.

[۱۰] (البته) مخلص بنده، چې کله لمونځ کوي (چې دا مه کوه. ایا نوموړی منعه کوونکی نه پوهېږي چې الله ﷻ هر شی ګوري؟).

[۱۱] ته (د نوموړي په هکله) خبر راکړه که چرته هغه (په خپل ګومان) په هدایت (او سمه لاره) باندې وي.

[۱۲] یا هغه (په خپل ګومان) په تقوی سره امر کوي (چې ایا نوموړی نه پوهېږي چې الله ﷻ هر شی ګوري؟).

[۱۳] ته (د نوموړي په هکله) خبر راکړه که چرته هغه (واقعًا) تکذیب کوي او (توحید ته) شا وراړوي.

[۱۴] چې ایا نوموړی نه پوهېږي چې الله ﷻ (هر شی) ګوري؟

[۱۵] دغسې نه ده (چې نوموړی به بې سزا پاتې شي. او دا خکه چې:) که نوموړی (د کفریاتو او شرکیاتو څخه) منعه نه شي نو هرومرو ضرور به یې مونږ په پیکي سره سخت راکاږو.

[۱۶] (البته) په دروغژن (او) خطاکار پیکي سره.

[۱۷] نوموړی (جنایتکار دې خپل نصرت ته) خپله شوری وبلي.

[۱۸] ډېر ژر ده (چې په دغه صورت کښې به) مونږ د عذاب قوتناکې پرښتې راوبلو.

[۱۹] دغسې نه ده (چې د نوموړي د لاسه څه پوره شي).

نو ای پیغمبره!) د نوموړي بې اطاعتی ته ادامه ورکړه او (خپل رب ﷻ ته) سجدې (لمونځونه) کوه او (خپل ځان) ورنژدې کوه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شان نزول او ارتباط

۱_ د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې ښه اوږد حدیث روایت شوی دی چې مونږ یې
لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: یو ځل ابو جهل سوګند یاد کړ چې که چرته محمد ﷺ وګوري چې په لمانځه ولاړ دی
نو هرومرو به یې په څټ پښه کېږدي او مخ‌جه یې په خاورو سره لیت پیت او خړ پړ کړي.

ب: بله ورځ نوموړي د کعبې شریفې په شاوخوا کښې نبي کریم ﷺ په لمانځه ولید نو
هغه ﷺ خوا ته ورروان شو ترڅو خپل سوګند ته عملي بڼه ورکړي، خو ناڅاپه په داسې حال کښې
بېرته راستون شو چې مخ ته یې لاسونه نیولي وه، تا به ویل چې څه غټ خطر ورته متوجه دی.

ج: د نوموړي څخه چا پوښتنه وکړه چې دا ولې؟

د: هغه جواب ورکړ چې زما او د محمد ﷺ ترمنځ د اور ډېر غټ خندق حائل شو او ډېر خطرناک
صورتحال پېښ شو، نو ځکه بېرته راستون شوم.

هـ: نو د دغه حالت په هکله نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَوْ دَنَا مِنِّي لَاخْتَطَفَتْهُ الْمَلَائِكَةُ عُضْوًا
عُضْوًا»[1] یعني که بالفرض نوموړی ماته رانژدې شوی وی نو پرښتو به اندام-اندام تښتولی وی.

همدارنګه نبي کریم ﷺ د ابو جهل د ذکرې شوې خبرې په هلکه په یوه بل حدیث کښې فرمایلي
دي چې: «لَوْ فَعَلَهُ لَأَخَذَتْهُ الْمَلَائِكَةُ»[2] یعنې که بالفرض نوموړی هغه کار کړی وی په کوم باندې یې
چې سوګند یاد کړی وه نو پرښتو به هرومرو نیولی وی (او ټولو خلکو به لیدلی وی).

نو الله ﷻ ذکر شوي ټول ایتونه د سورت ترپایه پورې نازل کړه[3].

۲_ په وړاندېنیو ایتونو کښې په بندګانو باندې د الله ﷻ نعمتونو ته اشاره شوې وه او په دې
ایتونو کښې د ناشکره بندګانو غبرګون ته اشاره کېږي چې حاصل یې داسې راخېژي:

### د مطلب خلاصه

انسان ته په کار دي چې د خپل رب ﷻ د نعمتونو شکریه وکړي او خپل اصلیت هېر نه کړي، خو
د ناشکره انسان عکس العمل دا دی چې:

۱_ یقینًا نوموړی د دې کبله طغیان او سرکشي کوي چې خپل ځان ورته بې پروا برېښي چې
لیک او لوست کولی شم او عقل لرم او هم مې اقتصادي مشکلات حل دي.

۲_ ای ناشکره انسانه! تاته ذکره شوي کړنلاره خپلول په کار نه وه. او دا ځکه چې ته هرومرو د
قیامت په ورځ د خپل رب ﷻ حضور ته رجوع کوونکی یې چې هلته به ضرور د ډېرې سختې
محاسبې لاندې واقع شې.

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۷۲
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۴۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۳
(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۱۵۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای لیدونکیه! ته د ناشکره انسان په ارتباط لاندې پوښتنې جوابې کړه:

الف: ته خبر راکړه که نوموړی یو عادي بنده نه بلکې د الله ﷻ مخلص بنده (پیغمبر) د دې څخه منعه کوي چې د خپل رب ﷻ عبادت وکړي او لمونځ ورته اداء کړي. ایا نوموړی نه پوهېږي چې الله ﷻ یې ګوري؟ ایا مطابقه سزا به ورنه کړي؟.

ب: ته خبر راکړه چې که د نوموړي ذکر شوی کار د ده په ګومان د هدایت په بنیاد صورت نیولی وي او یا ورته دغه کار په تقوی باندې امر کول بریښي، ایا نوموړی نه پوهېږي چې الله ﷻ هر شی ګوري او هدایت او تقوی دواړه پېژني؟.

ج: ته خبر راکړه چې که نوموړی رښتینی پیغمبر تکذیبوي او د توحید څخه مخ اړوي ایا نوموړی نه پوهېږي چې الله ﷻ هر شی ګوري او په هر شی علم لري؟ نو ایا خپل غضب به ورباندې نازل نه کړي؟.

۴_ انسان ته دغه کړنلاره خپلول په کار نه دي او دغسې نه ده چې دا به ورته په ګټه تمام شي. او دا ځکه چې:

که نوموړی خپله کفري او شرکي لاره پرېنږدي او توحیدي لاره غوره نه کړي نو مونږ به یې د پیکي د وېښتانو څخه ونیسو او د دوزخ اور ته به یې ورتېل وهو. البته د هغه پیکي د وېښتانو څخه چې د ډېر دروغژن او غټ خطاکار په تندي باندې رازانګې او خواره دي.

۵_ ای پیغمبره! نوموړی ناشکره انسان وایي چې د ضرورت په وخت کښې به خپلو کومکیانو او د شورا غړو (اشتراک کوونکو) ته اواز وکړي او خپل نصرت ته به یې راوبلي.

نو که نوموړی دغه کار وکړي مونږ به د عذاب پرښتو ته بلنه ورکړو او امر به ورته وکړو چې نوموړی اندام-اندام کړي او هډوکي یې په خمکه باندې هرې خوا ته وشیندي.

۶_ ای پیغمبره! دغسې نه ده چې نوموړی ناشکره انسان به په تاباندې خپل سوء قصد عملي کړی شي.

نو ته د نوموړي هیڅ پروا مه ساته او خپل رب ﷻ ته عبادت کوه او په سجدو سره ورته نژدېکت ترلاسه کوه، ستا رب ﷻ ستا نصرت کوونکی او مددګار دی.

## توضیحات

۱_ د ﴿أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ﴾ ایت د ﴿لَيَطۡغَىٰٓ﴾ دپاره مفعول دی[۱]. یعنې ناشکره انسان د دې کبله طغیان او سرکشي خپلوي چې خپل ځان بې پروا ګوري چې ټولې اړتیاوې مې پوره دي او د هیڅ شي کمبود نشته.

همدې مضمون ته الله ﷻ په بل ایت کښې داسې اشاره کړې ده چې: ﴿وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ [الشوری:۲۷] یعنې که الله ﷻ خپلو بندګانو ته روزي پراخه کړې وی نو

(۱) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۷۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(د طبیعت په مطابق) به یې په څمکه کښې بغاوت اختیار کړی وي.

۲ـ په ﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ۝ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴾ کښې په ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ کښې هغه چا ته خطاب دی کوم چې لیدل کولی شي او د بصیرت خاوند وي[1].

په دې باندې علاوه، که څه هم د ﴿ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ﴾ څخه ابو جهل مراد دی او د ﴿ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴾ کلمات د نبي کریم ﷺ څخه کنایي دي[2] مګر د مفهوم په اعتبار سره د قیامت تر ورځې پورې تولو ابو جهل صفته خلکو ته شمولیت لري چې مخلص بندګان د الله ﷻ عبادت ته نه پرېږدي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ذکرې شوې ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ کلمې اولنی مفعول مذکور دی چې د ﴿ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ﴾ څخه عبارت دی او دوهم مفعول یې مقدر دی چې په "أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللهَ يَرَىٰ" سره ترې تعبیر کېدلی شي په کوم باندې چې د دریمې ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ کلمې دوهم مفعول دلالت کوي. یعني ای سترګې درلودونکیه! ته خبر راکړه چې هغه کافر معاند کس چې د الله ﷻ مخلص بنده د عبادت څخه منعه کوي آیا نوموړی نه پوهېږي چې الله ﷻ یې ګوري او سزا به ورکړي؟

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې مفسرینو کرامو د ﴿ أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ۝ أَوْ أَمَرَ بِٱلتَّقْوَىٰٓ ﴾ دوه ایتونه په متعددو ډولونو سره تفسیر کړي دي[3]، خو کوم ډول تفسیر چې مونږ ته بنه ښکاره شوی دی او د ضمائرو د انتشار مخه هم پکښې نیولې شوې ده هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کېږي:

الف: د ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ لومړنی مفعول مقدر دی کوم چې په وړاندېنې ایت کښې په صراحت سره ذکر دی چې "الَّذِي يَنْهَىٰ" دی.

ب: د ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ دوهم مفعول هم مقدره جمله ده چې په "أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللهَ يَرَىٰ" سره ترې تعبیر کېدلی شي کومه چې د دریمې ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ کلمې دپاره دوهم مذکور مفعول ده.

ج: په ﴿ إِن كَانَ ﴾ او ﴿ أَوْ أَمَرَ ﴾ کښې دواړه مستتر ضمیرونه ﴿ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ﴾ ته راجع دي کوم چې وړاندې ذکر دی.

د: د دغو دواړو شرطونو سره د "عَلَىٰ زَعْمِهِ" کلمات مقدر دي.

هـ: د دغو دواړو شرطونو په جزا باندې ذکره شوې مقدره جمله دلالت کوي کومه چې د ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ کلمې دپاره دوهم مفعول واقع شوې ده.

نو د پورتنیو ټکو په ملحوظ یې د معنی حاصل داسې راځي چې: ای کتونکیه! ته بنه فکر وکړه او په حقه خبره باندې جواب راکړه چې:

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۷۹؛ تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۱۲
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۲۰
(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۱۸۳؛ تفسیر الطبري ج۳۰ ص۲۵۴؛ تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۱۲۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا که نوموړی منعه کوونکی په خپل ګومان په دغه کار کښې په سمه لاره روان وی او یا که نوموړی په خپل خیال په دغه کار کښې په تقوی سره امر کوي (چې د الله ﷻ د عبادت څخه پرهېز وکړه)، نو ایا نوموړی نه پوهېږي چې الله ﷻ یې ګوري او د کړنلارې سره موافقه سزا به ورکړي؟.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې دلته د "أَرَأَيْتَ" درې کلمې نازلې شوې، حال دا چې د درېواړو دپاره د ﴿ أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ﴾ ایت دوهم مفعول واقع شوی دی، خو د اولنیو دواړو دپاره مقدر دی او د درېمې ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ دپاره مذکور دی؟

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_ چې: دا د دې دپاره چې ذکر شوی تعدد په درېوو قباحتونو باندې دلالت وکړي هغه دا چې:

الف: په ﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِي يَنْهَىٰ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې د عبادت څخه بندګان منعه کول په هر حال بدکار دی.

ب: په ﴿ أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ۝ أَوْ أَمَرَ بِٱلتَّقْوَىٰٓ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې دغه منعه کول په هغه حال کښې ډېر بد کار دی چې منعه کوونکی خپل ځان په هدایت باندې او همدارنګه په تقوی باندې امر کوونکی هم ګڼي.

ج: په ﴿ أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې ذکره شوې منعه په هغه وخت کښې زښته ډېره بده ده چې کله د هغه چا د پلوه صورت ونیسي کوم چې د پیغمبر تکذیب کوونکی او همدارنګه توحید ته شا اړوونکی وي.

## د "نَسْفَع" او "نَاصِيَة" معناوې

۵_ په ﴿ لَنَسْفَعًۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ۝ نَاصِيَةٍ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴾ کښې د ﴿ لَنَسْفَعًا ﴾ په کلمې پورې د ناکید خفیف "ن" اتصال موندلی دی چې "لَنَسْفَعَنْ" لوستله کېږي خو د عثماني خط د املاء یې په قرآن کریم کښې لیکنه په "الف" سره ده[1]. دغه کلمه د "سَفَع" _لکه "ضَرَب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې په شدت سره راکشولو ته ویل کېږي[2].

او د "نَاصِيَة، نَاصِيَة" دواړه کلمې پکښې هره یوه د تندي (ټنډې) معنی ورکوي او د تندي په وېښتانو باندې یې هم اطلاق کېږي[3]، چې په پښتو کښې ورته "پیکی" ویلی کېږي.

یعنې که ذکر شوی طاغي او ناشکره انسان د خپلو شرکیاتو څخه منعه نه شي او په همدې کفري حالت باندې مړ شي نو هرومرو به یې مونږ د سر د وېښتانو (پیکي) څخه ونیسو او دوزخ ته به یې

[1] تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۱۱
[2] لسان العرب ج۸ ص۱۵۸
[3] مفردات الراغب ص۵۱۷؛ روح المعاني ج۳۰ ص۱۸۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په شدت سره کش کړو، البته داسې پیکی چې ډېر دروغژن او ډېر خطاکار دی. [العلق/۱۶]
همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ﴾ [الرحمن/۴۱] یعنې د مجرمانو تندی (پیکی) او پښې به ونیولی شي (او دوزخ ته به ورګوزار کړی شي).

## سوال جواب

۶_ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې د "کذب" او "خطاء" دواړو نسبت پیکي ته وکړی شو حال دا چې دغه دواړه په خپله کافر پورې ارتباط لري؟

مونږ وایو چې: د اکثرو جنایتکارانو او کافرانو عادت دی چې د خپلو سرونو ویښتان کمولي خو پیکي اوږده پرېږدي، نو دلته د جنایتکار څخه د تحقیر دپاره په پیکي سره تعبیر صورت نیولی دی، او "کذب" او "خطاء" دواړه ورته نسبت شوي دي.

## د "نادي" او "الزَّبَانِيَة" معناوې

۷_ په ﴿فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ۝ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ﴾ کښې د "نادي" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [العنکبوت/۲۹] ایت لاندې تشریح شوې ده چې د اجتماع او شورې معنی ورکوي، بیا تشریح کولو ته یې څه ارتیا نه ګورو.

او د "زَبَانِيَة" کلمې پکښې د "زَبْن" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاق موندلی دی چې په شدت سره د ټېل وهلو دپاره وضعه شوې ده[1]، خو په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د قوتناکو پرښتو معنی ورکوي[2].

همدارنګه په ذکرو شوو ایتونو کښې د ابو جهل هغه خبره رده شوې ده چې ویل به یې: "مَا بِهَا نَادٍ أَكْثَرُ مِنِّي"[3] یعنې په مکه معظمه کښې زما څخه زیات مجلس درلودونکی نشته زه غتبه شورا لرم (نو که ضرورت شو خپل نصرت ته به یې راوغوارم).

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ذکر شوی جنایتکار (ابو جهل) دې خپل کومک ته خپل د مجلس غړي وروغواړي نو ډېر ژر ده چې مونږ به ټېل وهونکې او دیکه کوونکې پرښتې راوبلو (او په نوموړي باندې به یې مسلطي کړو).

په همدې ارتباط عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي چې: «لَوْ دَعَا نَادِيَهُ لَأَخَذَتْهُ مَلَائِكَةُ الْعَذَابِ مِنْ سَاعَتِهِ»[4] یعنې که ابو جهل خپل د مجلس غړي وربللي وی نو نوموړی به سمدستي د عذاب پرښتو نیولی وی.

---

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۴۳۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۱۲۶
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۳
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۲۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ع(۳۰)

## هېر مو نه شي

۱- هېر مو نه شي چې عربي لیک دود ته په پام سره باید په ﴿ سَنَدْعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ﴾ کښې د ﴿سَنَدْعُ﴾ کلمه په "و" سره "سَنَدْعُو" لیکلی شوې وې، خو عثماني رسم الخط د قیامت تر ورځې پورې خپل شکل نه بدلوي.

## د تلاوت څوارلسمه سجده

۹- په ﴿ لَا تُطِعْهُ وَٱسْجُدْ وَٱقْتَرِب ۩ ﴾ کښې د تلاوت څوارلسمه او وروستنۍ سجده نازله شوې ده، چې مونږ یې مربوط ضروري احکام د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۲۰۶] لاندې لیکلي دي. خو په دې مقام کښېورباندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

الف: ابو هریره رضي الله عنه ویلي دي چې: «سَجَدْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ»[۱] یعنې مونږ د الله ﷻ د پیغمبر سره په "الِانْشِقَاق" او "الْعَلَق" دواړو سورتونو کښې د تلاوت سجدې کړې دي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ»[۲] یعنې خپل رب ﷻ ته د بنده ډېر نژدې حال دا دی چې نوموړی سجده کوونکی وي نو تاسو (په دغه حال کښې) ډېر سوالونه کوئ (څه لرې نه ده چې قبول کړی شي).

په همدې ځای باندې د "الْعَلَق" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الْمُقَرَّبِينَ لَكَ.

۱۴۲۶/۲/۷ هـ ق - ۱۳۸۳/۱۲/۲۷ هـ ش.

(۱) سنن ابن ماجه ص۷۳
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۱۹۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# القدر (۹۷)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (الْقَدْر) د همدې سورت په لومړنيو درېيو ايتونو کښې نازل شوی دی.
۲ـ د دې سورت په مکيتوب او مدنيتوب کښې اختلاف دی[۱]، خو د اکثرو علماوو کرامو په نزد مکي دی[۲].
۳ـ د دې سورت د ايتونو شمېر پنځه (۵) ايته دي[۳].
۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېر دېرشو (۳۰) کلمو ته رسېږي[۴].
۵ـ د دې سورت د حرفونو شمېر ايله يو سلو دولسو (۱۱۲) حرفونو ته پورته شوی دی[۵].
۶ـ د دې سورت (الْقَدْر) او د وړاندېني سورت (الْعَلَق) تناسب پوره واضحه دی چې هلته د قرآن کريم د نزول پيل ته اشاره شوې وه او دلته د قرآن کريم د شان عظمت او لويی ته اشاره کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ۝١ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ ۝٢ لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ۝٣ تَنَزَّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ۝٤ سَلَٰمٌ هِىَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ ۝٥﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر رحم والا الله ﷻ په نامه.

[۱] يقيناً مونږ قرآن کريم په عظمت درلودونکې شپه کښې نازل کړی دی.

[۲] او ته څه شي پوه کړې چې عظمت درلودونکې شپه څه شی ده؟ (څومره عظمت لري؟).

[۳] عظمت درلودونکې شپه د يو زر مياشتو څخه بهتره (غوره) ده (د دغې يوې شپې عبادت د يو زر مياشتو د عبادت څخه ډېر بهتر دی).

[۴] په دې شپه کښې پرښتې او جبرائيل ؑ د خپل رب ﷻ په حکم (او اجازه ځمکې ته) رانښکته کېږي. (البته) د هر (هغه) کار (د شروع) دپاره (د کوم اجراء کول چې د کال په اوږدو کښې پيل کړی شوي وي).

[۵] (دا شپه د معنوي امراضو څخه) سلامتيا ده (چې قرآن کريم پکښې نزول موندلی دی). دا شپه (د ثواب د حيثه) د سبا تر راختلو پورې (اوږده) ده.

---

(۱) البحر الوجيز ج ۱۶ ص ۳۳۸
(۲) تفسير القاسمي ج ۱۷ ص ۲۱۴
(۳) تفسير البغوي ج ۴ ص ۵۰۸
(۴) تفسير الخازن ج ۶ ص ۵۴۴
(۵) اللباب في علوم الكتاب ج ۲۰ ص ۴۲۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

١_ په ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ ﴾ کښې د "ه" ضمیر قرآن کریم ته راجع دی[١]، که څه هم قرآن کریم وړاندې په صراحت سره ذکر نه دی مګر د مقام په لحاظ مذکور ګڼلی کېږي او په دې باندې علاوه د سورت (الْعَلَق) په [٣] ایت کښې ورته په "اقْرَأ" سره هم اشاره شوې ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:١٨٥] او د [الدخان:٣] ایتونو لاندې لیکلي دي چې قرآن کریم په یوه شپه (لَيْلَةُ الْقَدْر) کښې په دوه معناوو سره نازل شوی دی.

الف: په یوه شپه کښې د لوح محفوظ څخه ټول قرآن کریم په یو ځل نازل کړی شو او د اسمان په "بَيْتُ الْعِزَّة" نومي مقام کښې کېښودل شو او بیا په درویشتو کلونو کښې ځمکې ته رانښکته کړی شو.

ب: لکه چې د [العلق:١] ایت لاندې ورته اشاره شوې ده، د قرآن کریم نزول په لیلة القدر کښې د پنځو ایتونو په نزول سره پیل شوی دی، نو د دغو پنځو ایتونو نزول ته د ټول قرآن کریم د نزول لقب ورکړی شوی دی.

## "قَدْر" څه معنی؟

١_ په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْقَدْرِ ﴾ کلمه درې کرته نازله شوې ده چې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[٢] خو د مقام په لحاظ بهتره برېښي چې دلته د عظمت او شرف معنی ورکړي چې په [الدخان:٣] ایت کښې د همدغې شپې څخه په مبارکې شپې سره تعبیر نازل شوی دی.

## سوالونه او جوابونه

٢_ دلته د سړي په ذهن کښې لاندې سوالونه ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: په څه مناسبت هغه شپه د عظمت او شرف شپه بلله شوې ده په کومه کښې چې قرآن کریم نزول موندلی دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم د دغې شپې د عظمت او شرف دپاره دا هم کفایت کوي چې د قرآن کریم د نزول دپاره خانګړې شوې ده مګر عظمت او شرف ته یې په ﴿ لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴾ سره تفصیل ورکړی شوی دی چې په دغې شپه کښې د نېک عمل ثواب د هغه نېک عمل د ثواب څخه بهتر دی کوم چې په یو زر میاشتو کښې ترسره شوی وي[٤].

یا په بل عبارت: د لیلة القدر د یوې شپې عبادت (که څه هم ستوماني پکښې ډېره لږه (د

(١) اضواء البیان ج٩ ص٤٧٩
(٢) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٥٢٩
(٣) زاد المسیر ج٨ ص١٨٣
(٤) تفسیر الطبري ج٣٠ ص٢٦٠

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عمر (۳۰۰۰۰) شپو د عبادت څخه غوره او بهتر دی سره د دې چې ستوماني پکښې د بره دېرش زرو میاشتې د دېرشو زرو شپو سره تقریبًا مساوي دي.

ب: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ایت شریف کښې د دېرشو زرو (۳۰۰۰۰) شپو څخه په زرو (۱۰۰۰) میاشتو سره تعبیر نازل شو؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې: حکمت پکښې د روژې د میاشتې بهترۍ ته اشاره ده چې د قرآن کریم د نزول میاشت هم بهتره ده او شپه یې هم بهتره ده.

که بالفرض په میاشتو صراحت نه وی نازل شوی نو دغه اشاره به پټه پاتې وی.

ج: که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې عائشه رضي الله عنها مخاطبه ګرځولې ده چې: «وَلَكِنَّهَا عَلَى قَدْرِ نَصَبِكِ»[1] یعنې لاړه شه د "تنعیم" څخه احرام وتړه او خپله عمره اداء کړه، مګر د دې عمرې ثواب ستا د ستومانۍ په اندازه دی (هومره ثواب نه درکولی کېږي څومره چې د میقات په احرام سره ورکولی کېږي). نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه حدیث د ایت سره منافي نه دی؟ ایا د حدیث مفهوم دا نه دی چې اجر او ثواب په هر عبادت کښې د ستومانۍ په اندازه دی؟

مونږ وایو چې: د نېکو اعمالو او عبادتونو د اجرونو زیادت ډېر اسباب لري لکه:

اول: د مکان په لحاظ، لکه چې په حرمینو کښې لمونځونه ډېر ثوابونه لري[2].

دوهم: د زمانې په لحاظ، چې د روژې په میاشت کښې نفل د فرضو ثواب ته رسېږي[3].

دریم: د عمل د اهمیت په لحاظ، چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيمَا سِوَاهُ»[4] یعنې د الله ﷻ په لاره کښې (جهاد ته) یوه ورځ تیاری نیول د یو زر ورځو د تیاري نیولو څخه بهتر دي (البته چې د جهاد دپاره نه بلکې د بل عبادت دپاره صورت ونیسي.

څلورم: د عمل کوونکي د ستومانۍ په لحاظ، چې ذکر شوي حدیث وربانديې دلالت کوي.

نو په حدیث کښې د بهترۍ یوه سبب ته اشاره شوې ده او حصر پکښې مطلب نه دی ترڅو د ایت شریف سره منافات ولري او اعتراض وارد شي.

د: که څوک وایي چې: لیلة القدر د کومې شپې څخه عبارت دی؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو په دې باره کښې په مختلفو دلایلو سره متعدد اقوال کړي دي چې تقریباً څلوېښتو (۴۰) قولونو ته رسېږي[5]، خو کوم شی چې بهتر برېښي هغه دا دی چې:

اول: د دغې شپې په ارتباط د [البقرة:۱۸۵] او د [الدخان:۳] ایتونو لاندې د الله ﷻ په توفیق

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۳۹۰؛ مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۲۹۲
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۷۴
(۳) مشکوة المصابیح ج۱ ص۱۷۳
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۱۳۷
(۵) تفسیر المظهري ج۱۰ ص۳۱۲؛ تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۱۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ليکلي شوي دي چې دغه شپه د رمضان (روژې) په مياشت کښې ده، په همدې مطلب باندې ايتونه دلالت کوي.

دوهم: د احاديثو څخه راجحه برېښي چې دا شپه د روژې په وروستنيو لسو شپو او په تېره بيا په طاقو شپو کښې او په مشخصه توګه اوه ويشتمه شپه ده، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

هـ: که څوک وايي چې: د ليلة القدر په ارتباط کوم کوم احاديث روايت شوي دي؟

مونږ وايو چې: په همدې ارتباط ځينو مفسرينو کرامو د احاديثو بنه غټه مجموعه راغونډه کړې ده[۱] ـ وجزاهم الله خيرا ـ چې دلته فقط د لاندې احاديثو په ذکر باندې اکتفاء کېږي:

اول: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَرُفِعَتْ»[۲] يعنې زه د کوره راووتلم ترڅو تاسو ته په ليلة القدر سره خبر درکړم (چې فلانکۍ شپه ده) خو د فلاني او فلاني جګړه وه نو پېژاندل يې راڅخه اوچت کړی شوه. يا په بل عبارت د بې اتفاقۍ او اختلاف د کبله راڅخه هېره شوه چې کومه شپه ده؟.

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې عائشه رضي الله عنها مخاطبه کړه چې: «اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي»[۳] يعنې (اى عائشې! که ته د ليلة القدر سره برابره شوې او هغه دې وموندله) نو ووايه چې: اى الله ﷻ يقيناً ته عفوه کوونکی يې (او) عفوه خوښوې نو زما څخه عفوه وکړې.

و: که څوک وايي چې: بنيادم به په څه پوه شي چې دا شپه ليلة القدر ده؟

مونږ وايو چې: څه خاص يقيني علامات نشته چې ذکره شوې شپه وربانديې وپېژاندله شي، او نه يې په پېژاندلو کښې څه خاصه ګټه شته او نه پکښې په پېژاندلو سره څه اجرونه زياتېږي.

په کار دي چې هرڅوک د هرې شپې په عبادت کښې زيار وباسي نو د قيامت په ورځ به ورڅرګنده شي چې فلانکۍ شپه ليلة القدر وه، الله ﷻ هيڅ نېک عمل نه ضائع کوي.

همدارنګه څه لرې نه ده چې ځينو بندګانو ته الله ﷻ ذکره شوې شپه په څه خاصو نښو سره وروپېژني. د مثال په توګه يو سړی وايي چې د روژې اوه ويشتمه شپه وه د خوبه راويښ شوم چې د کوټې په شمول ټوله منطقه داسې رڼا وه لکه د څوارلسمې سپوږمۍ رڼا، په دغې رڼا کښې هيڅ شي سورى نه درلود، لکه څنګه چې د لمر په رڼا کښې په ځينو ځايونو باندې لمر وي او په ځينو باندې سورى وي، بلکې کوټه او دباندې انګړ دواړه يو برابر روښانه وه، الله ﷻ أعلم بما قال.

ز: که څوک وايي چې: په ﴿ تَنَزَّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم ﴾ کښې د "الرُّوح" کلمه دلته څه معنى ورکوي؟

مونږ وايو چې: جمهورو علماوو کرامو په دې مقام کښې دغه کلمه په جبرائيل عليه السلام سره تفسير

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۵۳۲؛ الدر المنثور ج۸ ص۵۶۹، ۵۸۴؛ تفسير الخازن ج۶ ص۵۴۴
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۲۷۱
(۳) سنن ابن ماجه ص۲۷۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړې ده[۱]، چې په بل ایت کښې ورباندې تقریباً صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ﴾ [الشعراء:۱۹۳] یعني د (الله ﷻ د پلوه) قرآن کریم امانتګرې پرښتې (جبرائیل ﷺ) نازل کړی دی.

ح: که څوک وايي چې: په لیلة القدر کښې ځمکې ته د جبرائیل ﷺ په شمول د پرښتو په رابښکته کېدلو کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ اعلمـ چې: د پرښتو د نزول سره د الله ﷻ د رحمتونو نزول ملګری وي ترڅو تري د ځمکې اوسېدونکي استفاده وکړي.

نو په دغې شپه کښې د پرښتو نزول د هغو پرښتو نزول ته ورته دی کومې چې رابښکته کېږي او د ذکر حلقې احاطه کوي چې نبي کریم ﷺ ورته په یوه اورده حدیث کښې اشاره کړې ده[۲].

## هېر مو نه شي

۳ـ په ﴿ مِّن كُلِّ أَمۡرٍ ﴾ په کلماتو کښې باید لاندې نکات هېر نه کړی شي[۳]:

الف: د "من" توری د ﴿ تَنَزَّلُ ﴾ په کلمې پورې تعلق نیسي او د سبب په معنی باندې دلالت کوي.

ب: په ﴿ كُلِّ أَمۡرٍ ﴾ کښې د "أمْر" کلمه د هغه کار څخه عبارت ده کوم چې د هر کال په اول کښې د لوح محفوظ څخه راجدا کولی کېږي او پرښتو ته د اجراء دپاره ورکولی کېږي.

همدې کار ته په [الدخان:۴] ایت کښې اشاره شوې ده چې هملته د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په یوه حدیث سره ښه پوره تفسیر شوی دی.

یعني په دغې شپه کښې د جبرائیل ﷺ په شمول د خپل رب ﷻ په امر او اجازه پرښتې ځمکې ته د هغه کار سره راکوزېږي کوم چې د لوح محفوظ څخه د اجراء دپاره راجدا کړی شوی وي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: راجدا کړی شوي کارونه خو په ټول کال کښې اجراء کېږي، نه په دغې یوه شپه کښې، نو په دغې شپه کښې د هغو رابښکته کولو معنی څه ده؟

مونږ وایو چې: د راجدا کړی شوو کارونو د راکوزولو معنی دا ده چې په همدغې شپه کښې یې په اجراء باندې پیل صورت نیسي نه دا چې ټول په دغې یوه شپه کښې اجراء کېږي. د دغه جواب یو نظیر وړاندې په لومړنۍ توضیح کښې د قرآن کریم په هکله تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## نحوي تحلیلونه

۵ـ د ﴿ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ﴾ کلمات د إعراب په لحاظ په لاندې دوه وو ډولونو سره تحلیل شوي دي:

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۱۶؛ تفسیر الخازن ج۶ ص۵۴۸
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۹۴۸
(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۱۹۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: چې د ﴿ سَلَٰمٌ ﴾ کلمه د سلامتیا معنی ورکړي[۱] او د مقدرې مبتدأ (لَيْلَةُ الْقَدْرِ) دپاره خبر شي، نو په دې تحلیل سره د ﴿ حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ ﴾ کلمات بېله جمله ګرځي یعنې لَيْلَةُ الْقَدْرِ سراسري سلامتیا ده چې قرآن کریم پکښې نازل شوی دی کوم چې د قیامت تر ورځې پورې د ټولو معنوي امراضو څخه د سلامتیا عظیم سبب دی.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «عَلَيْكُمْ بِالشِّفَاءَيْنِ الْعَسَلِ وَالْقُرْآنِ»[۲] یعنې په تاسو باندې ضروري ده چې د دوه وو رغوونکو شیانو څخه ګټه اوچته کړئ چې یو شات دي (د ظاهري امراضو څخه د نجات دپاره) او بل قرآن کریم دی (د معنوي امراضو څخه د نجات دپاره).

ب: چې د ﴿ سَلَٰمٌ ﴾ کلمه د "تَسْلِيم" معنی ورکړي[۳] او د "هِيَ" دپاره مقدم خبر وګڼلی شي[۴] کوم چې ﴿ لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ﴾ ته راجع دی، نو په دې تحلیل سره د ﴿ حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ ﴾ کلمات په ﴿ سَلَٰمٌ ﴾ پورې تعلق نیسي. یعنې لیلة القدر آن د سبا راختلو پورې د پرښتو په سلام اچولو باندې مشتمله ده، ته به وایې چې ټوله سلام-سلام ده. او دا ځکه چې په دغې شپه کښې په هر مؤمن نارینه او هرې مؤمنې زنانه باندې پرښتې سلامونه اچوي چې په عبادت مشغول وي.

## تبصره

۶_ مونږ ته د مقام په لحاظ اولنی تحلیل په زړه پورې برېښي چې ټوله خبره د قرآن کریم په عالي شان کښې راروانه ده او ذکر شوی تحلیل ورسره ډېر ښه تناسب لري.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې: د ﴿ حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ ﴾ د جملې معنی دا ده چې "لَيْلَةُ الْقَدْر" د سبا په طلوع سره ختمېږي، نو دلته د کوم اقلیم "مَطْلَعِ الْفَجْر" مطلب دی؟

مونږ وایو چې: دلته مطلق "مَطْلَعِ الْفَجْر" مطلب دی چې ټولو اقالیمو ته په تدریجي توګه شمولیت لري، نو د هر اقلیم لَيْلَةُ الْقَدْر د هماغه اقلیم په غروب سره پیل کېږي او په مَطْلَعِ الْفَجْر سره یې ختمېږي. نو لَيْلَةُ الْقَدْر په کال کښې یو ځل د ټولو اقالیمو دوره کوي، او کله چې پیل شي نو د ورځې غونډې په دوران کښې وي او توقف نه کوي ترڅو چې خپله دوره بشپړه کړي، والله ﷻ اعلم.

په همدې ځای د (الْقَدْر) سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنَّا.

۱۴۲۶/۳/۱۱ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۱ هـ ش.

---

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۲۸۹
(۲) سنن ابن ماجه ص۲۴۶
(۳) البحر المحیط ج۱۰ ص۵۱۵
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج ۲۰ ص۴۲۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# البينة (٩٨)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت (اَلْبَیِّنَة) دوه ایتونه (اول او څلورم) په خپل نامه باندې مشتمل دي.

۲ـ په دې سورت کښې علماء کرام مختلف دي[1] ځینې وایي چې: دا مکي سورت دی او د ځینو نورو په نزد مدني سورت دی، خو صحیح خبره دا ده چې دا سورت مدني سورت دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[2].

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه اته (۸) دي[3].

۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېر څلور اتیا (۸۴) کلمو ته رسېږي[4].

۵ـ د دې سورت د حروفو شمېر درې سوه او نوي (۳۹۰) حرفونو ته پورته شوی دی[5].

۶ـ دا سورت (اَلْبَیِّنَة) د وړاندې سورت (اَلْقَدْر) دپاره د علت په مقام کښې قرار لري. یعني مونږ څکه قرآن کریم نازل کړ چې د پخوانیو اسماني کتابونو اثرات محوه شوي وه او خلک په اختلافاتو او بې دینیو باندې اخته وه.

کله چې دغه سورت نازل شو نو نبي کریم ﷺ د أُبَي بن کعب ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

نبي کریم ﷺ: «إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ ﴿لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ (هَذِهِ السُّورَةَ)» یعني یقیناً ما ته الله ﷻ امر کړی دی چې زه په تاباندې دغه سورت (اَلْبَیِّنَة) قرائت کړم.

أُبَي بن کعب ﷺ: ای د الله رسوله! ایا زه درته الله ﷻ په نامه سره یاد کړم؟

نبي کریم ﷺ: «نَعَمْ»[6] یعني هو، ته یې راته په نامه سره یاد کړې.

نو أُبَي بن کعب ﷺ د ډېرې خوشالۍ د کبله وژړل او د سترګو څخه یې اوښکې وبهېدلې.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ لَمْ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلْبَيِّنَةُ ﴿١﴾

رَسُولٌ مِّنَ ٱللَّهِ يَتْلُوا۟ صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴿٢﴾ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟

ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾ وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ

حُنَفَآءَ وَيُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلْقَيِّمَةِ ﴿٥﴾ ﴾

---

(۱) زاد المسير ج۸ ص۲۸۸
(۲) روح المعاني ج۳۰ ص۲۰۰
(۳) تفسير البغوي ج۴ ص۵۱۳
(۴) تفسير الخازن ج۶ ص۵۴۹
(۵) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۴۳۳
(۶) صحيح البخاري ج۲ ص۷۴۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] هغو کسانو چې کفر غوره کړی وه چې د اهل الکتابو او مشرکانو څخه عبارت دي (د خپلو کفرياتو څخه) تر هغه جدا کېدونکي نه وه ترڅو چې هغوی ته ځرګند دلالت (او حُجت) ورشي (او کفري اطمنان يې د منځه يوسي).

[۲] (دا ځرګند دلالت او حجت) د الله ﷻ د داسې پيغمبر څخه عبارت دی چې پاکيزه پاڼې ورباندې په دوامداره توګه ولولي (قرائتې کړي).

[۳] (البته داسې پاکيزه پاڼې) چې شرعي مستقيم احکام پکښې (ثبت) دی.

[۴] او (د دې سره-سره) هغو کسانو (د حق څخه) جدايي (او بيلتون) خپل نه کړ کومو ته چې کتاب ورکړی شوی وه مګر وروسته د هغه چې واضحه دلالت (او حجت) ورته ورغی.

[۵] حال دا چې اهل الکتاب (د هيڅ شي دپاره) مامور شوي نه وه مګر د دې دپاره چې الله ﷻ نه عبادت وکړي (البته) په داسې حال کښې چې خپل دين ورته سوچه ګرځوونکی وي (او هم په داسې حال کښې) چې د ټولو باطلو اديانو څخه حق دين ته ګرځېدونکی وي.

او (هم د دې دپاره) چې دوی لمونځ ودروي او زکات ورکړي.

او دغه (د) مستقيم (اُمت) دين دی (نه هغه چې هغوی غوره کړی دی).

## د مطلب خلاصه

يعني ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې څه مطالب قرائت کړه. هغه دا چې:

۱ـ الله ﷻ په ليلة القدر کښې د دې کبله قرآن کريم نازل کړ چې په ټوله دنيا باندې د ضلالت تياره خوره وه او د پخوانيو پيغمبرانو د هداياتو او ارشاداتو آثار بالکل محوه شوي وه.

نو عادةً ممکنه نه وه چې مشرکان او اهل الکتاب او هم نور کفار د خپلو کفرياتو څخه تر هغه جداکېدونکي وګرځي ترڅو چې ورته واضحه او ځرګند حُجت ورشي او حقه لاره ورښکاره کړي چې په کفري مسلکونو باندې يې اطمنان د منځه يوسي.

۲ـ نو الله ﷻ دغه کار د خپله جانبه د داسې پيغمبر په ارسال سره عملي کړ چې:

الف: کوم چې د الله ﷻ د پلوه د داسې ځرګندو معجزاتو او اخلاقو درلودونکی دی چې نبوت يې هر چا ته په اثبات رسوي.

ب: کوم چې د استمرار په توګه ورباندې پاکيزه صحيفې قرائت کوي چې د لوح محفوظ څخه يې ورته پرښتې راحکايت کوي او ورته يې وحې کوي، چې په دغو صحيفو کښې مستقيم احکام ثبت دي او د دنيا او د آخرت ارشادات پکښې ليکلي شوي دي.

۳ـ د دغه پيغمبر مبعوثيت هغوی ته دا اسانه کړه او د عادت په لحاظ يې ورته ممکنه وګرځوله چې د حق دين څخه فاصله ونه نيسي او جدايي ترې خپله نه کړي بلکې منګولې ورباندې خښې کړي. خو د هغوی يوې ډلې هم په اتفاق سره دغه کار ته اقدام ونه کړ چې نه ټولو اهل الکتابو ايمان

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راوړو او نه ټول مشرکان په ایمان باندې مشرف وګرځېده.

۴ـ که څه هم د ذکر شوي پیغمبر په مبعوثیت باندې مشرکانو عقیده نه درلوده او نه ورته معلومات وه چې آخر الزمان پیغمبر مبعوث کېدونکی دی مګر اهل الکتابو ته دغه معلومات وه، نو دوی د حق څخه فاصله ونه نیوله او تفرق یې ترې خپل نه کړ مګر د هغه څخه وروسته چې ذکر شوی دلالت او حُجت ورته ورغی، او داسې یې وپېژاند لکه چې څوک خپل زامن پېژني.

۵ـ نو په همدې بنیاد اهل الکتاب د خپلو پخوانیو پیغمبرانو د پلوه نه وه مامور کړی شوي او نه مکلف ګرځولي شوي وه مګر:

الف: په دې مکلف کړی شوي وه چې په اخلاص سره د الله ﷻ عبادت وکړي او یوازې د همده ﷻ انقیاد خپل کړي او هم د شرکیاتو او کفریاتو څخه ډډه وکړي.

یا په بل عبارت: هغوی مکلف ګرځولي شوي وه چې د ټولو باطلو ادیانو او باطلو عقائدو څخه ابراهیمي توحیدي دین ته راواوړي.

ب: چې خاص الله ﷻ ته لمونځونه اداء کړي او زکاتونه ورکړي (بدني او مالي عبادتونه وکړي).

خو هغوی خپل ماموریت ترسره نه کړ چې نه یې د ابراهیمي توحید عقیده خپله کړه او نه یې خاص د الله ﷻ دپاره بدني او مالي عبادتونه وکړه.

۶ـ ای پیغمبره! ذکره شوې توحیدي ابراهیمي عقیده او هم بدني او مالي عبادتونه مستقیم دین دی چې تاته هم د پخوانیو پیغمبرانو غوندې وحې کړی شوی او درنازل کړی شوی دی.

خو لکه چې په پخوانیو حقو ادیانو باندې ټول خلک په ایمان راوړلو سره متفق نه شوه او ټولو وربانذې د څرمې عقیده خپله نه کړه نو همدارنګه تاته په درنازل کړی شوي دین باندې هم ټول خلک په اتفاق سره ایمان نه راوړي که څه هم ته د هغوی په ایمان راوړلو باندې زښت ډېر حرص کوونکی یې.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ لَمۡ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ﴾ کښې د "مِنۡ" توری د ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ دپاره بیان واقع شوی[1] کوم چې د ﴿ لَمۡ يَكُنِ ﴾ دپاره اسم دی او د ﴿ مُنفَكِّينَ ﴾ کلمه یې خبر ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه: که څوک وایي چې د ﴿ حَتَّىٰ ﴾ توری خو د ﴿ مُنفَكِّينَ ﴾ په کلمې پورې تعلق نیسي چې د انفکاک (جداکېدلو) په انتهاء باندې دلالت کوي، حال دا چې د نبي کریم ﷺ په مبعوثیت سره د هغوی عقیدوي انحراف انتهاء ونه مونده بلکې لا وربانذې کلک شوه؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال د مخنیوي دپاره علماوو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[2]، خو کوم

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۶۸۳

(۲) التفسیر الکبیر ج۳۲ ص۳۸؛ روح المعاني ج۳۰ ص۲۰۲؛ اضواء البیان ج۹ ص۴۰۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


جواب چې په زړه پورې دی د هغه خلاصه په لاندې ډول ده:

الف: د ﴿ مُنفَكِّينَ ﴾ د کلمې معنی دا ده چې هغوی د دې کبله د خپلو کفریاتو څخه انفکاک موندونکي (جداکېدونکي) نه وه چې هره یوه کفري ډله په خپله کړنلاره باندې مطمئنه وه چې همدا حقه لاره ده.

ب: د دغه اطمنان وجه دا وه چې حقیقي حقه لاره د خلکو څخه بالکل ورکه وه، چې مشرکانو خو اصلاً حقه لاره نه درلوده، او آهل الکتابو که څه هم حقه لاره درلوده مګر په تحریف سره یې وریاندې خاورې اړولې وې.

ج: د نبي کريم ﷺ په بعثت سره او د بعثت په دلایلو او معجزاتو سره د هغوی اطمنان پای ته ورسېد او هره یوه ډله د خپل مسلک په بطلان باندې پوه شوه. او د یوې ډلې سره هم په خپل مسلک باندې د کلک پاتې کېدلو څه وجه په لاس کښې پاتې نه شوه، او یوازې عنادیانو د عناد د کبله مخالفت ته ادامه ورکړه.

د: که نبي کريم ﷺ نه وی مبعوث شوی او قرآن کريم په لیلة القدر کښې نزول نه وی موندلی نو کفار به توانېدلي وی چې د قیامت په ورځ یې د الله ﷻ په حضور کښې د کافر پاتې کېدلو دپاره څه اعتذار وړاندې کړی وی، خو په بعثت سره د دغه اعتذار مخه ونیوله شوه.

هـ: همدغه مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَلَوۡ أَنَّآ أَهۡلَكۡنَٰهُم بِعَذَابٖ مِّن قَبۡلِهِۦ لَقَالُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولٗا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبۡلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخۡزَىٰ ﴾ [طه: ۱۳۴] یعنې او که (بالفرض) مونږ دوی په داسې عذاب سره هلاک کړي وی کوم چې د قرآن کريم د نزول څخه وړاندې صورت نیولی وي نو ضرور به دوی ویلي وی چې: ای زمونږ ربه! ولې دې مونږ ته پيغمبر راونه لېږه (او ولې دې مونږ ته معجز کتاب رانازل نه کړ) ترڅو مونږ وړاندې د دې چې ذلیله او شرمنده شو ستا د ایتونو پیروي کړې وې.

## څو مطالب

۲- په دې مقام کښې باید لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: د ذکر شوي ایت د ﴿ ٱلۡبَيِّنَةُ ﴾ کلمه د دلالت او لاربښودانې دپاره وضعه شوې ده برابره خبره ده چې عقلي لاربښودانه وي او که حسي[1].

خو دلته د ﴿ رَسُولٞ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ په کلماتو سره تفسیره شوې ده او د نبي کريم ﷺ دپاره لقب ګرځولی شوې ده. یعنې د الله ﷻ لېږلی شوی بنده (محمد ﷺ) ډېر ښه لاربښود دی.

ب: په ﴿ يَتۡلُواْ صُحُفٗا مُّطَهَّرَةٗ ﴾ کښې د قرآن کريم څخه د لاندې دوه وو وجو د کبله په "صُحُف" سره (چې د پاڼو معنی ورکوي) تعبير نازل شوی دی:

[1] مفردات الراغب ص۶۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: مونږ د الله ﷻ په توفيق د [عبس:۱۳] ايت لاندې ليکلي دي چې د قرآن کريم د نزول په وخت کښې به د لوح محفوظ څخه پرښتو څو ايتونه راليکل او په نبي کريم ﷺ باندې به يې د الله ﷻ د ارشاد په مطابق قرائت کول او وحې کول ترڅو يې چې په دروپشتو کالو کښې نزول بشپړ شو.

دوهم: دغه نازل کړی شوي ايتونه به د نبي کريم ﷺ په امر سره ټکړه-ټکړه ليکل کېدل چې د پاڼو حيثيت يې درلود، بيا همدغه پاڼې د عثمان بن عفان رضی الله عنه په خلافت کښې په کتاب باندې تبديلې شوې چې د قيامت تر ورځې پورې به په همدغه شکل باقي وي (الله ﷻ دې ورته قوت او غلبه ورکړي).

ج: په ﴿ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴾ کښې د "كُتُب" کلمه د "مَكْتُوبَات" په تاويل سره د شرعي احکامو څخه عبارت ده[۱]. يعني په دغه قرآن کريم کښې ډېر مستقيم او دائمي شرعي احکام ثبت شوي دي چې د دنيا او آخرت دواړو لارې پکښې ښودلې شوې دي.

د: په ﴿ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلْقَيِّمَةِ ﴾ کښې د "ذَٰلِكَ" کلمه د ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا ﴾ الآية مضمون ته اشاره ده[۲].

او د ﴿ ٱلْقَيِّمَةِ ﴾ کلمه صفت مشبه ده چې موصوف "الأُمَّة" ورسره مقدر دی[۳]، ته به وايې چې داسې "وَذَٰلِكَ دِينُ الْأُمَّةِ الْقَيِّمَةِ" نازل شوی دی.

يعني دغه مضمون (کوم ته چې په ايت شريف کښې اشاره شوې ده) په لاره باندې د سم او برابر اُمت دين دی او په همدغه دين باندې أهل الکتاب مکلف ګرځولی شوي وه خو هغوی يې حق اداء نه کړ او په تحريف سره يې د ښنو لاندې کړ.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْمُشْرِكِينَ فِى نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ۝٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ ٱلْبَرِيَّةِ ۝٧ جَزَآؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِىَ رَبَّهُۥ ۝٨ ﴾

[۶] يقيناً هغو کسانو چې کفر غوره کړی دی چې د اهل الکتابو او مشرکينو څخه عبارت دي (د قيامت په ورځ) د دوزخ په اور کښې دي په داسې حال کښې چې هلته به پکښې همېشه وي، دغه کفار چې دي همدوی د مخلوق ډېر بد (مخلوق) دی.

[۷] يقيناً هغو کسانو چې ايمان راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي دغه کسان چې دي همدوی د مخلوق ډېر بهتر (مخلوق) دی.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۲۰ ص۱۴۳
(۲) تفسير الطبري ج۳۰ ص۲۶۴
(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۵۳۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸] د دوی جزا چې ده د دوی د رب ﷻ په نزد د اقامت داسې جنتونه ده چې لاندې ترې (څلور) لښتي بهېږي، په داسې حال کښې چې دوی به هلته همېشه وي، همېشه.
د دوی څخه الله ﷻ (په اطاعت سره) راضي دی، او دوی د الله ﷻ څخه (په اجرونو او نعمتونو سره) راضي دي.
(ای پیغمبره!) دغه (ذکر شوي نعمتونه) د هغه چا دپاره دي چې د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي (نو د منهیاتو او شرکیاتو څخه اجتناب کوي).

## ارتباط او توضيحات

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو (اهل الکتابو او مشرکانو) دنیاوي حالت او په کفر باندې کلکوالی نازل شوی وه او په دې ایتونو کښې د دغو دواړو ډلو بلکې د ټولو کفارو اُخروي حالت ته اشاره شوې ده.

۲ـ په ﴿ هُمْ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ او ﴿ هُمْ خَيْرُ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ کښې د "بَرِيْئَة، بَرِيَّة" دواړه کلمې د صفت مشبه صيغې دي او د "بَرْء" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقي شوې دي چې د (خَلْق) پیدا کولو په معنی دي.
دغه دواړه کلمې په اصل کښې "بَرِيْئَة، بَرِيْئَة" ـلکه "فَعِيْلَة"ـ وې، په دواړو کښې د همزې دواړه توري د "يْ" په دوه وو تورو باندې بدل شوي دي او بیا اصلي "يْ" په تبدیلي "يْ" کښې ادغام موندلی دی.
بالآخره ذکرې شوې دواړه کلمې دلته د "مَخْلُوقَة، مَخْلُوقَة" معناوې ورکوي چې هره یوه ټولو بنیادمانو ته شمولیت لري[۱].

## ماثور تفسیر

۳ـ ذکرې شوې دواړه کلمې د نبي کریم ﷺ د خپلو صحابه وو کرامو ﷺ سره د سوال جواب په ضمن کښې ډېرې ښې تفسیرې کړې دي چې حاصل یې داسې راځېږي:
نبي کریم ﷺ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الْبَرِيَّةِ؟» یعنې ای صحابه وو! ایا زه تاسو ته د مخلوقاتو په بهتر مخلوق سره خبر درنه کړم؟
صحابه کرام ﷺ: هو، (ولې نه؟) ای د الله رسوله!.
نبي کریم ﷺ: «رَجُلٌ آخِذٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ ﷻ كُلَّمَا كَانَتْ هَيْعَةٌ اسْتَوَى عَلَيْهِ» یعنې هغه سړی د مخلوقاتو بهتر سړی دی چې د الله ﷻ په لار کښې خپل آس لره په قیضې سره نیوونکی وي هر کله چې جهاد ته د تللو اواز وکړی شي نو سمدستي ورباندې کینې (سورېږي او جهاد کوي).
نبي کریم ﷺ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِالَّذِي يَلِيهِ؟» یعنې ایا په هغه چا باندې درته خبر درنه کړم کوم چې ذکر شوي سړي ته ورنژې دی (په دوهمه درجه کښې قرار لري).

[۱] لسان العرب ج۱۴ ص۷۲؛ القاموس المحیط ج۱ ص۲۳۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صحابه کرام ﷺ هو، (ولې نه؟) ای د الله رسوله! په دغه سړي باندې هم خبر راکړه.

نبي کريم ﷺ: «الرَّجُلُ فِي ثُلَّةٍ مِنْ غَنَمِهِ يُقِيمُ الصَّلَاةَ وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ» يعنې دا هغه سړی دی چې د خپلو يو کنډک ګډو په خدمت کښې مشغول وي چې لمونځ ودروي او زکات ورکوي.

نبي کريم ﷺ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِشَرِّ الْبَرِيَّةِ؟» ايا زه تاسو ته د مخلوقاتو په شر مخلوق سره خبر درنه کړم؟

صحابه کرام ﷺ: هو، (ولې نه؟) ای د الله رسوله! مونږ ته ورباندې خبر راکړه.

نبي کريم ﷺ: «الَّذِي يُسْأَلُ بِاللهِ وَلَا يُعْطِي بِهِ»[1] يعنې دا هغه څوک دی چې د الله ﷻ په نامه سره ترې څه شی غوښتلی کېږي او نوموړی يې پرې نه ورکوي (خو د بوت په نامه يې ورکوي).

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د ﴿ هُمْ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ څخه څرګندېږي چې ذکر شوي کفار د ابليس څخه هم په بدۍ او بد عاقبت کښې اضافه دي؟

مونږ وايو چې: دلته په بنيادمانو کښې خبره روانه ده او د ابليس خبره هيڅ مطرحه نه ده.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفيق د "الْبَيِّنَة" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ.

۱۴۲۶/۳/۱۵ هـ ق = ۱۳۸۴/۱/۵ هـ ش.

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۳۵۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الزلزال (۹۹)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت په نامه (الزلزال) باندې د همدې سورت لومړنی ایت مشتمل دی.

۲ـ په دې سورت کښې د علماوو کرامو اختلاف دی چې مکی دی او که مدنی دی[۱]؟ خو ابن عباس ﷺ وايي چې: دا مدني سورت دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[۲].

۳ـ دا سورت فقط اته (۸) ایتونه لري[۳].

۴ـ د دې سورت کلمات پنځه دېرش (۳۵) دي[۴].

۵ـ د دې سورت د حرفونو شمېر یو سلو نهه څلوېښتو (۱۴۹) ته پوره شوی دی[۵].

۶ـ د وړاندېني سورت د وروستنیو ایتونو مضمون دا وه چې د قیامت په ورځ به خلک په دوه وو ډلو ووېشلی شي او په دې سورت کښې په همدغه مطلب باندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده.

۷ـ په یوه اوږده حدیث کښې یو ځل یو سړي د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې یو جامع سورت ورباندې قرائت کړي. نبي کریم ﷺ ورباندې همدغه د ﴿ إِذَا زُلْزِلَتِ ﴾ سورت قرائت کړ، نو د دې سورت په اورېدلو سره نوموړي سړي وویلې چې: زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي چې ته يې د پیغمبر په حیث را استولی یې، چې زه به د همېشه دپاره په دغه سورت باندې زیادت ونه کړم (او فقط همدا سورت به په هر کار کښې خپل استاذ ونیسم)، دا يې وویلې او روان شو.

نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «أَفْلَحَ الرُّوَيْجِلُ أَفْلَحَ الرُّوَيْجِلُ»[۶] یعنې دغه سړیکی کامیاب شو، دغه سړیکی کامیاب شو.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿٢﴾ وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴿٦﴾ فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿٧﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿٨﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (هغه وخت یاد کړه چې:) کله ځمکه وخوځوله شي خپل خوځول.

[۲] او چې (کله) ځمکه خپل درانه شیان (مړي او خزانې) بهر وباسي.

---

(۱) روح المعاني ج۳۰ ص۲۰۸
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۵۹۰
(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۱۵
(۴) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۵۴
(۵) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۴۴
(۶) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۷۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳] او چې (کله) انسان (د تعجب په توګه) ووایي چې: ځمکې لره څه دي؟ (چې دومره په شدت سره لړزېږي).

[۴] په دغې ورځ کښې به ځمکه خپل خبرونه بیان کړي (چې فلاني راباندې دغه کار کړی دی او فلاني راباندې، هغه کار کړی دی).

[۵] (البته) په دې سبب (به بیان وکړي) چې ستا رب ﷻ به ورته امر کړی وي.

[۶] په دغې ورځ کښې به خلک (د محاسبې د میدان څخه) متفرقې ډلې د دې دپاره راستانه شي ترڅو خپل اعمال (د خپلو اعمالو جزا یا سزا) وګوري.

[۷] نو هر چا چې د یوې ذرې په اندازه د خیر کار کړی وي (هم) هغه به وګوري (بدله به یې مونده کړي).

[۸] او هر چا چې د یوې ذرې په اندازه د شر کار کړی وي (هم) هغه به وګوري (بدله به یې مونده کړي).

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ په ﴿ إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴾ کښې د "إِذَا" کلمه په مقدر "أُذْكُرْ" پورې تعلق نیسي[۱]، او په ﴿ زِلْزَالَهَا ﴾ کښې د ځمکې ضمیر ته د "زِلْزَال" کلمه مضافه شوې ده. ترڅو د زلزلې په عظمت او شدت باندې دلالت وکړي[۲]. یعني هغه عظیم الشانه زلزله یاده کړه چې د ځمکې د عظمت او ښوالي سره مناسبه ده چې غرونه به یې تول والوزوي او لوړې ژورې به یې ټولې محوه کړي.

## "ثقل" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴾ کښې د "أَثْقَال" کلمه د "ثَقَل" ـلکه "ضَرَر"ـ جمعه ده، ثقل هغه شي ته ویل کېږي چې وزن (درندوالی) لري، خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۳]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: "أَثْقَال" دلته د سرو زرو او سپینو زرو د خزانو څخه عبارت ده، کومو ته چې د یوه حدیث په رڼا کښې د الله ﷻ په توفیق د [الإنفطار:۴] ایت لاندې اشاره شوې ده.

ب: دلته د "أَثْقَال" کلمه د هغو مړو څخه عبارت ده چې د ځمکې په ګېډه کښې د قیامت تر ورځې پورې منحل شوي او پټ پراته دي.

همدې مطلب ته الله ﷻ په بل ایت کښې داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ أَحْيَآءً وَأَمْوَٰتًا ﴾ [المرسلات:۲۶] یعني ایا مونږ ځمکه ژوندیو او مړو ته جمعه کوونکې نه ده ګرځولې؟

[۱] البحر المحیط ج۱۰ ص۵۲۱
[۲] تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۲۸
[۳] زاد المسیر ج۸ ص۲۹۲؛ اضواء البیان ج۹ ص۴۳۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۳_ څرنګه چې د قیامت په ورځ او یا قیامت ته په نژدې وخت کښې د ځمکې څخه دواړه دوله اثقال راوځي، نو بهتره دا ده چې د "ما يطلق عليه الاثقال" (هر هغه شی چې د اثقال اطلاق پرې کېږي) په ملحوظ ذکر شوي دواړه ډوله تفسیرونه مراد کړی شي. یعنې هغه وخت یاد کړه چې ځمکه د خپلې ګېډې څخه خپل داخلي اثقال (انسانان وي او که خزانې وي) بهر راوباسي.

## هېر مو نه شي

۴_ هېر مو نه شي چې: د ﴿ وَقَالَ ٱلْإِنسَـٰنُ مَا لَهَا ﴾ ایت د وړاندېنیو دواړو ایتونو سره د بدلیت په لحاظ ارتباط درلودلی شي[۱]، چې څه تفصیل یې دا دی:

الف: کله چې په ځمکې سخته زلزله شي نو هغه انسان به د "مَا لَهَا" کلمات ووایي کوم چې په سات کړی کښې مرکېدونکی وي. یعنې دا څومره سخته زلزله ده؟! تعجب دی ځمکې ته، څه ورپېښه ده چې دومره په شدت سره جرقېږي؟.

ب: کله چې مړي د قبرونو څخه رابهر شي نو تازه ژوندی کړی شوی انسان به د تعجب په توګه ووایي چې: "مَا لَهَا" یعنې دغې ځمکې لره څه دي چې هیڅ مړی یې په خپله ګېډه کښې پټ پرېښود او ټول یې بهر راوویستل؟!.

ج: کله چې د دجال په زمانه کښې ځمکه په خپله ګېډه کښې غلې کړې خزانې دباندې راوباسي نو په دغه وخت کښې به انسان تعجب وکړي چې: "مَا لَهَا" یعنې دغې ځمکې لره څه دي؟ څومره ډېرې خزانې یې رابهر کړې؟! په دې کښې څومره خزانې پټې وې؟!.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: داسې څرګندېږي چې: د ﴿ وَقَالَ ٱلْإِنسَـٰنُ مَا لَهَا ﴾ او د ﴿ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴾ دواړه جملې به په یوه وخت کښې صورت ونیسي، حال دا چې د ځمکې د تحدیث وخت نه د "دجال" د وخت سره او نه د اولنۍ زلزلې سره سمون خوري؟

مونږ وایو چې: دلته د ﴿ يَوْمَئِذٍ ﴾ څخه هغه اوږد وخت مطلب دی کوم چې د قیامت په علاماتو سره پیل کېږي او په بعث بعد الموت باندې ختمېږي. نو د دجال وخت او د لومړنۍ زلزلې وخت دواړه پکښې شمولیت لري او دواړه ورسره څه منافات نه لري.

د دغه جواب یوه مثال ته د الله ﷻ په توفیق د [التكوير: ۱_ ۴] ایتونو لاندې اشاره شوې ده، هیله ده چې هلته یو خل مراجعه وکړی شي.

## ماثور تفسیر

۶_ نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې د ﴿ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴾ ایت په ارتباط فرمایلي دي

(۱) تفسير القرطبي ج ۲۰ ص ۱۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



«فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا»[۱] یعنې نو یقیناً د ځمکې خبرونه دا دي چې په هر بنده او هرې بندګۍ باندې به په هغه کار سره شهادت اداء کړي کوم یې چې د ځمکې په شا اجراء کړی وي چې په فلانۍ ورځ یې دغه دغه عمل کړی دی او په فلانۍ ورځ یې هغه‌هغه عمل کړی دی».

## "وحی" څه معنی؟

۷_ په ﴿ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴾ کښې د ﴿ أَوْحَىٰ ﴾ کلمه اصلاً د "وَحْي" څخه اشتقاقه شوې ده چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۱۶۳] ایت لاندې ښه پوره تشریح کړې ده، خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په امر سره تفسیره کړې ده[۲]. یعنې ځمکه به څکه خپل ټول خبرونه هوبهو او ټکي په ټکي بیان کړي چې ستا رب ﷻ به ورته د هغو د بیانولو امر کړی وي.

## د "صدر" او "شت" معناوې

۸_ په ﴿ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا ﴾ کښې د "يَصْدُرُ" کلمه د "صَدر" _لکه "ضَرب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د بېرته ستنېدلو معنی ورکوي[۳]. او د "أَشْتَات" کلمه پکښې د "شَتّ" _لکه "شَدّ"_ جمعه ده، او "شَتّ" د "فِرقَة" سره مترادف دی[۴].

یعنې په دغې ورځ کښې چې ځمکه خپله شاهدي اداء کړي او حسابات تصفیه شي نو خلک به د محشر د میدان څخه ډلې-ډلې بېرته ستنېږي ترڅو د خپلو- خپلو اعمالو جزا یا سزا وګوري نو څوک به سپین مخونه جنت ته روان شي او څوک به تور مخونه دوزخ ته ټېلوهلی شي.

په دغه مضمون باندې په نورو ایتونو کښې هم صراحت نازل شوی د مثال په توګه:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴾ [الروم:۱۴] یعنې او په کومه ورځ چې قیامت قائم شي نو په دغې ورځ کښې به خلک (په دوه وو) ډلو سره ووېشلی او جدا شي (چې یوه ډله به جنت ته لاړ شي او بله به په دوزخ کښې وغورزوله شي).

ب: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴾ [الروم:۴۳] یعنې په دغې ورځ کښې به خلک په ډېره جدي (او دائمي) توګه سره جدا-جدا شي (چې دا ښېلتون به یې نهایي ښېلتون وي نو جنتیان به جنت ته لاړ شي او دوزخیان به دوزخ ته).

## "ذَرَّة" څه معنی؟

۹_ په دغو دوه ایتونو کښې د ﴿ ذَرَّةٍ ﴾ کلمه دوه کرته نازله شوې ده چې مونږ د [النساء:۴۰]

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۶۸
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۱۵
(۳) لسان العرب ج۴ ص۴۴۸
(۴) القاموس المحیط ج۲ ص۶۷۱؛ البحر المحیط ج۱۰ ص۵۲۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ښه پوره تشریح کړې ده، او هم مو هلته لیکلي دي چې دا کلمه په عربي کلام کښې د کوچنیوالي په لحاظ ضرب المثل ده او حصر پکښې مطلب نه دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د دغو دواړو ایتونو په اړوند زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې خینو علماوو کرامو یې یوه مجموعه راغونډه کړې ده[۱] جزاهم الله خیراً. خو مونږ په همدې ارتباط د اوږدوالي د ډاره فقط د لاندې دوه وو احادیثو په ذکر باندې بسنه کوو:

الف: نبي کریم په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِيَّاكُمْ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ فَإِنَّهُنَّ يَجْتَمِعْنَ عَلَى الرَّجُلِ حَتَّى يُهْلِكْنَهُ»[۲] یعني تاسو د حقیر ګڼلو شوو ګناهونو څخه خپل ځانونه بچ وساتئ چې دغه (حقیرې او وړې) ګناهونه په سړي باندې جمعه کېږي (او ډېرېږي) آن تردې چې سړی هلاک کړي.

ب: یوه ورځ نبي کریم ﷺ د اس په هکله څه ارشادات وفرمایل چې لنډ مضمون یې دا دی:

اول: اس د مجاهدینو د پاره اجر دی چې اثار او لډوان یې ټول په حسناتو کښې حسابېږي.

دویم: اس د هغه چا دپاره پرده او عزت دی څوک یې چې د دې دپاره ساتي چې د خلکو څخه پرې د سواله بې پروا شي، خو چې د الله ﷻ حق پکښې هېر نه کړي (چې خیرات پکښې وکړي).

دریم: اس د هغه چا دپاره د ګناه سبب دی څوک یې چې د تکبر او ریاکارۍ او هم د اسلام سره د دښمنۍ په نیت ساتنه کوي.

بیا د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړی شوه ایا خر هم د اس غونډې ذکر شوي درې ډولونه لري؟

نو نبي کریم ﷺ په جواب کښې وویلې چې: «مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهَا إِلَّا هَذِهِ الْآيَةُ الْفَاذَّةُ الْجَامِعَةُ ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾»[۳] یعني په ماباندې د خره په هکله څه خاص شی نه دی نازل شوی مګر دغه ممتاز جامع ایت راباندې نازل شوی دی (چې د خره په شمول هر شي ته شامل دی. یا په بل عبارت: هر څوک چې د هر شي په ارتباط (که څه هم خر وي) د یوې ذرې په اندازه د خیر کار وکړي اجر او ثواب به یې وګوري، او هر څوک چې د هر شي په ارتباط (که څه هم خر وي) د یوې ذرې په اندازه د شر کار وکړي سزا به یې وګوري، نو هیڅ شی بدون د حسابه نه پرېښودل کېږي).

په همدې ځای باندې د "الزِّلْزَال" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ إِنْ تَكُ لَهُمْ حَسَنَةٌ تُضَاعِفُهَا وَتُؤْتِ مِنْ لَدُنْكَ أَجْرًا عَظِيمًا.

۱۴۲۶/۳/۱۷ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۷ هـ ش.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص ۵۴۰

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۵

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۴۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# العاديات (١٠٠)

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

١ـ دا سورت (الْعَادِيَات) په خپل نامه باندې شروع شوی دی او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

٢ـ دغه سورت ځینې علماء کرام مدني ګڼي او ځینې نور ورباندې د مکي سورت نوم ږدي[١].

٣ـ د دې سورت د ایتونو شمېر یوولس (١١) ایاته دی[٢].

۴ـ د کلماتو شمېر یې څلوېښتو (۴٠) کلمو ته رسېدلی دی[٣].

۵ـ د حرفونو شمېر یې درې سوه او درې شپېته (٣۶٣) حرفه دی[۴].

۶ـ د دې سورت (الْعَادِيَات) او د وراندېني سورت (الزِّلْزَال) د تناسب ځینې وجوه دا دي:

الف: په دواړو سورتونو کښې د مړو په بیا راژوندي کرخولو باندې صراحت نازل شوی دی.

ب: په دواړو کښې د جزا او سزا ذکر شته خو هلته په غیر قلبي اعمالو سره او دلته په قلبي اعمالو سره.

ج: هلته دېته اشاره شوې وه چې انسان د ښو او بدو دواړو استعداد لري او دلته دېته اشاره کېږي چې که چهاد د انسان لاس نیوی ونه کړي نو ضرور ناشکري او بدي اختیاروي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ﴿١﴾ فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا ﴿٢﴾ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا ﴿٣﴾ فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا ﴿٤﴾ فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ﴿٥﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ ﴿٦﴾ وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ﴿١٠﴾ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ﴿١١﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١] د جهاد په خغلېدونکو اسونو باندې سوګند دی (البته) په داسې حال کښې چې (د خغاستې د امله) ستمبدونکي وي.

[٢] نو د جهاد په اور بلوونکو اسونو باندې (سوګند دی البته) په داسې حال کښې چې په سومونو سره (د خغاستې د امله) سپرغې شندونکي وي.

[٣] نو د جهاد په یرغل کوونکو اسونو باندې (سوګند دی البته) د سهار په وخت کښې.

---

(١) المحرر الوجيز ج١۶ ص٣۵٢
(٢) تفسير الطبري ج٣٠ ص٢٧١
(٣) تفسير الخازن ج۶ ص۵۵٧
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج٢٠ ص۴۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴] نو چې جهادي اسونه په همدغه سهار کښې ګردونه (او دوړې) پورته کوي.
[۵] نو په همدغه سهار وخت کښې (د کفارو) د ټولګیو منځ ته ورداخلېږي.
[۶] چې یقینًا انسان خپل رب ﷻ ته ناشکره او بخیل دی.
[۷] او چې یقینًا انسان په خپل همدغه حالت باندې (د حال په ژبه) شهادت ورکوونکی دی.
[۸] او چې یقینًا انسان د مال د محبت (او مینې) د کبله ډېر سخت (او کلک) دی.
[۹] نو ایا انسان نه پوهېږي چې کله د ځمکې څخه هغه شیان راوویستلی شي کوم یې چې (په ګېډه کښې) پټ دي.
[۱۰] او چې (کله) هغه شیان تحصیل (او راټولګند) کړی شي چې په سینو (او زړونو) کښې دي.
[۱۱] (ایا نوموړی نه پوهېږي) چې یقینًا د دوی رب ﷻ په دغې ورځ کښې (هم) په دوی باندې خبردار دی؟ (نو مطابقه سزا یا جزا به ورکړي).

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱_ په دې سورت کښې د "عَادِیَات، مُورِیَات، مُغِیْرَات" درېواړه کلمې ځینو علماوو کرامو په اوښانو سره تفسیرې کړې دي[۱]، مګر د اکثرو مفسرینو کرامو په نزد دغه درېواړه کلمې د جهادي اسونو څخه عبارت دي[۲]، چې څه شرحه یې په همدې تفسیر سره په لاندې ډول وړاندې کېږي:

۲_ په ﴿وَٱلۡعَٰدِيَٰتِ ضَبۡحٗا﴾ کښې د "عَادِیَات" کلمه په اصل کښې "عَادِوَات" وه او د "عَادِیَة" جمعه ده چې د "عَدْو" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ځغلېدلو معنی ورکوي[۳]. په همدې عبارت کښې د "ضَبْح" کلمه د اس هغه اواز ته وضعه شوې ده کوم چې د ځغاستې په وخت کښې کوي[۴]، څه لږ نه ده چې مونږ ترې په ستمبدلو یا سونېدلو سره تعبیر وکړو. دغه کلمه د "ضَابِحَات" په تاویل سره د هغه ضمیر څخه حال واقع شوې ده کوم چې په "الْعَادِیَات" کښې مستتر دی[۵].

یعنې په جهاد کښې په ځغلېدونکو اسونو باندې سوګند دی، البته په داسې حال کښې چې د ډېرې ځغاستې او ستومانۍ د کبله ستمبدونکي او سونېدونکي وي.

۳_ په ﴿فَٱلۡمُورِيَٰتِ قَدۡحٗا﴾ کښې د "مُورِیَات" کلمه د "مُورِیَة" جمعه ده چې د "اِیْرَاء" _لکه "اِکْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اوربلولو معنی ورکوي[۶].

او د "قَدْح" کلمه پکښې د یوه شي په بل شي باندې په شدت سره وهلو ته ویل کېږي[۷]، لکه چې

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۱۹۵؛ روح المعاني ج۳۰ ص۲۱۷
(۲) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۲۷۳؛ تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۱۵۳
(۳) مفردات الراغب ص۳۲۸
(۴) القاموس المحیط ج۲ ص۶
(۵) تفسیر الکشاف ج۴ ص۷۸۶
(۶) لسان العرب ج۱۵ ص۳۸۹
(۷) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۳۳۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اس د خغاستې په وخت کښې خپل نالونه د ډبرو سره جنګوي او د اور سپرغې ترې بادوي.

په همدې ارتباط د [يس: ٨٠] ايت لاندې ځه شرحه تېره شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ چې يو ځل کتل يې په ګټه تمامېږي.

دغه کلمه ﴿ قَدْحًا ﴾ هم د "قادحَات" په تاويل سره د هغه ضمير ځخه حال واقع شوې ده کوم چې په ﴿ فَٱلْمُورِيَٰتِ ﴾ کښې مستتر دی[١].

يعني نو په جهاد کښې د اور په بلوونکو اسونو باندې سوګند دی البته په داسې حال کښې چې نالونه د ډبرو سره جنګوي او د اور سپرغۍ شندي.

٤ـ په ﴿ فَٱلْمُغِيرَٰتِ صُبْحًا ﴾ کښې د "مُغِيرات" کلمه د "مُغِيرَة" جمعه ده او د "إغَارَة" ـ لکه "إضَافَة" ـ ځخه اشتقاقه شوې ده چې د هجوم وروړلو او يرغل دپاره وضعه شوې ده[٢]. يعني نو د جهاد په هغو اسونو باندې سوګند دی کوم چې د سهار په وخت کښې په دښمنانو (کافرانو) باندې يرغل وروړونکي دي.

انس بن مالک ﷺ دغه مطلب ته داسې اشاره کوي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُغِيرُ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ»[٣] يعني د الله ﷻ پيغمبر ﷺ وه چې په دښمن باندې به يې هغه وخت حمله کوله چې کله به سبا طلوع وکړه (د شپې يې حمله نه کوله).

٥ـ په ﴿ فَأَثَرْنَ بِهِۦ نَقْعًا ﴾ کښې د "بِهِ" توري د "فِيه" معنی ورکوي او ضمير يې وخت ته راجع دی[٤]، په کوم باندې چې په وړاندېني ايت کښې د ﴿ صُبْحًا ﴾ کلمه دلالت کوي.

او په همدغه ايت کښې د ﴿ نَقْعًا ﴾ کلمه د ګرد او دوړې دپاره وضعه شوې ده[٥].

يعني نو ذکر شوي اسونه د همدغه سهار په وخت کښې په خپل يرغل او حملې سره ګردونه او دوړې اوچتوي.

٦ـ په ﴿ فَوَسَطْنَ بِهِۦ جَمْعًا ﴾ کښې د "وَسَطْنَ" کلمه د "دَخَلْنَ" معنی ورکوي[٦] او د "بِهِ" د "ب" توری د "فِي" معنی ورکوي او ضمير يې وخت ته راجع دی[٧] چې په وړاندې ايت کښې ورباندې د ﴿ صُبْحًا ﴾ کلمه دلالت کوي. يعني ذکر شوي جهادي اسونه د همدغه سهار په وخت کښې د کفارو د ټولګي منځ ته ورداخلېږي او عمليات ترسره کوي.

٧ـ په ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٌ ﴾ کښې د "كَنُود" کلمه اصلاً د هغې ځمکې نوم دی کومه چې

---

(١) تفسير ابي السعود ج٩ ص١٩٠
(٢) تفسير القرطبي ج٢٠ ص١٥٨؛ اضواء البيان ج٩ ص٤٤٠
(٣) صحيح مسلم ج١ ص١٦٦
(٤) تفسير القاسمي ج١٧ ص٣٣٣
(٥) القاموس المحيط ج٤ ص٤٢٨
(٦) لسان العرب ج٧ ص٤٣١
(٧) تفسير الكشاف ج٤ ص٧٨٧

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نباتات نه زرغونوي[۱]، خو په دې مقام کښې د بخيل او ناشکره معنی ورکوي[۲].

دغه ايت شريف د ذکرو شوو سوګندونو جواب دی چې حاصل يې داسې راځېږي چې په ذکرو شوو جهادي اسونو باندې سوګند دی چې انسان ډېر ناشکره او بخيل دی. يا په بل عبارت ذکر شوي جهادي اسونه په دې دلالت کوي او شهادت ورکوي چې انسان د طبيعت په لحاظ (بدون د شريعت د لاس نيوي څخه) هرومرو د نعمتونو ناشکري خپلوي، او بخيل دی، لازم حقوق د پښتو لاندې کوي. که بالفرض انسان دغسې نه وی چې د نعمتونو شکريه يې کولی او په حقوقو باندې يې ګېډه نه اچولی نو جهاد ته به څه اړتيا نه وی پېښه شوې او جهادي اسونه به نه وی خغلېدلي.

۸_ ځينو علماوو کرامو په ﴿ وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴾ کښې د "ه" ضمير الله ﷻ ته راجع ګڼلی دی[۳]. يعنې الله ﷻ د انسان په ناشکرۍ او بخل باندې شهادت ورکوي.

مګر د دې دپاره چې د ضمائرو انتشار صورت ونه نيسي غوره دا ده چې دغه ضمير انسان ته راجع وګڼلی شي[۴]، لکه چې په متصل ايت کښې د "ه" ضمير انسان ته راجع دی. يعنې يقيناً انسان د حال په ژبه په خپل ځان باندې شهادت ورکوي او ټول کړه وړه يې په دې دلالت کوي چې نوموړی بخيل دی او هم کَفُور (ناشکره) دی.

۹_ په ﴿ وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴾ کښې د انسان د شومتيا او ناشکرۍ وجې ته اشاره شوې ده. يعنې انسان ځکه ذکر شوي خصلتونه خپل کړي دي چې نوموړی د دنياوي مال سره ډېر زيات محبت لري او په همدې مينه کښې ډېر کلک دی.

۱۰_ د ﴿ أَفَلَا يَعْلَمُ ﴾ څخه د سورت ترپايه پورې په درېوو ايتونو کښې انسان تهديد شوی دی چې بايد د ذکرو شوو خصلتونو څخه لاس واخلي که نه نو د جهادي اسونو د يرغلونو سره به مخامخ شي، او که بالفرض په دنيا کښې ورته دغه مصيبت ونه رسېږي نو د قيامت ورځ خو ورته په مخکښې پرته ده، چې هلته به مړي د قبرونو څخه را اوچت کړی شي او په دقت سره محاسبه به شروع شي حتی چې په زړه کښې غلې او پټه ساتلې شومتيا او ناشکري به هم راڅرګنده کړی شي او موافقه جزا به ورباندې مرتبه کړی شي. او دا ځکه چې: الله ﷻ لکه چې په دنيا کښې په هر شي خبردار دی په آخرت کښې هم ورباندې خبردار دی.

د "الْعَادِيَات" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ.

۱۴۲۶/۳/۱۸ هـ ق – ۱۳۸۴/۱/۸ هـ ش.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۶۰

(۲) روح المعاني ج ۳۰ ص ۲۱۸

(۳) زاد المسير ج ۸ ص ۲۹۷

(۴) تفسير ابن کثير ج ۴ ص ۵۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# القارعة(١٠١)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (الْقَارِعَة) د همدې سورت لومړنۍ ایت ګرځولی شوی دی.

۲ـ دا سورت مکي سورت دی[۱]، او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما هم ویلي دي چې: «نَزَلَتْ سُورَةُ الْقَارِعَةِ بِمَكَّةَ»[۲] یعنې د "الْقَارِعَة" سورت په مکه معظمه کښې نازل شوی دی.

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه یوولس (۱۱) دي[۳].

۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېر شپږ دېرشو (۳۶) ته پوره شوی دی[۴].

۵ـ د دې سورت د حرفونو شمېر یو سلو دوه پنځوسو (۱۵۲) ته رسېږي[۵].

۶ـ په دې سورت (الْقَارِعَة) کښې د وړاندېني سورت (الْعَادِيَات) د وروستنیو ایتونو مضامین تعقیب شوی دي او د قیامت ورځ پکښې شرحه شوې ده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ ٱلْقَارِعَةُ ﴿١﴾ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴿٢﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴿٣﴾ يَوْمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلْفَرَاشِ ٱلْمَبْثُوثِ ﴿٤﴾ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ ﴿٥﴾ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴿٦﴾ فَهُوَ فِى عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴿٨﴾ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٌ ﴿٩﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا هِيَهْ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌۢ ﴿١١﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] ټکوونکی لوی مصیبت چې دی.

[۲] لوی ټکوونکی مصیبت څه شی دی؟

[۳] او ته څه شي پوه کړې چې لوی ټکوونکی مصیبت څه شی دی؟

[۴] (ټکوونکی لوی مصیبت) په هغې ورځ کښې (تحقق مومي) چې خلک به (پکښې) د خورو ورو پتنګانو غوندې وګرځي (او اضطراب به پکښې زښت ډېر شي).

[۵] او غرونه به (پکښې) د رنګه ډاڼډس کړی شوو وړیو غوندې جوړ شي.

[۶] نو هر هغه څوک چې تلې یې درنې شي.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۵۶
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۶۰۵
(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۱۹
(۴) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۵۹
(۵) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۶۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷] نو دا کس به په خوشاله معیشت کښې وي (او په جنت کښې به راضي وي).

[۸] او هر هغه کس چې تلې یې سپکې شي.

[۹] نو د دغه کس استوګنځای "هاویه" دی.

[۱۰] او ته څه شي پوه کړې چې دا څنګه ځای دی؟

[۱۱] (هاویه) ډېر ګرم اور (دوزخ) دی.

## توضیحات

۱ـ د قیامت ورځ ډېر لقبونه لري چې یو لقب یې "اَلْقَارِعَة" دی، دغه لقب یې په دې مقام کښې په درې ایتونو کښې نازل شوی دی.

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الرعد:۳۱] ایت لاندې لیکلي دي چې: د "اَلْقَارِعَة" کلمه د هغه لوی مصیبت څخه عبارت ده کوم چې سرې ټکوي او ډېر سخت یې زوروي.

یعنې ټکوونکې ورځ چې ده دا څنګه ورځ ده؟ ایا د دې ورځې ټکول او زورول درته معلوم دي؟ ته څه شي پوه کړې چې دا څنګه ورځ ده؟ د الله ﷻ څخه په غیر وربانديې تا څوک نه شي پوه کولی.

۲ـ په ﴿ يَوْمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلْفَرَاشِ ٱلْمَبْثُوثِ ﴾ کښې ذکره شوې ورځ لږ څه شرحه شوې ده چې د ﴿ يَوْمَ ﴾ کلمه پکښې په ﴿ ٱلْقَارِعَةُ ﴾ پورې تعلق نیسي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدغه ایت کښې د "فَرَاش" کلمه د "فَرَاشَة" ـلکه "شَرَافَة"ـ جمعه ده، "شَرَافَة" د پتنګ په معنی ده[۱].

یعنې "اَلْقَارِعَة" به په هغې ورځ کښې تحقق ومومي په کومه کښې چې خلک د قبرونو څخه را اوچت شي او د پتنګانو غوندې ګډوډ خلط ملط او د اضطرابي حالت سره مخامخ شي. ته به وایې چې دوی پتنګان دي او په ډېره باندې راغونډ شوي دي.

همدغه مضمون ته په [القمر:۷] ایت کښې د مولخانو سره تشبیه ورکړه شوې ده البته کله یې چې لا وزرې نه وي کړې او د ګډوډۍ په حال کښې اخوا او دا خوا ګرځي راګرځي او توپونه وهي.

### "عِهن" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ ﴾ کښې د "عِهْن" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [المعارج:۹] ایت لاندې معنی کړې ده چې د هغو رنګه وړیو څخه عبارت ده چې په ډانډس باندې وهلې شوې وي او تیتې پرکې ګرخولې شوې وي. یعنې په دغې ورځ کښې به غرونه د ګرد غوندې هوا ته والوزي او په ډانډس باندې د وهلو شوو وړیو په څېر به خواره واره شي. یا په بل عبارت: لکه څنګه چې غرونه مختلف رنګونه لري همدارنګه به یې ګردونه هم مختلف رنګونه خپل کړي.

(۱) لسان العرب ج ۶ ص ۳۳۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## هېر مو نه شي

۴_ هېر مو نه شي چې مونږ د ﴿فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ﴾ او د ﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ﴾ ایتونو په ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۸، ۹] ایتونو لاندې پوره توضیحات لیکلي دي چې بیا توضیح کولو ته یې اړتیا نه ګورو، هیله ده چې علاقمندان هملته مراجعه وکړي.

## "هَاوِيَة" څه معنی؟

۵_ په ﴿فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ﴾ کښې د "هَاوِيَة" کلمه په اصل کښې د هغه ژور خای په معنی ده چې د بېخ او ژوروالي اندازه یې معلومه نه وي[1]. خو په دې مقام کښې د دوزخ څخه عبارت ده، چې په وروستنیو ایتونو کښې وروباندې صراحت شوی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه دغه دوزخ د دې کبله د کافر دپاره مور ګرځولی شوی دی چې همدغه د نوموړي ارامګاه ده او همدغه یې استوګنځای دی، بله ارامګاه او بل استوګنځای نه لري، لکه چې یو ماشوم د خپل مور په غېږ کښې ارام نیسي او بس[2].

## د سکتې "هـ"

۶_ په ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ﴾ کښې د "هِيَ" په کلمې پورې (چې ضمیر ده او ﴿هَاوِيَة﴾ ته راجع ده) د سکتې دپاره د "هـ" توری پېوسته شوی دی.

او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الحاقة:۱۹_ ۳۷] ایتونو لاندې په لومړنۍ توضیح کښې د ذکرې شوې "هـ" تعریف لیکلی دی او هم مو هلته د دغې "هـ" تعداد ښودلی دی چې په قرآن کریم کښې په څو ځایونو کښې نازله شوې ده؟ نو هیله ده چې لوستونکي یې هملته وګوري.

## ماثور تفسیر

۷_ د ﴿نَارٌ حَامِيَةٌ﴾ ایت په ډېرو احادیثو کښې تفسیر شوی دی چې څه برخه یې ځینو مفسرینو کرامو[3] راغونډه کړې ده _جزاهم الله خیراً_ خو مونږ یوازې د لاندې دوه وو حدیثونو په ذکر باندې اکتفاء کوو چې:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ»[4] یعنې ستاسو اور (چې تاسو ترې په دنیا کښې استفاده کوئ) د دوزخ د اور د اویاوو (۷۰) برخو څخه فقط یوه برخه ده (هغه وروباندې نهه شپېته (۶۹) چنده زیات دی).

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۳۷۳
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۴۰؛ روح المعاني ج۳۰ ص۲۲۲
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۴۳
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۴۶۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «وَلَوْلَا أَنَّهَا أُطْفِئَتْ بِالْمَاءِ مَرَّتَيْنِ مَا انْتَفَعْتُمْ بِهَا»[۱] يعنې او كه دغه (د اُخروي اور اوبايمه (۷۰) برخه) دوه كرته په اوبو سره نه وى مړه كړى شوې نو تاسو به ترې ګټه نه وى اخستې (استفاده به مو ترې نه وى كړې).

په همدې خاى د الله ﷻ په توفيق د "الْقَارِعَة" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو.

اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ وَمِنْ فَيْحِهَا.

۱۴۲۶/۳/۱۹ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۹ هـ ش.

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# التکاثر(۱۰۲)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱ـ د دې سورت (التَّكَاثُر) دپاره هغه مصدر نوم ګرځولی شوی دی په کوم باندې چې د همدې سورت لومړنی ایت مشتمل دی.

۲ـ دا سورت د اکثرو مفسرینو کرامو په نزد مکي سورت او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت د ایتونو تعداد فقط اته (۸) دی[۲].

۴ـ د کلماتو شمېر یې اته ویشت (۲۸) کلمې دی[۳].

۵ـ د حرفونو شمېر یې یو سلو شلو (۱۲۰) حرفونو ته پورته شوی دی[۴].

۶ـ وړاندېنی سورت د اُخروي حالاتو په بیان باندې مشتمل وه او په دې سورت کښې همدغه مطلب تعقیب شوی دی او څه نوره رڼا ورباندې هم اچولې شوې ده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ۝١ حَتَّىٰ زُرْتُمُ ٱلْمَقَابِرَ ۝٢ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٣ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٤ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ ٱلْيَقِينِ ۝٥ لَتَرَوُنَّ ٱلْجَحِيمَ ۝٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ ٱلْيَقِينِ ۝٧ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ۝٨ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (ای بنیادمانو!) تاسو (د اُخروي کارونو څخه په دنیاوي شیانو کښې) یو په بل باندې ډېروالي (او سیالی) غافل (او مشغول) ګرځولي یاست.

[۲] آن تردې چې تاسو هدیرو ته میلان وکړئ (او مړه شئ).

[۳] دغسې مه کوئ، ډېر ژر ده چې (په خپله غلطیا باندې) به پوه شئ.

[۴] بیا (وایم چې:) دغسې مه کوئ، ډېر ژر ده چې (په خپله غلطیا باندې) به پوه شئ.

[۵] دغسې مه کوئ، که چرته تاسو (په خپله غلطیا باندې) په علم الیقین سره پوه شوي وی (نو ذکر شوی تفاخر به مو نه وی کړی).

[۶] هرومرو ضرور به تاسو دوزخ (په خپلو غړولو سترګو) وګورئ.

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۳۰۰: البحر المحیط ج۱۰ ص۵۳۵

(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۲۰

(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۶۱

(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۷۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷] بیا (وایم چې:) هرومرو ضرور به تاسو دوزخ په غړولو سترګو په عین الیقین سره وګورئ (او د پوهې سره به مو مشاهده هم ملګرې شي).

[۸] بیا به تاسو هرومرو ضرور په دغې ورځ کښې د نعمت (نعمتونو) څخه وپوښتلی شئ (چې شکر مو کړی دی او که نه؟).

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱ـ په ﴿ أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴾ کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د "أَلْهَی" کلمه اصلا د "لَهْو" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "لَهْو" هغه شي ته ویل کېږي چې انسان د ډېر مهم او باارزښته کارونو څخه مشغول او غافل ګرځوي[۱].

په دې مقام کښې مهم او با ارزښته کارونه د اُخروي او اطاعتي کارونو څخه عبارت دي.

ب: په همدې ایت کښې د "کُمْ" په کلمې سره د ځینو اشخاصو په ملحوظ د قیامت تر ورځې پورې ټول بنیادمان مخاطب ګرځولی شوي دي.

ج: د "تَکَاثُر" کلمه پکښې د دې څخه عبارت ده چې دوه یا ډېر کسان یا ډلې یو تربله په څه شي کښې په سیالۍ اخته شي او هر یو کس یا طرف غواړي چې په بل کس یا بل طرف باندې په نومړي شي کښې غټه ونډه او زیاته برخه ولري[۲].

د: په ذکر شوي ایت کښې د هغه شي نوم نه دی ذکر شوی په کوم کښې چې سیالي او تفاخر صورت نیسي، البته دا د دې دپاره چې عمومیت افاده کړي او مالونو او اولادونو او نورو شیانو ته شمولیت مونده کړي.

یعنې ای بنیادمانو! تاسو د اُخروي کارونو د اجراء څخه په دنیاوي شیانو کښې سیالي او یو په بل باندې ډېروالي مشغول کړي او غافل کړي یاست.

ذکر شوي مضمون ته په ډېرو نصوصو کښې اشاره شوې ده. لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَـٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَـٰسِرُونَ ﴾ [المنافقون: ۹] یعنې ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو دې خپل مالونه او خپل اولادونه د الله ﷻ د ذکر څخه غافل (او مشغول) نه کړي، او هر څوک چې دغه کار وکړي نو دغه کسان چې دي همدوی زیانکاران دي.

دوهم: یوه ورځې نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف قرائت کړ او وې فرمایل چې: «يَقُولُ ابْنُ آدَمَ مَالِي مَالِي وَهَلْ لَكَ مِنْ مَالِكَ إِلَّا مَا تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ أَوْ أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ»[۳] یعنې بنیادم

---

[۱] مفردات الراغب ص۴۷۵
[۲] مفردات الراغب ص۴۴۲
[۳] جامع الترمذي ج۲ ص۶۰؛ صحیح مسلم ج۲ ص۴۹۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وایي چې زما مال، زما مال، حال دا چې ایا تاته د خپل مال څخه څه شی شته (نشته) پرته د هغه څخه چې خیرات یې کړې نو وړاندې دې ولېږې، او یا یې وخورې نو د منځه یې یوسې، او یا یې واغوندې نو زوړ یې کړې (متباقي مال خو ستا د وارثانو دی).

## دوه ډوله تفسير

۲ـ د ﴿حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ﴾ ایت علماوو کرامو په دوه ډوله تفسیر کړی دی چې اول ډول یې په لاندې ټکو کښې د الله ﷻ په توفیق وړاندې کېږي:

الف: د ﴿حَتَّىٰ﴾ توری په ﴿أَلۡهَىٰكُمُ﴾ پورې تعلق نیسي.

ب: د ﴿زُرۡتُمُ﴾ کلمه د "زِيَارَة" ـ لکه "كِرَامَة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د میلان معنی ورکوي[1]، خو په دې مقام کښې د مرګ څخه کنایي ده[2].

ج: دغه ډول استعمال په عربي کلام کښې ډېر اورېدل کېږي لکه چې یو اعرابي ذکره شوې کلمه په لاندې حدیث کښې په همدې معنی استعمال کړې ده:

یوه ورځ نبي کریم ﷺ د یوه مریض اعرابي پوښتنې ته ورغی چې ګرمې تبې نیولی وه، نو ورته یې وویلې چې دا تبه د ګناه کفاره او پاکوونکې ده.

اعرابي جواب ورکړ چې: «بَلْ حُمَّى تَفُورُ عَلَى شَيْخٍ كَبِيرٍ تُزِيرُهُ الْقُبُورَ»[3] یعني دغسې نه ده بلکې دا یوه خوټېدونکې تبه ده کومه چې په بوډا سپین روبي باندې نازله کړی شوې ده، کومه چې په بوډا باندې د قبرونو زیارت کوي.

د دې جواب په اورېدلو سره ترې نبي کریم ﷺ اوچت شو او اعرابي یې پرېښود.

د: شاید ـ والله ﷻ اعلم ـ چې په ایت شریف کښې به د مرګ څخه د ﴿زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ﴾ په کلماتو سره د دې دپاره تعبیر نازل شوی وي چې په قبرونو کښې دفن کېدل دوامدار نه دي بلکې د یوه زیارت حیثیت لري چې په تعقیب باندې یې بعث بعد الموت ورروان دی چې هر څوک به خپل دائمي ځای ته ورسوي کوم چې د جنت یا دوزخ څخه عبارت دی.

هـ: یعني ای بنیادمانو تاسو د آخرت د کارونو څخه په دنیاوي اُمورو کښې سیالي کولو او یو په بل باندې د زیادت حاصلولو آن د مرګ پورې مشغول کړي او غافل کړي یاست.

۳ـ د ذکر شوي ایت دوهم ډول تفسیر په لاندې ټکو کښې توضیح کېږي:

الف: د ﴿حَتَّىٰ﴾ توری د ﴿ٱلتَّكَاثُرُ﴾ د کلمې پورې ارتباط نیسي[4].

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۳۳۶
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۴۲
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۹۸
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۷۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ﴾ کلمات په خپله اصلي معنی پاتې دي چې یوې قیصې ته پکښې اشاره شوې ده هغه دا چې:

په مکه معظمه کښې د قریشو دوه وو قبیلو یوې په بلې باندې تفاخر او تنافس کاوه آن تردې چې دواړه قبیلې هدیرې ته لاړې ترڅو هلته قبرونه وشمېري او معلومه شي چې د چا نامور سړي ډېر دي که څه هم هغوي مړه شوي وي؟[۱].

دغه کار په مدینه منوره کښې یا یهودانو کړی وه او یا په دغه تفاخر باندې د مدینې منورې انصار اخته شوي وه[۲].

نو الله ﷻ دغه سورت نازل کړ او د تفاخر کوونکو او سیالي کوونکو کړنلاره یې وغندله.

یعني تاسو د اُخروي کارونو څخه د دنیاوي شیانو تفاخر او سیالۍ تردې حده مشغول کړي او غافل کړي یاست ترڅو چې تاسو هدیرو ته لاړئ او هلته مو قبرونه وشمارل.

یا په بل عبارت هدیرې او قبرونه د غفلت څخه د راببدارېدلو وسیلې دي حال دا چې تاسو وریاندې خپل غفلت لا قوي او محکم ګرځوئ.

## تبصره

۴ـ که څه هم په ذکرو شوو دواړو تفسیرونو کښې ځینو مفسرینو کرامو اولنی تفسیر صحیح او د قبول وړ ګڼلی دی[۳] مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دواړه تفسیرونه د بدلیت په لحاظ اراده کړی شي چې دواړه سره څه منافات نه لري.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د دې سورت په سریزه کښې لیکلي شوي دي چې دا سورت مکي سورت دی حال دا چې د دوهم ډول تفسیر په توضیح کښې ورته په مدینه منوره کښې هم شان نزولونه وښودل شوه؟.

مونږ وایو چې: د سورت د بیان د طرز څخه څرګندېږي چې د شان نزول ذکره شوې قیصه اصلا په مکه معظمه کښې پېښه شوې وه او په مدینه منوره کښې به یې یو یا دوه وو مصداقاتو تحقق موندلی وي، او سلفو صالحینو خو په مصداق باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۴].

## د غفلت رد

۶ـ په ﴿ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ۝ ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴾ کښې الله ﷻ د بنیادمانو ذکر شوی

---

(۱) روح المعاني ج۳۰ ص۲۲۴؛ زاد المسير ج۸ ص۳۰۰
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۶۱۰؛ تفسير المراغي ج۳۰ ص۲۲۹؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۵۳۵؛ تفسير البغوي ج۴ ص۵۲۰
(۳) تفسير ابن كثير ج۴ ص۵۴۵؛ أضواء البيان ج۹ ص۴۷۲
(۴) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غفلت په تاکید او تکریر سره رد کړی دی چې:

ای بنیادمانو! د اُخروي کارونو د غفلت څخه لاس واخلئ چې دا ډېر غلط او ضررناک کار دی، ډېر ژر ده چې تاسو به په برزخ او هم په قیامت کښې پوه شئ.

بیا وایم چې دا ډېر غلط کار دی ژر ده چې تاسو به وربانديې پوه شئ خو په هغه وخت کښې به درته پوهه څه ګټه ونه شي رسولی او په درد به مو دوا نه شي.

## د "لو" توری شرطیه دی

۷_ په ﴿كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ ٱلْيَقِينِ﴾ کښې د "لَوْ" توری شرطیه دی چې جزائیه جمله یې مقدره ده او د تعمیم دپاره نه ده ذکره شوې چې مونږ ترې په "مَا أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ" سره تعبیر کولی شو[1]. یعنې ای بنیادمانو! تاسو د ذکر شوي غفلت څخه لاس واخلئ چې دا کار ستاسو دپاره په ډېر سخت ضرر سره تمامېږي، که بالفرض تاسو د ذکر شوي غفلت په ضرر باندې پوهېدلی البته داسې پوهه چې هغه سراسري یقین وي او هیڅ شک شبه پکښې نه وي، نو هرومرو او ضرور به تاسو د اخروي امورو څخه تکاثر او سیالۍ غافل نه وی ګرځولي، خو په تاسو دې افسوس وي چې د دغه ډول علم قبول ته غاړه نه ږدئ.

## یقین او د هغه مراتب

۸_ په ذکر شوي ایت کښې د ﴿ٱلْيَقِينِ﴾ کلمه د هغه علم دپاره وضعه شوې ده د کوم سره چې شک او شبه ملګرتیا ونه لري[2].

همدارنګه خینو علماوو کرامو علم ته لاندې دریګونې رتبې ورکړې دي[3]:

الف: یقین هغه علم ته ویل کېږي چې په استدلال سره حاصل شي او شک شبه پکښې نه وي لکه چې مونږ د کعبې شریفې په موجودیت باندې علم لرو.

ب: عین الیقین همدغه ذکر شوي علم ته ویل کېږي خو چې مشاهده هم ورسره ملګرې شي لکه چې مونږ کعبه شریفه په خپلو سترګو وګورو.

ج: حق الیقین د همدغه علم نوم دی چې په مشاهدې باندې علاوه مخالطت (پیوستون) هم ورسره یوځای شي لکه چې مونږ کعبې شریفې ته ورداخل شو.

## یو بل مثال

۹_ په دې مقام کښې د یقین د مراتبو دپاره د دوزخ اور هم مثال ګرځېدلی شي. هغه دا چې:

الف: د ایت او حدیث په استناد د دوزخ اور یقیني موجود دی او هیڅ شک شبه پکښې نشته.

---

(۱) البحر المحیط ج ۱۰ ص۵۳۷
(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۴۵۷
(۳) اضواء البیان ج۹ ص۴۸۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: خو کله چې د محشر په میدان کښې ټول خلک دوزخ په خپلو غږولو سترګو وګوري نو د ټولو خلکو یقین به ورباندې د عین الیقین مرتبې ته اوچت شي، لکه چې په ﴿ لَتَرَوُنَّ ٱلْجَحِيمَ ۝ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ ٱلْيَقِينِ ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده.

ج: کله چې په همدغه دوزخ کښې کفار ورغورزولی شي (اللّهُمَّ النَّجَاة، اللّهُمَّ النَّجَاة) نو د هغوی علم الیقین به د حق الیقین مرتبې ته لوړ شي.

## د نعمت پوښتنه

۱۰ـ په ﴿ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې د قیامت په ورځ به د نعمتونو د تکثر او ډېروالي پوښتنه نه کېږي بلکې د شکرګزارۍ پوښتنه به يې کېږي.

که څه هم د هغه نعمت په تعین کښې علماوو کرامو زښت ډېر اقوال کړي دي کوم ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده[1]، مګر بهتره دا ده چې دغه نعمت تعین نه کړی شي او په خپل اطلاق سره پرېښودلی شي ترڅو ټولو مادي او معنوي نعمتونو ته شامل شي.

د نعمت د پوښتنې په ارتباط زښت ډېر احادیث روایت شوي دي خو مونږ د لنډون په غرض یوازې د یوه حدیث په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ـيَعْنِي الْعَبْدَـ مِنَ النَّعِيمِ أَنْ يُقَالَ لَهُ أَلَمْ نُصِحَّ لَكَ جِسْمَكَ وَنُرْوِيكَ مِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ»[2] یعنې یقیناً د نعمت څخه لومړنی شي چې بنده ته د هغه په هکله پوښتنه راجع کېږي دا دی چې بنده ته به وویلی شي چې: ایا مونږ ستا دپاره ستا جسم (بدن) روغ نه وه ګرځولی؟ او مونږ ته د سړو اوبو څخه خړوب کړی وې.

په همدې ځای د "التَّكَاثُرُ" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ أَنْ يُلْهِيَنَا التَّكَاثُرُ. اللّهُمَّ وَفِّقْنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضَى.

۱۴۲۶/۳/۲۸ هـ ق – ۱۳۸۴/۱/۷ هـ ش.

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۳۰۲؛ تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۱۷۶؛ روح المعاني ج۳۰ ص۲۲۶

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# العصر(۱۰۳)

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (الْعَصْر) د همدې سورت لومړنی ایت ګرځولی شوی دی.
۲_ دا سورت مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].
۳_ د دې سورت ټول ایتونه فقط درې (۳) دي[۲].
۴_ کلمات یې ټول څوارلس (۱۴) دي[۳].
۵_ د حروفو شمېر یې شپېته (۶۰) دی[۴].
۶_ په وړاندېني سورت (التَّكَاثُر) کښې هغو کسانو ته اشاره شوې وه کوم چې سیالیو په غفلت کښې اچولي دي او په دې سورت کښې د هغو کسانو د حالاتو بیان نازل شوی دی کوم چې بیدار دي او په غفلت کښې نه دي پراته.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالْعَصْرِ ۝١ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝٢ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝٣﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر رحم والا الله ﷻ په نامه.
[۱] په زمانه (او د انسان په عمر) سوګند دی چې:
[۲] یقینًا (جنس) انسان په زیان (او تاوان) کښې (احاطه کړی شوی) دی.
[۳] مګر هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي او (کومو) چې یو تربله په حق سره توصیه کړې ده او هم یې په صبر کولو سره یو تربله توصیه (جاري) ساتلې ده.

## توضیحات

۱_ دا سورت که څه هم ډېر وړوکی سورت دی خو په دومره عالي او لوړو مطالبو باندې مشتمل دی چې د دنیا او آخرت دواړو د لاربنودانې دپاره کفایت کوي.
د همدې کبله امام الشافعي علیه الرحمة فرمایلي دي چې: "لَوْ تَأَمَّلَ النَّاسُ فِيْ هٰذِهِ السُّوْرَةِ لَكَفَتْهُمْ"[۵] یعنې که خلک په دغه وړوکي سورت کښې سوچ وکړي نو همدا به ورته کفایت وکړي (چې د دنیا او آخرت چارې پکښې نغښتلې شوې دي).

---

[۱] المحرر الوجیز ج ۱۶ ص ۳۶۱
[۲] تفسیر الطبري ج ۳۰ ص ۲۸۹
[۳] تفسیر الخازن ج ۶ ص ۵۶۴
[۴] اللباب في علوم الکتاب ج ۲۰ ص ۴۸۳
[۵] أضواء البیان ج ۹ ص ۵۰۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "عَصر" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَٱلۡعَصۡرِ ۞ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ﴾ کښې د "عَصر" کلمه علماوو کرامو په زښتو ډېرو معناوو سره تفسیره کړې ده(۱)، خو مونږ ته بهتره برېښي چې دغه کلمه دلته د "دَهْر" او زماني معنی ورکړي البته هغه دهر (زمانه) کومه چې د انسان په عمر باندې مشتمله ده.

مونږ ځکه دا معنی خوښه کړه چې د یو پلوه د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت شوې ده(۲)، او د بله پلوه همدغه معنی د سوګند په جواب ﴿ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ﴾ باندې دلالت کوي او په ثبوت باندې يې شهادت ورکوي چې:

الف: تېرې شوې زمانې او تېر شوي تاریخ د داسې ډېرو قومونو مثالونه ساتلي دي کوم چې هلاک شوي او د خسران سره مخامخ شوي دي، لکه عادیان، ثمودیان، فرعونیان او داسې نور. او راتلونکې زمانه به هم د ډېرو قومونو مثالونه راڅرګند کړي کوم به چې د خسران او تاوان سره مخامخ شي.

ب: ډېر انسانان د خپلو عمرونو څخه ګټه نه اوچتوي بلکې عمرونه ورته د خسران او هلاک اسباب جوړېږي او په تاوان ورته تمامېږي. د همدې کبله به په آخرت کښې تاوانیانو انسانانو ته د توبیخ او تخجیل دپاره وویلی شي چې: ﴿ أَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ ﴾ [فاطر:۳۷] یعنې ایا مونږ تاسو ته دومره عمر نه وه درکړی په کوم کښې چې هغه چا پند اخستلی شو چې پند يې اخست او (په دې باندې علاوه) تاسو ته ډارونکی (پیغمبر) هم درغلی وه.

همدې موضوع ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَايِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا»(۳) یعنې د خلکو هر یو کس سبا کوي نو د خپل ځان خرڅوونکی دی، چې یا (د الله ﷻ د عذابه) د خپل ځان ازادوونکی دی او یا يې (د الله ﷻ په عذاب سره) هلاکوونکی دی.

## کوم کسان زیانکاران نه دي؟

۳ـ په ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ﴾ کښې الله ﷻ هغه کسان د زیان او معنوي هلاک څخه بچ ښودلي دي کوم چې د لاندې څلورو خاصیتونو درلودونکي دي:

الف: چا چې د شریعت په مطابق ایمان راوړی وي، ځکه چې ایماندار ته خپل ایمان د دنیاوي او اُخروي آفاتو څخه امن ورکوي، او همدارنګه په حقیقي ایمان سره نور خلک هم د نوموړي د ضررونو څخه بچ پاتې کېږي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ»(۴) یعنې

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۳۰۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۴۷؛ التفسیر الکبیر ج۳۲ ص۸۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۱۷۸
(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۱۱۸
(۴) صحیح مسلم ج۱ ص۵۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه څوک به جنت ته داخل نه شي د کوم د ضررونو څخه چې د هغه ګاونډی په امن کښې نه وي.
همدا مطلب د الله ﷻ په توفیق د [الحجرات:۱۴] ایت لاندې د نصوصو په رڼا کښې ښه پوره تشریح شوی دی.

ب: چا چې د ایمان سره نېک اعمال هم ملګري کړې وي څکه چې صالح عمل د خان او جهان دواړو دپاره په ګټه تمامېږي. الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا ﴾ [مريم:۹۶] يقيناً هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او صالح عملونه يې کړي دي ډېر ژر دی چې ډېر مهربان الله ﷻ به ورته (په خپلو منځو کښې) مينه او محبت وګرځوي (واچوي).

ج: چا چې په حق سره توصيه هم خپله کړې وي او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وظيفه يې اجراء کړې وي. الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰ ﴾ [المائدة:۸] (ای مومنانو!) تاسو عدل وکړئ چې دا عدل پرهېزګارۍ ته ډېر نژدې دی (سړی پرهېزګار ګرځوي).

د: چا چې د الله ﷻ په طاعت صبر کړی وي او د ده ﷻ د مناهيوو څخه يې اجتناب خپل کړی وي او هم په مصائبو سره خپله حوصله د لاسه نه ورکوي او په همدغو کارونو باندې نورو مسلمانانو ورونو ته هم توصيه کوي، څکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ»[1] يعنې تر هغه به ستا يو کس کامل مؤمن جوړ نه شي ترڅو چې خپل ورور ته هغه شی خوښ کړي کوم چې د خپل ځان دپاره خوښوي.

په همدې ځای باندې د "الْعَصْرِ" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ زُمْرَةِ الْخَاسِرِيْنَ.

۱۴۲۶/۳/۲۳ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۱۳ هـ ش.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الهمزة (١٠٤)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت (الْهُمَزَة) لومړنی ایت په خپل نامه باندې مشتمل دی.
۲_ دا سورت په اتفاق سره مکي سورت دی[۱].
۳_ د دې سورت ټول ایتونه فقط نهه (۹) دي[۲].
۴_ ټولې کلمې یې فقط درې دېرش (۳۳) دي[۳].
۵_ ټول حرفونه یې فقط یو سلو دېرش (۱۳۰) دي[۴].
۶_ په وړاندېني سورت (الْعَصْر) کښې د څه خاصو کسانو څخه په غیر نور ټول بنیادمان تاوانیان ښودلي شوي وه او په دې سورت (الْهُمَزَة) کښې د هغوی د زیان په دنیوي او أخروي حالاتو باندې څه رڼا اچولې شوې ده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴿١﴾ الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ﴿٢﴾ يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ
﴿٣﴾ كَلَّا لَيُنبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿٤﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿٥﴾ نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ الَّتِي
تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ ﴿٧﴾ إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿٩﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] د هر غیبت کوونکي (او) هر پیغور ورکوونکي دپاره معنوي هلاک (د دوزخ کنده) ده.
[۲] هغه غیبت کوونکی پیغور ورکوونکی چې مال راغونډوي او (د آینده دپاره) یې ساتي.
[۳] (ایا) نوموړی گومان کوي چې یقیناً خپل مال به یې همېشوالی ورکړي (او د مصیبتونو څخه به یې وساتي)؟.
[۴] دغسې دې نه کوي چې هرومرو (او) ضرور به نوموړی په حطمة (ماتوونکي دوزخ) کښې وغورزولی شي.
[۵] او ته څه شي پوه کړې چې "حطمه" څه شی دی؟
[۶] (حطمه) د الله ﷻ بل کړی شوی اور دی.
[۷] هغه بل کړی شوی اور چې (حتی) په زړونو ورخېژي (او سوزوي یې).

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۲۰۵
(۲) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۲۹۱
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۸۸
(۴) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸] يقيناً دا اور (دوزخ) به په (كفارو) باندې تړلی شوی (او دروازې به يې قلف کړی شوې) وي.
[۹] (البته) په داسې حال کښې چې کفار به په اوږدو (آتشي) ستنو کښې (معذب ګرځولي) کېږي.

## توضيحات او د مطلب خلاصه

۱ـ په ﴿ وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ ﴾ کښې د ﴿ هُمَزَةٍ ﴾ او ﴿ لُمَزَةٍ ﴾ دواړه کلمې د مبالغې صيغې دي چې په ترتيب سره د "هَمْز" ـلکه "ضَرْب"ـ او د "لَمْز" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقي شوې دي چې دواړه کلمې (هَمْز، لَمْز) اصلاً د تېل وهلو په معنی دي[۱].

که څه هم ذکرې شوې دواړه کلمې په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسيرې کړې دي[۲]، خو مونږ ليکو چې:

الف: د [القلم: ۱۱] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق اشاره شوې ده چې د "هَمْز" معنی دا ده چې په غياب کښې د چا بدي او عيبونه بيان کړی شي.

ب: د [الحجرات: ۱۱] ايت لاندې تېر شوي دي ـوالحمد لله ﷻـ، چې "لَمْز" د عيب هغې پلټنې ته ويل کېږي چې مخامخ چا ته نسبت کړی شي چې ته دغسې او هغسې يې.

نو ذکر شوي دواړه کلمې د تکبر او غرور څخه نمايندګي کوي چې نور خلک ورته حقير وبرېښي او خپل ځان ورته د نورو څخه پورته څرګند شي.

يعنې معنوي هلاک او يا د دوزخ کنده د الله ﷻ په نزد د هر هغه چا دپاره ټاکلې شوې ده کوم چې په غياب کښې د خلکو عيبونه بيانوي او همدارنګه ورته مخامخ د عيبونو نسبت کوي او په پيغورونو سره يې کنځي.

### تعديد څه معنی؟

۲ـ په ﴿ ٱلَّذِى جَمَعَ مَالاً وَعَدَّدَهُۥ ﴾ کښې د تکبر خپلولو وجې ته اشاره ده او د "عَدَّدَه" کلمې پکښې د "تَعْدِيد" ـلکه "تَكْرِيم"ـ څخه اشتقاق موندلی دی، چې د تيارولو او چمتو کولو معنی ورکوي[۳]. يعنې نوموړي ځکه تکبر خپل کړی دی او خلک حقير ګڼي چې ډېر مالونه يې راغونډ کړي دي او د راتلونکي عمر دپاره يې تيار ساتلي دي. نوموړی ګومان کوي چې دغه مالونه به ورته همېشه والی ورکړي او د مصيبتونو او ناخوالو څخه به يې په دوامداره توګه بچ وساتي.

همدې مضمون ته په نورو نصوصو کښې هم اشاره شوې ده، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰٓ ﴾ [المعارج: ۱۸] يعنې او مجرم هغه څوک دی چې مالونه راجمعه کوي او ساتي يې.

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۴۲۶، ۴۰۶
(۲) زاد المسير ج۸ ص۳۰۶
(۳) القاموس المحيط ج۳ ص۱۶۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَإِنَّ فِتْنَةَ أُمَّتِي الْمَالُ»[۱] يعني يقيناً د هر امت دپاره د امتحان يو څيز شتون لري (چې ورباندې ازمويل كېږي) او يقينًا زما د امت امتحان مال دی (چې په همدې سره د امتحان لاندې نيول كېږي).

## د "حُطَمَة" معنى

۳ـ په ﴿ كَلَّا لَيُنۢبَذَنَّ فِي ٱلۡحُطَمَةِ ﴾ كښې د ﴿ ٱلۡحُطَمَة ﴾ كلمه د "حَطَم" ـلكه "ضَرَب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النمل:۸] ايت لاندې ليكلي دي چې دا د چيت پيت ګرځولو معنى وركوي، خو په دې مقام كښې پخپله ايتونو تفسيره كړې ده.

يعني ذكر شوي متكبر انسان ته دنياوي مالونه نجات نه شي وركولي نو هرومرو او ضرور به په "حُطَمَة" كښې ورواچول شي، او ته څه شي پوه كړې چې "حُطَمَة" څه شی دی او څومره مهلک ځای دی؟، "حُطَمَة" د بل چا نه بلكې د الله ﷻ اور دی چې لا پخوا بل كړی شوی دی.

همدې مضمون ته نبي كريم ﷺ داسې اشاره كړې ده چې: «أُوقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى احْمَرَّتْ ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى ابْيَضَّتْ ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى اسْوَدَّتْ فَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ»[۲] يعني د دوزخ اور زر كاله بل كړی شو ترڅو تک سور وګرځېد بيا زر كاله بل شو ترڅو تک سپين وګرځېد بيا زر كاله بل كړی شو ترڅو تک تور وګرځېد، نو دا اور اوس تک تور (او) تياره دی.

## هېر مو نه شي

۴ـ هېر مو نه شي چې د دوزخ اور د زړونو په شمول د كفارو په ټولو اندامونو باندې بلېږي او د سوزولو څخه وروسته دغه اندامونه د بيا-بيا سوزولو دپاره بيا-بيا په ابدي توګه تجديدېږي.

خو په ﴿ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ﴾ كښې د ﴿ ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ﴾ په كلمې باندې ځكه صراحت نازل شوی دی (والله ﷻ أعلم) چې هغه كفري عقيده په زړونو كښې قرار لري د كومې په سبب چې كفار په دائمي توګه په دوزخ كښې غورزولي كېږي.

يعني د دوزخ اور هغه اور دی چې په زړونو باندې هم په سوزولو سره ورخېژي او ورباندې بلېږي.

## يادونه

۵ـ په ﴿ إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٌ ﴾ كښې د ﴿ مُّؤۡصَدَةٌ ﴾ د كلمې غوندې يوه كلمه په [البلد: ۲۰] ايت كښې هم نازله شوې ده چې مونږ هلته د الله ﷻ په توفيق ښه تشريح كړې ده نو بيا تشريح كولو ته يې څه اړتيا نه ګورو. يعني يقينًا د دوزخ اور به په كفارو باندې بند كړی شوی او قلف كړی شوی وي چې د همېشه دپاره به پكښې پراته وي، العياذ بالله.

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۱۵۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو اعرابي تحلیل

۶ـ د ﴿فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ﴾ کښې د ﴿عَمَدٍ﴾ کلمه د "عُمُود" ـ لکه "غُرُوب" ـ جمعه ده چې د ستنو معنی ورکوي[۱]، او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دغه ستنې د اور په ستنو سره تفسیرې کړې دي[۲]. دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکر شوی ایت د اعراب په لحاظ لاندې دوه احتماله درلودلی شي[۳]:

الف: چې د خپل متعلق "کَائِنِین" په ملحوظ د ﴿عَلَيْهِم﴾ د ضمیر څخه حال واقع شي. یعنې په کفارو باندې به په داسې حال کښې د دوزخ دروازې تړلې شوې او قلف کړی شوې وي چې د اور په اوږدو ستنو کښې به معذب ګرځولی کېږي.

پاتې شوه دا خبره چې دغه د اور د اوږدو ستنو تعذیب به په څه کیفیت سره وي؟، نو دغه کیفیت یوازې الله ﷻ ته معلوم دی او بس[۴].

ب: چې دا د خپل متعلق (کَائِنَة) په ملحوظ د ﴿مُؤْصَدَةٌ﴾ دپاره صفت وګڼلی شي. یعنې په کفارو باندې به د دوزخ د دروازې تړل په اتشي اوږدو سیخانو کښې صورت ونیسي، ته به وایې چې دا ډېرې اوږدې ستنې دي. شاید چې دغه سیخان به هغو سیخانو ته ورته وي کوم چې په دنیا کښې د څینو دوکانونو د قلف کولو په ارتباط په کار اچولی کېږي، والله ﷻ اعلم.

په همدې ځای باندې د "الْهُمَزَة" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

اللَّهُمَّ أَجِرْنَا مِنَ النَّارِ وَمِنْ غَضَبِ الْجَبَّارِ. الْعِزَّةُ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ.

۱۴۲۶/۳/۲۵ هـ ق = ۱۳۸۴/۱/۱۵ هـ ش.

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۳۰۴
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۶۲۵
(۳) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۹۱؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۵۲۴
(۴) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۲۹۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الفیل (۱۰۵)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (الْفِيل) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی.
۲_ دا سورت په اتفاق سره مکي سورت دی[۱].
۳_ د دې سورت ټول ایتونه فقط پنځه (۵) دي[۲].
۴_ ټولې کلمې یې فقط شل (۲۰) دي[۳].
۵_ ټول حرفونه یې فقط شپږ نوي (۹۶) دي[۴].
۶_ د دې سورت (الْفِيل) او د وړاندینې سورت (الْهُمَزَة) تناسب په لاندې ډول دی:
الف: هلته د کافر بنیادم خیال راحکایت شوی دی چې دنیاوي مال یې د مصیبتونو څخه ساتونکی دی، او دلته د یوه مثال په ضمن کښې د همدغه خیال رد نازل شوی دی چې دنیاوي مال د الله ﷻ په اراده د مالدار دپاره د هلاکت سبب جوړ شوی دی.
ب: هلته د کفارو اُخروي عذاب ته اشاره شوې وه او دلته یې دنیاوي عذاب ته اشاره کېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ۝١ أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ ۝٢ وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ۝٣ تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ۝٤ فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ۝٥﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] ایا ته نه ګورې چې ستا رب ﷻ د فیل د ملګرو سره څه وکړه؟
[۲] ایا د دوی چل (او پټ تدبیر) یې بې نتیجې (او ضائع) ونه ګرځاوه؟ (حتی چې پخپله د همدوی په ضرر باندې تمام شو).
[۳] او ستا رب ﷻ د فیل په ملګرو باندې ټولګي-ټولګي (سیلونه-سیلونه) مرغان ورواستول.
[۴] چې دغو مرغانو هغوی په ډبرو باندې ویشتل کومې چې د قرتکانو څخه عبارت دي.
[۵] نو ستا رب ﷻ د فیل ملګري د خوړلو شوو وښو (ګیاوو) غوندې وګرځول (لکه چې څاروي په شخوند سره وانبه میده میده کړي).

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱_ په ﴿أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ﴾ کښې د "أَصْحَاب الْفِيل" په ذکر سره یوې قیصې

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۶۵
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۵۴
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۶۸
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۹۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته اشاره ده چې ځینو علماوو کرامو ښه مفصله لیکلې ده[1]، خو مونږ یې د لنډون په غرض د څو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

الف: د "یَمَن" یو عیسوي مذهبه پاچا وه چې "اَبْرَهَه" نومېده، نوموړي په خپل تاتوبي (یمن) کښې یوه غټه کلیسا جوړه کړه چې د بیت الله ﷻ څخه به د خلکو توجه همدې کلیسا ته واړوي او د حج دپاره به یوازې همدلته راځي او په دې ذریعه به ابراهیمي طریقې ته تغیر ورکړي.

ب: د دغه پلان د عملي کولو دپاره یې قصد وکړ چې بیت الله بالکل ونړوي.

ج: په همدې نیت د شل زره (۲۰۰۰۰) لښکرو او اتو یا دولسو فیلانو سره د مکې معظمې په لور روان شو، په دغه فیلانو کښې یو ډېر غټ او قوي فیل وه چې د "مَحْمُود" په نامه به یې یاداوه.

د: دغو لښکرو د مکې په سیمو کښې څه لوټماري هم وکړه چې د نبي کریم ﷺ د نیکه (عبد المطلب) دوه سوه (۲۰۰) اوښان هم د هغوی د پلوه لوټ شوه.

ه: نو عبد المطلب د "ابرهه" سره لاندې سوال جواب وکړ:

ابرهه: ته څنګه راغلی یې او څه غواړې (ای د منطقې مشره!)؟.

عبد المطلب: زه غواړم چې زما لوټ کړی شوي دوه سوه (۲۰۰) اوښان بېرته راوسپارې.

ابرهه: زما خیال وه چې ته به ډېر لوی سړی یې، ته به د خپلې عبادتګاه د نجات سوال وکړې، خو اوس راته څرګنده شوه چې ته ډېر وړوکی سړی یې چې یوازې د خپلو اوښانو د نجات په غم کښې بوخت یې.

عبد المطلب: زه د اوښانو خاوند یم او بیت الله خپل خاوند لري، هغه به ورته ستا د تخریب څخه نجات ورکړي (الله ﷻ به یې د تخریب څخه بچ کړي).

ابرهه: زما د ارادې مخه څوک نه شي بندولی.

عبد المطلب: ته پوهېږې او د بیت الله خاوند (الله ﷻ).

و: ابرهه د بیت الله په لور حرکت پیل کړ او غټ فیل (محمود) یې وهڅاوه چې په همدغه لور حرکت وکړي.

ز: دغه فیل هرې خوا ته د حرکت کولو دپاره چمتو وه خو د بیت الله طرف ته د حرکت څخه یې ډډه وکړه، او وهلو ټکولو ورباندې هیڅ اثر وانه چاوه.

همدې مطلب ته په لاندې احادیثو کښې هم اشاره شوې ده:

اول: د حدیبیې د صلحې په موقع چې کله د نبي کریم ﷺ د سورلۍ اوښه هغه ځای ته ورسېده په کوم کښې چې بیا صلحه منعقده شوه نو سمدستي یې د وړاندې تګ څخه (د فیل غوندې) ډډه وکړه.

---

[1] روح المعاني ج۳۰ ص۲۳۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۴۹؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۵۲۵؛ تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۵۷؛ سیرت ابن هشام ج۱ ص۵۰؛ تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۱۸۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صحابه وو کرامو ﷺ گومان وکړ چې اوښه سوده (ستومانه) شوه خو نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې وفرمايل چې: «وَمَا ذَاكَ لَهَا بِخُلُقٍ وَلَكِنْ حَبَسَهَا حَابِسُ الْفِيلِ»[1] يعني دا اوښه نه ستومانه ده او نه يې دا عادت دی مګر د فيل بندوونکي (د وړاندې تګ څخه) بنده کړه (چې الله ﷻ دی).

دوهم: نبي کريم ﷺ د حجة الوداع په اوږده خطبه کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْفِيلَ وَسَلَّطَ عَلَيْهَا رَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ»[2] يعني يقيناً الله ﷻ د مکې معظمې څخه فيل بند کړ او خپل پيغمبر او مؤمنان يې ورباندې مسلط کړه.

ح: لښکريان د بيت الله په لورې د حرکت په هڅو کښې وه چې د درياب د پلوه سيلونه-سيلونه مرغان را اوچت شوه او د همدوی د پاسه يې د قرتکانو باران جوړ کړ او ټول يې تارومار کړه.

## تَضليل څه معنی؟

۲ـ په ﴿ أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ﴾ کښې د ﴿ تَضْلِيلٍ ﴾ کلمه د "ابطال" او "ضياع" معنی ورکوي[3]. يعني ايا ستا رب ﷻ د أصحاب الفيل تدبير (پلان) ضائع نه کړ او د همدوی په ضرر باندې يې تمام نه کړ؟

## د "أَبَابِيل" معنی

۳ـ په ﴿ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ﴾ کښې د ﴿ أَبَابِيلَ ﴾ کلمه علماوو کرامو په متعددو ډولونو سره تحليله کړې ده [4] خو لنډ تحليل يې دا دی چې: دغه کلمه د "جماعات" معنی ورکوي او د خپل لفظ څخه مفرد نه لري[5].

يعني ستا رب ﷻ په هغوی باندې سيلونه-سيلونه او ټولګي-ټولګي مرغان ورمسلط کړه چې بنياد يې ورويست او بيت الله ته يې نجات ورکړ.

## دا څنګه مرغان وه؟

۴ـ د دغو مرغانو په څرنګوالي کښې علماوو کرامو ډېر څه ليکلي دي[6]، خو موږ يې د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: دغه شين رنګي مرغان وه چې مښوکې يې زيړې وې او په شکل کښې هغو مرغيو ته ورته وه کومو ته چې موږ په پښتو کښې "توتکی" وايو.

ب: هر يوه مرغه د خپله خانه سره درې قرتکانې اوچت کړې وه چې يو به يې په مښوکه کښې،

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۳۷۸
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۴۳۸
(۳) تفسير القرطبي ج ۲۰ ص۱۹۵
(۴) زاد المسير ج۸ ص۳۱۲؛ روح المعاني ج ۳۰ ص۲۳۶
(۵) تفسير ابن کثير ج۴ ص۵۵۱
(۶) الدر المنثور ج۸ ص۶۳۰؛ تفسير الطبري ج ۳۰ ص۲۹۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نیولی وه او دوه به یې په دواړو پښو کښې کلک کړي وه، خو کله به چې د لښکریانو په سر باندې برابر شو نو دړبواړه به یې ورباندې ورخوشې کړې.

## د "سجیل" او "عَصف" معناوې

۵ـ په ﴿ تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ﴾ کښې د "سِجِّیل" د کلمې په ارتباط مونږ د الله ﷻ په توفیق د [هود:۸۲] ایت لاندې د تحلیل په ضمن کښې لیکلي دي چې دغه کلمه د هغې ختې څخه عبارت ده کومه چې په اور سره کلکه شوې او پخه شوې وي چې په پښتو کښې ترې په قرتکاڼي سره تعبیر کېدلی شي.

او د [الرَّحْمن:۱۲] ایت لاندې مونږ لیکلي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ چې عبد الله بن عباس رضی الله عنهما د "عَصْف" کلمه په وښو سره تفسیره کړې ده.

یعنې ذکرو شوو مرغانو یرغلگر لښکریان په قرتکاڼو باندې وویشتل او داسې یې میده- میده کړه لکه د څارویو د پلوه چې وانښه جویلي شوي او خوړلي شوي وي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: ذکره شوې د اصحاب الفیل واقعه په کوم تاریخ پېښه شوې وه؟

مونږ وایو چې: په دې باره کښې یو صحابي ﷺ وایي چې: «وُلِدْتُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ ﷺ عَامَ الْفِيلِ»[۱] یعنې زه او رسول الله ﷺ د فیل په کال کښې تولد شوي یاستو.

بلکې نبي کریم ﷺ د همدغې واقعې څخه فقط پنځوس ورځې وروسته تولد شوی دی[۲]، ته به وایي چې دا به دې ته اشاره وه چې الله ﷻ خپل کور د نصاراوو د تسلط څخه بچ وساته ترڅو ورباندې خپل آخر الزمان پیغمبر ﷺ مسلط وګرځوي.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفیق د "الْفِیل" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا شَفَاعَةَ نَبِيِّ آخرِ الزَّمَانِ ﷺ.

۱۴۲۶/۳/۲۶ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۱۶ هـ ش.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۳؛ مسند أحمد بن حنبل ج۶ ص۲۶۶

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۶۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# قریش (۱۰۶)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

۱_ د دې سورت په نامه (قُرَيْش) باندې دهمدې سورت لومړنی ايت مشتمل دی، او دغه نوم د دې سورت دپاره د عنوان حيثيت لري چې د مطالبو مهم ټکي يې په همدوی (قريشو) پورې اړه لري.

۲_ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوی دی[۱].

۳_ د دې سورت ټول ايتونه فقط څلور (۴) دي[۲].

۴_ ټولې کلمې يې فقط اولس (۱۷) دي[۳].

۵_ ټول توري يې فقط درې اويا (۷۳) دي[۴].

٦_ د دې سورت (قُرَيْش) مناسبت د وړاندېنې سورت (الْفِيل) سره دومره قوي دی چې ځينو علماوو کرامو په دواړو سورتونو باندې د يوه سورت ګومان کړی دی[۵]، چې دواړه په مکه معظمه او په قريشو پورې د زيات ارتباط درلودونکی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ إِۦلَٰفِهِمْ رِحْلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيْفِ ۝٢ فَلْيَعْبُدُوا۟ رَبَّ هَٰذَا ٱلْبَيْتِ ۝٣ ٱلَّذِىٓ أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍۭ ۝٤﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (مونږ) د قريشو د ملازم ګرځولو.

[۲] (يا په بل عبارت:) د قريشو خپل د ژمي او اوړي د تجارتي سفرونو سره د ملازم ګرځولو دپاره (مونږ اصحاب الفيل تارمار کړه که نه نو تجارتي سفرونو به يې ادامه نه وی کړې).

[۳] نو قريش دې خاص د همدغه کور (بيت الله) د رب ﷻ عبادت وکړي (او د شرکياتو او کفرياتو څخه دې ډډه وکړي).

[۴] هغه رب ﷻ چې قريشو ته يې د لوږې څخه خواړه ورکړي دي (ماړه کړي يې دي) او د ډار څخه يې امن ورکړی دی.

## توضيحات او د مطلب خلاصه

په دې مقام کښې بايد لاندې نکات هېر نه کړی شي:

(۱) المحرر الوجيز ج۱٦ ص۳٦۵
(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۵۲۹
(۳) تفسير الخازن ج٦ ص۵۷۴
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۰۳
(۵) روح المعاني ج۳۰ ص۲۳۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


۱_ په ﴿ لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ﴾ کښې د "ل" توری اجلیه دی او په متعلق کښې یې علماوو کرامو کې احتمالات لیکلي دي[1]، خو مونږ ته بهتره برېښي چې متعلق به یې مقدر وي چې په "فَعَلْنَا مَا فَعَلْنَا مِنْ إِهْلَاكِ أَصْحَابِ الْفِيلِ" سره ترې تعبیر کېدلی شي.

۲_ د "إِيلَاف" کلمه په اصل کښې "اءلاف" وه چې همزه یې په "ي" سره بدله شوې ده نو اصلي مصدر یې "أَلِفَ" _لکه "ضَرَبَ"_ دی چې د لزوم او محبت معنی ورکوي[2].

۳_ د "قُرَيش" د کلمې په هکله مفسرینو کرامو ډېر څه لیکلي دي[3]، خو مونږ فقط دومره لیکو چې دا کلمه د هغې قبیلې نوم دی کومه چې د کعبې شریفې په شاواخوا کښې اوسېدونکې وه، په کومې پورې چې د نبي کریم ﷺ نسبي تعلق دی، کومه چې په خپل وخت کښې ډېره مخوره او با عزته قبیله وه.

۴_ په ﴿ إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ﴾ کښې د ﴿ إِۦلَٰفِهِمۡ ﴾ کلمات د "إِيلَافِ قُرَيْشٍ" څخه بدل یا عطف بیان واقع شوی دی.

۵_ د ﴿ رِحۡلَةَ ﴾ کلمه په "إِيلَافِ" سره منصوبه ده او ورته "مفعول به" ده[4]، او د تجارتي سفر څخه عبارت ده.

۶_ د ﴿ ٱلشِّتَآءِ ﴾ په کلمې سره د قریشو د ژمي تجارتي سفر ته اشاره ده چې د دوی قافلې به شام ته تلې راتلې چې ګرمه منطقه ده.

۷_ د ﴿ وَٱلصَّيۡفِ ﴾ په کلمې سره د هغوی د اوړي تجارتي سفر ته اشاره ده چې تجارتي قافلې به یې یمن ته تلې راتلې چې سړه او یخه منطقه ده.

د پورتنیو نکاتو په ملحوظ د ایتونو مضمون داسې راځېږي چې: مونږ د دې دپاره په اصحاب الفیل باندې سیلونه-سیلونه مرغان مسلط کړه او موقع مو ورنه کړه چې بیت الله ﷻ تخریب کړي ترڅو مونږ قریش د خپلو تجارتي سفرونو سره لازم وګرځوو چې نه یې د ژمي تجارت منقطع شي او نه د اوړي د تجارتي سفر څخه لاس په سر شي. که بالفرض اصحاب الفیل بیت الله تخریب کړی وی نو قریشو به په خپلو دواړو سفرونو کښې اعتبار د لاسه ورکړی وی.

نو تجارتي قافله به یې هم په امن کښې نه وی پاتې شوې او د نورو خلکو د قافلو او کاروانونو غوندې به د دوی قافلې او کاروانونه هم د چور او چپاول سره مخامخ شوې وی.

۸_ په ﴿ فَلۡيَعۡبُدُواْ ﴾ کښې د "ف" توری د تفریع دپاره دی. یعني نو قریشو ته په کار دي چې خاص د همدغه (بیت الله) د رب ﷻ عبادت وکړي او بوتانو ته پکښې په اشتراک قائل نه شي، ځکه چې

(۱) البحر المحیط ج۱۰ ص۵۴۷؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۶۹۸، اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۰۲
(۲) لسان العرب ج۹ ص۱۰
(۳) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۲۰۲
(۴) تفسیر الکشاف ج۴ ص۸۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یوازې د همدغه "بیت الله" رب ﷻ هغوی د دغه بیت په برکت په ګېډه ماړه کړي دي چې د هره طرفه یې ورته د خوراک او څښاک پرېماني وررروانه کړې ده.

ب: یوازې د همدغه "بیت الله" رب ﷻ د دغه "بیت الله" په برکت هغوی ته ډاډ او امن په نصیب کړی دی چې په ټوله نړۍ کښې یې بدون د ډاره په ډاډه زړه تجارتي قافلې چلېږي او ګرځي راګرځي.

دغه مضمون په نورو ایتونو کښې هم نازل شوی دی. لاندې مثالونه یې ولولی:

اول: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا ءَامِنًا يُجْبَىٰٓ إِلَيْهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَىْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا ﴾ [القصص:۵۷] یعنې ایا مونږ د قریشو دپاره حرم شریف د امن ځای نه دی ګرځولی چې هر ډول میوجات ورته (د هره طرفه) ورغوندول کېږي، ترڅو مونږ ورته د خپله جانبه (روزي ورکړو) روزي ورکول.

دوهم: ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ﴾ [العنکبوت:۶۷] یعنې ایا قریش (مشرکان) نه ګوري چې یقینًا مونږ (ورته) حرم شریف د امن ځای ګرځولی دی حال دا چې خلک د دوی په چاپېریال کښې تښتولي کېږي (چورکېږي او وژل کېږي).

په همدې ځای د "قُرَيْش" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ.

۱۴۲۶/۳/۲۷ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۱۷ هـ ش.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الماعون (۱۰۷)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت (الْمَاعُون) په خپل نامه باندې تمام شوی دی چې [۷] ایت یې په همدې کلمه باندې ختم شوی دی.
۲_ په دې سورت کښې علماء کرام اختلاف لري چې مکي دی او که مدني دی(۱)؟، ځینې علماء کرام وايي چې: د دې سورت ځینې ایتونه مکي دي او ځینې نور یې چې د منافقانو حال پکښې تشریح شوی دی مدني دي(۲). مونږ ته همدغه نظر په زړه پوری برېښي، والله ﷻ اعلم.
۳_ د دې سورت ټول ایتونه اوه (۷) دي(۳).
۴_ ټولې کلمې یې پنځه ویشت (۲۵) دي(۴).
۵_ ټول حرفونه یې یو سلو درویشت (۱۲۳) دي(۵).
۶_ په وړاندېني سورت (قُرَیش) کښې د مفهوم د عموم په ملحوظ ټول بندګان هڅولې شوي وه چې د خپل رب ﷻ د نعمتونو شکریه وکړي او په اخلاص سره یې عبادت وکړي، او په دې سورت (الْمَاعُون) کښې د ناشکرانو دپاره تهدید نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴿١﴾ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ﴿٢﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ
طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿٣﴾ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴿٥﴾ ٱلَّذِينَ
هُمْ يُرَآءُونَ ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُونَ ٱلْمَاعُونَ ﴿٧﴾﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] (ای پیغمبره!) ته خبر راکړه چې هغه کس کوم چې په جزا (قیامت) سره تکذیب کوي (څوک دی او څه خاصیت لري؟).
[۲] (که ته یې نه پېژنې) نو دغه تکذیب کوونکی هغه څوک دی کوم چې یتیم ټېل وهي (خپل حق نه ورکوي).
[۳] او (هم) د مسکین د خوراک (په ورکړې) باندې تېزول نه کوي (او نه په خپله خوراک ورکوي).
[۴] نو (عقیدوي منافقانو) لمونځ کوونکو ته معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې د مشرکانو تګلاره تعقیبوي).

---

(۱) روح المعاني ج۳ ص۲۴۱
(۲) البحر المحیط ج۱۰ ص۵۵۲؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۸۰۳
(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۳۱
(۴) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۷۷
(۵) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۱۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵] هغه لمونځ کوونکي چې هغوی د خپلو لمونځونو څخه (د پوهې سره سره) غفلت کوونکي دي (چې د آدابو مراعات يې نه کوي).

[۶] هغه لمونځ کوونکي چې هغوی (په لمونځونو او نیکو عملونو کښې) ځان ښودانه کوي.

[۷] او (هم) کتهور شیان منعه کوي (چې نه فرضي حقوق ورکوي او نه عاريتي شيان).

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴾ کښې د ﴿ أَرَءَيْتَ ﴾ کلمه د "أَخْبِرْنِي" په معنی ده[۱]، او په خطاب سره نبي کريم ﷺ مطلب دی[۲].

ب: د ذکرې شوې کلمې يو مفعول ﴿ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴾ دی او دوهم مفعول يې مقدر دی چې په "مَا هُوَ" سره ترې تعبير صورت نيولی شي[۳].

ج: د ﴿ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ﴾ کښې د "ف" توری په جزائيه جمله باندې داخل دی چې:

د: د "ذَٰلِكَ" کلمه مبتدا ده او د ﴿ ٱلَّذِى ﴾ کلمه يې د خپلې صلې ﴿ يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ﴾ او په صله باندې د معطوفې جملې ﴿ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴾ په لحاظ خبر ده.

هـ: د دې جزائيه جملې شرطيه جمله مقدره ده، څه لرې نه ده چې په "فَإِنْ لَمْ تَعْرِفْهُ" سره ترې تعبير وکړی شي[۴].

نو د پورتنيو ټکو په بنياد به د ايتونو مضمون داسې راوځېږي چې:

ای پيغمبره! ته خبر راکړه چې هغه کس (کوم چې د جزا د ورځې تکذيب کوي او عقيدهورباندې نه لري) څوک دی او څنګه بنيادم دی؟. که نوموړی ته نه پېژنې نو زه به يې درو پېژنم:

ذکر شوی تکذيب کوونکی هغه څوک دی کوم چې يتيم تېل وهي (حق نه ورکوي) او کوم چې مسکين ته نه پخپله خوراک ورکوي او نه ورباندې بل څوک هڅوي چې دغه کار وکړي، همدارنګه نوموړی کس دغسې نور غير اخلاقي او غير انساني أقوال او افعال خپلوي.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې سورت کښې د سړي په ذهن کښې لاندې سوالونه راپيدا کېږي:

الف: که څوک وايي چې: دغه سورت خو د مشرکانو د خاصيتونو په بيان سره پيل شوی دی، نو د ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴾ د کلماتو په نزول کښې څه حکمت دی حال دا چې مشرکانو خو د لمانځه سره هيڅ ارتباط نه درلود؟

(۱) روح المعاني ص۲۴۱
(۲) تفسير ابي السعود ج۹ ص۲۰۳
(۳) البحر المحيط ج۱۰ ص۵۵۲
(۴) تفسير الكشاف ج۴ ص۸۰۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) په نزد دلته د "الْمُصَلِّينَ" څخه عقيدوي منافقان مطلب دي[۱]، کومو چې د مشرکانو غوندې نه د جزا په ورځې عقيده درلوده او نه يې په بعث بعد الموت باندې ايمان درلود.

نو د ايت مضمون به داسې راوځېږي چې: نو منافقانو لمونځ کوونکو ته معنوي هلاک او حسرت دی چې د مشرکانو او مجاهرو کفارو غوندې د أخروي جزا څخه پټ په زړونو کښې انکاري دي او عقيده ورباندې نه خپلوي.

ب: که څوک وايي چې: د منافقانو د خاصيتونو په بيان کښې الله ﷻ د ﴿ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ﴾ ايت هم نازل کړی دی، نو ايا د لمانځه سهوه د منافقت علامه ده حال دا چې نبي کريم ﷺ پخپله هم په لمانځه کښې سهوه شوی دی[۲]، چې په څلور رکعتي لمانځه کښې يې په دوه رکعتونو باندې سلام ګرځولی وه؟

مونږ وايو چې: دلته د ﴿ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ﴾ کلمات د "عَنْ" په توري سره نازل شوي دي، دا توری په هغې سهوې او غفلت باندې دلالت کوي کوم چې د علم او پوهې سره سره صورت نيولی وي[۳]، کوم چې د منافقانو خاصيت وه، کوم ته چې په لاندې نصوصو کښې اشاره شوې ده:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ ﴾ [النساء: ۱۴۲] يعنې او کله چې منافقين لمانځه ته اوچتېږي نو په داسې حال کښې اوچتېږي چې مړاوي وي (او سستي کوونکي وي).

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا»[۴] يعنې د منافق سړي لمونځ دا دی چې بې غمه ناست وي او د لمر مراقبت کوي آن تردې چې لمر د شيطان په دوه ښکرونو کښې واقع شي (غروب ته نژدې شي) نو په دغه وخت کښې نوموړی اوچت شي نو خپل لمونځ څلور ټونګې وکړي (په سرعت سره ورباندې تېر شي) چې الله ﷻ پکښې نه يادوي مګر ډېر کم (نو په لمانځه کښې يې نه خشوع وي او نه طمانيه).

لنډه دا چې که بالفرض د ﴿ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ﴾ په عوض "فِيْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ" په "فِيْ" سره نازل شوی وی نو ذکر شوی اعتراض به څه بنياد درلودلی وی او وارد شوی به وی.

د: که څوک وايي چې: په دې مقام کښې الله ﷻ د منافق په بيان کښې د ﴿ ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ﴾ کلمات هم نازل کړي دي، نو ايا په رياکارۍ سره سړی منافق ګرځي؟

مونږ وايو چې: په يو نېک کار کښې رياکاري په لاندې دوه وو صورتونو سره تحقق موندلی شي:

(۱) تفسير ابن كثير ج۴ ص۵۵۴؛ الدر المنثور ج۸ ص۶۴۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۸۵
(۳) النهاية في غريب الحديث والاثر ج۲ ص۴۳۰
(۴) صحيح مسلم ج۱ ص۲۲۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: یوه هغه ریاکاري ده چې د عقیدې فساد ورسره ملګری نه وي لکه چې یو مؤمن سړی د دغه کار مرتکب وګرځي.

دوهم: بل هغه ریاکاري ده چې د عقیدې فساد ورسره ملګری وي او د باطني کفر څخه یې منشا اخستې وي. په دې مقام کښې همدغه دوهم ډول ریاکاري مطلب ده چې د عقیدوي منافقانو خاصیت دی او عملي منافقان (عاصیان مؤمنان) ترې خلاص دي.

ه: که څوک وایي چې: د منافقانو په خاصیتونو کښې د ﴿ وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ ﴾ ایت هم نازل شوی دی. نو پوښتنه دا ده چې: د "مَاعُون" کلمه څه معنی؟

مونږ وایو چې: دغه کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده چې تقریباً دولسو (۱۲) معناوو ته رسېږي[1]، خو مونږ ته هغه معنی غوره برېښي کومه چې شیخ المفسرین (الطبري) علیه الرحمة غوره کړې ده. هغه دا چې: دلته د "مَاعُون" څخه هغه مالي حقوق مطلب دي کوم چې د غنیانو په مالونو کښې د فقیرانو دپاره الله ﷻ فرض ګرځولي دي، لکه زکات، عُشر او داسې نور. او همدارنګه پکښې د استعمال هغه سامانونه مراد دي چې خلک یې په خپل منځکښې د عاریت په توګه یو تربله ورکوي، لکه کولنګ، تبر او داسې نور[2].

یعنې عقیدوي منافقان هغه کسان دي کوم چې د فقیرانو د فرضي حقوقو د ورکړې څخه منعه اختیاروي او هم د هغو سامانونو د ورکړې راکړې څخه اجتناب کوي د کومو ورکړه راکړه چې د خلکو ترمنځ د عاریت په توګه رواج لري او دود ده.

و: که څوک وایي چې: ایا د عاریتي سامانونو د ورکړې راکړې څخه ډډه کول هم د عقیدوي منافقت خاصیت دی حال دا چې دا کار خو په مؤمنانو کښې هم شته؟

مونږ وایو چې: د عاریتي سامانونو د ورکړې راکړې څخه ډډه کول هم د ریاکارۍ غوندې لاندې دوه معناوې لري:

اول: چې ډډه کول ترې د عقیدوي فساد په بنیاد نه بلکې د شومتیا په بنیاد صورت نیسي.

دوهم: چې عدم ورکړه په عقیدوي فساد باندې ولاړه وي چې د جزا په ورځ ایمان نه لري او تکذیب یې ورباندې خپل کړی وي. په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مراده ده چې عقیدوي منافقانو پورې اختصاص لري.

په همدې خای د الله ﷻ په توفیق د "اَلْمَاعُون" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

اَللّٰهُمَّ لا تَجْعَلْنَا مِنَ الْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ.

۱۴۲۶/۳/۲۸ ق ه – ۱۳۸۴/۱/۱۸ ه ش.

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۲۱۸؛ لسان العرب ج۱۳ ص۴۱۰؛ القاموس المحیط ج۴ ص۲۶۴
(۲) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۳۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الكوثر(۱۰۸)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (الْكَوْثَر) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی.

۲ـ که څه هم ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې دا سورت مدني دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[۱]، مګر مشهوره دا ده چې دا سورت مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۲].

مونږ ته همدغه دوهم قول غوره برېښي چې جمهورو مفسرینو کرامو خوښ کړی دی[۳] او د سورت د بیان طرز هم د مکي سورتونو د بیان طرز ته ورته دی.

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه فقط درې (۳) دي[۴] او په ټول قرآن کریم کښې دا لنډکی سورت دی.

۴ـ ټولې کلمې یې لس (۱۰) دي[۵].

۵ـ ټول حرفونه یې دوه څلوېښت (۴۲) دي[۶].

۶ـ وړاندېنی سورت (الْمَاعُون) د هغه چا په ذکر باندې ختم شوی وه کوم چې په ټولو بخیلانو کښې ډېر بخیل دی کوم چې مستحقینو ته د حقوقو د ورکړې څخه منعه کوي او د عاریت په توګه د سامان ورکړې راکړې ته هم تیار نه دی.

په دې سورت کښې د هغه چا ذکر ته اشاره کېږي کوم چې په ټولو جوادانو (سخیانو) بندګانو کښې ډېر جواد او سخاوت کوونکی دی کوم چې د ټولو عالمونو دپاره رحمت دی او هر چا ته یې خیر رسېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ۝٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ ۝٣ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] یقینًا مونږ تاته زښت ډېر خیر درکړی دی.

[۲] نو ته خاص د خپل رب ﷻ دپاره لمونځ کوه او (خاص د همده ﷻ دپاره) قرباني کوه (د نعمتونو شکرګزارۍ ته ادامه ورکړه).

[۳] یقینًا (ستا یادښت قطع شوی نه دی بلکې) ستا دښمن همدی مقطوع الذکر (یاد یې قطع شوی او مقطوع الخیر) دی.

---

(۱) روح المعاني ج۳۰ ص۲۴۴

(۲) الدر المنثور ج۸ ص۶۴۷

(۳) البحر المحیط ج۱۰ ص۵۵۵

(۴) تفسیر الطبري ج۳۰ ص۳۲۰

(۵) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۱۹

(۶) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۷۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱ـ د دې سورت دپاره مفسرینو کرامو ګڼ شان نزولونه لیکلي دي⁽¹⁾. خو مونږ یوازې یو شان نزول په لاندې ډول رالنډوو:
یوه ورځې د قریشو د مشرانو څخه یو مشر (العاص بن وائل) نبي کریم ﷺ مخاطب وګرځاوه چې: یقینًا زه ستا سره دښمني کوم او یقینًا ستا بنیاد وتلی دی چې نارینه اولاد نه لرې.
بیا نومورې خپلو اندېوالانو ته وویلې چې: "دَعُوْهُ فَإِنَّمَا هُوَ أَبْتَرُ لَا عَقِبَ لَهُ لَوْ هَلَكَ إِنْقَطَعَ ذِكْرُهُ وَاسْتَرَحْتُمْ مِنْهُ"⁽²⁾ یعنې دغه سړی (محمد ﷺ) ترڅه وخته پورې پرېږدئ (حوصله ورته وکړئ) چې یقینًا دا سړی بنیاد نه لري چې نارینه اولاد یې نشته، که چرته مړ شي نو یاد (او مسلک) به یې ختم شي او تاسو به ترې مستریح او بې غمه شئ.
نو الله ﷻ دغه سورت نازل کړ او د نومورې کافر مشر خبرې یې رده کړې.

### "کوثر" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ﴾ کښې د "كَوْثَر" کلمه د مبالغې صیغه ده او د "كَثْرَة" ـلکه "رِفْعَة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د زیاتوالي معنی ورکوي⁽³⁾. په دې کلمه کښې د "و" توری د مبالغې دپاره اضافه شوی دی ترڅو په ډېر زیادت باندې دلالت وکړي.
پاتې شوه دا خبره چې دلته د ذکرې شوې کلمې څخه څه شی مراد دی؟، نو د دغې مرادې معنی په تعین کښې مفسرینو کرامو متعدد اقوال کړي دي چې تقریبًا شپاړسو (۱۶)⁽⁴⁾ یا شپږ ویشتو (۲۶) قولونو ته رسېږي⁽⁵⁾، مګر مونږ ته ډېر غوره قول هغه برېښي کوم چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوی دی چې فرمایلې یې دي: «هُوَ الْخَيْرُ الَّذِي أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ»⁽⁶⁾ یعنې کوثر هغه ډېر خیر دی کوم چې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته ورکړی دی (لکه نبوت او قرآن یا لکه لوی شفاعت او د الله ﷻ رضامندي او یا لکه د امت ډېروالی او نور دنیاوي او اُخروي نعمتونه).

### سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د ذکر شوي ایت شریف په تفسیر کښې زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې ځینو مفسرینو کرامو ـرحمهم الله عزوجلـ یې یوه-یوه مجموعه په خپلو کتابونو کښې راحکایته کړې ده⁽⁷⁾ د مثال په توګه:

---

(1) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۷۴
(2) اسباب النزول للواحدي ص۳۰۷؛ تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۷۳
(3) لسان العرب ج۵ ص۱۲۲
(4) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۲۱۶؛ تفسیر الطبري ج۳۰ ص۳۲۰
(5) روح المعاني ج۳۰ ص۲۴۵؛ زاد المسیر ج۸ ص۳۱۹
(6) صحیح البخاري ج۲ ص۷۴۲
(7) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۵۶؛ الدر المنثور ج۸ ص۶۴۷؛ تفسیر الخازن ج۶ ص۵۸۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: « وَهُوَ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ آنِيَتُهُ عَدَدَ النُّجُومِ» [۱] يعني او (کوثر) داسې حوض دی چې زما اُمت به ورباندې د قيامت په ورځ د اوبو څښلو دپاره ورتوییږي چې لوښي (گیلاسونه) یې د ستورو د شمېر غوندې دي (زښت ډېر دي).

ب: نبي كريم ﷺ په يوه بل حديث كښې فرمايلي دي چې: «رَأَيْتُ نَهْرًا فِي الْجَنَّةِ حَافَتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ قُلْتُ مَا هَذَا يَا جِبْرِئِيلُ قَالَ هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَهُ اللهُ» [۲] يعني ما د معراج په شپه په جنت كښې يوه داسې لښتی (ویاله) ولیده چې په غاړو باندې یې د ملغلرو خېمې ولاړې وې. ما وویلې چې ای جبرائیله! دا څه شی دی؟ هغه ﷺ په جواب كښې وویلې چې دا هغه کوثر دی چې الله ﷻ تاته درکړی دی.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا د "کوثر" دپاره ستاسو ذکر شوی تفسیر د ذکرو شوو دواړو احادیثو سره منافي نه دی چې "کوثر" پکښې په "حوض" او "نهر" سره تفسیر شوی دی؟

مونږ وايو چې: په ذکرو شوو دواړو احاديثو كښې د "کَوْثَرْ" کلمه په "حَوض" او "نهر" سره د حصر په توګه نه ده تفسیره شوې ترڅو اعتراض وارد شي بلکې د مثال په توګه ورباندې تفسیره شوې ده چې دغه دواړه هم په (خير کثير) ډېر خير كښې شمولیت لري.

دغه جواب ته د ځینو علماو کرامو په کلام كښې هم اشاره موندله کېږي [۳].

## لمونځ او قرباني

۴_ که څه هم علماوو کرامو د ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾ ایت په ډېرو ډولونو سره تفسیر کړی دی [۴]، خو کوم ډول تفسیر چې متبادر دی هغه دا دی چې:

نبي كريم ﷺ په ﴿ فَصَلِّ ﴾ كښې په مطلق لمانځه او په ﴿ وَانْحَرْ ﴾ كښې په مطلق قرباني باندې مکلف ګرځولی شوی دی. نو حاصل به یې داسې راوخېژي:

ای پیغمبره! څرنګه چې الله ﷻ تاته زښت ډېر نعمتونه درکړي دي او د نعمتونو د ورکړې لړۍ لا ادامه لري نو ته د دغو نعمتونو شکریه وکړه. نو:

الف: خاص د خپل رب ﷻ دپاره لمونځونه دروه او د شرکیاتو څخه خپل اجتناب ته ادامه ورکړه.

ب: همدارنګه خاص خپل رب ﷻ ته قرباني کوه او د مشرکانو د خاصیت څخه خپل ځان په ځنګ وساته چې د بوتانو په نامه قرباني کوي. او هم د خپلې قربانۍ غوښې په فقیرانو باندې توزیع کوه او د مشرکانو د عادت څخه ډډه وکړه چې فقیرانو ته حقوق نه ورکوي او هم د عاریت په توګه د سامانونو په ورکړه باندې شومتیا کوي.

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۱۷۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۳
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۴۲
(۴) زاد المسير ج۸ ص۳۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه مضمون ته په نورو ایتونو کښې هم اشارې شوې دي. د مثال په توګه:

اول: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴾ [الضحی:۱۱] یعنې او هر چې ستا د رب ﷻ نعمت دی) نو ته په هغه سره څرګندونه کوه (او شکرګزاري يې وکړه).

دوهم: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَب ﴾ [ألم نشرح:۸] یعنې (نو کله چې ته د یوه عبادتي کار څخه فارغ شې نو په بل عبادتي کار باندې شروع کوه) او خپل رب ﷻ ته رغبت (او زاري) کوه (چې لا زيات توفيق درکړي).

دریم: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ [الأنعام:۱۶] یعنې ای پیغمبره! ووايه چې يقيناً زما لمونځ او زما قرباني او (هم) زما ژوند او زما مرګ خاص الله ﷻ لره دی چې د ټولو عالمونو رب دی (او هيڅ شريک ورته نشته).

## د "شَنْأ" او "بَتْر" معناوې

۵- په ﴿ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴾ کښې د "شَانِئ" کلمه د "شَنْأ" -لکه "ضَرْب"- څخه اشتقاقه شوې ده، چې د دښمنۍ معنی ورکوي[۱]، او په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د "العاص بن وائل" او د ده د امثالو څخه عبارت ده.

په همدې ايت کښې د "أَبْتَر" کلمې د "بَتْر" -لکه "ضَرْب"- څخه اشتقاق موندلی دی، چې د خير د يادېدلو څخه پرې کېدل او د نارينه اولاد نه درلودل او بالآخره د خساره او تاوان د موندلو معناوې لري[۲].

په دې مقام کښې د بدليت په لحاظ د ټولو معناوو اراده کول صحت لري. او دا څکه چې:

نوموړي العاص بن وائل نبي کريم ﷺ ته په دغو ټولو لحاظونو سره د "أَبْتَر" لقب ورکاوه چې په مرګ سره به ستا يادېدنه د دنيا څخه ورکه شي او ته نارينه اولاد نه لرې او بالآخره ته مالدار نه يې او ستا پيروان فقيران دي.

نو حاصل به يې داسې راځېږي چې:

ای پيغمبره! ستا د دښمن اتهام واقعيت نه لري، نو ستا نوم به د قيامت تر ورځې پورې باقي وي او په اذانونو کښې به پنځه وخته يادېږي.

همدارنګه ته مقطوع البنياد نه يې بلکې ټول مؤمنان ستا دپاره د اولادونو حيثيت لري چې ټول درباندې درودونه استوي او ټول دې د شفاعت په تمه دي، بالآخره ستا د پيروانو فقر هم د منځه تلونکی دی چې ډېر ژر به د ډېرو مالونو درلودونکي جوړ شي او ثروت به يې وده وکړي.

همدغه مضمون ته په نورو نصوصو کښې هم اشارې شوې دي. د مثال په توګه:

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۷۴

(۲) لسان العرب ج۴ ص۳۸؛ القاموس المحیط ج۱ ص۲۱۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ [ألم نشرح:۴] يعنې او موږ ستا د ګټې دپاره ستا يادونه اوچته کړې ده.

ب: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ فَإِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ۝ إِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ [ألم نشرح:۵، ۶] يعنې يقيناً د سختۍ سره اساني ده، يقيناً (د همدغې يوې) سختۍ سره (بله) اساني (هم) ده.

ج: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْوَالِدِ أُعَلِّمُكُمْ»(۱) يعنې يقيناً زه ستاسو دپاره د پلار په څېر يم چې تاسو ته (آن انساني حاجت ته د کيناستلو طريقه هم) درښيم.

په همدې خاى باندې د الله ﷻ په توفيق د "الْكَوْثَر" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو.

اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا شَفَاعَةَ النَّبِيِّ ﷺ.

۱۴۲۶/۴/۱ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۲۰ هـ ش.

(۱) سنن أبي داوُد ج۱ ص۳؛ مسند أحمد بن حنبل ج۳ ص۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الکافرون (۱۰۹)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (اَلْكَافِرُون) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی.
۲_ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي چې: دا سورت په مکه معظمه کښې نازل شوی دی او مکي دی[۱].
۳_ د دې سورت د ایتونو شمېر شپږ (۶) دی[۲].
۴_ د کلماتو شمېر یې شپږویشت (۲۶) دی[۳].
۵_ د حرفونو شمېر څلور نوي (۹۴) دی[۴].
۶_ په دې سورت کښې په هغه مطلب باندې په تاکید سره صراحت نازل شوی دی په کوم باندې چې وړاندېنې سورت (اَلْكَوْثَر) د اشارې په توګه دلالت کاوه هغه دا چې: ای کفارو! تاسو زما دښمنان یاست، زه به هیڅکله د خپلو دښمنانو سره سازش ونه کړم چې په عبادت کښې اخلاص د پښو لاندې کړم او د نعمتونو شکرګزاري هېره کړم.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ۝١ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ۝٢ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝٣
وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ۝٤ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ۝٦ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بار رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] (ای پیغمبره!) ووایه چې: ای کفارو! (تاسو واورئ چې:)
[۲] زه د هغو معبودانو عبادت نه کوم د کومو چې تاسو عبادت کوئ.
[۳] او تاسو د هغه اقدس ذات عبادت کوونکي نه یاست چې زه یې عبادت کوم.
[۴] او زه د هغو معبودانو عبادت کوونکی نه یم د کومو چې تاسو لګیا یاست عبادت یې کوئ.
[۵] او تاسو د هغه اقدس ذات عبادت کوونکي نه یاست چې زه یې عبادت کوم.
[۶] تاسو لره خپل دین دی او ما لره خپل دین دی (زه د سازش څخه بېزار یم).

### شان نزول او توضیحات

۱_ د دې سورت په هکله مفسرینو کرامو ګڼ شمېر شان نزولونه روایت کړي دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) الدر المنثور ج۸ ص۶۵۴
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۳۵
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۸۵
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۲۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: يو ځل د قريشو مشرانو العباس (چې په هغه وخت كښې د "رضي الله عنه" لايق نه وه) جرګه كړ چې ته خپل وراره محمد ﷺ ته ووايه چې زمونږ معبودانو (بوتانو) ته په څه درناوي قائل شي نو مونږ به ورباندې ايمان راوړو[۱].

ب: يو ځل د قريشو ځينو مشرانو نيغ په نيغه نبي كريم ﷺ ته وړانديز وكړ چې: زمونږ سره څه سازش وكړه ترڅو ته زمونږ د دين څخه استفاده وكړې او مونږ ستا د دين څخه مستفيد وګرځو[۲].

ج: يو ځل د قريشو مشرانو نبي كريم ﷺ ته بل ډول سازش وړاندې كړ چې: مونږ او تاسو ټول به يو كال يوازې د الله ﷻ عبادت كوو او بل كال به ټول (دواړه جانبه) د بوتانو عبادت كوو، دا د روغې جوړې يو صورت دى په كار دي چې ته يې قبول كړې[۳].

د: يو ځل هغوى نبي كريم ﷺ ته وعده وركړه چې: كه ته زمونږ د بوتانو په هكله څه نرمي څرګنده كړې نو مونږ به په تاباندې ايمان راوړو[۴].

هـ: هغوى ورته دا وړانديز هم كړى وه چې زمونږ بوتان (معبودان) مه تقبيحوه نو مونږ به زښت ډېر مالونه دركړو او كه په قريشو كښې ستا هره ښايسته ښځه خوښه شوه هغه به په نكاح دركړو[۵].

خو نبي كريم ﷺ د كفارو يو وړانديز هم قبول نه كړ بلكې په ډېرې كلكې لهجې سره يې هر يو وړانديز رد كړ.

كله چې دغه سورت نازل شو او هغوى د سازش كولو څخه نااميده شوه نو د نبي كريم ﷺ د شهيدولو پلان يې جوړ كړ او هجرت ته يې مجبور كړ چې د [الأنفال: ۳۰] ايت لاندې ورباندې د الله ﷻ په توفيق څه رڼا اچولې شوې ده.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام كښې لاندې سوالونه د سړي په ذهن كښې راولاړېږي:

الف: كه څوک وايي چې: دغه دواړه ايتونه په مصداق كښې متحد دي چې: ﴿ لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ ﴾ [الكافرون: ۲] يعني زه د هغو معبودانو عبادت نه كوم د كومو چې تاسو عبادت كوئ، او ﴿ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ ﴾ [الكافرون: ۴] يعني او نه زه د هغو معبودانو عبادت كوونكى يم د كومو چې تاسو عبادت كوئ.

او همدارنګه دغه دواړه ايتونه په كلماتو او مصداق دواړو كښې متحد دي چې: ﴿ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ﴾ [الكافرون: ۳] يعني او نه تاسو د هغه معبود عبادت كوونكي ياست چې زه يې

(۱) زاد المسير ج۸ ص۳۲۲
(۲) تفسير القرطبي ج۲۰ ص۲۲۵
(۳) اسباب النزول للواحدي ص۳۰۷؛ تفسير المراغي ج۳۰ ص۲۵۵
(۴) الدر المنثور ج۸ ص۶۵۵
(۵) تفسير القرطبي ج۲۰ ص۲۲۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبادت کوم. او ﴿ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ﴾ [الکافرون:۵] یعنې او نه تاسو د هغه معبود عبادت کوونکي یاست چې زه يې عبادت کوم.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد د اولنیو دوارو ایتونو مصداق په تکرار سره نازل کړی شو او همدارنګه څه وجه ده چې په وروستنیو دوارو ایتونو کښې دوهم ایت تکراراً نزول وموند؟

مونږ وايو چې: د ذکرې شوې پوښتنې د جوابولو دپاره علماوو کرامو[1] ډېر جوابونه لیکلي دي، نو که څوک يې د لوستلو شوق لري همله دې مراجعه وکړي، مګر بهتر جواب يې ـوالله ﷻ اعلم ـ دا دی چې:

ذکر شوي تکرار د تاکید دپاره صورت نیولی دی او دا ځکه چې مشرکانو په سازش باندې ډېر زور اچولی وه او په بیا-بیا يې وړاندیز کاوه. نو د هغوی د حال غوښتنه دا وه چې وړاندیز يې په تکراري او تاکیدي توګه رد شي ترڅو يې تمه غوڅه شي.

د دغه ډول رد يو نظیر په يوه حدیث کښې هم روایت شوی دی چې: يو ځل د بني هشامو قبیلې د نبي کریم ﷺ څخه اجازه وغوښته چې خپله يوه انجلۍ علي ﷜ ته په نکاح سره ورکړي حال دا چې علي ﷜ فاطمه رضي الله عنها په خپله نکاح کښې درلوده. نو نبي کریم ﷺ د هغوی غوښتنه د ممبر د پاسه په تکراري او تاکیدي توګه رده کړه او وې فرمایل چې: «فَلَا آذَنُ لَهُمْ ثُمَّ لَا آذَنُ لَهُمْ ثُمَّ لَا آذَنُ لَهُمْ»[2] یعنې زه به هغوی ته (د دغه کار) اجازه ورنه کړم، زه به هغوی ته اجازه ورنه کړم، زه به هغوی ته اجازه ورنه کړم.

لنډه دا چې په دې سورت کښې د سازش او کفري عبادت څخه په ډېره مؤکده طریقه برائت اعلان شوی دی.

دغه برائت ته په نورو ایتونو کښې هم اشارې شوې دي، د مثال په توګه:

الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعۡمَلُ وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ﴾ [یونس:۴۱] یعنې ای پیغمبره! مشرکانو ته ووايه چې تاسو د هغه خط السیر څخه بېزار یاست په کوم باندې چې زه عمل کوم او زه د هغه خط السیر څخه بېزار یم په کوم باندې چې تاسو عمل کوئ (زما او ستاسو ترمنځ جوړه او سازش ممکن نه دی).

ب: که څوک رايي چې: د دې سورت [۳، ۵] ایتونه خو د مشرکانو په هکله د الله ﷻ د پلوه اخبار بالغیب دی چې ای مشرکانو! تاسو د هغه اقدس ذات عبادت کوونکي نه یاست چې زه يې عبادت کوم. حال دا چې د همدغو مخاطبینو مشرکانو د جملې څخه ډېر کسان په ایمان باندې مشرف شوه چې د مکې معظمې د فتحې په ورخ خو ډلې-ډلې د الله ﷻ په دین کښې داخلې شوې او د الله ﷻ په عبادت مشغولې شوې؟!

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۶۲؛ روح المعاني ج۳۰ ص۲۵۱
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۲۹۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په ذکروشوو دوارو ايتونو کښې په کفر سره موصوف کسان مخاطب ګرځولي شوي دي چې: ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ يعني ورته ووايه چې اى کفارو! تاسو په همدغه کفري حالت کښې د سازش تر سيوري لاندې د الله ﷻ عبادت کوونکي نه ياست. او پوره واضحه ده چې ذکر شوي ايمان راوړونکي کسان د سازش تر سيوري لاندې په ايمان نه وه مشرف شوي چې اعتراض وارد شي.

ج: که څوک وايي چې: ايا د ﴿ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ﴾ څخه نه څرګندېږي چې: اى مشرکانو! تاسو په خپل دين باندې باقي اوسئ؟

مونږ وايو چې: دلته تهديد مطلب دى او تقرير مطلب نه دى، دغه ډول يو تهديد په بل ايت کښې داسې نازل شوى دى چې: ﴿ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ﴾ [الكهف:۲۹] يعني نو که د چا خوښه وي نو هغه دې ايمان راوړي او که د چا خوښه وي نو هغه دې کافر پاتې شي (د قيامت ورځ راروانه ده هرڅوک به موافقه سزا يا جزا وګوري).

## د دې سورت اهميت

۳_ دا سورت د عقيدې د تصحيح او د ايمان د اخلاص دپاره ډېر زيات اهميت لري نو په ډېرو احاديثو کښې يې ذکر روايت شوى دى[۱]. د مثال په توګه:

عبد الله بن عمر رضي الله عنه وايي چې: «رَمَقْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عِشْرِينَ مَرَّةً يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ»[۲] يعني ما د الله ﷻ پيغمبر ﷺ شل (۲۰) کرته څارلي او ليدلى دى چې د ماښام څخه وروسته په دوه وو رکعتونو کښې او د سبا د لمانځه څخه وړاندې په دوه وو رکعتونو کښې به يې ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ او ﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴾ قرائت کاوه.

په همدې ځاى د "الْكَافِرُون" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ تَوَلِّي الْكُفَّارِ وَمُحَبَّتِهِمْ.

۱۴۲۶/۴/۲ هـ ق = ۱۳۸۴/۱/۲۱ هـ ش.

---

(۱) الدر المنثور ج۸ ص۶۵۶
(۲) سنن النسائي ج۱ ص۱۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# النصر(١١٠)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (النَّصْر) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲_ ټول علماء کرام متفق دي چې دا سورت مدني سورت دی چې د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[۱]، خو په دې خبره کښې چې د نبي کریم ﷺ د وفات څخه یې څومره وخت وړاندې او په کوم خای کښې نزول موندلی دی؟ په لاندې ډول مختلف دي:

الف: اکثره علماء کرام وایي چې دا سورت د نبي کریم ﷺ د وفات څخه دوه کاله وړاندې هغه وخت نازل شوی دی کله چې نبي کریم ﷺ د خیبر د غزا څخه راستون شو[۲].

په همدې قول باندې په ﴿ إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "إذا" کلمه هم دلالت کوي چې دغه کلمه په استقبال کښې استعمالیږي. یعنې کله چې په راتلونکي وخت کښې د الله ﷻ نصرت او فتحه راشي.

نو په دې ایت کښې یوه زیري ته اشاره شوې ده چې په وروسته وخت کښې په معجزانه توګه رښتیا شو.

ب: ځینې علماء کرام وایي چې: دغه سورت په حجة الوداع کښې په مِنَى مقام کښې نازل شوی دی، نو د دغه سورت د نزول څخه وروسته نبي کریم ﷺ فقط اتیا (۸۰) ورځې حیات وه او بیا وفات شو[۳]، إنا لله وإنا إلیه راجعون.

دوی وایي چې ذکره شوې د "إذا" کلمه د استقبال دپاره نه ده بلکې د "إذ" معنی ورکوي لکه چې په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ ﴾ [الکهف:۸٦] کښې د ﴿ إِذَا ﴾ کلمه د "إذ" په معنی سره ده. یعنې ان تر دې چې ذو القرنین د لمر مغرب ته ورسېد (نه دا چې د لمر مغرب ته ورسېږي).

په هر تقدیر، دا سورت (النَّصْر) وروستنی کامل سورت دی چې وروسته ترې ایتونه نازل شوی دي خو بل کامل سورت ترې وروسته نه دی نازل شوی[۴].

۳_ د دې سورت د ایتونو شمېر فقط درې (۳) دي[۵].

۴_ د کلماتو شمېر یې فقط اولس (۱۷) دي[٦].

۵_ د حرفونو شمېر یې فقط نهه شپېته (٦۹) دي[۷].

٦_ په وړاندېنې سورت (الْکَافِرُون) کښې نبي کریم ﷺ ته ارشاد نازل شوی وه چې د مشرکانو د

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۳۲۴
(۲) البحر المحیط ج۱۰ ص۵٦۲؛ تفسیر أبي السعود ج۹ ص۲۰۸
(۳) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۲۳۳
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۸۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵٦۲
(۵) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۳٦
(٦) تفسیر الخازن ج٦ ص۵۸۸
(۷) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۳۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دين څخه برائت اعلان کړه او په دې سورت (النّصر) کښې د همدغه ارشاد نتائجو ته اشاره کړې چې ستا دين به په ټولو اديانو باندې غلبه مونده کړي او ټول به محوه کړي، که بالفرض ته د هغوی سره سازش وکړې او يا دې ورسره سازش کړې وی نو نتيجه به معکوسه وي. او دا ځکه چې مخلوط دين د الله ﷻ دين نه دی بلکې ﴿ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ ﴾ [الزمر:٣] يعنې اګاه اوسئ چې خاص الله ﷻ ته سوچه دين (مقبول) دی او بس.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ ٱلنَّاسَ يَدْخُلُونَ فِى دِينِ ٱللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَٱسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابًۢا ﴿٣﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١] (ای پيغمبره!) هغه وخت چې د الله ﷻ نصرت (په دښمن باندې غلبه) او هم د مکې معظمې فتحه درغله (درته حاصله شوه).

[٢] او (هم هغه وخت چې کله) تا خلک وليده چې د الله ﷻ په دين (اسلام) کښې ډلې-ډلې داخلېږي.

[٣] نو (په دغه وخت کښې) د خپل رب ﷻ د حمد سره تسبيحات وايه او مغفرت ترې غواړه. يقيناً ستا رب ﷻ ډېر توبه قبلوونکی دی.

## توضيحات

١_ د ټولو مفسرينو کرامو په نزد په ﴿ إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ ﴾ کښې د "الْفَتْحُ" څخه د مکې معظمې فتحه مراده ده[١] چې د هجرت په اتم کال د روژې په مياشت کښې واقع شوې وه.

د دې فتحې په تعقيب نبي کريم ﷺ د حنين او طائف غزاګانې وکړې او ښه پرېمانه غنيمتونه لاس ته ورغله، د دغو غزاګانو او په تېره بيا د مکې معظمې د فتحې قيصې د سيرت کتابونو مفصلې ليکلې دي او ځينو مفسرينو کرامو هم ورباندې ښه پوره رڼا اچولې ده[٢]. هيله ده چې علاقمندان هملته مراجعه وکړي.

## "نَصر" او "فَتح" څه فرق لري؟

٢_ په ذکر شوي ايت کښې ﴿ نَصْرُ ٱللَّهِ ﴾ په دښمن باندې د غلبې څخه عبارت دی چې دښمن مقهور او ذليل وګرځوي. او فتح په يو ښار باندې د تسلط او قبضې لګولو معنی و رکوي[٣].

نو د مکې معظمې د فتحې په ورځ الله ﷻ خپل پيغمبر په هغو مشرکانو باندې غالب وګرځاوه

(١) تفسير الطبري ج٣٠ ص٣٣٢؛ تفسير القاسمي ج١٧ ص٢٨١؛ تفسير ابن كثير ج٤ ص٥٦٣
(٢) تفسير الخازن ج٦ ص٥٨٨؛ تفسير البغوي ج٤ ص٥٣٦
(٣) البحر المحيط ج١٠ ص٥٦٢؛ اللباب في علوم الكتاب ج٢٠ ص٥٣٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کومو چې د همدغه پلرني ټاټوبي څخه شړلی وه او هم يې د همدغه ښار په شمول په نورو ښارونو باندې قبضه ورکړه لکه اوطاس، طائف او نور.

## ډله ییز ایمان راوړل

۳_ په ﴿ وَرَأَيْتَ ٱلنَّاسَ يَدْخُلُونَ فِى دِينِ ٱللَّهِ أَفْوَاجًا ﴾ کښې دېته اشاره ده چې د دغې فتحې په سبب د مجاهدینو په مقابل کښې په ټوله عربي جزیره کښې مقاومت ختم شو او څوک چې ساکت ناست وه هغوی هم خپل سکوت مات کړ او د توحید په کلمه باندې يې اوازونه اوچت کړه. او دا څکه چې تردغه وخته پورې به قبائلو ویلې چې: "اتْرُكُوهُ وَقَوْمَهُ فَإِنَّهُ إِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ"[۱] يعني تاسو دا سړی (محمد ﷺ) د خپل قوم سره پرېږدئ (او نتېجې ته منتظر شئ) نو که چرته نوموړی په خپل قوم باندې غالب شو نو یقینًا دا رښتینی پیغمبر دی (او د ابرهه او نورو اصحاب الفیل غوندې غاصب نه دی)، نو کله چې مکه معظمه فتحه شوه ټولو قبائلو ورباندې ایمان راوړو.

## د یوه حدیث تازه مصداق

۴_ د دغه ایت شریف په ارتباط نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ النَّاسَ دَخَلُوا فِي دِينِ اللهِ أَفْوَاجًا وَسَيَخْرُجُونَ مِنْهُ أَفْوَاجًا»[۲] یعني یقینًا د الله ﷻ په دین (اسلام) کښې خلک ډلې-ډلې داخل شوه خو ژر ده چې د همدغه دین (اسلام) څخه به ډلې-ډلې ووځي.

د همدې حدیث دپاره نن ورځ[۳] په افغانستان او عراق کښې تازه مصداق تحقق موندلی دی چې ډېر خلک ډلې-ډلې د اسلام څخه وځي او په کفر کښې داخلېږي.

البته دا هغه کسان دي چې د اسلام څخه یهودیت یا عیسویت ته اوښتي دي، د اسلام څخه د امریکایانو مسلک (مطلق ازادي) غوره او بهتره ګڼي، د کفارو په کفر باندې راضي دي، د کفارو تسلط په دغو ښارونو باندې حق بولي، د ښځو مخونه لوڅوي او د قرآن کریم مخ پټوي او غواړي چې قران کریم په ژوند کښې دستور العمل ونه ګرځي او داسې نور.

## تسبیح او استغفار

۵_ د یوه حدیث مضمون دی چې: یوه ورځې عائشې رضي الله عنها وویلې چې: یا رسول الله! څه وجه ده چې ته د خپل عادت په خلاف دغه کلمې «سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ» ډېرې لولې؟

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «جُعِلَتْ لِي عَلَامَةٌ فِي أُمَّتِي إِذَا رَأَيْتُهَا قُلْتُهَا»[۴] یعني ماته د خپل رب ﷻ د پلوه په خپل اُمت کښې یوه نښه ښودلې شوې ده چې کله زه هغه وګورم نو زه به ذکرې

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۱۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۱۰۸
(۳) ۱۴۲۶/۴/۳ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۲۲ هـ ش
(۴) صحیح مسلم ج۱ ص۱۹۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې کلمې ډېرې لولوم. ما دا نښه ولیده چې مکه معظمه فتحه شوه او خلک لګیا دي ډلې-ډلې د الله ﷻ په دین (اسلام) کښې داخلېږي. نو څکه ذکرې شوې کلمې د خپل عادت په خلاف ډېرې لولم.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنیاد ذکرو شوو کلمو د ډېرو لوستلو دپاره د دغه سورت د مضمون تحقق نښه ګرځولې شوې دی؟

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_: د دغه سورت د مضمون تحقق څکه نښه ګرځولې شوی دی چې د دغه مضمون په تحقق سره دېته اشاره ده چې: ای پیغمبره! اوس نو ستا د مبعوثیت مطلب پوره شو او په دنیا کښې ستا مکلفیت ختم شو چې خلک لګیا دي ډلې-ډلې په اسلام کښې داخلېږي او د شریعت په رڼا سره د کفر تیاره مغلوبېږي. نور نو ته خپل آخرت ته متوجه شه او د هغو خلاف الأولی کارونو د ارتکاب مغفرت وغواړه کوم چې د مکلفیت په دوران کښې ستا څخه صادر شوي دي.

همدغه مضمون په ډېرو احادیثو کښې منعکس شوی دی، د مثال په ډول:

الف: کله چې ذکر شوی سورت نازل شو نو نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې وفرمایل چې: «نُعِيَتْ إِلَيَّ نَفْسِي»[۱] یعنې ماته د خپل مرګ خبر راکړی شو «كَأَنِّيْ مَقْبُوضٌ فِي تِلْكَ السَّنَةِ»[۲] یعنې لکه چې یقیناً زه په دغه کال کښې قبض کړی شوی یم (مرم).

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د یوه حدیث مضمون دی چې: یو ځل أمیر المؤمنین عمر ﷺ خینې صحابه کرام ﷺ وغوښتل چې د دوی په ډله کښې زه کم عمری صحابي هم شامل وم.

عمر ﷺ ټولو ته پوښتنه راجع کړه چې تاسو د ﴿ إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ ﴾ د سورت څخه څنګه-څنګه مفهوم اخلئ؟.

خینو صحابه وو کرامو ﷺ جوابونه ورکړه او خینې ساکت پاتې شوه. ما په خپل نوبت کښې وویلې چې: د دې سورت څخه د نبي کریم ﷺ د وفات نښه معلومېږي چې رانژدې شوې ده او الله ﷻ یې په وفات باندې د خلکو په ډله ییزه توګه مسلمانېدل نښه ګرځولې دي.

امیر المؤمنین وویلې چې: «مَا أَعْلَمُ مِنْهَا إِلَّا مَا تَقُولُ»[۳] یعنې زه د دې سورت څخه په بل هیڅ شي نه پوهېږم مګر په هغه شي چې ته یې وایې.

د "النَّصْر" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.
سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.
۱۴۲۶/۴/۳ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۲۲ هـ ش.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۴۶۶
(۲) تفسير الطبري ج ۳۰ ص۳۳۴
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# تبت (۱۱۱)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت (تَبَّتْ) په خپل نامه باندې پیل شوی دی.
۲_ دا سورت په اتفاق سره مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].
۳_ د دې سورت ټول ایتونه پنځه (۵) دي[۲].
۴_ ټولې کلمې یې درویشت (۲۳) دي[۳].
۵_ ټول حرفونه یې اوه اویا (۷۷) دي[۴].
۶_ په وړاندېني سورت (النَّصْر) کښې اشاره شوې وه چې دا دین (اسلام) به ضرور کمال ته رسېږي او په نورو ادیانو به غلبه مونده کوي.
په دې سورت (تَبَّتْ) کښې د کفارو او معاندینو د مذبوحانه هلو ځلو یوه مثال ته اشاره کېږي چې مطلوبه نتیجه یې نه ده ورکړې بلکې پخپله د معاند کافر په ضرر تمامي شوي دي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ۝١ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ۝٣ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ۝٤ فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ۝٥ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] د ابو لهب دواړه لاسونه (بلکې پخپله ابو لهب) دې خسارمند (او هلاک) شي، او نوموړی خسارمند (او هلاک) شوی دی.

[۲] د نوموړي مال او هغه شی کوم یې چې کسب کړی دی د نوموړي څخه د هیڅ عذاب مخه نه شي نیولی.

[۳] ژر ده چې نوموړی به داسې اور (دوزخ) ته داخل شي چې د لمبو خاوند (درلودونکی) دی.

[۴] او د نوموړي مېرمن به هم په داسې حال کښې (دوزخ ته) داخله شي چې د دوزخي خاشاکو اوچتوونکې به وي.

[۵] (او هم) به په داسې حال کښې (دوزخ ته داخله شي) چې په غاړه کښې به یې رسۍ وي چې د تاو کړی شوو تارونو څخه عبارت ده.

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۳۲۵
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۴۲
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج ۲۰ ص۵۴۸
(۴) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۹۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱ـ د دې سورت شان نزول د الله ﷻ په توفیق د [الشعراء:۲۱۳] ایت لاندې ښه تفصیلوار لیکلی شوی دی والحمد لله ﷻ، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## څو نکات

۲ـ په دې مقام کښې د وضاحت دپاره څو نکاتو ته توجه په کار ده هغه دا چې:

الف: په ﴿ تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴾ کښې د "تَبَّتْ، تَبَّ" دواړه کلمې د "تَبَاب" ـلکه "عذاب"ـ څخه اشتقاقي شوي دي، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [المؤمنون:۳۷] ایت لاندې لیکلي دي چې "تَبَاب" دوامدار خسران (معنوي هلاک) ته ویل کېږي.

ب: په ﴿ تَبَّتْ ﴾ کښې د خسران غوښتنې ته اشاره شوې او په "تَبَّ" کښې د همدغې غوښتنې تحقق مرموز دی[1].

ج: د ﴿ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ ﴾ کلمات پخپله د "أبو لَهَب" څخه کنایي دي، د همدې کبله په "تَبَّ" کښې همده ته د مفرد ضمیر راجع شوی دی او دواړو لاسونو ته یې د مثنی ضمیر نه دی راجع شوی چې "تَبَّتَا" یې نزول موندلی وی[2].

د: شاید چې د نوموړي څخه به په دواړو لاسونو سره د دې کبله تعبیر صورت نیولی وي چې یوه ورځې نومړي خپل لاسونه پو کړه او بیا یې مخاطب وګرځول چې: ای زما دواړو لاسونو! تاسو ته دې خسران (تاوان) وي، زه خو په تاسو کښې هغه شی نه ګورم د کوم چې تاسو ته محمد ﷺ د مرګ څخه وروسته وعده درکوي[3].

ه: "أبو لهب" د نبي کریم ﷺ سکنی تره وه خو په عداوت او دښمنۍ کښې د پردیو کفارو (مشرکانو) څخه ډېر زیات وه.

د ښه وضاحت دپاره یوه قیصه ولولئ چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

اول: یو صحابي وایي چې یو ځل د ذو المجاز په بازار کښې نبي کریم ﷺ خلکو ته دعوت ورکاوه او هرې ډلې ته یې ارشاد فرمایل چې: «قُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ تُفْلِحُوا»[4] یعنې ای خلکو! تاسو د توحید کلمه ووایاست او د شرکیاتو څخه لاس واخلئ چې کامیاب جوړ شئ او بری مونده کړئ.

دوهم: خو په عین حال کښې یوه څښیور سور رنګي سړي تعقیباوه چې: ای خلکو! تاسو د دغه سړي دعوت مه قبلوئ دا دروغژن دی او د خپل پلارني دین څخه اوښتی دی.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۶۴
(۲) اضواء البیان ج۹ ص۶۰۴
(۳) سیرت ابن هشام ج۱ ص۳۷۲
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۴۲۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دریم: ما پوښتنه وکړه چې دغه دوه کسان څوک دي چې د خلکو په ډلو باندې دواړه جوړه کړځي چې دوهم د اولني خبره تکذیبوي؟.

څلورم: راته وویلی شوه چې لومړی سړی محمد بن عبد الله دی چې د نبوت مدعي دی، او دوهم سړی د هغه سکنی تره ابو لهب دی.

و: د ابو لهب اصلي نوم "عبد العزی" وه او په "ابو لهب" سره څکه ملقب شوی وه چې هغه ډېر صحتمند او ښایسته ښکلی بنیادم وه[1]، تا به ویل چې ګلابي رنګ یې د اور لمبه ده.

ز: په ﴿ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ﴾ کښې د "مَا كَسَبَ" کلمات علماوو کرامو په لاندې دوه ړو معناوو سره تفسیر کړي دي:

اول: د "مَا كَسَبَ" څخه د نوموړي نارینه درې اولادونه مطلب دي چې "معتب، عتبه، عتیبه" نومېده، وروستني دواړه د نبي کریم ﷺ زومان وه خو دواړو خپلو مېرمنو ته د خپل پلار په اصرار سره طلاقونه ورکړه[2].

هو! د حنین د غزا په موقع د ابو لهب اولني دواړه زامن په ایمان مشرف شوه او دریم یې لا پخوا د کفر په حال کښې مړ شوی وه.

دوهم: د "مَا كَسَبَ" څخه د نوموړي هغه وجاهت او رسوخ مطلب دی کوم چې نوموړي په خپل قوم کښې کسب کړي او ګټلي وه[3].

نو د ذکر شوو نکاتو په ملحوظ به د ایتونو مضمون داسې راوخېژي چې: د ابو لهب دواړه لاسونه بلکې په خپله ابو لهب دې د خسران او هلاک سره مخامخ شي، هو! نوموړی د خسران او هلاک سره د الله ﷻ په علم کښې مخامخ دی، نوموړي ته به د خسران او هلاک څخه نه د هغه مالونه نجات ورکړي او نه به ترې د هغه اولادونه او وجاهت او رسوخ دفاع وکړی شي.

نو ډېر ژر دی چې نوموړی به داسې اور ته داخل شي چې د لمبو خاوند به وي او د هره طرفه به یې وریاندې احاطه کړې وي.

## د ابو لهب مېرمن

۳ـ په ﴿ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ﴾ کښې د "امْرَأَة" کلمه د ابو لهب د مېرمنې څخه عبارت ده چې اصلي نوم یې "أروی" وه او په "أُمُّ جَمِيل" سره یې شهرت درلود، دا مېرمن د ابو سفیان خور وه او د نبي کریم ﷺ په عداوت کښې د خپل خاوند (ابو لهب) سره همکارې وه[4].

د نوموړې مېرمنې د ﴿ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ﴾ د لقب دپاره علماوو کرامو لاندې دوه وجې ښودلې دي:

(۱) تفسیر البغوي ج۴ ص۵۴۳
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۸۸
(۳) البحر المحیط ج۱۰ ص۲۱۰؛ تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۲۳۸
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۶۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یوه دا چې هغې به اغزي راغونډول او د شپې د مخې به يې د نبي کريم ﷺ د کور په شاوخوا کښې د اذيت رسولو دپاره شيندل او خورول[۱].

دوهم: بله دا چې دغه مېرمن چغلگره وه او د نماميت کسب يې درلود، نو ذکر شوي کلمات د چغلگرۍ څخه کنايي دي[۲].

خو مفسرينو کرامو يې دلته داسې تفسير کړی دی چې: د دوزخ په داخل کښې به دغه مېرمن د دوزخ اغزي لرونکي خاشاک پنډ کوي او خپل خاوند (ابو لهب) ته به يې وروړي ترڅو وريانډي د نوموړي اور لا تېز شي[۳].

## د "جيد" او "مَسَد" معناوې

۴ـ په ﴿ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ ﴾ کښې د "جيد" کلمه د غاړې په معنی ده[۴]، او د "مَسَد" کلمه د تاو ورکړی شوي پړي معنی ورکوي، برابره خبره ده چې دغه پړی د اوسپنې يا د مونجو د تارونو څخه جوړ کړی شوی وي او يا د وړيو يا نورو شيانو څخه جوړ وي[۵].

خو په دې مقام کښې دغه کلمات د دوزخ په زنځيرونو باندې تفسير کړی شوي دي کومو ته چې په [الحاقة: ۳۲] ايت کښې اشاره شوې ده[۶].

## يو اعرابي تحليل

۵ـ علماوو کرامو د ذکرو شوو وروستنيو ايتونو په اعرابي تحليل کښې متعدد اقوال کړي دي[۷]، خو مونږ خپل غوره کړی شوی تحليل په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: د ﴿ وَٱمْرَأَتُهُۥ ﴾ کلمه د ﴿ سَيَصْلَىٰ نَارًا ﴾ په مستتر ضمير باندې عطفه ده کوم چې "ابو لهب" ته راجع دی.

ب: د ﴿ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ﴾ د کلمې نصب د ﴿ وَٱمْرَأَتُهُۥ ﴾ څخه د حاليت په بنياد صورت نيولی دی.

ج: ﴿ حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ ﴾ موخره مبتدأ ده، او د ﴿ فِي جِيدِهَا ﴾ کلمات ورته د خپل متعلق (ثَابِتٌ) په لحاظ مقدم خبر دی.

دغه اسميه جمله د ﴿ وَٱمْرَأَتُهُۥ ﴾ څخه دوهم حال ده چې محلاً منصوبه ده.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: د ابو لهب مېرمن به هم د خپل خاوند سره په داسې حال

(۱) زاد المسير ج۸ ص۳۲۷
(۲) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۲۸۸ ؛ مفردات الراغب ص۱۲۲
(۳) تفسير ابن كثير ج۴ ص۵۶۴
(۴) لسان العرب ج۳ ص۱۳۹
(۵) لسان العرب ج۳ ص۴۰۲
(۶) تفسير ابن كثير ج۴ ص۵۶۴
(۷) روح المعاني ج۳۰ ص۲۶۴ ؛ تفسير ابي السعود ج۹ ص۲۱۱ ؛ تفسير الطبري ج۳۰ ص۳۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې دوزخ ته داخله شي چې د خپل خاوند د اور د تېزولو دپاره به د دوزخي خاشاکو اوچتوونکې وي، او هم په داسې حال کښې چې په غاړه کښې به يې دوزخي د اوسپنې د تارونو څخه تاو کړې شوي پړي او زنځيرونه پراته وي.

## يادونه

۷_ که څوک غواړي چې د "ابو لهب" د مرګ قيصه ولولي نو څېنو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[1].

په همدې ځای باندې د "تَبَّتْ" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو، والحمد لله ﷻ.

اللَّهُمَّ أَجِرْنَا مِنَ النَّارِ ذَاتِ لَهَبٍ.

۱۴۲۶/۴/۵ هـ ق = ۱۳۸۴/۱/۲۴ هـ ش.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

(۱) تفسير القرطبي ج۲۰ ص۲۴۳

# الإخلاص(۱۱۲)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

۱ـ دا سورت زښت ډېر نومونه لري چې تقريباً پنځلسو (۱۵) نومونو ته رسېږي[۱] خو مشهور نوم يې "الإخلاص" دى. كه څه هم په دغه نامه باندې دغه سورت په صراحت سره مشتمل نه دى مگر د معنى په لحاظ وربانديې مشتمل دى چې د سورت مضمون اخلاص او د كفرياتو او شركياتو څخه د عقيدې سوچه گرځول دي.

۲ـ دا سورت د صحيح قول په بنياد مكي سورت دى او د هجرت څخه وړاندې نازل شوى دى[۲]، په همدې ارتباط په توضيحاتو كښې څه نور وضاحت هم ـ ان شاء الله ﷻ ـ راروان دى.

۳ـ دا سورت ټول څلور (۴) ايتونه لري[۳].

۴ـ ټولې پنځلس (۱۵) كلمې لري[۴].

۵ـ ټول اوه څلوېښت (۴۷) حرفونه لري[۵].

۶ـ په وړاندېني سورت (تَبَّتْ) كښې د شركي عقيدې كلك رد ته اشاره شوې وه او د نبي كريم ﷺ تره (ابو لهب) د همدې شركي عقيدې په سبب په دنياوي او أخروي عذاب سره تهديد شوى وه. په دې سورت (الإخلاص) كښې شرعي مقبوله عقيده ښودلې شوې ده چې د همدې عقيدې په څپلولو سره ټول خلک مكلف دي كه څه هم هغوى مشركان يا أهل الكتاب او يا بله ډله وي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ ۝١ اللّٰهُ الصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ۝٤﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (اى پيغمبره!) ووايه چې: شان دا دى چې الله ﷻ (زما رب په ذات او صفاتو كښې) يو دى.

[۲] (شان دا دى چې) الله ﷻ هيچا ته احتياج نه دى (او ده ﷻ ته هر شى احتياج دى).

[۳] (شان دا دى چې) الله ﷻ هيڅ شى نه دى زېږولى او نه (پخپله) زېږولى شوى دى.

[۴] او (شان دا دى چې) الله ﷻ ته هيڅوک سيال (او سارى) نشته.

## توضيحات

۱ـ د دې سورت په شان نزول كښې دوه ډوله روايتونه موجود دي چې په لاندې كرښو كښې د هر ډول يو-يو مثال په گوته كېږي:

---

(۱) روح المعاني ج ۳۰ ص۲۶۸؛ اللباب في علوم الكتاب ج ۲۰ ص۵۶۷
(۲) تفسير الطبري ج ۳۰ ص۳۴۲
(۳) تفسير البغوي ج ۴ ص۵۴۴
(۴) تفسير الخازن ج ۶ ص۶۰۰
(۵) اللباب في علوم الكتاب ج ۲۰ ص۵۵۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: «أَنَّ الْمُشْرِكِينَ قَالُوا لِرَسُولِ اللهِ ﷺ انْسُبْ لَنَا رَبَّكَ فَأَنْزَلَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى ﴿قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ اللهُ الصَّمَدُ﴾»[۱] يعنې مشرکانو نبي کريم ﷺ ته وويلې چې مونږ ته د خپل رب ﷻ نسب بيان کړه، نو الله ﷻ د ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ سورت نازل کړ.

ب: يهود نبي کريم ﷺ ته ورغله او ورته يې وويلې چې: "صِفْ لَنَا رَبَّكَ"[۲] يعنې اې پيغمبره! مونږ ته د خپل رب ﷻ مواصفات بيان کړه.

## تبصره

۲_ د ذکرو شوو دواړو ډولو روايتونو د تطبيق په غرض دا التزام ممکن دی چې دغه سورت (الإخلاص) دوه ځله نازل شوی دی، يو ځل د مشرکانو د جوابولو دپاره په مکه کښې او بل ځل د اهل الکتابو (يهودو) د جوابولو دپاره په مدينه منوره کښې. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه سورت به په مکه معظمه کښې نازل شوی وي لکه چې مضمون يې همدغه غوښتنه کوي، او په مدينه منوره کښې به په يهودانو باندې د دې کبله قرائت کړې شوې وي چې هغوی د مشرکانو غوندې پوښتنه وړاندې کړې وه او جوابولو ته يې اړتيا پېښه شوې وه. او پوره واضحه ده چې سلفو صالحينو د ايتونو په مصداق او قرائت باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۳].

## دا "هُوَ" د شان ضمير دی

۳_ په ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ کښې د "هُوَ" کلمه د شان ضمير ده چې وروسته ټول سورت د همدغه شان تفسير او بيان واقع شوی دی[۴] چې څه شرحه يې دا ده:

الف: ﴿ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ يعنې الله ﷻ زما رب دی او شان دا دی چې الله ﷻ په ذات او صفاتو کښې يو دی، چې هيڅ شی او هيڅوک ورسره شريک نشته او د نسب د بيان غوښتنه يې بې ځايه ده چې نسب د مخلوق اختصاصي صفت دی او زما رب ﷻ ترې پاک او منزه دی.

ب: په ﴿ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ﴾ کښې د ﴿ٱلصَّمَدُ﴾ کلمه په ډېرو معناوو سره تفسيره شوې ده[۵] خو غوره معنی يې دا ده چې: دا کلمه د هغه چا څخه عبارت ده څوک چې د نورو احتياجات پوره کوي او پخپله هيڅ احتياج نه لري، څوک چې د اوامرو څخه يې هيڅوک او هيڅ شی تخلف نه شي کولی[۶]. يعنې شان دا دی چې الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو احتياجات پوره کوي او پخپله هيڅ مخلوق ته محتاج نه دی، او هم په ټول عالم کښې د همده ﷻ تکويني اوامر چلېږي او تخلف ترې هيڅ امکان نه لري.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۴؛ مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۴۴
(۲) أسباب النزول للواحدي ص۳۰۹؛ تفسير البغوي ج۴ ص۵۴۴؛ الدر المنثور ج۸ ص۶۷۰
(۳) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷
(۴) روح المعاني ج۳۰ ص۲۱۹؛ اضواء البيان ج۹ ص۶۱۶
(۵) زاد المسير ج۸ ص۳۳۰؛ تفسير القاسمي ج۱۷ ص۲۹۲
(۶) مفردات الراغب ص۲۹۴؛ لسان العرب ج۳ ص۲۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ﴿لَمۡ يَلِدۡ﴾ يعنې شان دا دی چې الله ﷻ هيڅ شی زېږولی نه دی او نه ورسره تناسب لري ځکه چې دا کار د ازليت او ابديت سره منافي دی.

د: ﴿وَلَمۡ يُولَدۡ﴾ يعنې او الله ﷻ نه زېږولی شوی دی او نه ورسره دا کار تناسب لري ځکه چې د ازليت او ابديت سره منافي دی.

هـ: که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد د ﴿وَلَمۡ يُولَدۡ﴾ جمله د ﴿لَمۡ يَلِدۡ﴾ د جملې څخه وروسته کړی شوې ده حال دا دی چې ترتيب د عکس غوښتنه کوي؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: د الله ﷻ په مولوديت باندې هيچا قول نه کاوه او په ولديت باندې يې مشرکانو او اهل الکتابو دواړو قول کاوه البته په څه تفاوت سره.

نو د رد د اهميت دپاره نازل کړی شوی ترتيب غوره کړی شوی دی، په دې تقدير به د ﴿وَلَمۡ يُولَدۡ﴾ جمله محض د بيان دپاره نازله شوې وي، نه په کومه کفري ډلې باندې د رد دپاره.

و: ﴿وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ﴾ يعنې او الله ﷻ ته هيڅ شی سيال نشته چې نه په ذات او صفاتو کښې سارې لري او نه ورته په حقيقي معبوديت کښې اشتراک درلودونکی شته.

نو ای مشرکانو! ستاسو شرکي عقيده باطله ده او ملائک بنات الله نه دي لکه چې تاسو خيال کوئ. او ای اهل الکتابو! ستاسو د تثليث او تشبيه عقيده صحت نه لري او عيسی ﷺ او هم عُزَير ﷺ أبناء الله نه دي، بلکې د الله ﷻ مخلص بندګان دي.

همدې مضمون ته په بل ځای کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ﴾ [الشورى: ۱۱] يعنې زما د رب ﷻ غوندې هيڅ شی نشته.

## دا سورت د احاديثو په رڼا کښې

۴ـ دا سورت (الإخلاص) د احاديثو په رڼا کښې ډېر ښه تشريح شوی دی او زښت ډېر احاديث پکښې روايت شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو يې په خپلو‌خپلو کتابونو کښې غټې‌غټې مجموعې راغونډې کړې دي[1] هيله ده چې لوستونکي هملته مراجعه وکړي.

خو مونږ فقط د يوه حديث په ذکر باندې د مثال په توګه اکتفاء کوو هغه دا چې: يو ځل يو سړي نبي کريم ﷺ ته د "الإخلاص" سورت سره د خپل محبت څخه خبر ورکړ نو نبي کريم ﷺ ورته وويل چې: «إِنَّ حُبَّهَا أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ»[2] يعنې يقينًا ته د همدغه سورت محبت جنت ته داخل کړې.

د "الإخلاص" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ يُحِبُّونَ هذِهِ السُّورَةَ وَأَدِمْنَا عَلَى مَحَبَّتِهَا.

۱۴۲۶/۴/۷ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۲۶ هـ ش.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۵۶۵؛ الدر المنثور ج۸ ص۶۷۲

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الفلق (۱۱۳)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (الْفَلَق) د همدې سورت په لومړني ايت کښې نازل شوی دی.

۲_ په دې سورت کښې علماء کرام مختلف دي چې دا مکي دی او که مدني[1]؟، خو د عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما په نزد دا مدني سورت دی او همدا قول ځینو علماء کرامو صحیح ګڼلی دی[2] او څه تائید یې وروسته په توضیحاتو کښې هم _ان شاء الله ﷻ_ راروان دی.

۳_ د دې سورت ټول ایتونه پنځه (۵) دي[3].

۴_ ټولې کلمې یې درویشت (۲۳) دي[4].

۵_ ټول حرفونه یې څلور اویا (۷۴) دي[5].

۶_ دا سورت (الْفَلَق) د وړاندېنې سورت (الإخْلاص) سره ټینګ تناسب لري. د مثال په توګه:

الف: د کفارو د عداوت او حسد اصلي بنسټ د عقیدې عدم اخلاص وه کوم ته چې په وړاندېنې سورت کښې اشاره شوې ده، او په دې سورت کښې نبي کریم ﷺ ته د هغوی د عداوت او حسد د بې اثره کولو چاره توصیه شوې ده چې په الله ﷻ سره استعاذه ده او بس.

ب: هلته دا مضمون هم شامل وه چې الله ﷻ د احتیاجاتو پوره کوونکی دی، په دې سورت کښې د دښمنانو څخه د نجات موندلو او په همدې هکله د خپل احتیاج غوښتلو طریقه نازله شوې ده چې باید په الله ﷻ سره پناه ونیوله شي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (ای پیغمبره!) ووایه چې: زه د چاودولو (پیدا کولو) په رب ﷻ باندې پنا غواړم.

[۲] (البته) د هغه شي د شر څخه کوم چې د پیدا کولو رب ﷻ پیدا کړی دی (کوم چې د جماداتو او غیر جماداتو څخه عبارت دی).

[۳] او (هم وربانديې) د شپې د شر څخه (پنا غواړم) چې کله (هر شي ته) ننوزي (او ورته شامله شي او بنه پخه شي).

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۸۵

(۲) البحر المحیط ج۱۰ ص۵۷۴؛ زاد المسیر ج۸ ص۳۳۲

(۳) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۳۰۰

(۴) تفسیر الخازن ج۶ ص۶۰۴

(۵) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۶۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴] او (هم وربانديې) د داسې ډلو د شر څخه (پنا غواړم) کومې چې په غوټو (ګنډو) کښې چوف کوي (کومې چې د بنیادمانو او شیطانانو څخه تشکیلېږي).

[۵] او (هم وربانديې) د حسدکوونکي د شر څخه (پنا غواړم) چې کله حسد وکړي (او په عمل کښې یې پیاده کړي).

## شان نزول او توضیحات

۱ـ په ډېرو احادیثو کښې یوه واقعه روایت شوې ده[۱] چې مونږ یې لنډ مطلب په لاندې ټکو کښې لیکو:

الف: په مدینه منوره کښې نبي کریم ﷺ یو ځل مریض شو او هیڅ نه پوهېده چې په څه مرض باندې به مریض وي؟.

ب: خو په خوب کښې نبي کریم ﷺ ته په وحې سره څرګنده شوه چې مریضتیا یې د دې کبله ده چې یوه یهودي یا یهودي مشربه منافق وربانديې جادو (کوډې) کړې دي چې (لبید بن الاعصم) نومېږي، او په فلانکي کوهي کښې یې خښې کړې دي. او همدارنګه ورته معلومه شوه چې دغه جادو د نبي کریم ﷺ د ګومنځې په غاښونو او مبارکو څو ویښتانو کښې صورت نیولی دی.

ج: کله چې نبي کریم ﷺ د خوبه راببدار شو نو د څو تنو صحابه وو کرامو ﷺ په ملګرتیا ښودل شوي کوهي (څا) ته ورغی او خښې کړی شوې کوډې یې راوویستلې چې په یوه مزي باندې مشتملې وې چې یوولس (۱۱) ګنډې (غوټې) یې درلودې.

د: «فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى سُورَتَيِ الْمُعَوِّذَتَيْنِ، فَجَعَلَ كُلَّمَا قَرَأَ آيَةً انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، وَوَجَدَ رَسُولُ اللهِ ﷺ خِفَّةً حَتَّى انْحَلَّتِ الْعُقْدَةُ الْأَخِيرَةُ»[۲] یعني نو الله ﷻ معوذتین (د ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ﴾ او ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾ دواړه سورتونه) نازل کړه (کوم چه په یوولسو ایتونو باندې مشتمل دي).

کله به چه نبي کریم ﷺ یو ایت قرائت کړ نو یوه غوټه به ورسره پرانستله شوه او د الله ﷻ پیغمبر به خفت مونده کړ، آن تردې چه د یوولسم ایت په قرائت سره یوولسمه غوټه (ګنډه) پرانستله شوه (او نبي کریم ﷺ روغ رمټ شو).

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې لاندې پوښتنې په اذهانو کښې تاوېدلې راتاوېدلی شي:

الف: که څوک وایي چې: ذکر شوی جادو څومره وخت وروسته کشف او خنثی کړی شو؟

مونږ وایو چې: دغه جادو فقط درې شپې دوام درلود او بیا د منځه یووړ شو[۳]، خو تر شپږو

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۶۲، ج۲ ص۸۵۸؛ صحیح مسلم ج۲ ص۲۲۱؛ سنن ابن ماجه ص۲۵۲؛ مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۲۰، ۳۱۹

(۲) اسباب النزول للواحدي ص۳۱۰؛ البحر المحیط ج۱۰ ص۵۷۴؛ تفسیر ابي السعود ج۹ ص۲۱۵

(۳) التفسیر الکبیر ج۳۲ ص۱۸۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



میاشتو پورې یې تولې اغېزې بالکل ختمې شوې[۱].

ب: که څوک وایي چې: ذکر شوي جادو (کوډو) په نبي کریم ﷺ باندې څومره اغېزه کړې وه؟

مونږ وایو چې: د جادو اغېزه فقط همدومره وه چې نبي کریم ﷺ ته به په خیال کښې ورتلل چې فلانی کار یې کړی دی حال دا چې هغه به یې نه وه کړی[۲].

ج: که څوک وایي چې: الله ﷻ د مشرکانو د خولو څخه په [الفرقان:۸] ایت کښې حکایت کړې دي چې ظالمان (مشرکان) نبي کریم ﷺ ته د "مَسۡحُور" جادو کړی شوي لقب ورکوي، نو پوښتنه دا ده چې: ایا د نبي کریم ﷺ په مسحوریت سره د هغوی لقب ورکول حقیقت او واقعیت نه مونده کوي؟

مونږ وایو چې: هغوی خو نبي کریم ﷺ ته د "مَسۡحُور" لقب د "ذَاهِبِ الۡعَقۡل" په معنی سره ورکاوه چې لیونی دی[۳]، نه په دې معنی چې کوډې ورباندې کړی شوې دي ترڅو اعتراض وارد شي.

د: که څوک وایي چې: ایا د نبي کریم ﷺ مسحوریت د نبوت سره منافات نه لري چې د سوال لاندې یې واقع کړي؟

مونږ وایو چې: مسحوریت د نبوت سره منافي نه دی دا ځکه چې:

اول: مسحوریت به په هغه وخت کښې د نبوت سره منافات درلودلی وی چې په وحې باندې یې اثر غورزولی وی، حال دا چې ذکر شوي مسحوریت په وحې سره کشف شو.

دوهم: بلکې په مسحوریت سره د نبوت تائید صورت نیسي چې که بالفرض نبي کریم ﷺ پیغمبر نه وی (او ساحر وی) لکه چې کفار خیال کوي نو اقلاً مسحور به نه وی واقع شوی او د خپله ځانه خو به یې د جادو مخنیوی کړی وی.

دریم: جادو او کوډې د امراضو څخه یو مرض دی او پوره واضحه ده چې امراض د نبوت سره منافات نه لري.

لنډه دا چې: د نبوت سره مسحوریت څه منافات نه لري، خو معتزله وو[۴] او اهل التشیع[۵] او ځینو نورو کسانو ته ورسره منافي برېښي. نو ځکه د صحیحو احادیثو څخه انکار کوي او کوم منقول دلیل په لاس کښې نه لري بلکې صرف په عقل باندې اتکاء کوي، او پوره واضحه ده چې د منصوصاتو په مقابل کښې په عقل باندې اتکاء کول د بې عقلۍ څخه په غیر بل شی نه دی.

### "فَلَق" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ﴾ کښې د "فلق" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۹۶] ایت لاندې معنی شوې ده چې د چاودولو (انفلاق ورکولو) په معنی ده لکه چې د شپې په انفلاق سره سبا پیدا

(۱) تفسیر المظهري ج۱۰ ص۲۷۶؛ تفسیر الخازن ج۶ ص۶۰۶
(۲) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۲۵۳
(۳) لسان العرب ج۴ ص۳۴۹
(۴) روح المعاني ج۳۰ ص۲۸۳
(۵) تفسیر نمونه ج۲۷ ص۴۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي او د زړې په انفلاق سره نبات څرګندېږي او داسې نور. (۳۰)

نو ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې د "خَلَق" د کلمې سره مرادفه ده، ته به وايې چې "قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْخَلْقِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ" نازل شوی وي.

يعنې ووايه چې زه د مخلوق په رب ﷻ سره د هغه شي د شر څخه پنا غواړم کوم چې همده ﷻ خلق کړی او پيدا کړی دی، او دا ځکه چې هيڅ مخلوق دخالق ﷻ د ارادې څخه په غير مضر او ضرري نه شي واقع ګرځېدلی.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه که څه هم د ﴿ مَا خَلَقَ ﴾ کلمات ټولو مخلوقاتو ته شموليت لري مګر د کثرت د واقع کېدلو د کبله د زيات اهتمام دپاره د دريوو مخلوقاتو د شر څخه په پنا غوښتلو باندې صراحت نازل شو. هغه دا:

## د "غَسَق" او "وَقَب" معناوې

۴ـ په ﴿ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴾ کښې د ﴿ غَاسِقٍ ﴾ کلمې د "غَسَق" ـ لکه "شَرَف" ـ څخه اشتقاق موندلی دی او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الإسراء:۷۸] ايت لاندې ليکلي دي چې دا د شپې صفت دی چې د ډېر توروالي څخه عبارت دی.

او د ﴿ وَقَبَ ﴾ کلمه د "وَقْب" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د داخلېدلو په معنی ده[(۱)].

يعنې ووايه چې: زه د "فَلَق" په رب ﷻ سره د شپې د شر څخه پنا غواړم البته کله چې شروع شي او په هر شي کښې سرايت وکړي (ښه تياره شي او ښه پخه شي).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: يو ځل نبي کريم ﷺ سپوږمۍ ته وکتل او بيا يې عائشه رضي الله عنها مخاطبه کړه چې: «اسْتَعِيذِي بِاللهِ مِنْ شَرِّ هَذَا فَإِنَّ هَذَا هُوَ الْغَاسِقُ إِذَا وَقَبَ»[(۲)] يعنې د دغې د شر څخه په الله ﷻ سره پنا وغواړه چې يقينًا همدا "الْغَاسِقُ إِذَا وَقَبَ" دی (چې په ايت کښې ورته اشاره شوې ده).

نو پوښتنه دا ده چې ايا د "غَاسِق" کلمې تفسير په شپې سره صحت لري حال دا چې په حديث کښې په سپوږمۍ سره تفسيره شوې ده؟

مونږ وايو چې: د سپوږمۍ د شر څخه استعاذه په حقيقت کښې د شپې د شر څخه استعاذه ده چې سپوږمۍ په شپه باندې دلالت کوي[(۳)]، نو ذکر شوې دواړه تفسيرونه په مصداق کښې متحد دی او څه منافات سره نه لري.

په دغه مضمون باندې په يوه بل حديث کښې نبي کريم ﷺ صراحت کړی دی چې فرمايلي يې دي:

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۸۰۱؛ القاموس المحيط ج۴ ص۶۳۹
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۳
(۳) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۳۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



«إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ أَوْ أَمْسَيْتُمْ فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ فَإِنَّ الشَّيَاطِينَ تَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ فَإِذَا ذَهَبَتْ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا»[۱] يعنې کله چې د شپې راتلل شروع شي او يا چې کله تاسو په بېګاه کښې داخل شئ نو خپل ماشومان د بهر وتلو څخه ايسار کړئ چې په دغه وخت کښې شيطانان خورېږي، نو چې کله د شپې څه برخه تېره شي نو ماشومان پرېږدئ خو ورونه (دروازې) بندې او قلف کړئ او د الله ﷻ نوم ورباندې ياد کړئ (د همده ﷻ په نامه سره پنا وغواړئ) چې يقيناً شيطان قلف کړی (بند کړی) ور نه بېرته کوي.

## "نفث" څه معنی؟

۶ـ په ﴿ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّـٰثَـٰتِ فِى ٱلْعُقَدِ ﴾ کښې د "نفّاثات" کلمه د "نفّاثة" کلمې روغه جمعه ده او د مبالغې معنی پکښې پرته ده، او موصوف يې مقدر دی چې "الْجَمَاعَات" سره ترې تعبير کېدلی شي، ته به وايې چې "وَمِنْ شَرِّ الْجَمَاعَاتِ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ" نازل شوی وي.

د "نفّاثة" کلمه د "نفث" ـلکه "ضَرَب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د پوکولو (چوف کولو) معنی ورکوي[۲]. يعنې ته د داسې ټولګيو د شر څخه په "رَبِّ الْفَلَق" باندې پنا وغواړه کوم چې په غوټو (ګنډو) کښې چوف کوونکي دي، البته يا د جادو (کوډو) دپاره او يا د اغفال او اوده کولو دپاره.

## چوف کوونکې ډلې څوک دي؟

۷ـ کومو چوف کوونکو ډلو ته چې په ايت شريف کښې اشاره شوې ده هغه د لاندې ډلو څخه عبارت دي:

الف: انساني چوف کوونکې ډلې چې د جادو او کوډو په غرض مزو او تارونو ته د وينبتانو په موجوديت کښې غوټې او ګنډې وراچوي. د دغو ډلو يوه مثال ته د دې سورت د شان نزول په ارتباط په اولنی توضيح کښې اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

ب: د شيطانانو چوف کوونکې ډلې چې د اغفال او اوده کولو دپاره د بنيادمانو کوپړيو ته غوټې او ګنډې وراچوي، لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ ثَلَاثَ عُقَدٍ إِذَا نَامَ بِكُلِّ عُقْدَةٍ يَضْرِبُ عَلَيْكَ لَيْلًا طَوِيلًا فَإِذَا اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ وَإِذَا تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عَنْهُ عُقْدَتَانِ فَإِذَا صَلَّى انْحَلَّتِ الْعُقَدُ فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ»[۳] يعنې ستاسو يو کس چې اوده شي نو شيطان يې د سر د پاسه په کوپړۍ باندې درې غوټې غوټه کوي، په هره غوټه باندې وهي (چوف کوي) چې په تاباندې شپه اوږده ده (شپه دې درباندې اوږده شي).

نو څوک چې راوينس شي او د الله ﷻ نوم ياد کړي نو يوه غوټه (ګنډه) پرانستله شي، او چې اودس

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۶۶
(۲) مفردات الراغب ص۵۲۱؛ لسان العرب ج۳ ص۱۹۵
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۲۶۵؛ مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۲۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وکړي نو (د اولنۍ غوټې په شمول) دوه غوټې پرانستلې شي، او کله چې لمونځ وکړي (د تهجد لمونځ یا د سهار لمونځ) نو ټولې (درې واړه) غوټې پرانستلې شي.
نو ذکر شوی کس نشیط پاک نفسی وګرځي او که نه نو پلیت نفسی سست جوړ شي (چې نیکو کارونو ته یې رغبت او میلان نه وي).

## د "حُسَد" معنی

۸_ په ﴿ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴾ کښې د ﴿ حَاسِدٍ ﴾ او ﴿ حَسَدَ ﴾ دواړه کلمې د "حَسَد" _لکه "شَرَف"_ څخه اشتقاقي شوې دي. د "حَسَد" کلمه دې ته وضعه شوې ده چې څوک د هغه چا د نعمت د زوال آرزو وکړي او لا په زوال کښې یې هڅه وکړي کوم چې د نعمت مستحق وي[1].
هو! که څوک د نعمت درلودونکی کس د نعمت په شان نعمت د خپل ځان دپاره وغواړي پرته د دې چې د نومړي د نعمت د زوال آرزو وکړي، نو دغه کار ته "غِبْطة" لکه: "نِعْمَة"ویل کېږي[2] او دا کار جائز دی.
اما حسد ناجائز کار دی. د ښه څرګندوالي دپاره یې لاندې وضاحتونه ولولئ:
الف: نبي کریم ﷺ په یو حدیث کښې فرمایلې دي چې: «الْحَسَدُ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ»[3]. یعنې حسد نیکۍ داسې خوري (د منځه وړي) لکه چې اور د سون خاشاک خوري (سوزي).
ب: دنیاوي فسادونه د حسد څخه پیل شوي دي[4] چې ابلیس د ادم ؑ سره حسد وکړ او د کفر دېره یې کېښوده، او قابیل د خپلو ورور (هابیل) سره د حسد څخه کار واخست چې د قتل بنیاد یې وضعه کړ.

په همدې ځای د "الْفَلَق" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق بشپړ شو.
اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ مَا خَلَقَ، مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّفَّاثَاتِ وَالْحَاسِدِ.
۱۴۲۶/۴/۱۰ هـ ق - ۱۳۸۴/۱/۲۹ هـ ش.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۱۶
(۲) لسان العرب ج۷ ص۳۵۹
(۳) سنن ابن ماجه ص۳۱۰
(۴) تفسیر القرطبي ج۲۰ ص۲۵۹؛ اضواء البیان ج۹ ص۶۴۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الناس(١١٤)


Downloaded from: Darwarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (النّاس) په همدې سورت کښې پنځه کرته نازل شوی دی او د همدې سورت پنځو ایتونو ورباندې اختتام موندلی دی.

۲ـ په دې سورت کښې د "الْفَلَق" سورت غوندې اختلاف دی چې مکي دی او که مدني؟، خو لکه هلته چې د مدنیتوب قول راجح وه دلته هم همدغه قول راجح برېښي.

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه فقط شپږ (۶) دي[1].

۴ـ ټولې کلمې یې فقط شل (۲۰) دي[2].

۵ـ ټول حرفونه یې فقط نهه نوي (۹۹) دي[3].

۶ـ دا سورت (النّاس) د وړاندېني سورت (الْفَلَق) سره ډېرې نژدې اړیکې لري، د مثال په توګه:

الف: دواړه سورتونه په یو ځل نازل شوي دي[4].

ب: په دواړو سورتونو کښې د استعاذې د ښوداني طریقې بیانې شوې دي، خو هلته د ټولو مخلوقاتو د شر څخه او خصوصاً د شپې، جادو او حسد د شرونو څخه د پنا غوښتلو په هکله ارشادات نازل شوي دي، او دلته د یوه خاص شي د شر څخه د پنا غوښتلو توصیه شوې ده کوم چې د انسان په زړه کښې ځای نیولی شي چې هغه د انسي یا جني شیطان د وسوسې څخه عبارت دی.

ج: په دواړو سورتونو کښې ډېر زیات احادیث روایت شوي دي چې ښه غټه مجموعه ترې جوړه شوې ده[5]، چې مونږ یې د لاندې مثالونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «قَدْ أُنْزِلَ اللهُ عَلَيَّ آيَاتٍ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ إِلَى آخِرِ السُّورَةِ وَ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ إِلَى آخِرِ السُّورَةِ»[6] یعني په ما باندې الله ﷻ داسې ایتونه نازل کړه چې ساری یې نه دی لیدلی شوی چې هغه ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾ تر آخره پورې او ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ﴾ تر آخره پورې دواړه سورتونه دي.

دوهم: ابو سعید الخدري ﷛ وایي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَتَعَوَّذُ مِنَ عَيْنِ الْجَانِّ وَعَيْنِ الْإِنْسِ فَلَمَّا نَزَلَتْ الْمُعَوِّذَتَانِ أَخَذَ بِهِمَا وَتَرَكَ مَا سِوَى ذَلِكَ»[7] یعني د الله ﷻ پیغمبر ﷺ وه چې د پیریو د سترګو او د انسان د سترګو څخه به یې پنا غوښتله، خو کله چې معوذتان (الْفَلَق، النّاس) دواړه سورتونه نازل شوه نو همدا دواړه یې ونیول او د دې دواړو څخه په غیر (نورې استعاذې) یې پرېښودلې.

---

(۱) البحر المحیط ج۱۰ ص۵۷۸
(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۶۰۹
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۷۶
(۴) البحر المحیط ج۱۰ ص۵۷۸
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۷۱
(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱۸
(۷) سنن النسائي ج۲ ص۳۱۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣ مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ۝٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ۝٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ۝٦ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (ای پیغمبره!) ووایه چې: زه د خلکو په پالونکي (کارسازوونکي) سره پنا غواړم.

[۲] د خلکو په واک درلودونکي سره (پنا غواړم).

[۳] د خلکو په حقیقي معبود سره (پنا غواړم).

[۴] (البته) د داسې وسوسه اچوونکي د شر څخه چې (د الله ﷻ په ذکر سره) بېرته ستنېدونکی (او) پټېدونکی دی.

[۵] هغه وسوسه اچوونکی چې د خلکو په سینو (زړونو) کښې وسوسې اچوي.

[۶] چې دغه وسوسه اچوونکي د پیریانو څخه او (هم) د بنیادمانو څخه دي.

## توضیحات

۱ـ دا سورت (النّاس) او وراندېنی سورت (الْفَلَق) هر یو د "الْمُعَوِّذَة" په نامه سره هم نومولی شوی دی. "الْمُعَوِّذَة" د "و" په زېر سره د اسم فاعل مونث صیغه ده[۱]، یعنې هغه سورت کوم چې د پنا غوښتلو د طریقې ښودونکی دی.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ د دې سورت په ارتباط د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې راپورته کېږي:

الف: که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد په وراندېني سورت (الْفَلَق) کښې الله ﷻ فقط په یوه صفت "رَبِّ الْفَلَق" سره یاد شوی وه او دلته په درېوو صفتونو "رَبِّ النَّاسِ، مَلِكِ النَّاسِ، إِلهِ النَّاسِ" سره یاد شوی دی، حال دا چې هلته د درېوو شیانو (شپې، جادوګرو، حاسد) د شرونو څخه د پنا غوښتلو طریقه ښودلې شوې وه او دلته فقط د یوه شي (شیطان) د شر څخه د پنا غوښتلو طریقه ښودله کېږي؟

مونږ وایو چې: هغه درېواړه شرونه د بدن پورې اړه لري او دغه یو شر د دین په ضرر تمامېږي، او پوره واضحه ده چې دیني ضرر د بدني ضرر څخه درووند دی.

نو دلته ځکه د الله ﷻ درې صفات تعلیم کړی شوه چې: ای بنیادمانو! په دغو-دغو صفاتو سره ورته سوال وکړئ، کېدی شي چې سوال او استغفار مو قبول کړي.

ب: که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد د ﴿ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴾ کلمات په ضمیرونو (مَلِکِهِمْ، إِلٰهِهِمْ) سره نازل نه شوه حال دا چې مقام د ضمیرونو دی؟

(۱) روح المعاني ج ۳۰ ص۲۸۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: دغه دواړه صفتونه د ﴿ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾ دپاره عطف بيان واقع شوي دي چې وضاحتونه پکښې مطلب دي[1] او په ضمائرو کښې دومره وضاحت موجوديت نه لري څومره چې په اسماء ظواهرو کښې موجوديت لري.

ج: که څوک وايي چې: په ﴿ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې څه ابهام وه چې په ذکرو شوو دوه وو صفتونو سره توضيح شو؟

مونږ وايو چې: په ﴿ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې د "رَبّ" اطلاق په پلار باندې هم کېدلی شي چې په ﴿ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې په "مَلِك" سره توضيح شو چې د "واکدار" معنی ورکوي. او د "واکدار" اطلاق په مجازي پاچا او مجازي واکدار باندې هم کېږي چې په ﴿ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې په "إِلَه" سره توضيح شو چې د معبود معنی ورکوي، او معبوديت په الله ﷻ پورې اختصاص لري.

د: که څوک و ايي چې: د څه حکمت په بنياد "قُلْ أَعُوذُ بِإِلَهِ النَّاسِ" نازل نه شو چې نه توضيح ته حاجت وی او نه عطف بيان ته ضرورت پېښ شوی وی؟

مونږ وايو چې: په ﴿ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې د "رَبّ" کلمه په "ربوبيت" دلالت کوي او په ﴿ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې د "مَلِك" کلمه په واکدارۍ باندې ښودانه کوي او بالآخره په ﴿ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې د "إِلَه" کلمه په معبوديت باندې ارشاد کوي.

نو په دغو درېواړو کلمو کښې د استعاذې ترغيب ته اشاره ده، که بالفرض "قُلْ أَعُوذُ بِإِلَهِ النَّاسِ" نازل شوی وی نو د استعاذې ترغيب ته به په کامله توګه اشاره نه وی شوې.

هـ: که څوک وايي چې: په ﴿ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ﴾ کښې د "وَسْوَاس" کلمه څه صيغه ده؟ او د څه شي څخه عبارت ده؟

مونږ وايو چې: دغه کلمه د "وَسْوَسَة" دپاره اسم مصدر ده او پخپله مصدر نه ده، که نه نو د "ف" توري به يې زبر درلودلی وی لکه چې په "زِلْزَال" کښې زبر لري[2]. خو په دې مقام کښې ذکره شوي کلمه د مبالغې په توګه د شيطان څخه عبارت ده برابره خبره ده چې انسي وي او که جني وي[3].

و: که څوک وايي چې: ايا په انسانانو کښې هم شيطان شته؟

مونږ وايو چې: هو، انسي شيطان هم موجوديت لري لکه چې ډېر نصوص ورباندې دلالت کوي، د مثال په توګه:

اول: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ ﴾ [الأنعام: ۱۱۲] يعنې او همدارنګه مونږ د هر پيغمبر دپاره دښمنان ګرځولي (پيدا کړي) وه چې هغوی د انسي شيطانانو او جني شيطانانو څخه عبارت وه.

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۸۲۳
(۲) روح المعاني ج۳۰ ص۲۸۶؛ لسان العرب ج۶ ص۲۵۴
(۳) القاموس المحيط ج۴ ص۶۰۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: ابو ذر ﷺ وايي چې يو ځل ماته نبي کريم ﷺ ارشاد وکړ چې: «يَا أَبَا ذَرٍّ تَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ شَرِّ شَيَاطِينِ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ» يعني اى ابا ذره! په الله ﷻ سره د پيريانو او انسانانو د شيطانانو څخه پنا وغواړه. ما وويلې چې: «أَوَ لِلْإِنْسِ شَيَاطِينُ» يعني ايا انسانانو ته هم شيطانان شته؟ (په دوى کښې هم شيطانان موجوديت لري؟). نبي کريم ﷺ په «نَعَمْ»[1] يعني "هو" سره جواب راکړ.

ز: که څوک وايي چې: "وَسْوَسَة" څه معنى؟

مونږ وايو چې: په پټه سره په زړه کښې د يوه شي اچولو ته "وَسْوَسَة" وايي، برابره خبره ده چې وراچول په اواز سره صورت ونيسي او يا بدون د اوازه[2].

ح: که څوک وايي چې: د "وَسْوَسَة" او "إِلْهَام" څه فرق دى؟

مونږ وايو چې: که وراچولى شوى شى خير وه نو دا "إِلْهَام" دى او که شر (غير شرعي) وه نو دا "وَسْوَسَة" ده[3].

ط: که څوک وايي چې: ايا "وَسْوَسَة" د ګناه سبب جوړېدلى شي؟

مونږ وايو چې: ترڅو پورې چې "وَسْوَسَة" د عزم يا عمل مقام ته ونه رسېږي، د عصيان او ګناه سبب نه جوړېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې يو حديث قرائت کړئ:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ لِأُمَّتِي عَمَّا وَسْوَسَتْ أَوْ حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ بِهِ أَوْ تَكَلَّمْ»[4] يعني يقينًا الله ﷻ زما دأمت دپاره د هغه شي څخه تېر شوى دى چې نفس يې ورباندې وسوسه وکړي يا يې په نفسونو (زړونو) کښې وګرځي ترڅو چې ورباندې عمل ونه کړي (که څه هم قلبي عمل وي چې عزم دى) او ترڅو چې ورباندې په قوليانو کښې تکلم (قول) ونه کړي.

ي: که څوک وايي چې: د شر وسوسه خو کله د نفس د پلوه هم صورت نيسي لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا»[5] يعني او مونږ په الله ﷻ سره د خپلو نفسونو د شرونو څخه پنا غواړو. نو پوښتنه دا ده چې د شيطاني وسوسې او د نفسي وسوسې څه فرق دى؟

مونږ وايو چې: هر ډول وسوسه اصلا د شيطان د پلوه صورت نيسي خو په هغې وسوسه کښې ورسره نفس هم مداخله لري کومه چې د نفسي تلذذ سبب جوړېدلى شي.

نو په همدې بنياد د هر ناجائز کار وسوسه شيطاني وسوسه ده خو د فحاشۍ په وسوسه کښې ورسره نفس هم اشتراک لري.

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۳۱۸

(۲) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۳۰۷

(۳) روح المعاني ج۳۰ ص۲۱۰

(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۹۸۶

(۵) سنن ابن ماجه ص۱۳۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا: که څوک وایي چې: په ﴿ اَلْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴾ کښې د "خَنَّاس" کلمه څه معنی؟
مونږ وایو چې: دغه کلمه د "خُنُوس" ـ لکه "قُتُول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [التکویر: ۱۵] ایت لاندې لیکلي دي چې "خُنُوس" بېرته ستنېدلو او پټېدلو ته ویل کېږي.
شیطان ته څکه دغه لقب (خنّاس) ورکړی شوی دی چې نوموړی د الله ﷻ په ذکر سره بېرته ستنېدونکی او پټېدونکی دی.
همدغه مطلب په لاندې احادیثو کښې ښه واضحه شوی دی:
اول: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې یو صحابي مخاطب کړ او ارشاد یې ورته وکړ چې: «فَإِذَا قُلْتَ بِسْمِ اللهِ تَصَاغَرَتْ إِلَيْهِ نَفْسُهُ حَتَّى يَكُونَ أَصْغَرَ مِنْ ذُبَابٍ»[۱] یعنې کله چې ته بسم الله ووایې (او د الله ﷻ نوم یاد کړې) نو شیطان ته خپل ځان دومره وړوکی او ذلیل ښي آن تردې چې د مچ څخه هم ورته خپل ځان وړوکی او ذلیل ښکاره شي.
دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ فِي الْمَسْجِدِ جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَأَبَسَّ بِهِ كَمَا يَبُسُّ الرَّجُلُ بِدَابَّتِهِ فَإِذَا سَكَنَ لَهُ زَنَقَهُ أَوْ أَلْجَمَهُ»[۲] یعنې یقیناً کله چې ستاسو یو کس په جومات کښې وي نو شیطان ورته ورشي نو د خپل ځان دپاره د ایل کولو غږ وریاندې وکړي (چې ارام شه) لکه چې سړی په خپل څاروي باندې دغسې اواز کوي، نو کله چې همدغه کس شیطان ته ارام شي (او ورته ایل شي چې د الله ﷻ نوم یاد نه کړي) نو سمدستي ورته د اوښ په شان په غاړه کښې پړی (تېرسری) اچوي او یا یې د اس غوندې قیضه کوي (نو بیا یې چې څه خوښه وي هغه وریاندې اجراء کوي).
درېیم: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي چې: «الشَّيْطَانُ جَاثِمٌ عَلَى قَلْبِ ابْنِ آدَمَ، فَإِذَا سَهَا وَغَفَلَ وَسْوَسَ، وَإِذَا ذَكَرَاللهَ خَنَسَ»[۳] یعنې شیطان د بنیادم په زړه باندې په زنګنو (پرمخ) پروت وي نو کله چې بنیادم سهوه شي او د الله ﷻ د ذکر څخه په غفلت کښې واقع شي نو وسوسه وراچوي او چې کله الله ﷻ یاد کړي نو بېرته ګرځي او پټېږي.
یب: که څوک وایي چې: دغه کلمه ﴿ اَلْخَنَّاس ﴾ خو د ﴿ اَلْوَسْوَاسِ ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده کوم چې انسي شیطان ته هم شمولیت لري، نو ایا انسي شیطان هم د الله ﷻ په ذکر سره تښتي او پټېږي؟
مونږ وایو چې: هو، انسي شیطان هم د الله ﷻ په ذکر سره د وسوسې اچولو د حیثه تښتي او پټېږي اګر که جسماً نه تښتي او نه پټېږي.
یج: که څوک وایي چې: جني شیطان د انسان په زړه کښې په څه ډول وسوسه اچوي او څنګه ورته لار پیدا کوي؟
مونږ وایو چې: د جني شیطان وسوسې اچولو ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې داسې اشاره کړې

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳۴۹
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۲۲۴
(۳) مصنف ابن ابي شيبه ج۷ ص ۱۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده چې: «فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ ابْنِ آدَمَ مَجْرَى الدَّمِ»[۱] يعنې نو د بنيادم په بدن كښې شيطان داسې چلېږي لكه چې وينه پكښې چلېږي (نو زره ته يې هم په اسانۍ سره لاره پيدا كوي).

يد: كه څوک وايي چې: ايا جنيانو ته هم جني شيطان شته؟

مونږ وايو چې: هو، هغوی ته هم د ابليس لښكرې وسوسې اچوي، او د وسوسې اچولو دپاره غياب ضرور نه دی[۲]. يا په بل عبارت: لكه څنګه چې انسانان انسي شيطان لري همدارنګه جنيان هم د جني شيطانانو درلودونكي دي، چې ابليس او د ابليس اولاده ده.

يه: كه څوک وايي چې: د ﴿ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴾ ايت په اعراب كښې څه شی واقع شوی دی؟

مونږ وايو چې: د دغه ايت په اعراب كښې علماوو كرامو متعدد احتمالات ليكلي دي چې تقريبًا اتو (۸) احتمالونو ته رسېږي[۳] خو كوم احتمال چې مونږ ته بهتر برېښي هغه دا دی چې:

دغه ايت شريف د "مِنْ" په توري سره د ﴿ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴾ دپاره بيان واقع شوی دی[۴] او د خپل "مُبَيَّن" غوندې محلا مجرور دی. يعنې كوم كسان چې د خلكو په زړونو او سينو كښې وسوسې اچوي هغوی د پيريانو او انسانانو څخه عبارت دي.

په همدې ځای د "النَّاس" سورت بلكې د ټول قرآن كريم پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په لوی فضل او عظيم الشان توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ يَا رَبَّ النَّاسِ وَيَا مَلِكَ النَّاسِ وَيَا إِلَهَ النَّاسِ! قِنَا مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ. اللَّهُمَّ يَا رَبَّ الْفَلَقِ! قِنَا مِنْ شَرِّ مَا خَلَقْتَ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ وَقِنَا مِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ.

اللَّهُمَّ إِنِّي عَنْ شُكْرِ مَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ عَاجِزٌ فَاجْعَلْ عَجْزِيْ عَنِ الشُّكْرِ عِنْدَكَ شُكْرًا.

اللَّهُمَّ كَمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ بِالتَّوْفِيقِ فَأَنْعِمْ عَلَيَّ بِحُسْنِ الْقَبُولِ وَبِحُسْنِ الْأَجْرِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ.

اللَّهُمَّ كَمَا جَعَلْتَ خَتْمَ هَذَا الْكِتَابِ (عزيز التفاسير) مُوَافِقًا لِمِيلَادِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي التَّارِيخِ فَاجْعَلْهُ مُوَافِقًا لِمَا جَاءَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّفْعِ.

اللَّهُمَّ اجْعَلْ هَذَا الْكِتَابَ نَافِعًا لِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ عُمُومًا وَلِأَوْلَادِيْ خُصُوصًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ.

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ.

